الجواب حامداو مصليا د کوم ديني عالم او د شريعت تابع سړي سپکاوي او د بې ديني نسبت ورته کول که چېرته د دنياوي او ذاتي عداوت او ضد له وجهې وي نو اګر که کفر او ارتداد خو نه دي ليکن فسق او نامردي خو خامخا ده. البته که چېرته د کوم ديني عالم سره کوم ذاتي عداوت او دښمني نه وي بلکه يواځې په دې وجه چه هغه يو ديني عالم او د شريعت تابع دي او د هغه ناسته ولاړه د نبوي سنتو مطابقه ده. نو بناء په دې صورت د هغه سپکاوي او ذليلول په حقيقت کښې د شريعت مطهره له سپکاوي او تذليل سره برابر دي او د شريعت مطهره سپکاوی، عداوت او استهزاء د کفر موجب دی. لهذا د دينداری او ديني علم له وجهې د کوم ديني عالم سپکاوي له کفر سره برابر دی

لما قال العلامة ملا على القاري: و في الخلاصة: من ابغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر قلت الظاهر انه يكفر لانه اذا ابغض العالم من غير سبب دنيوي او اخروى فيكون بعضه لعلم الشريعة و لا شك في كفر من انكر فضلاً عمن ابغضه. (شرح الفقه الأكبر ص ٢٩٠ ، فصل في العلم و العلماء) و قال في الهندية في النصاب من ابغض عالما من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر و اذا قال لرجل مصلح

**ديدار وي ترين چنان است که ديدار خوک يخاف عليه الکفر کذا في الخلاصة اذا شتم عالما أو فقيها من غير سبب (الفتاوىالهندية ج۲، ص۲۷۰، و منها ما يتعلق بالعلم و العلماء) و مثله في البزازية على هامش الهندية ج٦، ص ۳۳٦/۳۳۷ الثامن في الاستخفاف با لعلم.فتاوي حقانيه ج۱ ص۱۳۰**

## زمادراسته لاس ايمان يې ستا دويلوحکم.

الاستفتاء : په عوامو کښې دا خبره ډېره مشهوره ده چې کله د يو چاسره و عده ديو کاروکړي نوبيا راسته لاس په لاس کښې ورکړي داسي ورته وايي چي زما دراسته لاس ايمان يې ستا که ما دغه کار نه وکړي اوس پوښتنه داده چي صرف په دغه ويلو سره ايمان زائليږي که يا او داخبره حقيقت لري که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : ايمان دانسان ترلاسه پوري تعلق نه لري بلکي د ايمان تعلق تر زړه پوري دي نوصرف دلاس په ورکولو سره ايمان نه زائليږي او نه هم د ا قسم دي بلکي دا ديو وعدې رقم دي صرف دا يو وعده ده او داخبره صرف په عوامو کښې مشهوره ده په شريعت کښې کوم اصل نه لري نو کله چي يو کس د بل کس سره وعده وکړي بايد خپله وعده پرځاي کړي ځکه چي نبي کريم ﷺ په يو حديث شريف کښې فرمايي چي دمنافق درې علامې دي : اول چي کله خبري کوي نو دروغ وايي . دوهم چي امانت ورکړل سي نو خيانت پکښې کوي ، دريم کله چي وعده وکړي نو پرخپله وعده وفا نه کوي نولهذا کوم کس چي خپل راسته لاس ويو چاته په لاس کښې ورکړي او دا ورته ووايي چي زمادراسته لاس ايمان يې ستا نو په دې خبري سره ايمان نه ځي بلکي دا (عرفا بين الناس) ديو وعدې حيثيت لري پکار داده چي خپله وعده پرځاي کړي

**لقوله تعالى في القرآن الكريم : يا أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود (المائدة ) وقال الزجاج: المعنى أوفوا بعقد الله عليكم وبعقدكم بعضكم على بعض. وهذا كله راجع إلى القول بالعموم وهو الصحيح في الباب، (تفسير القرطبي ج ۶ ص ۳۳ سورة المائدة بيروت / تفسير الخازن ج ۲ ص ۳ بيروت / تفسير ابن كثيرج ۲ ص ۷ بيروت / تفسير المظهري ج ۱ ص ۲۸۹ بيروت / تفسير المنارج ۵ ص ۱۳۹ بيروت / صفوة التفاسيرج ۱ ص ۳۰۰ بيروت / تفسير معارف القرآن ج ۱ ص ۱۸۶ مكتبه حبيبه )كذافي فتاوي رحمانيه ج۱ ص۳۹**

## دحيواناتو دارواحانو مقام

الاستفتاء ایاحیوانات چي کله مړه سي نو دهغوي ارواحان چیري وي او چیري پورته کیږي ؟که مدلل جواب راکړي نو مهرباني به مووي.

الجواب حامداومصليا : دحيواناتو د ارواحانو متعلق د علماء کرامو تر منځ اختلاف دي د راجح او صحيح قول مطابق د حيواناتو ارواحان په هو اکښي معلق او زړيږي ، يا هر چيري چي الله ج ته منظوره وي هلته به وي همدا خبره علامه آلوسي رحمه الله په تفسير روح المعاني کښي تر دغه آيت لاندي ذکر کړيده :

( يسئلونک عن الروح ) الآية قال العلامة المؤلف شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (المتوفى: ١٢٧٠ هـ) في روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ثم إن أرواح سائر الحيوانات من البهائم ونحوها قيل: تكون بعد المفارقة في الهواء ولااتصال لها بالأبدان، وقيل: تعدم ولا يعجز الله تعالى شيء، ومن الناس من قال: إن كان للحيوانات حشر يوم القيامة كما هو المشهور الذي تقتضيه ظواهر الآيات والأخبار فالأولى أن يقال ببقاء أرواحها في الهواء أو حيث شاء الله تعالى وإن لم يكن لها حشر كما ذهب إليه الغزالي وأول الظواهر فالأولى أن يقال بانعدامها، (روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ٨ ص ١٥٦ سورة الاسرآ ايت ٧٣ پاره١٥ رکوع ٧ مکتبه شامله بيروت چاپ فتاوي رحمانيه ج١ ص٤١

## آيا د جمعې د ورځي په مرګ سره د قبر عذاب معاف کيږي ؟

الاستفتاء موږ اوريدلي دي که يو څوک د جمعې په ورځ مړ سي هغه کس ته د قبر عذاب نسته، او د امو هم اوريدلي دي چي کافر که په دغه ورځ مړ سو هغه ته هم د قبر عذاب نسته ، او د کفارو په عذاب کښي هم سپکوالي راځي دا خبره تر کومه حده حقيقت لري؟

الجواب حامدا ومصليا: كه يو مومن مسلمان د جمعې په ورځ مړ سي د قيامت تر ورځي پوري به د ده څخه د قبر عذاب پورته وي او دي د دې عذابه څخه خلاص وي ، او د كافر څخه د جمعې په ورځ او د روژې په مياشت كښي عذاب د قبر پورته كېږي كله چي جمعه او د روژې مياشت ختمه سي بيا عذاب ورته شروع كېږي.

## په خطا او سهوه سره د كفر كلمې تر خوله وتل.

الاستفتاء كه چيري ديو كس د ژبي او خولې څخه په خطا او سهوه سره د كفر كلمه جاري سي او د ده اراده د ويلو نه وي نو ايا داسي سړي كافر كيږي كه يا او ښځه پر طلاقيږي كه يا ؟

الجواب حامدا ومصليا: كه چيري ديو سړي پر ژبه باندي په خطا سره د كفر كلمه جاري سوه يعني د غوښته چي د كفر د كلمې څخه ماسوا بله كلمه و ووايي ليكن بې اختياره يې په خطا سره د ده پر ژبه باندي د كفر كلمه جاري سوه نو دا كس د ټولو فقهاوو په اتفاق سره كافر نه دي.

**وفي فتاوى قاضيخان على هامش الهندية : واما الخاطى اذا جرى على لسانه كلمة الكفر خطا لم يكن ذلك كفرا عندالكل بخلاف الهازل لان الهازل يقول قصدا الا انه لايريد حكمه . والخاطى من يجرى على لسانه من غير قصد كلمة مكان كلمة .( فتاوي قاضيخان علي هامش الفتاوى الهندية ج ٣ ص ٥٧٧ كتاب السير باب ما يكون كفرا من المسلم ومالايكون مالابدمنه ج ٢ ص ٣٩٥)فتاوي رحمانيه ج١ ص٦١**

## پر حلالو باندي د حرامو حكم كول.

الاستفتاء: كه چيري يو څوک پر حلالو باندي د حرامو حكم وكړي نو شرعا د دغه كس حكم څه دي يعني د ايمان د زوال خطره يې سته كه يا

؟الجواب حامدا ومصليا: علماء كرامو او فقهاء كرامو د دې خبري تصريح كړېده چي د علم او پوهي تر څنګ پر حرام شي باندي د حلالو او پر حلال شي باندي د حرامو عقيده درلودل د كفر موجب دي . البته د ځينو استثنايي صورتونو حكم فقها ئو كرامو په جلا توګه بيان كړي دي . چي دا حكم هلته لازميږي چي بعينه حرام شي حلال وګڼي لكه ( زنا ، غلا ، شراب

وغيره . . . البته د حرام لغيره د حلال ګڼلو عقيده د کفر موجب نه ده د حرام بعينه د حلال ګڼلو عقيده هم په هغه وخت کښې د کفر موجب ده چې حرمت يې په قطعي دليل سره لکه په اياتونو او احاديث متواتره او مشهوره سره ثابت وي او که چيري د يو شي حرمت د خبر واحد له مخې ثابت وي نو بيا دا هم د کفر موجب نه دي.

وفي الفتاوى الهندية : من اعتقد الحرام حلالا، أو على القلب يكفر أما لو قال لحرام: هذا خلال لتزويج السلعة، أو بحكم الجهل لا يكون كفرا، وفي الاعتقاد هذا إذا كان حرامالعينه، وهو يعتقده خلالًا حتى يكون كفرا أما إذا كان حراما لغيره، فلا وفيما إذا كان حرامالعينه إنما يكفر إذا كانت الحرمة ثابتة بدليل مقطوع به أما إذا كانت بأخبار الآحاد، فلا يكفر كذا في الخلاصة.( الفتاوى الهندية ج ٢ ص ٢٧٢ الباب التاسع في احكام المرتدين البحرالرائق ج٥ ص ١٢٢ باب المرتد خلاصة الفتاوي ج ٤ ص ٣٨٣ الفصل الثاني في الفاظ الكفر فتاوي حقانيه ج ١ ص ١٦٨ كتاب العقائد والايمانيات

## په کلمه او لمانځه او قرآن کريم کښې د تحريف کوونکو حکم

الاستفتاء هغه کسان چې لمونځ يې د مسلمانانو د لمانځه څخه جلا وي او په قرآن کريم کښې د تحريف قائله هم وي او خپل امام د الله د طرفه څخه مبعوث او رسول سوي بولي او معصوم يې هم بولي او پر ام المؤمنين حضرت عائشې رضي الله عنها باندي تهمت وايي او شيخينو ( حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه او حضرت.عمر فاروق رضي الله عنه ) ته ښکنځل کوي او پر متعه او تقيه باندي ايمان لري د داسي کسانو په باره کښې شريعت څه حکم لري ؟

الجواب حامدا ومصليا : هغه خلک چې لاندي عقائد و خاوندان وي مثلاً شيخينو ( حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ) ته ښکنځل کوي او پر حضرت عائشې رضي الله عنها باندي تهمت او بهتان وايي ، او د قرآن کريم په اياتونو کښې د تحريف (تغير او بدلون) قائله وي فقهاء کرامو داسي کسان د ايمان څخه خارج او مرتدين ګڼلي دي او دهغو په کفر او ارتداد کښې هيڅ شک او شبه نشته ، حواله ملاحظه کړی

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وبهذا ظهر أن الرافضي إن كان ممن يعتقد الألوهية في علي، أو أن جبريل غلط في الوحي، أو كان ينكر صحبة الصديق، أو يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة، بخلاف ما إذا كان

يفضل عليا أو يسب الصحابة فإنه مبتدع لا كافر كما أوضحته في كتابي تنبيه الولاة والحكام عامة أحكام شاتم خير الأنام أو أحدالصحابة الكرام عليه وعليهم الصلاة والسلام. لوكان يقذف السيدة عائشةرضي الله عنها فلا شك في كفره ) اقول نعم : نقل في البزازية من الخلاصة ان الرافضي اذا كان يسب الشيخين ويلعنهما فهو كافر (ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۳ ص ۴۶ فروع طلق امرأته تطليقتين ولها منه لبن فاعتدت فنكحت صغيرا فأرضعته فحرمت عليه فنكحت آخر فدخل بها مكتبه شامله / ج ۴ ص ۲۳۷ / الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۶۴ باب المرتد مكبه رشيديه / كفايت المفتي ج ۱ ص ۴۴۴ باب مايتعلق بالروافض / فتح القدير كتاب الصلاة ، باب الامامة ج ۱ ص ۳۶۰ مكتبه رشيديه )

## كتاب الطهارت

### باب الوضوء

### د اوداسه په شروع كښې د بسم الله د ويلو حكم

الاستفتاء: د اوداسه د شروع كولو په وخت كښې د بسم الله الرحمن الرحيم د لوستلو څه حكم دى؟ كه چېرته يو سړي د اوداسه په شروع كښې په قصد يا سهوي سره بسم الله و نه لولي نو په اوداسه باندې كوم اثر پريووځي او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: د اوداسه د شروع كولو په وخت كښې د بسم الله لوستل سنت دي. كه چېرته له چا څخه بسم الله عمداً يا سهوا پاتې شي نو په اوداسه كښې كوم فرق نه راځي. ليكن سره له دې يا قصد اپرېښودل ئې د ملامتى موجب دى.

قال الحصكفي: باب سن الوضوء و البدأة با لتسمية (اى من سنن الوضوء) (الدر المختار على صدر رد

المحتار ج ۱، ص۱۰۸) و ايضاً قال و ترك السنة لا يوجب فساداً و لا سهواً بل اساء ة لو عامداً غير مستخف و قالوا الاساءة ادون من الكراهة. (الدر المختار ج ۱، ص ۴۷۳)

قال ابن نجيم: في سنن الوضوء (قوله كا لتسمية) اى كما ان التسمية سنة في الابتداء مطلقاً. (البحر الرائق ج۱، ص۱۸، و مثله في الهندية ج ۱ ، ص ۶ ، الفصل الثاني في سنن الوضوء.;كذافي فتاوب حقانيه ج۲ ص۲۷۳

## د برش د سنت مسواک ځای نه نیسي

الاستفتاء: د مسواک له وهلو څخه په عمومي توګه د غابنونو پاکوالي مقصود وي. په موجودزماني کښې له برش څخه د افائده په ښه توګه لاس ته راځي نو آيا داد مسواکو ښه بدل ګرځي؟يعني د برش په استعمال سره سنت اداکيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: د غابنونو پاکوالي بي له شکه د مسواک له فوائد و څخه يوه اهمه فائده ده ليکن د مسواک استعمال يوائې د غابنونو د پاکوالي لپاره نه دي بلکه بنيادي عنصراو مقصد پکښې د رسول الله ﷺ د سنتو پيروي ده. په برش کښې هغه خصوصيات او صفات موجود نه دي کوم چه په مسواک کښې موجود دي. نو د دې لپاره په برش باندې سنت نه ادا کيږي-البته د برش نفس استعمال جائز دی-

لما ..قال ابراهيم الحلبي: ثم المستحب ان يكون المسواك من شجرة مرة لزيادة ازالة تغير الفم قالوا و يستاك بكل عودالا الرمان و القصب و افضله الاراك ثم الزيتون و ان يكون طوله شبراً في غلظ المختصر . (كبيرى، آداب الوضوء ص۳۷)قال ابن عابدين: (قوله و السواك) با لكسر بمعنى العود الذي يستاك به. (رد المحتار ج ۱، ص۱۱۵/۱۱۳، سنن الوضواء) و في ايضاً: و يستاك بكل عود الا الرمان و القصب و افضله الاراك ثم الزيتون . كذافي فتاوب حقانيه ج۲ ص۲۷۳

## مسواک د نشتوالي په صورت کښې آيا ګوته د مسواک قائم مقام ګرځي؟

الاستفتاء: که چېرته له چاسره مسواک نه وي او يا د مسواکو په استعمال سره ورته تکليف وي نو په داسې صورت کښې د شهادت ګوته د مسواک قائم مقام ګرځي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته مسواک نه وي او يا په خوله کښې غابونه نه وي او يا د مسواک د استعمال له وجهې د تکليف او ضرر خطر وي نو په داسې صورت کښې ګوته د مسواک ځاي نيسي

قال ابن عابدين: قال في الحلية ثم باى اصبع استاك لا بأس به و الافضل ان يستاك با لسبابتين يبدأ با لسبابة اليسرى ثم با ليمني و ان شاء استاك بابهامه اليمنى و السبابة اليمني يبدا با لايهام من الجانب الايمن فوق و تهت ثم باالسبابة من الايسر كذلك. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ، ص ١١٥، سنن الوضوء) قال ابن نجيم: و تقوم الاصبع او الخرقة الخشنه مقامه عند فقده او عدم اسنانه و تحصيل الثواب لا عند وجوده. (البحر الرائق ج١، ص٢١، سنن الوضوء) و مثله في الزيلعي ج ١، ص ٤ ، سنن الوضوء) كذافي فتاوب حقانيه ج٢ ص٢٧٤

## د مسواک د ژوولو حکم

الاستفتاء: د مسواک د استعمال په وخت کښې که چېرته د مسواک د پستولو لپاره مسواک به غابونو و ژوي نو د شريعت له مخې جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: مسواک د غابونو په ذريعې سره په پستولو کښې هيڅ بدي نشته او د سنت په ادا کولو کښې هيڅ اثر نه کوي. البته په طبي لحاظ سره د مسواک په ژولو سره د بينايي قوت متاثر کيږي. نو د دي لپاره د مسواکو ژوول مناسب نه دي-

كما أخرجه البخاري عن عائشة.. فاخذت السواك فقضمته و نفضته و طيبته ثم دفعته النبي صلى الله عليه وسلم (صحيح البخاري ج ٢، ص ٦٣٨ ، باب وفات النبي) قال الحصكفي و لا يمصه فانه يورث العمي. (الدر المختار على صدرد المحتار ج ١، ص ١١٤، سنن الوضوء) اخرجه الزيلعي: عن عائشة قالت.........

فاخذت السواك فقضمته و طيبته ثم دفعته الى رسول الله صلى الله عليه وسلم (نصب الراية ج ١، ص ٨، احاديث السواك) قال الشيخ عبد الحي اللكهنوى: لا يمص السواك فانه يورث العمى. (العاية ج١، ص١١٩، باب سنن الوضوء) و مثله في مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج١١، ص٢٣٨، باب وفات النبي، الفصل الاول .

## د نوکانو د رنګ په موجود والي کښې د اودا سه حکم

الاستفتاء: نن صبا عامې ښځې د نوکانو پالش يا رنګ استعمالوي نو آيا د نوکانو د رنګ شتون په اودا سه او غسل باندې اثر کوي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د نوکانو رنګ د نوې زمانې مسئله ده. د دې لپاره مستقله جزئيه په مخکښني نيو کتابونو کښې نه پيدا کيږي. د موجوده دور مخور او مشهور علماوو د نوکانو پالش ناروا بولي ځکه چه په دې سره نوکان پټيږي او په اودا سه او غسل کښې نوکانو ته اوبه رسيدل ممکن نه دي. نو د دې لپاره د لانده ورو غوندې د اودا سه او غسل مانع ترخي- ليکن د ځينو نورو علماوو په نزد د نوکانو پالش که چېرته د ښځې ښانست و مثل شي نو يا په دې صورت کښې ئې که چېرته لرې کول سخت نه وي نو د اوداسه او غسل لپاره به ئې لرې کول ضروري وي او که چېرته ئې لرې کول سخت وي ليکن جرم (پتوکى) لرونکي نه وي نو بيا به ئې حکم د کريزو غوندې وي. او که د جرم د جوړيدلو په صورت کښې ئې لرې کول مشکل وي نو د حرج د جوړيدو په صورت کښې اوبه رسول ورته ضروري نه دي

قال العلامة الحصكفي: و يجب اى يفرض غسل كل ما يمكن من البدن بلا حرج مرة (و بعد سطر) و لا يمنع ما علي ظفر صباغ و لا طعام بين اسنانه : في سنه المجرف به يفتي و قيل ان صلبا منع و هو الاصح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ١٥٢/١٥٣ ، ابحاث الغسل)

يا هم په موجوده زمانې کښې دا د مغربي ثقافت يو جزء ګڼل کيږي نو د دې لپاره و عزتمنو کورنيو د ښځينه وو لپاره له دې ځخه ځان ساتل ضروري دي. له دې وجهې د محققينو علماوو په نزد د نوکانو پالش يا رنګ په اودا سه او غسل دواړو باندې اثر اچوي- كذا في فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٧٤

## اوداسه کښې د غاړې مسح

الاستفتاء: په اوداسه کښې د غاړې مسح په کوم روایت سره ثابته ده؟ او د ثبوت په صورت کښې ئې د فقهاوو په نزد درجه څه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: د غاړې د مسح په باره کښې کړن روایتونه راغلي دي چه له موقوفو روایتونو برسیره مرفوع روایتونه هم پکښې شته

لما ذکر العلامة العیني: عن ابن عمر ان النبي ﷺ قال من توضا و مسح عنقه لم یغل با لاغلال یوم القیمة. (البنایة شرح الهدایة ج۱، ص۱۰۸، باب الوضوء)

البته د فقهاوو په نزد ئې د حکم په تعین کښې اختلاف دی۔ څېنې علماء کرام ئې سنت بولي لیکن د خلاصې مصنف ئې مستحب والي ته ترجیح ورکړې ده او د کنز مصنف هم د اوداسه په مستحباتو کښې یاده کړې ده–

قال ابن نجیم: و قیل سنة و هو قول الفقیه ابي جعفر و به اخذ کثیر من العلماء کذا في شرح مسکین و في الخلاصة الصحیح انه ادب و هو بمعنی المستحب . (البحر الراق ج۱، ص۲۸، مستحبات الوضوء) عن وائل بن حجر : قال شهدت النبي و أتی باناء فاکفا علی یمینه ثلاثاً ثم غمس یمینه في الماء فغسل بها ذراعه الیمنی حتی جاوز المرفق ثلاثاً ثم غسل یساره ثلاثاً حتی جاوز المرفق ثلاثاً ثم مسح علی رأسه ثلاثاً و ظاهر أذنیه و ظاهر رقبته. (نصب الرایة ج۱، ص۱۳)و قال صاحب التنویر : في مستحبات الوضوء و مسح الرقبة. و قال ابن عابدین (تحت قوله و مسح الرقبة) هو الصحیح وقیل انه سنة. (رد المحتار علی الدر المختار ج ۱، ص ۱۲٤ ، مستحبات الوضوء) و مثله في السعایة ج۱، ص۱۷۸، باب مسح الرقبة.
;کذافي فتاوب حقانیه ج۲ ص۲۷۴.

## په سرباندې د مسح مسنونه طریقه

الاستفتاء: د سر د مسح مسنونه طریقه کومه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداومصليا: د سر د مسح مسنونه طريقه داده چه د سر په ابتدائي برخې باندې د دواړو لاسونو ورغوي او گوتې کېښېږدې او تر غړې پورې ئې په داسې دول يوسي چه ټول سر نيولي وي۔

قال العلامة محمد امين: و الاظهر ان يجع كفيه و اصابعه على مقدم رأسه و يمدهما الى القفاء على وجه يستوعب جميع الرأس. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص۱۲۱، سنن الوضوء)قال ابن نجيم: قال الزيلعي! تكلموا في كيفية المسح و الاظهر ان يضع كفيه و اصابعه...... الخ. (البحرالرائق ج۱، ص ۲٦ ، سنن الوضوء) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۷، الفصل الثاني في سنن الوضوء. كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۷۵

## د اوداسه د کولو په وخت کښې د ږيرې د لمدولو حکم

الاستفتاء: د اوداسه د کولو په وخت کښې د مخ د مينځلو په حالت کښې د ږيرې څه حکم دی؟آيا د ټولې ږيرې پريمنځل ضروري دي او که څه نا څه برخه ئې؟او د گڼې او نرۍ ږيرې ترمنځ کوم فرق شته او که نه؟بينوا توجروا۔

الجواب حامداومصليا: معلومه ده چه ږيره په دوه قسمه ده کڼه ږيره او نرۍ ږيره که چېرته له ويښتانو څخه د مخ پوستکي معلوميده نو دا ږيره نرۍ ده او که چېرته د مخ پوستکي نه ښکاريده نو د ا ږيره گڼه ده.د نرۍ ږيرې مېنځل فرض دي او په گڼې ږيرې کښې چه د مخ په حدود و کښې کومه ږيره واقع وي نو مېنځل ئې فرض دي او کوم ويښتان چه زوړند دي د هغو مينځل فرض نه دي بلکه مسح ئې ضروري ده۔

قال العلامة الحصكفي: ثم لا خلاف ان المسترسل لا يجب غسله و لا مسحه بل يسن و ان الخفيفة التي ترى بشرتها يجب غسل ما تحتها. و قال ابن عابدين: (تحت قوله المسترسل) اى الخارج عن دائرة الوجه، و فسره ابن حجر.في شرح المنهاج بما لو مدمن جهة نزوله لخرج عن دائرة الوجه. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص۱۰۰، فرائض الوضوء)قال في الهندية: و روى عن ابي حنيفة و محمد رحمهما الله تعالى انه يجب امرار الماء على ظاهر اللحية هو الاصح كذا في التبيين و هو الصحيح هكذا في الزاهدي و الشعر المسترسل من الذقن لا يجب غسله كذا في المحيطين. (الهندية ج ۱ ، ص ٤ ، كتاب

الطهارة، الباب الاول) و مثله في البحر الرائق ج١، ص١٦، فرائض الوضوء. كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٧٥

## په خضاب و هلې ږیرې باندې د اودس حکم

الاستفتاء: په ویښتانو باندې د خضاب په لګولو سره په حقیقت کښې د ویښتانو خپل حقیقت له منځه ځي او په هغو باندې یوه نرۍ غوندې پرده راځي نو آیا په اودس کښې ترې کوم فرق لویږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصلیا: په ویښتانو باندې د خضاب په لګولو سره پرده نه جوړیږي. نو د دې لپاره د داسې رنګ د ورکولو په صورت کښې په اودس کښې کوم فرق نه راځي. لکه چه د رنګ ورکوونکي چه کله رخت یا جامې ته رنګ ورکوي نو په لاسونو کښې ئې رنګ پاتې کیږي او دا رنګ د اودس او غسل مانع نه دی-البته که چېرته د بدن په داسې ځای کښې چه مینځل ئې ضروري وي او د لرګیو د رنګ غوندې رنګ پرې لګیدلی وي نو بیا په دې رنګ سره دپټوکي د جوړیدلو له وجهې د هغه ځای ته د اوبو رسول ممکن نه وي نو د دې لپاره د داسې رنګ لرې کول ضروري دي او که ئې لرې نه کړي نو اودس او غسل به ئې دواړه صحیح نه وي.

قال العلامة الحصكفي: و لا يمنع ما على ظفر صباغ و لا طعام بين اسنانه او في سنه المجوف به يفتي و هو الاصح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ١٥٤ ، ابحاث الغسل) قال العلامة الشرنبلالي: و لا ما على ظفر الصباغ من صبغ للضرورة و عليه الفتوى. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٥٠، فصل في تمام اقسام الوضوء) و مثله في منية المصلي ص ٠٢٣ كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٧٥

## اودس نه وروسته د آسمان خواته د کتلو حکم

الاستفتاء: د اودس له پوره کیدو څخه وروسته د آسمان خواته د کتلو شرعي حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د اودس نه وروسته د آسمان خواته کتل کوم مقصود بالذات عبادت نه دي بلکه د مسنونو دعاګانو د لوستلو په وخت کښې ادب دا دي چه آسمان خواته سرې وګوري۔

**قال ابن عابدين: و ان يقول بعد فراغه سبحانك اللهم و بحمدك اشهد ان لا إله الا انت استغفرك و أتوب إليك واشهد أن محمداً عبدك و رسولك ناظراً الى السماء. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص۱۲۸، مندوبات الوضوء) قال العلامة الكاشغرى: بعد ما ذكر الادعية الماثورة ناظراً الى السماء. (منية المصلى ص ۱٤، سنن الوضوء) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۷۶**

## د عبادت له کولو پرته د اودس لپاسه د اودس حکم

الاستفتاء: د اسې اودس چه په هغه باندې عبادت لا نه وي شوي په هغه اودس باندې د بل اودس څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: اودس په اودس باندې په اتفاق سره جائز دي. البته که چېرته یو ځل څوک اودس وکړي او په هغه باندې ئې د اسې عبادت ادا کړي نه وي چه اودس ورته شرط وي نو په داسې صورت کښې اودس په اودس باندې له کراهيت څخه خالي نه دی۔

**قال ابن عابدين: و في شرح المنية فاذا لم يؤد به عمل مما هو المقصود من شرعيته كا لصلوة و سجدة التلاوةو مس المصحف ينبغي ان لا يسرع تكراره قربة لكونه غير مقصود لذاته. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص۱۱۹) . مطلب في الوضوء على الوضوء) قال ابراهيم الحلبي: فاذا لم يؤد به عمل مما هو المقصود من شرعيته كا لصلوة و سجدة التلاوة و مس المصحف ينبغي ان لا يشرع تكراره قربة ....... الخ. (كبيري ص ۲٦، سنن الوضوء) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۷۶**

## په اوداسه کښې په يوه لاس سره د مخ د مينځلو حکم

الاستفتاء: ځينې خلک د اوداسه په وخت کښې خپل مخونه په يوه لاس سره مينځي چه له وجهې يې اوبو هم ضائع کيږي او کله کله د ټول مخ په مينځلو کښې هم خلل واقع شي نو آيا په يوه لاس سره د مخ پرې مينځل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداومصليا: په اوداسه کښې د مغسوله (د مينځلو وړ) او ممسوحه (د مسح کولو وړ) اندامونو استيعاب (ټول نيونه) سنت دی. د دې لپاره رسول اللهﷺ په دواړو لاسونو باندې خپل مخ مبارک پريمينځه نو په دې بنا په يوه لاس سره د مخ مينځل د سنتو خلاف دی۔

لما قال الامام محمد اسمعيل البخاری: باب غسل الوجه با ليدين من غرفة واحدة، عن ابن عباس انه توضأ وجهه اخذ غرفة من ماء فمضمض بها و استنشق ثم اخذ غرفة من ماء فجعل بها هكذا اضافها الى يده الاخرى فغسل بها وجهه الخ. (الجامع الصحيح للبخاري ج ۱، ص ۲٦، باب غسل الوجه با ليدين من غرفة واحدة) قال الشيخ ظفر احمد العثماني: په يوه لاس باندې د مخ پريمنځل او د سر مسح د سنتو خلاف دی۔ (امداد الاحكام ج ۱، ص۳٤٧، فصل في سنن الوضوء و آدابه و مكروهاته) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲٧٧

## د ستوني د مسح حکم

الاستفتاء: په ځينو ځايونو کښې ليدل شوي دي چه ځينې خلک د غاړې د مسح تر څنګ د ستوني مسح هم کوي. نو آيا د ستوني مسح جائز ده او که نه؟

الجواب حامداومصليا: د اوداسه په آداب کښې د غاړې مسح شامله ده، د حلقوم (ستوني) مسح په اسلافو کښې له چا څخه نه ده ثابته. د دې لپاره د ستوني مسح کول بدعت دی۔

لما قال ابن نجيم: و الثاني مسح الرقبة و هو بظهر اليدين و اما مسح الحلقوم فبدعة. (البحر الرائق ج۱، قال العلامة الحصكفي: و مسح الرقبة بظهر يديه لا الحلقوم لانه بدعة. (الدر المختار على صدر رد

المحتار ج۱، ص ۱۲٤ ، مستحبات الوضوء) و مثله في الهندية ج۱ ، ص۸، الفصل الثالث في المستحبات . ص۲۸، كتاب الطهارت) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۷۷

## په اودا سه کښې د لاس د مینځلو شروع د ګوتو له خوا ښخه سنت ده

الاستفتاء: زمونږ په سیمې کښې خلک د اودا سه په وخت کښې د ګوتو له خوا ښخه او بو پخپل لاس باندې بهوي نو آیا دا طریقه صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: په اوداسه کښې لاسونه له څنګلو سره مینځل یو ځل فرض دي او درې ځله مینځل ئې سنت دي. همدا رنګه په پرې مینځلو کښې ابتداء د ګوتو له خوا ښخه سنت ده-

لما في الهندية: و من السنن البداية من رؤس الاصابع في اليدين و الرجلين. (الهندية ج ۱، ص ۸، الفصل الثالث في المستحبات) لما قال ابن الهمام: و من السنن الترتيب بين المضمضة و الاستنشاق و البدأة من مقدم الرأس و من رؤس الاصابع في اليدين و الرجلين. (فتح القدير ج ۱ ، ص۳۱، كتاب الطهارة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۷۷

## د اودا سه بهترينه طريقه

الاستفتاء: اودس په ولاړې باندې کول بنه دي او که په ناستې باندې؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: اودس کول په ناستې باندې بنه دي ځکه چه د اودا سه په آد ابو کښې دا راغلي دي چه اودس باید په ناستې وکړې شي-

مكان مرتفع). (حلبي كبير ج۱، ص۳۱، باب الوضوء) و من الآداب (ان يجلس المتوضى مستقبل القبلة عن غسل سائر الاعضاء) و من الآداب (ان يكون جلوسه على هي اشمل، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۱۲۷ ، آداب الوضوء) و مثله في السعاية ج ۱، ص ۱۸۰، آداب ال قال العلامة

**الحصكفي: و الجلوس في مكان مرتفع تحرزا عن الماء المستعمل و عبارة الكمال و حفظ ثيابه من التقاطر و كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٧٨**

## د ژمي په موسم کښې په اودا سه کښې د اندامونو د مينځلو طريقه

الاستفتاء: په ژمي کښې د سړي اندامونه دومره وچ وي چه کله چرته اوبه پرې تويې شي اندامونه پوره نه لمدېږي بلکه اکثره وچ غوندې پاتې کيږي.نو په داسې صورت کښې به سړي څنګه اودس کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: په ژمي کښې اندامونه ډير وچيږي او اوبو اندامونه په صحيح توګه نه لمدوي نو د دې لپاره فقهاوو ليکلي دي چه د له مينځلو څخه مخکښې مو خپل اندامونه يوځل لامده کړي او بيا اوبو پرې تويې کړي تر څو چه اندامونه په ښه توګه پرې مينځل شي-

**لما قال العلامة الكاساني: عن خلف بن ايوب انه قال ينبغي للمتوضى في الشتاء ان يبل اعضاء شبه الدهن ثم يسيل الماء عليها لان الماء يتجافى عن الاعضاء في الشتاء.** (بدائع الصنائع ج ١، ص ٣، كتاب الطهارة) **و في الهندية: عن خلف بن ايوب انه قال ينبغي للمتوضى في الشتاء ان يل اعضاء شبه الدهن ثم يسيل الماء عليها لان الماء يتجافي عن الأعضاء في الشتاء.** (الهندية ج١، ص٩، الفصل الثالث في المستحبات) **كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٧٨**

## په اودا سه کښې له بل څخه د مدد غوښتلو حکم

الاستفتاء: د فقهې په عامو کتابونو کښې ليکل شوي دي چه له بل څخه مدد غوښتل په اوداسه کښې مکروه دي ليکن په عامه توګه شاګرد د خپل استاذ لپاره او ملازم د خپل مالک لپاره د اود اسه اوبو تياروي او بيا هغه اودس پرې کوي آيا دا مدد غوښتل هم مکروه دي او په اوداسه کښې ئې کوم فرق راځي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: د دې مسئلې په باره کښې اګر که په فقهي ذخائرو کښې د بل په مطلق امداد کولو سره د کراهيت خبره راغلې ده ليکن د محققينو په نزد دا استعانت مطلقاً نه دي بلکه دا دوه حالتونه لري. (١) د اوداسه د آلاتو د

تیاری استعانت- (۲) په اود اسه کښې په مینځلو او مسح کښې استعانت لومړني استعانت بغیر له کراهیته جائز دي دا ډول استعانت د نبي کریمﷺ په باره کښې له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه ثابت دي کوم چه نبي کریمﷺ ترې څوک منع کړي نه دي. البته دو هم ډول استعانت پرته له کوم شرعي عذر څخه مکروه دي-

لما قال العلامة ابن عابدين: و حاصله ان الاستعانة في الوضوء ان كانت بصب الماء او استقائه او احضاره فلا كراهة بها اصلا و لو بطلبه و ان كانت با لغسل و المسح فتكره بلا عذر. (رد المحتار ج۱، ص۱۲۷، آداب الوضوء مطلب في مباحث الاستعانة في الوضوء با لغير) قال العالم بن العلاء الانصارى: و من الآداب ان يقوم بامر الوضوء بنفسه لحديث عمر رضي الله عنه قال انا لا نستعين على وضوئنا و مع هذا لو استعان بغيره جاز ان لا يكون الغاسل غيره بل يغسل بنفسه و قد صح ان رسول الله د استعان با لمغيرة و كان المغير فيفيض الماء و رسول اللهﷺ كان يغسل. (الفتاوى التاتارخانية ج۱، ص۱۱۲، آداب الوضوء)

[د بیماری له وجهې په اود اسه کښې د مضمضې د نه کولو حکم

الاستفتاء: ځینې .خلک د اسې مرض لري چه که چېرته مضمضه کوي نو غابنونه ئې وینه کوي. اوس که چېرته یو مریض د عذر له وجهې مضمضه و نه کړي نو اودس ئې کیږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: مضمضه یا پوزې ته اوبو اچول د اوداسه له سنتونو څخه ګڼل کیږي - که چېرته یو سړي مضمضه یا استنشاق بغیر له عذره پریږدي نو ګنهګاریږي. لیکن د عذر له وجهې د خولې او پوزې په نه مینځلو سره ئې نه اودس خرابیږي او نه پرې ګناهګاریږي

قال العلامة الحصكفي: و غسل الفم الخ بمياه ثلثة و الانف بمياه و هما سنتان مؤكدتان. فلو تركها اثم على الصحيح سراج قال في الحلية لعله محمول على ما اذا جعل الترك عادة له من غير عذر. (رد المحتار ج ۱، ص۱۱٦، سنن الوضوء) و في الهندية و السنة ان يتمضمض ثلاثاً، اولا ثم يستنشق ثلاثاً و يأخذ لكل واحد منهما ماء جديداً في كل مرة......... ان ترك المضمضة و الاستنشاق أثم على الصحيح لانهما

من سنن الهدى و ترکها یوجب الاساءة الخ. (الهندیة ج١، ص٦، الفصل الثاني في سنن الوضوء) کذافي فتاوي حقانیه ج٢ ص٢٧٩

## :په بیسن کښې د اوداسه د کولو حکم

الاستفتاء: د نن صبا په نوي دور کښې د مخ او لاس د مینځلو لپاره بیسنونه جوړ شوي دي کوم چه په ولاړې باندې خلک خپل مخ او لاسونه مینځي او په ناستې سره ئې نه شي مینځلی. آیا په بیسنونو کښې اودس جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: اودس پکښې جائز دي لیکن د ادب خلاف دي-

و من الآداب (ان یجلس المتوضی مستقبل القبلة عند غسل سائر الاعضاء) و من الآداب (ان یکون جلوسه علی مکان مرتفع. (حلبي کبیر ج١، ص٣١، آداب الوضوء) قال الحصکفي: و الجلوس في مکان مرتفع تحرزاً عن الماء المستعمل و عبارة الکمال و حفظ ثیابه من التقاطر و هي اشمل. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ١، ص١٢٧، آداب الوضوء) و مثله في السعایة ج١ ، ص ١٨٠ ، آداب الوضوء. کذافي فتاوي حقانیه ج٢ ص٢٧٩ پښتو

## د بواسیرو د مریض د اوداسه حکم

الاستفتاء: ځینې حضرات د بواسیرو په مرض باندې اخته دي چه له وجهې ئې د هغه هر وخت ریح یعنې هوا یا وینه خارجیږي. نو د داسې مریض د اوداسه حکم به څنګه وي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: د بواسیرو د مریضانو مرض که چیرته دومره سخت وي چه هر وخت وینه یا هوا ترې خارجیدله نو داسې مریضان د معذورینو په حکم کښې دي. کوم چه د هر لمانځه د وخت لپاره به نوي اودس کوي. او په اوداسه سره چه څومره لمونځونه او داسې نور عبادتونه وغواړي کولي ئې شي. او که چیرته ئې مرض د معذورینو تر انداز پورې نه وي رسیدلي نو بیا د بواسیرو له وجهې وتونکې هوا یا وینه دواړه د اودس ماتوونکي دي-

لما قال العلامة الحصكفي: و صاحب عذر من به سلسل بوله لا يمكنه امساكه او استطلاق بطن او انفلات ريح........ ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لا يجد في جميع وقتها زمنا يتوضأ و يصلى فيه خالياً عن الحدث و لو حكماً......... حكمه الوضوء لكل فرض اللام للوقت ثم يصلى به فيه فرضاً و نفلاً فاذا خرج الوقت بطل. آه (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٣٠٦/٣٠٥، باب الحيض) قال المرغيناني: و من بن سلسل البول و الرعاف الدائم و الجرح الذي لا يرقأ يتوضئون لوقت كل صلوة فيصلون بذلك الوضوء في الوقت ما شاء. (الهداية ج١ ، ص ٥٠، باب الحيض) و مثله في رد المحتار ج ١، ص ٣٠٥، باب الحيض ، مطلب في احكام المعذور. كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٠

## په اودا سه کښې واجبات نشته

الاستفتاء: آيا په اودا سه کښې واجبات شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداو مصليا: د فقهاء كرامو له تصريحاتو څخه دا څرګنديږي چه په اودا سه او غسل دواړو کښې واجبات نشته

لما قال العلامة الحصكفي: و سنه افاد انه لا واجب للوضوء و لا للغسل و الا لقدمه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ١٠٣/١٠٢، سنن الوضوء) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٠

## د غوږونو او باړخو ګانو تر منځ برخې د مينځلو حکم

الاستفتاء: ځيني خلک د چهکې په صورت کښې په اودس کولو سره د غوږ او باړخو تر منځ حصه پريږدي. آيا په د اسې کولو سره په اودا سه کښې کوم فرق راځي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداو مصليا: د فقهي تصريحاتو له مخې د غوږ او باړخو تر منځ برخې د مخ په حکم کښې دي او په اودا سه کښې لکه څرنګه چه د مخ مينځل فرض دي همدا رنګه د غو برخو پريمينځل هم فرض دي۔

**قال العلامة الحصكفي: و ما بين العذار و الأذن لدخوله في الحد و به يفتى. قال ابن عابدين: قوله و ما بين العذار و الأذن اى ما بينهما من البياض قوله و به يفتي و هو ظاهر المذهب و هو الصحيح و عليه اكثر المشائخ. (رد المحتار ج ١، ص٩٧، كتاب الطهارة) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: و اما البياض الذي بين العذار و بين شحمة الاذن قد ذكر شمس الائمة الحلواني انه ظاهر المذهب. (الفتاوى التاتارخانية ج١، ص٨٩، كتاب الطهارة) .;كذافي فتاوب حقانيه ج٢ ص.;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص ٢٨١**

## د زمزم په اوبو سره د اوداسه او غسل حکم

الاستفتاء: ایا د زمزم په اوبو سره اودس او غسل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداومصلیا: د زمزم اوبو متبرکې اوبودي او ادب او احترام يې شرعي ذمه واري ده نو د دې لپاره د بې اودسه سړي لپاره پرې اودس کول مکروه دي خو په دې شرط چه نورې اوبو وي- او که چېرته نورې اوبو نه وي نو بيا له کراهيت پرته اودس پرې جائز دي ليکن د جنابت غسل او استنجاء خو په هر حالت کښې پرې مکروه دي. البته که يو اودس لرونکي سړي يا پاک بدن لرونکي سړي د تبرک له مخې اودس او غسل پرې وکړي نو له کراهيت پرته جائز دي۔

**لما قال السيد احمد الطحطاوي: يجوز الاغتسال و التوضؤ بماء زمزم ان كان على طهارة للتبرك فلا ينبغي يغتسل به جنب و لا محدث و لا في مكان نجس و لا يستنجي به و لا يزال به نجاسة حقيقة من بعض العلماء تحريم ذلك و قيل ان بعض الناس استنجى به فحصل له با سؤر. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ١٧، كتاب الطهارة، اقسام المياه) قال العلامة الحصكفي: يكره الاستنجاء بماء زمزم. قال ابن عابدين: تحته و كذا ازالة النجاسة الحقيقة من ثوبه اوبدنه حتى ذكر بعض العلماء تحريم ذلك. (رد المحتار ج ٢، ص ٦٢٥، كتاب الحج، مطلب في كراهية الاستنجاء بماء زمزم**

## د نشيي شيانو په استعمال سره د اوداسه حکم

الاستفتاء: آيا په شراب، هيروئين، چرس او د اسې نورو منشياتو په څکولو سره اودس ماتيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: چرس، افيون، شراب او هيروئينو څکول پخپله د اود اسه ماتوونکي نه دي ليکن له څکولو او چنلو وروسته ئې که چېرته نشه غالبه شي نو بيائې اودس ماتيږي۔

**قال العلامة الحصكفي: (ينقضه اغماء) و منه الغشى و جنون و سكر بان يدخل في مشيه تمايل و لو يأكل الحشيشه آه. قال ابن عابدين: (قوله سكرا) هو حالة تعرض للانسان من امتلاء دماغه من الابخرة المتصاعدة من الخمر فيتعطل معه العقل المميز بين الامور الحسنة و القبيحة اسمعيل عن البرجندى. (رد المحتار ج ١ ، ص ١٤٤ ، باب نواقض الوضوء) و كذا في الهندية: (و الغشى و السكر) قال وحد السكر في هذا الباب ان لا يعرف الرجل من المرأة و هو اختيار بعض المشائخ. وصدر الشهيد و الصحيح ما نقل عن شمس الائمة الحلواني انه اذا دخل في بعض مشيه تحرك كذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٧٢ ، الفصل الخامس في نواقض الوضوء) .;كذافي فتاوب حقانيه ج٢ ص٢٨٣**

## د نشيي دو اګانو د استعمال په صورت کښې د اوداسه حکم

الاستفتاء: نن صبا ځينې د واګانې د اسې دي چه په هغو کښې نشه زياته وي. نو آيا د داسې دوا ګانو په استعمال سره په اودس کښې کوم فرق راځي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: دوايي اګر که پخپل ذات کښې د اوداسه د ماتيدلو سبب نه ده ليکن کله چه د هغې د نشې له وجهې په انسان باندې بې هوشي راشي نو اودس ئې پرې ماتيږي. او که نه وي نو اودس ئې نه ماتيږي۔

**قال العلامة الحصكفي: (ينقضه اغماء) و منه الغشي و جنون و سكر بان يدخل في مشيه تمايل و لو يأكل الحشيشه و قال ابن عابدين: (قوله سكرا) هو حالة تعرض للانسان من امتلاء دماغه من الابخرة المتصاعدة من الخمر فيتعطل معه العقل المميز بين الامور الحسنة و القبيحة. (رد المحتار ج ١ ، ص ١٤٤ ، باب نواقض الوضوء) و في الهندية: (و الغشي و السكر) قال وحد السكر في هذا الباب ان لا يعرف الرجل من**

المرأة و هو اختيار بعض المشائخ، و صدر الشهيد و الصحيح ما نقل عن شمس الائمة الحلواني انه اذا دخل في بعض مشيته تحرك. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ١٢، الفصل الخامس في نواقض الوضوء) ;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٣.

## د ستنې د لګولو په صورت کښې د اودس حکم

الاستفتاء: ډاکټران مريضانو ته دوه ډوله ستنې لګوي چه يو ډول ئې د غوښې وي او بل ډول ئې د رګ چه دې ته وريدي پيچکاري هم ويل کيږي. نو آيا د ستنې په لګولو سره اودس ماتيږي او که څنګه؟

الجواب حامدا ومصليا: هر نجس (مرد ار) شي چه کله له بدن څخه ووځي نو اودس ورسره ماتيږي. په دغو دواړو پيچکاريو کښې وريدي پيچکارۍ هلته يقيني کيږي چه په پيچکاري کښې وينه راشي او که وينه ستنې ته را نه شي نو نه يقيني کيږي. لکه څرنګه پيچکارۍ له وجهې د مرد ارشي وتل منځ ته راځي نو د دې لپاره يو ائې د وريدي پيچکارۍ په لګولو سره اودس ماتيږي–

قال العلامة الحصكفي: و ينقضه خروج كل خارج نجس منه اى من المتوضى الحي معتادا اولا من السبلين اولا الى ما يطهر اى يلحقه حكم التطهير. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ١٣٤، مطلب نواقض الوضوء) قال العلامة ابن نجيم المصرى: و ينقضه خروج نجس منه اى و ينقض الوضوء خروج نجس من المتوضئ الخ. (البحر الرائق ج١، ص٢٩، كتاب الطهارة) .كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٤

## د فلم په کتنې سره اودس نه متاثر کيږي

الاستفتاء: د ټي وي، وي سي آر او فلم په ليدلو سره په اودس کښې کوم فرق راځي او که نه؟ بينوا توجروا-

**الجواب حامدا ومصليا:** ټي وي، وي سي آر، فلم او داسې نور ليدل د فسق او فجور کارونه دي. په دې عمل سره سړي ګناهګاريږي ليکن په اودس باندې کوم اثر نه کوي البته مستحبه داده چه د ګناهونو يعنې د دغو کارونو له کولو وروسته اودس وکړي-

لما قال حسن بن عمار الشرنبلالي: و مندوب للنوم على طهارة و اذا استيقظ منه. ، و بعد غيبة و كذب و نميمة و كل خطيئة الخ. (نور الايضاح ص ٣٤، فصل الوضوء على ثلاثة اقسام) قال قاضيخان: و مندوب .......... و منها الوضوء بعد الغيبة و بعد انشاد الشعر. (فتاوي قاضي خان على هامش الهندية ج١، ص ٣٢، باب الوضوء و الغسل فيه سبعة فصول) و مثله في الهندية ج ١ ، ص ٩ ، الفصل الثالث في المستحبات) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٤

## په ګرمو اوبو سره اودس جائز دی

الاستفتاء: په ګرمو اوبو سره اودس جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: هر هغه اوبو چه پاکې وي اودس پرې مطلقاً جائز دي اګر که ګرمې وي او که سړې، يا هم په لمر باندې په ګرمو شويو اوبو باندې اودس کول په طبي لحاظ سر، مکروه دي-

ان عمر : كان يسخن له ماء في قمقمه و يغتسل به. آه ان عمر : قال لا تغسلوا بالماء المشمس فانه يورث البرص. آه (دار قطني ج١،ص٣٩/٣٧، باب الماء المسخن) عن الاسلج بن شريك: ...... فقلت اصابتني جنابة فخشيت البرد على نفسي فامرته ان يرحلها وضعت احجاراً فاسخنت ماء فاغتسلت به. آه و عن عالسه قال نهى رسول الله ان يتوضأ بالماء المشمس. (نصب الراية ج١،ص١٠٣/١٠٢باب الماء الذي يجوز به الطهارة) و مثله في السعاية ج١،ص٣٣٧/٣٣٦، باب الكراهية في الماء المشمس

## د عورت بربنډول د اودس ماتوونکي نه دی

الاستفتاء: آيا د فرض (عورت) په بربنډ والي سره اودس ماتيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: کشف عورت (د عورت بربنډ والی) د لمانځه فاسد وونکي دي ليکن د اودس ماتوونکي نه دی. د دي لپاره د ښځې او سړي د عورت له بربنډيدو سره اودس ئې پرې نه خرابيږي ليکن پرته له ضرورت څخه خپل عورت بربنډول حرام دي-

لما قال ابراهيم الحلبي: و من الآداب (ان يستر عورته حين فرغ) اى من الاستنجاء و التجفيف لان الكشف كان لضرورة لقوله الله أحق أن يستحي منه. (كبيري ص٣١، آداب الوضوء)قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري و من !ن الآداب ان لا يترك عورته مكشوفة يعني بعد الاستنجاء. (الفتاوى التاتارخانية ج ١، ص ١١٢، آداب الوضوء) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٥

## له اودا سه څخه وروسته شک او شبهه په اودا سه کوم بد اثر نه کوي

الاستفتاء: که چېرته يوه سړي ته د اوداسه او غسل له کولو وروسته د متيازو د وتلو شک ولوېږي ليکن په غور سره له کتلو وروسته څرګند شي چه هيڅ شي هم نه دي وتلي او يا ئي ډير واري د باد د وتلو شک وشي نو آيا په دغو دواړو صورتونو کښې اودس متاثر کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: کله چه د متيازو د څاڅکي او يا هوا د وتلو پوخ يقين ئې نه وي نو محض په شک سره اودس نه متاثر کيږي او نه پرې د اودا سه بيرته راګرځول ضروري دي-

قال طاهر بن عبد الرشيد: و من شك في الحدث فهو على وضوئه و لو كان محدثاً فشك في الطهارة فهو على حدثه. (خلاصة الفتاوى الفصل الثالث في الوضوء ج١، ص١٨) قال الحصكفي: و لو ايقن با لطهارة و شك با لحدث او با لعكس اخذ با ليقين. (الدر المختار على صدر رد المحتار، نواقض الوضوء ج ١، ص ١٥٠، و قال في الهندية و مثله في الفتاوى الهندية ج١، ص١١٣، نواقض الوضوء. ;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٥

## له اودا سه څخه وروسته په لاسونو او پښو باندې د صابون د لګولو حکم

الاستفتاء: په سړو سيمو کښې د لاسونو او پښو له چاودې کيدو څخه د ځان ساتنې لپاره د اوداسه له کولو څخه مخکښې خلک مختلف ډول صابونونه لګوي. آيا په دې سره اودس متاثر کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: صابون پخپله پاک شي دي او د نظافت لپاره ئې استعمال جائز دي نو ددې لپاره په نومورې صورت کښې د صابون لګول او د صابون پاتې کېدل او يا له هغه سره لمونځ کول صحيح دي-

قال القدوری: و يجوز الطهارة بماء خالطه شيء طاهر فغير احد اوصافه كماء المد و الماء الذي اختلط به الزعفران و الصابون. الخ. (مختصر القدوري ص ٩، كتاب الطهارة)قال ابراهيم الحلبي: و تجوز الطهارة بماء خالطه شيء طاهر فغير احد اوصافه كماء الد و الماء الذي يختلط به الاشنان و الصابون او الزعفران . الخ. (كبيري باب ما يجوز به الطهارة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٥

## په سيګريټو او نسوارو سره اودس ماتېږي او که نه؟

الاستفتاء: آيا په سيګريټو او نسوارو سره اودس ماتېږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له نورو ماتوونکو څخه پرته اودس په هر هغه شي باندې هم ماتېږي چه په هغه کښې نشه وي. لکه څرنګه چه په سګريټو او نسوارو کښې هغومره نشه نشته چه فقهاء کرامو د اوداسه په ماتولو کښې اعتبار ورکړي وي. د دې لپاره په دغو دواړو باندې اودس نه ماتېږي. البته د بد بويي د لرې کېدو لپاره د خولې پرې مېنځل ضروري دي-

قال العلامة ابن عابدين: فانه لم يثب اسكاره و لا تفتيره و لا اضراره بل ثبت له منافع ....... الخ. (رد المحتار علي در المختار، كتاب الاشربة ج٦، ص ٤٥٩)قال المفتي كفايت الله: د سګريټ په څکولو او نسوارو په اچولو سره اودس نه ماتېږي-(كفايت المفتي ج٢، ص٢٧٢، باب الطهاه، فصل چهارم--.;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٦

## تر څو پورې چه د احليل (د ذکر له سر) څخه څاڅکي نه وي وتلي تر هغو پورې اودس نه

الاستفتاء: که چېرته له يوه سړي څخه د متيازو يا مذي څاڅکي وخت ناوخته ووځي چه له مخې ئې هغه ته د هر لمانځه لپاره د اود اسه ضرورت پېښېږي- ليکن کله کله له يوه لمانځه څخه تر بل لمانځه پورې کوم څاڅکي و نه ووځي. البته د

احليل د ننه ښاڅكي موجود وي. نو آيا په دېصورت كښې دوباره اودس كول ضروري دي او كه مخكښيني اودس ئې كافي دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: كه چېرته د عذر چښتن وي نو د هر لمانځه لپاره اودس كول ورته ضروري دي. البته د غير معذور د اوداسه د ماتيدو دارو مدار په قطعي او يقيني ماتيدلو باندې دی. په نومو‌ړي صورت كښې كله چه د متيازو د ښاڅكي وتل يقيني وي نو اودس به كوي او كه چېرته يقيني نه وي نو دوباره اودس كول ورته ضروري نه دي اګر كه د متيازو ښاڅكي په احليل كښې موجودې هم وي-

قال العلامة الحصكفي: (و ينقضه خروج) كل خارج نجس (منه) اى من المتوضئ الحي معتاداً اولا من السبيلين اولا والى ما يطهر) ثم المراد با لخروج من السبيلين مجرد الظهور.و قال ابن عابدين: (تحت قوله مجرد الظهور) اى الظهور المجردة عن السيلان فلو نزل البول الى قصبة الذكر لا ينقض لعدم ظهوره. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ١٣٤، ١٣٥، نواقض الوضوء)و قال ابن نجيم: (تحت قول النسفي) و ينقضه خروج نجس منه) افاد بقوله خروج نجس ان الناقض خروجه لا

عينه. (البحر الرائق ج١، ص٢٩، نواقض الوضوء) و مثله في تبيين الحقائق ج١، ص٧، نواقض الوضوء)

## لـه بدن ښخه د خالصو اوبو په وتلو سره د اود اسه حكم

الاستفتاء: كه چېرته د بدن له كومې برخې ښخه خالصې اوبه ووځي چه له وينو او زوو سره ګډې نه وي نو آيا اودس پرې ماتيږي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: كه چېرته د ا وتلي اوبو يقيناً خالصې اوبه وي او وينې او زوي با لكل ورسره ګډې نه وي نو د د اسې اوبو په وتلو سره اودس نه ماتيږي-

قال الحسن بن عمار: و عن الحسن ان ماء النفطة لا ينقض. (مراقي الفلاح ص ٤٨ ، فصل في نواقض الوضوء)قال ابن نجيم: و عن الحسن ان ماء النفطة لا ينقض . (البحر الرائق ج١، ص ٣٢، بحث الوضوء)

.;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٧

## د وينې په خېږيدو سره د اودس حکم

الاستفتاء: که چېرته وينه او زوې د چا له بدن څخه ووځي ليکن د خپريدلو صورت غوره نه کړي نو آيا اودس ئې پرې ماتيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: کله چه د وينې او زوې د زخم له خولې څخه ووځي او خپرې شي نو په دې سره اودس ماتيږي او که خپرې نه شي نو بيا نه ماتيږي -

قال الحصكفي: و ينقضه خروج كل خارج نجس منه الى ما يطهر اى يلحقه حكم التطهير. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ۱۳٥/۱۳٤، نواقض الوضوء)قال ابراهيم الحلبي: اذا خرج و تجاوز مكان خروجه الى موضع يلحقه اي يلحق ذلك الموضوع حكم التطهير اي يجب تطهيره في الجملة. (كبيري، ص۱۳۱ ، نواقض الوضوء) و مثله في الهندية ج۱، ص ۱۰، الفصل الخامس في نواقض الوضوء،

## د پښو په چاودو کښې د دوايي له لګولو څخه وروسته د اودس حکم

الاستفتاء: د ژمي په موسم کښې په ډيرو سيمو کښې د خلکو پښې چاودې کيږي. په دې حالت کښې که چېرته دا چاودې له دوايي څخه ډکې شي او د اوداسه په وخت کښې هغو ته اوبو ورننه ووځي نو آيا اودس ئې صحيح کيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته د زخمونو منځ ته اوبو رسول نقصان وي نو په داسې صورت کښې د لاسونو او پښو په پوستکي باندې اوبو بهول کافي دي او د چاودو منځ ته اوبو رسول لازمي نه دي-

قال ابن عابدين: تحت قول الحصكفي (في اعضائه شقاق غسله ان قدر و الا مسحه الخ) و لو كان في رجله فجعل فيه الدواء يكفيه امرار الماء فوقه و لا يكفيه المسح . (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۱۰۲، فرائض الوضوء)قال ابراهيم الحلبي: اذا كان برجه شقاق فجعل فيه السحم او المرهم ان كان يضره ايصال الماء لا يجوز غسله و رضوه و ان كان لا يضره يجوز اذا مر الماء على ظاهره ذلك. (كبيري ص ٥٧، الطهارة الكبرى، فرائض الغسل) و مثله في خلاصة الفتاوي ج ۱، ص ۲۳

## د ستنې په ذريعې سره د وينې ايستل د اودس مـــــتونكي دى

الاستفتاء: كه چېرته يو څوک د ستنې په ذريعې سره له بدن څخه وينه اوباسي نو په دې سبب سره دموجوديت له مخې په ظاهره خو دا د اودس ماتوونكي نه ښكاريږي. نو آيا دا خبره صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په نوموړي صورت كښې وينه د بدن په يوې برخې كښې د نه لګيدو تر څنګ د اود اسه ماتوونكې ده ځكه چه كه چېرته دا وينه ستنې ته نه تللي نو خامخا به په جسم باندې بهيدلي واى. د ستن وجود يو باندني مانع دي چه د اوداسه د ماتيدلو په حكم باندې هيڅ اثر نه كوي

قال ابن عابدين: فا لاحسن ما في النهر عن بعض المتاخرين من ان المراد السيلان و لو با لقوة اى فان دم الفصدو نحوه سائل الى ما يلحقه حكم التطهير حكماً تامل. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۱۳٤، نواقض الوضوء) قال في الهندية: القراد اذا مص عضو انسان فامتلأ دماً ان كان صغيراً لا ينقض وضوئه كما لو مصت الذباب او البعوض و ان كان كبيراً ينقض و كذا العلقة اذا مصت عضو انسان حتى امتلأت من دمه انتقض وضوئه كذا في محيط السرخسي. (الهندية ج۱، ص۱۱، نواقض الوضوء) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص۱۷، الفصل الثالث نواقض الوضوء. .;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۸۸

## د عذر د خاوند د اوداسه او كاليو حكم

الاستفتاء: د عذر د څښتن اودس خو په ځاي نه پاتې كيږي نو د داسې سړي د اوداسه څه حكم دى؟ همد ارنګه ډير واري د همدې عذر له وجهې ئې د كاليو پاک ساتل ممكن نه وي نو د هغه دكاليو د پاكوالي حكم څه دى؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: له يوه سړي څخه د وينو د وتلو او يا د بادو د وتلو مريضي داسې ورت غوره كړي چه د لمانځه د يوه وخت غوندې وخت هم په نوموړي سړي د دې بيمارى له وجهې تير نه شي نو د اسې سړى شرعي معذور ګڼل كيږي او په معذور سړي باندې لازم دي چه د هر لمانځه لپاره به نوى اودس كوي او په دې اود اسه سره به همدې وخت كښې د ننه چه څومره عباد ات كوي كولاى ئې شي. البته د لمانځه د وخت په تيريدو سره ئې اودس پخپله ماتيږي او د بل وخت لپاره به دوباره بل اودس كوي-سربيره پر دې كه چېرته د جامو پاكوالي ممكن وي يعنې د لمانځه د كولو په وخت كښې ئې كپړې د

مېنځلو له وجهې پاک پاتې کېدلي شي نو بيا د لمانځه په شروع کېدو کښې د جامو پاک ساتل شي ضروري دي. او که چېرته دا ممکن نه وي نو بيا د جامو پاکوالي ئې له همدغه نجاست څخه ئې د جامې پاکوالي او مېنځل ضروري نه دي-

قال الحصكفي: و صاحب عذر من به سلسل بول او استطلاق بطن او انفلات ريح او استحاضة ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لا يجد في جميع وقتها زمناً يتوضأ و يصلي فيه خاليا عن الحدث (الي ان) و حكمه الوضوء لا غسل ثوبه و نحوه لكل فرض. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ۳۰۵، مطلب في احكام المعذور)قال طاهر بن عبد الرشيد و يتوضأ صاحب الجرح السائل لوقت كل صلوة و يصلي بذلك ما شاء من الفرائض و النوافل ما دام في الوقت فان خرج الوقت ينتقض طهارته (و بعد اسطر) فان اصاب ثوبه من ذلك الدم فعليه ان يغسل ان كان مفيداً اما اذا لم يكن مفيداً بان كان مصيبة مرة أخرى. ثانياً و ثالثاً حينئذ لا يفترض - غسله. (خلاصة الفتاوى ج۱ ، ص ۱٦، الفصل الثالث)

## : له دبري څخه د چينجي د وتلو په صورت کښې د اودا سه حکم

الاستفتاء: که چېرته د کوم سړي له دبري څخه د کومې بيمارۍ له وجهې يا پرته له بيمارۍ څخه چينجي ووځي نو آيا اودس ئې پرې ماتيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له دبري څخه د چينجي وتل د اوداسه ماتوونکي دي. او په دې کښې معذور او غير معذور دواړه برابر دي-

قال الحصكفي: و خروج غير نجس مثل ريح او دودة او حصاة من دبر لا . (ص ۱۳۵) و قال ابن عابدين: (قوله من دبر) و كذا من ذكر او فرج في الدودة و الحصاة با لاجماع. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص۱۳٦، مطلب نواقض الوضوء)

## په ژړا او خندا سره چې ترسترګو اوښکې راسي داودس ماتېدلو حکم.

الاستفتاء: که يو کس د ومره په کټ کټ سره و خاندي چې ترسترګو يې اوښکي راسي نوايا په دې سره اودس ماتيږي که يا ؟يا يو کس وژاړي او ترسترګو يې اوښکي راسي داوداسه يې څه حکم دي شرعاً؟

الجواب حامدا ومصليا خارج دلمانځه څخه په خندا قهقهې سره اودس نه ماتيږي البته دومره خندل چې ترسترګو يې اوښکي راسي داګناه ده او دهري ګناه وروسته اودس کول مستحب دی لهذا په دغه صورت کښې هم اعاده داوداسه بهتره ده دژړا په وجه چې ترسترګو کومې اوښکي راځي په هغه سره هم اودس نه ماتيږي البته که ترسترګو اوښکي خود بخوده را بهيږي او په يقيني طورسره وينه يازوي او نو نه وي ورسره په سره هم او د س نه ماتيږي که چيري په اوښکو کښې وينه يا زوي ښکاره سي نو بيا

اودس په ماتيږي او که چيري يو ډاکټر ديو چا دسترګو علاج او اپرېشن وکړي نوکومې او به چې ترسترګو را بهيږي په هغه سره اودس ماتيږي او په دې صورت کښې به د وخت په داخلېدو سره نوي اودس کوي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار(قوله: ناقض إلخ) قال في المنية: وعن محمد إذا كان في عينيه رمد وتسيل الدموع منهاآمره بالوضوء لوقت كل صلاة لأني أخاف أن يكون ما يسيل.. نعم إذا علم بإخبار الأطباء أو بعلامات تغلب ظن المبتلى، يجب. اهـ.... لكن صرح في السراج بأنه صاحب عذر فكان الأمر للإيجاب اه ويشهد له قول المجتبى ينتقض وضوءة(ردالمحتارج ١ ص ٢٨٠ كتاب الطهارة مكتبه امداديه ملتان/ البحرالرائق ج ١ ص ٣٣،٣٢ كتاب الطهارة سعيدچاپ/ فتح القديرج ١ ص ١٨٧ باب نواقض الوضوء مكتبه رشيديه / فتاوي رشيديه ص ٢٤٤ اداره اسلاميات/ عزيزالفتاوي ج ١ ص١٨٠؛١٨١ / فتاوي عبادالرحمن ج ١ ص ٢٩٩ كتاب الطهارة) .;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٨٩

دباران په ابو سره داودس کولو حکم.

الاستفتاء :دباران او به دباران د اوربدلو په وخت کښي د سرک دغاړي په لښتيانو کښي چي هغه لښتيان يو گز پراخه وي او نيم گز ژور وي څو ساعته پرله پسې وبهيږي حالانکي باران هم درې يا څلور ساعته مسلسل وورينو په دې اوبو کښي اودس يا غسل کول جائز دي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : په دغه حالت کښي په دغه اوبو سره اودس او غسل کول جائز دي په دې شرط چي پر دې اوبو باندي د نورو نجاستونو کوم اثر نه وي موجود .

(وفي الفتاوى الهندية المطر ما دام يمطر فله حكم الجريان حتى لو أصاب العذرات على. السطح ثم أصاب ثوبا لا يتنجس (فتاوي عالمگيريه ج ۱ ص ۱۷ الفصل الاول فيمايجوز به التوضوء رشيديه / حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۱۹ كتاب الطهارة رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۱۳۲ كتاب الطهارة مكتبه حبيبه/حاشيةالطحطاوي علي الدرالمختارج ۱ ص ۱۰۲ كتاب الطهارة مكتبه رشيديه/ فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۱ ص ۱۷۰ باب المياه)

: په لمانځه کښي د ښځي د تيو څخه شيدې راغلې .

الاستفتاء يوه ښځه پر لمانځه ولاړه ده او تر تيو يې شيدې راووتلې اوس پوښتنه داده چي پر لمانځه باندي د ښځي د تيو څخه د شيدو را وتل او دس ماتوي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا :کوم شي چي نجس نه وي نو د هغه په وتلو سره هم اودس نه ماتيږي نو شيدې بنفسه پاکي دي په وتلو سره يې اودس نه ماتيږي البته که چيري د درد يا بل کوم مشکل په وجه سره دا شيدې د تيو څخه را وتلې نو بيا اودس په ماتيږي ځکه بيا نو شيدې نه دي بلکې شېدو ته ورته دي خامخا نو يا بل داسي شي په گډ دي چي په هغه سره اودس ماتيږي او ځکه چي خالص شېدې چي راوزي درد هم نه وي ورسره .

(كما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : كمالا ينقض (لو خرج من أذنه) ونحوها كعينه ولديه (قيح) ونحوه كصديد وماء سُرة وعين (لا يوجع) وإن خرج (به) أي بوجع (نقض) لأنه دليل

الجرح، فدمع من بعينه رمد أو عمش ناقض، فإن استمر صار ذا غذر (درمختار)لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :(لابوجع) تقيد لعدم النقض بخروج ذلك، (الدرالمختار مع ردالمحتارج ١ ص ١٠٩ كتاب الطهارة نواتقض الوضوء رشيديه / حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ٤٨ باب نواقض الوضوء قديمي چاپ / فتاوي عالمگيريه ج ١ ص ١٠ باب نواقض الوضوء رشيديه / فتاوي دارالعلوم زكرياج ١ ص ٥٠٢ كتاب الطهارة/ فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ١ ص ١٣٠)

## : ماشوم ته په شيدو وركولو سره دمور اودس ماتيږي كه يا ؟

الاستفتاء: يوه ښځه په اوداسه سره ده او دې خپل ماشوم ته شېدې وركړې د تي څخه يا يې شېدې خپله خود په خوده د تيو څخه را ووتې ،يا دا ښځه پر لمانځه وي ماشوم راسي تي يې ورو ي شېدې ځيني را ووزي يا نه را ووزي، د داسي ښځې د لمانځه او اوداسه څه حكم دى؟

الجواب حامدا ومصليا : كله چي شېدې د ښځې د تيو څخه را خارجي سي (را ووزي) دغه را وتل د شېدو اودس نه ماتوي، ليكن كه چيري دغه ښځه پر لمانځه وه او ماشوم يې تي ورودي او شېدې هم ځيني راووزي، نو لمونځ يې فاسد دي او كه شېدې نه راووتې، نو يي لمونځ نه دي فاسد .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في رد المحتار عن التاتارخانية : مص صبي ثديها وخرج اللبن تفسد صلوتها.(درمختار علي هامش رد المحتارج ١ ص ٤٦٢ / ص ١٠٩ مكتبه حبيبه / امداد الفتاوي ج ١ ص ٤١ مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه )فتاوي رحمانيه

## : د جريان په مريضي اخته كس به څنګه اودس وچوي ؟

الاستفتاء يو كس د جريان په مرض اخته دي يعني تر بولو وروسته قطرې ورته راځي د ډېرې مجبورى څخه هغه دا طريقه اختيار كړه چي پنبه يې د بولو په پيپ كښې وركړه د ننه حصه پنبه لنده سوه ظاهري او ښكاره حصه و چه ده آيا اودس مات دي كه يا ؟

الجواب حامدا او مصليا: تر څه وخته چي د ښځي هغه د باندي او ښکاره حصه نه وي لنده سوې اودس نه دي مات.

**إذا خاف الرجل خروج البول فحشا إحليله بقطنة ولولا القطنة يخرج منه البول فلا بأس بهولا ينتقض وضوءه حتى يظهر البول على القطنة. كذا في فتاوى قاضي خان.(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰/ بدائع الصائع ج ۱ ص ۴۲۷ / احسن الفتاوي ج ۲ ص ۷۳)**

## : په شک سره اودس ماتيږي که يا ؟

الاستفتاء: يو انسان ته چي کله شک را پيدا سي چي آيا اودس به مي مات کړي وي که يا ؟او حال دا دي چي دي تر دغه شک کولو مخکي په يقين سره په اوداسه و ويو صورت خو دا دی.د و هم صورت دا دي چي يو سړي ته دا يقين دي چي زه مثلا دوه يا دري ساعته مخکي بې اوداسه وم ليکن په اودس کولو کښي ورته شک دي چي ما به او دس کړي وي که به مي نه وي کړي د دواړو صورتونو حکم شرعا څنګه دی؟

الجواب حامدا او مصليا: په اول صورت کښي شرعا دي په اوداسه بلل کېږي چي د ده دا يقين دي چي ماخو اودس درلودي ليکن خو شک دي ورته په ماتولو کي.په دوهم صورت کښي دی شرعا بې اوداسه دي يعني د ده دا يقين دي چي مخکي زه بې اودسه وم او په اودس کولو کښي په شک دی،

**لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : ولو ايقن بالطهارة وشك بالحدث او بالعكس اخذ باليقين .( ردالمحتار ج ۱ ص ۱۱۱ مکتبه رشيديه /الفتاوى الهندية ج ۱ص ۱۱۳ مکتبه رشيديه / بدائع**

## تريوه لوېشت کم مسواک استعمالول صحت لري ؟

الاستفتاء: تريوه لوېشت کم مسواک استعمالول صحت لري په شريعت کښي که يا ؟

الجواب حامدا او مصليا: د شروع څخه تر يوه لوېشت کم مسواک جوړول خلاف مستحب دي وروسته که کوچني سويا کم سو هيڅ پروا نه لري، په علائيه فتاوى کښي ليکلي دي : چي مستحب طريقه دا ده چي مسواک په راسته لاس و و هل

سي او نرم به وي او سيده به وي او د خچني ګوتي په اندازه به پنډ وي او طول يعني اوږدول به يې يوه لوېشت وي داسي مستحبات عموما پر سهولت باندي مبني وي ډېر ضروري هم نه دي.

**لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وكونه لينا مستويا بلا عقد في غلظ الخنصر وطول الشبر(احسن الفتاوي ج ۲ ص ۱۵ / رد المحتار علي الدرالمختارج ۱ ص ۸۵/ فتاوي محموديه ج ۵ ص: ۴۷ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۱ ص ۴۵۴)**

## په اوداسه کښي مخ پر قبله باندي توكل.

الاستفتاء سنت طريقه خو په اوداسه کښي دا ده چي انسان مخ پر قبله ناست وي په داسي صورت کښي اودس کوونکي ته د توکلو ضرورت وي، نو مخ پر قبله توکل خو منع دي شرعا د دغه توكلو حيثيت شرعا څه دی؟

الجواب حامدا ومصليا: د قبلي طرف ته توكل مكروه دي ليکن که يو څوک مخ پر قبله ناست وي بيا دي لاندي د مځکي طرف ته توکړي په دغه ډول توکلو کي شرعا کوم حرج نشته په حديث شريف کښي راځي که يو چاته په لمانځه کښي د ناړو د توكلو ضرورت پېښ سو نو دي تر پښو لاندي توکړي حالانکه لمونځ کوونکي مخ پر قبله وي د دې باوجود د لاندي طرف ته د توكلو اجازه شرعا ورکړه سوې ده

**.عن أنس بن مالك رضي الله عنه : أن النبي صلى الله عليه وسلم رأى نخامة في القبلة، فشق ذلك عليه حتى رئي في وجهه، فقام فحكه بيده، فقال: «إن أحدكم إذا قام في صلاته فإنه يناجي ربه، أو إن ربه بينه وبين القبلة، فلا يبزقن أحدكم قبل قبلته، ولكن عن يساره أو تحت قدميه» ثم أخذ طرف ردائه، فبصق فيه ثم رد بعضه على بعض، فقال: «أو يفعل هكذا» قال الحافظ : وهذالتعليل يدل على ان البزاق في القبلة حرام سواء كان في المسجد ام لا( الجامع المسند الصحيح المختصر صحيح البخاري ج ۱ ص ۹۰ / فتاوي محموديه ج ۵ ص ۳۰۲/فتح الباري ج ۱۶۶۹)**

## دیو کس لاسونه چي پرې وي او دس به څنګه کوي ؟

الاستفتاء که د يو کس لاسونه پرې وي هغه به د لمانځه د پاره او دس څنګه کوي ؟ آيا شريعت اسلامي د داسي مسئلې کوم حل لري؟

الجواب حامدا و مصليا : د او داسه پر اعضا و و دي صرف او به وبهيوي (۲) که پر هغه يې هم قدرت نه درلودي نو دي تيمم ووهي که يې چيري دواړه لاسونه پرې وه يا يې پر دواړه لاسو زخمونه وه او پر مخ باندي يې د اوبو د اچولو هيڅ قسم طاقت او قدرت نه درلودي نو دي خپل مخ پر مځکه يا ديواله پسي په نيت د تيمم تېر کړي هم صحيح دي (۴) او که يې پر مخ هم زخمونه وه نو دي بغير د او داسه او تيمم څخه لمونځ وکړي او د دغه کړو لمونځو د راګرځولو ضرورت هم يا نشته.

: لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار ولو قطعت يده أو رجله فلم يبق من المرفق والكعب شيء سقط الغسل ولو بقي وجب . كذا في البحر الرائق وكذا غسل موضع القطع. هكذا في المحيط .

(فتاوي محموديه ج ۵ ص ۴۰ مكتبة الفاروق اردو / ردالمحتارج ۱ ص ۵۹ مكتبة رشيديه /الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵ الفصل الاول فرائض الوضوء مكتبه رشيديه )

## يو کس د قطرې او جريان په مريضۍ اخته دي او دس به څنګه کوي ؟

الاستفتاء : يو کس د قطرې په مريضۍ اخته دي پس له بولو څخه څلور قدمي هم کوي ، کښېني او ولاړيږي هم خو يا هم هغه قطرې پر مخ او سمي نه ختمېږي آيا د داسي کس په لمانځه کښي خلل راځي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : د قطرې د پرې کېدو لپاره څلور قدمي خامخا قيد او ضروري نه ده بلکه اکثر وختونه قطره په دغه طريقه سره ختمېږي . اصل او ضابطه دا ده چي و انسان ته د قطرې د راوتلو څخه اطمينان حاصل سي چي تر څه وخته ده ته اطمينان نه وي حاصل سوي په او داسه شروع نه ده صحيح، هغه کسان چي تر ډېره پوري دوي ته قطرې راځي هغو ته په کار دي چي تر وخت مخکي مخکي څان د بولو څخه فارغه کړي او يا دي پنبه يا بل داسي نرم شي د شرم ګاه په نالۍ او پيپ کښي استعمال کړي چي لوند والي د قطرې د باندي معلوم نه سي.

لما في الفتاوى الهندية : إذا خاف الرجل خروج البول فحشا إحليله بقطنة ولولا القطنة يخرج منه البول فلا بأس به ولا ينتقض وضوءه حتى يظهر البول على القطنة. كذا في فتاوي قاضي خان . (ردالمحتارج ۱ ص ۱۱۰ / فتاوي عالمگيري ج ۱ ص ۱۰/ بدائع الصائع ج ۱ ص ۱۲۴)

## دلمر په ګرمو اوبو سره اودس رواه دي که يا ؟

الاستفتاء: دلمر په ګرمو اوبو سره اودس روادي که يا؟

الجواب حامدا ومصليا : دلمر په ذريعه چي اوبه ګرمي سوي وي په هغه اوبو سره اودس روا دي ليکن دا افضل طريقه نه ده ځکه چي د طب او ډاکټري دنګاه او لحاظه ښخه په داسي اوبوسره اودس مکروه دي بنه طريقه داده چي په عامو اوبو سره اودس وسي. ان عمر رضي الله تعالى عنه قال لاتغسلوا بالماء المشمس فانه يورث البرص الدارالقطني . ( فتاوي حقانيه ج ۲ ص ۲۵۸ باب الوضوء / مرقات المفاتيح ج ۲ ص ۱۷۷/ مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۵۲ نصب الراية ج ۱ص ۱۰۳/۱۰۲)

## دغابنو ښخه چي وينه راووزي اودس په مات دي که يا ؟

الاستفتاء زه چي کله خوله وينځم نو د خولې او د غابنو ښخه مي وينه راځي او دا وينه حلق ته نه ځي بلکه زه يې فورا تو کړم آيا د داسي ويني په راتلو سره اودس ماتيږي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : د وينو په راتلو سره اودس ماتيږي ليکن په دي شرط چي د ناړو رنګ سور والي پيدا کړي يا د وينو خوند او ذائقه انسان په خوله کښي احساس کړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ولو نزل الدم من الرأس إلى موضع يلحقه حكم التطهير من الأنف والأذنين نقض الوضوء، كذاالمحيط والموضع الذي يلحقه حكم التطهير من الأنف ما لان منه. كذا في الملتقط وإن خرج من نفس الفم تُعتبر الغلبة بينه وبين الريق فإن تساويا انتقض الوضوء ويعتبر ذلك من حيث اللون فإن كان أحمر انتقض وإن كان أصفر لا ينتقض كذا في

التبيين. ( الدرمختار علي هامش ردالمحتارج ١ ص ١٠٢ / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١١الفصل الخامس في نواقض الوضوء / البحرالرائق ج ١ ص ٦٩ / فتاوي ديوبندج ١ ص ١٣٠)

## په لمانځه کښې خوب او بيدېدل اودس ماتوي که يا ؟

الاستفتاء : که چيري يو شخص پر لمانځه باندي ولاړوي او بيا بيده سي نو لمونځ يې فاسد دي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : دداسي شخص نه اودس مات دي او نه يې لمونځ فاسد دي ځکه چي د شريعت حکم د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه د فقهي په رڼا کښې دادي چي په لمانځه کښې که څوک د ولاړي يا درکوع او ياد سجدې او ناستي په حالت کښې بيده سي نو لمونځ يې نه دي فاسد او نه يې هم اودس مات دي .

قال العلامة المرغيناني في الهداية شرح بداية المبتدى : بخلاف النوم حالة القيام والقعود والركوع والسجود في الصلاة وغيرهما في الصحيح لأن بعض الاستمساك باق إذ لو زال لسقط فلم يتم الإسترخاء والأصل فيه قوله عليه الصلاة والسلام: " لا وضوء على من نام قائما أو قاعدا أو راكعا أو ساجدا إنما الوضوء على من نام مضطجعا " فإنه إذا نام مضطجعا استرخت مفاصلة . وقال ابن الهمام في فتح القدير : ولذا لم ينقض توم القائم والراكع والساجد. ( الهداية ج ١ ص ٣٥ فصل في نواقض الوضوء مكتبه اميرحمزه / فتح القديرج ١ ص ٤٧ فصل في نواقض الوضوء ومثله في ردالمحتار والمحيط ونورالايضاح )

## پر التحياته باندي ناست وو بيده سوه .

الاستفتاء:که چيري يو شخص په لمانځه کښې پر التحياتي باندي ناست وي او پر دغه حال باندي بيده سي نو يې اودس مات دي که نه؟

الجواب حامدا ومصليا : په دغه حالت کښې ددغه شخص اودس نه دي مات او دس يې برقراره دی ځکه چي حديث شريف دي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي : چي نسته او دس پر هغه کس باندي چي دی بيده سي د ولاړي په حالت

کښې یا د ناستې په حالت کښې ، یا د رکوع په حالت کښې ، یا د سجدې په حالت کښې بلکې اودس پرهغه چا باندې لازم دی ستوني ستخ یا پر اړخ باندې بیده سې الخ .....

**والأصل فيه قوله عليه الصلاة والسلام: " لا وضوء على من نام قائما أو قاعدا أو راكعا أو ساجدا إنما الوضوء على من نام مضطجعا " فإنه إذا نام مضطجعا استرخت مفاصلة ( الهداية ج ۱ ص ۳۵ كتاب الصلوة / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۹۴)**

## لاسونه یې په رنګو لړلي وه اودس یې صحیح دي که یا ؟

الاستفتاء دیوکس لاسونه په رنګو لړلي دي ایا دده لړلو لاسونو سره اودس صحت لري که یا ؟

الجواب حامدا ومصلیا : که چیري دغه رنګ داسي جوړ وي چي په اوبو سره دلاسونو څخه نه بیلیږي یا اوبه لاندې ویوستکي ته نه پریږدي : (یعني زموږ او ستاسي په اصطلاح چي روغني یا پلاسټکي رنګ وي ) نو بیا نه اودس او نه هم غسل ورسره صحت لري .

باید اول واري دغه رنګ دتیلو یا نورو زائله موادو په ذریعه سره ختم سي بیا اودس ورسره وسي . او که چیري داسي رنګ وو چي په اوبو سره زائلیدي نو بیا اودس اوغسل صحت ورسره لري شرعا کوم مشکل نه لري

**.لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :(قوله: بخلاف نحو عجين) أي كعلك وشمع وقشر سمك وخبز ممضوغ متلبد جوهرة، .و في مراقي الفلاح شرح نورالايضاح : ولا بد من زوال ما يمنع من وصول الماء للجسد كشمع وعجين .(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۱۵۴ فرض الغسل مكتبه شامله / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص فصل في بيان فرائض الغسل ۵۵ / خير الفتاوي ج ۲ ص ۴۹/ احسن المسائل ص ۱۰ باب مسائل الصلوة )**

## که جماعت ولاړوي پوره اودس بايد وسي او که فقط فرض اداء سي سنتونه پرېږدي

الاستفتاء: که د جماعت لمونځ پر ختمېدو وي او يو کس پر اوداسه ناست وي نو اودس کامل او پوره و کړي سره د ستو او که فقط فرض پر ځاي کړي سنت پرېږدي د شرعي مبارکي حکم څه دی؟

الجواب حامدا ومصليا: د اوداسه سنتونه پوره کول ضروري دي که څه هم جماعت فوت او تېرسي ځکه نبي صلى الله عليه وسلم په حديث کښې فرمايلي دي چي تاسو اودسونه پوره او کامل کوئ او هيڅ عضوه هم وچه مه پرېږدئ ځکه چي په حديث شريف کښې وداسي اندامونو ته سزا او رول سوېده کوم چي په اوداسه کښې وچ پاته سي.

عن أبي هريرة، أنه رأى قوما يتوضئون من المطهرة فقال: أسبغوا الوضوء فإني سمعت أباالقاسم صلى الله عليه وسلم يقول: «ويل للعراقيب من النار»(صحيح مسلم ج ۱ ص ۲۱۴ باب وجوب غسل الرجلين بكمالهما ببروت چاپ /مرقات المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۱۰۱ رشيديه/ بدائع الصنائع ج ۱ ص ۷۴ رشيديه /البناية شرح الهداية ج۱ ص ۱۵۴/ فتاواي ديوبندج ۱ ص ۴۸)

# باب الغسل:

## په غسل کښې د غرغـــړي حکم

الاستفتاء: که چېرته د غسل د کولو په وخت کښې غرغړه له چا څخه پاتې شي نو آيا غسل يې صحيح کېږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د جنابت په غسل کښې مضمضه د غسل له فرائضو څخه ده او دا فرض د خولې په پرې مينځلو باندې هم ادا کېږي آن تر دې پورې چه د اوبو په چښلو سره هم دا فرض ادا کېږي. ليکن که چېرته مطلقا د خولې مينځل له چا پاتې شي نو غسل ئې نيمګړي پاتې کيږي. په داسې حال کښې چه په مينځلو کښې د مبالغې (ښه کوشش) د نه کولو په صورت کښې غسل صحيح ګڼل کېږي-

قال العلامة الحصكفي: و فرض الغسل غسل كل فمه و يكفى الشرب عباً لان المج ليس بشرط في الاصح . (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص ۱٥۱، ابحاث الغسل) قال ابراهيم الحلبي: و شرب الماء يقوم مقام المضمضة اذا كان لا على وجه السنة اذا بلغ الماء الفم كله و الا فلا. (كبيري ص ٥۰، فرائض الغسل) .;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۹۰

## د غسل د كولو په وخت كښې د پوزې د پريمينځلو حكم

الاستفتاء: د غسل په وخت په پوزې كښې د اوبو اچولو لپاره كومه طريقه بهتره ده؟ آيا اوبو پوزې ته اچول او د ګوتې وهل پكښې كافي دي او كه اوبو به د ننه خوا ته ځكوي او د پوزې تر اقصي پورې د اوبو رسول ضروري دي په داسې حال كښې چه د ځكولو او ځونړ كولو په صورت كښې د اوبو د پوزې تر اقصي پورې د اوبو رسول تكليف وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د غسل په دوران كښې د پوزې پريمينځل فرض دي او د پزې حدود د پوزې تر نرمي پورې دي. په د اسې صورت كښې خپل سهولت او آسانتياوو ته په نظر كولو سره چه كومه مناسبه طريقه وي هغه طريقه دې اختيار كړي۔

قال العلامة الحصكفي: و فرض الغسل كل فمه و يكفى الشرب عبا لان المج ليس بشرط في الاصح و انف حتى ما تحت الدرن. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۱٥۱ ، ابحاث الغسل) قال طاهر بن عبد الرشيد: و انما يجوز اذا تمضمض و استنشق بناء على ان المضمضة و الاستنشا ق فرض في الغسل عندنا. (خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱٤، الفصل الثاني في الغسل) و مثله في الطحطاوي حاشية مراة الفلاح ص ۸۱ ۰ فصل في فرائض الغسل.;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۹۰

## له مصنوعي غابن سره د غسل حكم

الاستفتاء: د غابنونو له لويدلو ځخه وروسته چه چا مصنوعي غابنونه لګولي وي آيا د غسل په وخت كښې به ئي باسي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: لكه څرنګه چه هر وخت د مصنوعي غاښونو ايستل د تكليف او حرج موجب نه دي نو د دې لپاره د غسل په وخت كښې ئې ايستل ضروري دي. له دې وجهې و آسانتياوو تر څنګ كه چېرته چا و نه ايستل او د اوبو رسول هم ورته ممكن نه وو نو بيا ئې غسل نه ادا كيږي. او كه چېرته ئې غاښونه په مستقله توګه لګولي وي او ايستلو كښې ئې تكليف وي نو بيا ئې له ايستلو پرته هم غسل صحيح دی۔

قال العلامة الحصكفي: بخلاف نحو عجين. و لا يمنع ما على ظفر صباغ و لا طعام بين اسنانه او في سنه المجوف به يفتي و قيل ان صلباً منع و هو الاصح .قال ابن عابدين: (قوله بخلاف نحو عجين) اى كعلك و شمع و قشر سمك و خبز ممضوغ متليد. جوهرة ... نعم ذكر الخلاف في شرح المنية في العجين و استظهر المنع لان فيه لزوجة وصلابة تمنع نفوذ الماء. (قوله و هو الاصح) صرح به في شرح المنية و قال لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة و الحرج آه. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۱۵٤ ، ابحاث الغسل) قال العلامة ابراهيم الحلبي: قال بعضهم هو ان كان صلباً ممضوغاً منا كذا لا يجوز غسله قل او كثر و هو الاصح لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة و الحرج. (كبيري ص ٤٩، الطهارة الكبرى، فرائض الغسل) و مثله في السعاية ج۱، ص۲۸۱، فرض الغسل.;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۹۱

## په غاښونو باندې د سرو زرو د پوښ په لګولو باندې د غسل حكم

الاستفتاء: ډير واړې خلک د غاښونو د بيمارى له وجهې خپلو غاښونو ته د سرو زرو پوښ وراغوندي چه غاښ په مكمله توګه پكښې پټيږي چه له وجهې ئې د مضمضې يعني خولې پريمينځلو په وخت كښې اوبو نه ور رسيږي. آيا په داسې صورت كښې د جنابت غسل روا كيږي او كه نه؟ او سريره پر دې كه چېرته دا پوښ د زينت او ښايست لپاره وي نو په حكم كښې ئې ضرورت او عدم ضرورت سره برابر دي او كه څنګه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په غاښ باندې د ضرورت په وخت كښې د سرو زرو پوښ ور اغوستل جائز دي او د غسل په وخت كښې د پوښ په لرې كولو كښې حرج دی۔ بلكه ډير واړې د خولې د زخمي كيدو خطره هم پكښې وي. له دې وجهې د دې مجبورى له مخې د غسل په وخت كښې اصل غاښ ته د اوبو نه رسيدل معاف دي او له پوښ سره ئې هم غسل ادا كيږي۔

قال العلامة الحصكفي: و لا يمنع الطهارة و نيم اي خرء ذباب و برغوث لم يصل الماء تحته و حناء و لو جرمه به يفتى. قال ابن عابدين (قوله به يفتي صرح به في المنية عن الذخيرة في مسئلة الحناء و الطين و الدرن معللاً با لضرورة (و بعد اسطر) فا لاظهر التعليل با لضرورة. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ١٥٤ ، ابحاث الغسل) ....قال ابراهيم الحلبي: ان كان بين اسنانه طعام و لم يصل الماء تحته في الغسل من الجنابة جاز لان الماء شيء لطيف يصل تحته غالباً قال صاحب الخلاصة و به يفتي (و بعد اسطر) و الطين و الدرن اذا بقيا على البدن يجزئ وصولهم للضرورة. (كبيري ص ٤٩، باب الغسل)

او له ضرورت پرته د سروزرو د پوښ استعمال جائز نه دي او که چېرته چا لګولي وي نو د غسل په وخت کښې که چېرته د پوښ په لرې کولو سره له غاښ څخه د محرومېد و خطره وي نو د دې حرج له وجهې ئې غسل جائز دي ليکن که په لرې کولو کښې ئې حرج نه وي نو بيا به د غسل په وخت کښې دا بې ضرورته پوښ به لرې کوي۔

## د غاښ په ډکولو سره په غسل باندې کوم فرق نه پرېوځي

الاستفتاء: که چېرته د چا غاښونه د مريضۍ له وجهې خالي شوي وي يعني په منځ کښې ئې سوري شوي وي نو هغه ته د خپلو غاښونو د ډکولو ضرورت پيدا کېږي. نو آيا د غاښ د ډکولو له وجهې به غسل باندې کوم اثر پرېووځي او که نه؟ ځکه چه د ډکولو په صورت کښې د غاښونو سوريو ته اوبو نه رسيږي؟

الجواب حامدا ومصليا: د غاښونو د خالي کيدلو او سوريو له وجهې په عمومي توګه په خوراک او چښاک کښې انسان ته تکليف وي نو د دې لپاره په داسې وخت کښې له پاکې مصالحې څخه د غاښونو ډکوليو جائز علاج دي او د غاښونو له ډکولو وروسته د هر غسل لپاره ئې خالي کول د حرج او تکليف سبب دی. نو له دې وجهې ئې خالي کول ضروري نه دي او په غسل کښې ئې هم کوم فرق نه راځي۔

قال العلامة الحصكفي: و لا يمنع الطهارة و نيم اي خرء ذباب و برغوث لم يصل الماء تحته و حناء و لو جرمه به يفتى. قال ابن عابدين: (قوله و به يفتى) صرح به المنية عن الذخيرة في مسئلة الحناء و الطين و الدرن معللاً با لضرورة(و بعد اسطر) فا لاظهر التعليل با لضرورة. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ، ص ١٥٤ ، ابحاث الغسل)قال ابراهيم الحلبي: و الطين و الدرن اذا بقيا على البدن يجزئ وضوئهم

للضرورة. (كبيرى ص٤٩، باب الغسل) و مثله في مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٥٠، فصل في تمام احكام الوضوء. .;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٩٢

## د جنابت په غسل کښې د ښځې لپاره د کوڅيو خلاصول ضروري نه دي

الاستفتاء: آيا ښځې ته د غسل په وخت کښې د کوڅيو خلاصول ضروري دي؟

الجواب حامداو مصليا: که چېرته ښځه د خپل سر ويښتان کوڅۍ کړي وي نو بيا د ويښتانو بيخونو ته د اوبو رسول ضروري دي او د کوڅيو خلاصول ورته ضروري نه دي-البته که چېرته ئې ويښتان خلاص وي يعني کوڅۍ کړې ئې نه وي نو بيا د ټولو ويښتانو پرېمنځل ضروري دي. که چېرته څه ويښتان وچ پکښې پاتې شي نو غسل ئې نه کېږي-

قال العلامة الحصكفي: و كفى بل اصل ضفيرتها اي شعر المرأة المضفور للحرج اما المنقوض فيفرض غسل كله اتفاقاً ولو لم ينل أصلها يجب نقضها مطلا هو الصحيح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص١٥٣، ابحاث العسل) قال ابن نجيم: (قوله و لا تنقض ضفيرة ان بل اصلها) اى و لا يجب على المرأة ان تنقض صغيرتها ان يلت في ج١، ص ٥٢ ، كتاب الطهارة) و مثله في الهندية ج١، ص١٣، الباب الثاني في الغسل الاغتسال اصل شعرها (و بعد اسطر) و يجب عليها الايصال الى الناء شعرها اذا كان منقوضاً لعدم الحرج: (البحر الرائق

## : د جنابت په حالت کښې د خوراک او څښاک حکم

الاستفتاء: د جنابت په حالت کښې د خوړلو، څښلو او ګرځېدلو څه حکم دی؟ او ډير واري د جنابت په حالت کښې له چاسره د خبرې کولو او د سلام د ځواب ورکولو ضرورت هم وړاندې کيږي نو په داسې حالت کښې سړي بايد څه وکړي؟

الجواب حامداو مصليا: د جنابت په حالت کښې خوراک، څښاک ګرځېدل، سلام اچول، او دسلام ځواب ورکول ټول جائز دي. البته د خوراک او څښاک په وخت کښې به خوله او لاسونه پرېمينځي او له خولې پرېمينځلو پرته خوراک به ورته مکروه وي

قال العلامة الحصكفي: لا قرأة قنوت (اى لا تكره) و لا اكله و شربه بعد غسل يد و فم و لا معاودة اهله قبل اغتساله، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ج۱، ص۱۲۹، ابحاث الغسل)قال سديد الدين الكاشغرى: و اذا اراد الجنب الاكل و الشرب ينبغي له ان يغسل يده و فيه ثم يأكل و يشرب. (منيةالمصلى ص ۲۹، بحث الطهارة، الطهارة الكبرى) و مثله في الهندية ج۱، ص۱٦ ، الفصل الثالث في المعاني الموجبة للغسل)

## د جنابت په حالت کښې د نوکانو د پرې کولو او ويښتانو د کمولو يا خريلو حکم

الاستفتاء: د جنابت په حالت کښې د نوکانو پرې کول او د ويښتانو د خريلو څه حکم دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د جنابت په حالت کښې ټول جسم په ظاهري توګه د نجاست نه پاک وي نو د دې لپاره د ټول وجود پرېمينځل فرض دي. په داسې حالت کښې د ويښتانو او نوکانو پرې کول مکروه دي. فقهاء کرامو مطلقاً د کراهيت ذکر کړي دي ليکن د قرائنو له اعتباره د اکراهيت تنزيهي کراهيت څرګنديږي-

و في الهندية: حلق الشعر حالة الجنابة مکروه و کذا قص الاظافير، کذا في الغرائب. (الهندية ج۵، ص ۳۵۸، الباب التاسع عشر في الختان و الخصاء و قلم الاظفار و قص الشارب ج۵، ص۳۵۸) قال الشيخ العلامة اشرف علی التهانوی: "در مطالب المؤمنين مي آرد و ستردن و تراشيدن موي و گرفتن ناختها در حالت جناب کراهت است". (امداد الفتاوي ج ۱، ص۲۸، فصل في الغسل) .;کذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۹۳

## که چيرې جنب کس د لمانځه پر قضاء کيدلو ويريږي نو غسل وکړي که تيمم؟

الاستفتاء: زه سهار ناوخته د خوبه راکښېنستم د جنابت عذر راته پيښ سوی ؤ وخت هم کم و او که چيرې غسل کوم لمونځ راڅخه قضاء کيږي نو اوس څه وکړم؟

الجواب حامدا ومصليا: دلمانځه دصحت لپاره دا شرط دي چي پر صورت به جنابت او بې اودسيا نه وي همدارنګه پربدن به ظاهري نجاست نه وي نو اوس که يو څوک د جنابت په حال کښې وي هغه په هيڅ حال کښې لمونځ نه سي کولای تر

څو يې غسل نه وي کړي البته که يو څوک دستي اوتمبلی د وجهي څخه غسل وځنډ وي اولمونځ قضاء کړي نو بيا ستره ګناه ده.

لمافي الفتاوى الهندية : الباب الثالث في شروط الصلاة وهي عندنا سبعة الطهارة منالأحداث والطهارة من الأنجاس .وفي البدائع : أما شرائط أركان الصلاة فمنها الطهارة بنوعيها من الحقيقية والحكمية والطهارة الحقيقية هي طهارة الثوب والبدن ومكان الصلاة عن النجاسة الحقيقية والطهارة

الحكمية هي طهارة أعضاء الوضوء عن الحدث وطهارة جميع الأعضاء الظاهرة عن الجنابة وفى المراقي : فمن الشروط ( الطهارة من الحدث ) الأصغر والأكبر والحيض والنفاس (فتاوي هندية ج ١ ص ٥٨ مكتبه رشيديه /بدائع الصنائع ج ١ ص ٣٠١ مكتبه رشيديه/ البحرالرائق ج ١ ص ٤٦٣ مكتبه رشيديه /مجمع النهرج ١ ص ١١٩ مكتبة الحرمين الشريفين / تبين الحقائق ج ١ ص ٢٥١ مكتبه اشرفيه )

د ښځي سره تر صحبت وروسته ښځي ته زنانه مريضي راغله غسل وکړي ؟

الاستفتاء يو کس د خپلي ښځي سره کوروالي او جماع وکړله پسله جماع اوکوروالي و ښځي ته زنانه مريضي (حيض ) راغله آيا پر دغي ښځي د جنابت غسل فرض دي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا د داسي ښځي باندي في الحاله غسل د جنابت نه دي فرض . کله چي د زنانه مريضي يعني حيض څخه پاکه سوله بيا دي غسل وکړي

.لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وفرض الغسل عند انقطاع حيض ونفاس الخ اى يجب هذه ( الدرالمختار ) اى عند تحقق الانقطاع ونحوه (فتاوي دار العلوم ديوبندج ١ ص١٦٠/ ردالمحتارج ١ ص ١٢٢ مكتبه رشيديه )

يوه واده سوي ښځه چي د غسل کولو څخه معذوره وي .

الاستفتاء يوه کور داره ښځه دائمي مريضه ده د غسل څخه معذوره ده په غسل کولو سره ورته تکليف رسيږي که خاوند ضرورة ورسره همبستري وکړي ، نو داسي ښځه به د غسل څه چاره کوي؟

الجواب حامداً ومصلياً: د داسي معذوري ښځي لپاره شريعت د غسل پر ځاي تيمم مقرر کړي دی، يعني دا ښځه به تيمم په نيت د غسل کوي او لمونځ به په کوي تر څو چي پر غسل قدرت پيدا کوي او د خاوند لپاره د دې سره همبستري او جماع کول هم جائز دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : من عجز عن استعماله الماء المطلق الكافي لطهارة الخ تيمم . (فتاوي دار العلوم ديوبندج ۱ ص ۲۴۸ / الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۱ ص ۱۱۴/۱۱۳ / فتاوى في الفقه الحنفي ج ۴۲۷۱)

## ايا تر جنابت وروسته او تر غسل مخکي بولي کول ضروري دي ؟

الاستفتاء : موږ اوريدلي دي که يو څوک جنب سو او بيا يي تر غسل کولو مخکي بولي ونه کړې غسل يي نه دي صحيح ايا دا خبره صحيح ده که يا ؟

الجواب حامداً ومصلياً: تر جنابت وروسته او تر غسل مخکښي بولي کول ضروري نه دي . اصلي خبره دلته دمني په راوتلو کښي ده هغه داسي چي د غسل کولو څخه وروسته چي کوم څاڅکي را ووزي په هغو کښي څه تفصيل دي: که چيري دمني دغه څاڅکي دګرځيدلو ، يا خوب کولو ، يا دبولو کولو څخه وروسته را ووتل نو دا بې شهوته او به

دي نو د غسل دراګرځولو ضرورت نسته . او که چيري دغه څاڅکي دمني له مخه تر دې را ووتل چي نه دا سړي بيده سوي دي، او نه هم ګرځيدلي دي، او نه يي هم بولي کړي دي نو دوهم ځل غسل باندي واجب دی، اصلي مسئله هم دغه ده.

لما في الفتاوى الهندية : لواغتسل من الجنابة قبل ان يبول اوينام وصلى ثم خرج بقية المنى فعليه ان يغتسل عندهما خلافا لابى يوسف ولكن لايعيد تلك الصلوة في قولهم جميعا كذافي الذخيرة . ولوخرج بعد مابال اونام اومشى لايجب عليه الغسل اتفاقاً ( الفتاوى الهنديه ج ۱ص ۱۴ الفصل الثالث / ردالمحتارج ۱ ص ۱۶۰ موجبات الغسل / فتاوي حقانيه ج ۲ ص ۳۰۰/ امدادالفتاوي ج ۱ص ۴۶)

## : غسل په ناسته کول افضل دي که په ولاړه ؟

الاستفتاء: غسل په ناسته سره کول افضل او ثواب لري که په ولاړه سره؟

الجواب حامداومصليا: افضل او ښه طريقه شرعاً د غسل په کولو کښي دا ده چي په ناسته سره وسي ځکه چي تسترا و پرده په ناسته کښي زياته ده تر ولاړي او د احاديثو څخه هم دا خبره اشارة فهمېږي چي نبي کريم صلی الله عليه و سلم به په ناسته غسل کوي ځکه چي د نبي کريم صلی الله علي وسلم عادت مبارکه هم دا و و چي په ستر کښي يې غسل کوي او ستر په ناسته کښي زيات دي تر ولاړي.

**عن ام هانئ رضي الله عنها تقول ذهبت الى رسول الله عام الفتح فوجدته يغتسل وفاطمة تستره فقال من هذه فقلت انا ام هانئ الصحيح البخاري ج۱ص ۴۲ باب تستر في الغسل عند الناس واخرجه الامام في صحيحه .. وعن معاذة قال قالت عائشة كنت اغتسل انا ورسول الله من اناء واحد بيني وبينه فيادرني حتى اقول دع لى دع لي قالت هما جنبان قال العلامة انورشاه الكاشميري رحمة الله عليه في فيض البارى :و حاصل المسئلة عندي :ان التستر في الفضاء مطلوب ولوبثوب ( صحيح البخاري ج ۱ ص ۴۲ / مسلم ج ۱ ص ۱۴۸/ فيض الباري ج ۱ ص ۴۶۹ / فتاوي حقانيه ج۲ ص ۲۹۴)**

## د غسل په وخت کښي په سر باندې مسح کافي نه ده

الاستفتاء: آيا په غسل کښي د ښځي لپاره هم د ټول بدن پرېمينځل فرض دي؟ ځيني ښځې په بدن باندې اوبه تويوي او په سر باندې يواځې مسح کافي بولي. نو آيا په دې صورت کښې ئې غسل کېږي؟

الجواب حامداومصليا: د غسل په احکامو کښي نر او ښځي ټول برابر دي. لکه څرنګه چه د نر لپاره د ټول بدن پريمينځل فرض دي همد ارنګه د ښځي لپاره هم د ټول بدن پريمينځل فرض دي. که چېرته د غسل په وخت کښي په ويښتانو باندې مسح وکړي او پرې ئې نه مينځي نو غسل ئې نه اد اکېږي.

**قال الحصكفي: و فرض الغسل غسل كل فمه وانفه حتى ما تحت الدرن و باقي بدنه لكن المغرب و غيره البدن من المنكب الى الألية و حينئذ فا لرأس و العنق و اليد و الرجل خارجة لغة داخلة تبعاً شرعاً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ۱۵۲ ، ابحاث الغسل) و في الهندية: الفصل الاول في فرائضه و هي ثلاثة المضمضة و الاستنشاق و غسل جميع البدن على ما في المتون. (الهندية ج ۱، ص ۱۳، الباب الثاني في الغسل) و مثله في البحر الرائق ج ۱، ص ٤٥ ، كتاب الطهارة.**

## د غسل لپاره د عورت د بــــربنډولو حکم

الاستفتاء: په ځينو سيمو کښې خلک په لويو لويو حوضونو او تالابونو کښې په اجتماعي توګه غسلونه کوي. ښکاره خبره ده چه د مخصوص اندام په ښکارولو سره خپل ضمير انسان ملامتوي ليکن که چېرته يو سړي خپل مخصوص اندام په څه شي باندې پټ کړي او د اسې غسل وکړي چه تر نامه څخه لاندې برخه او له زنګنونو څخه پورته برخه ئې ټول خلک ويني. نو د شريعت په رڼا کښې د دې ډول غسل څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصلياً: څرګنده ده چه که چېرته په د اسې ځاي کښې څوک غسل وکړي چه يواځې وي او بل څوک ورسره نه وي نو په داسې ځاي کښې به هم له ضرورت څخه پرته د عورت له بربنډولو څخه احتراز کوي. د ضرورت تر اندازې پورې د عورت د بربنډولو اجازت شته ليکن په کوم ځاي کښې چه خلک موجود وي نو په داسې ځاي کښې د سړي لپاره له زنګنونو څخه تر نامه پورې د عورت پټول فرض دي. او بربنډول ئې حرام دي. په د اسې ځاي کښې دا ضروري ده چه پرده به کوي او غسل به کوي. البته که په داسې حالت کښې غسل وکړي کوم چه په الاستفتاء کښې ئې يادونه شوې ده نو د حرامو د ارتکاب تر څنګ ئې د غسل د فرائضو په اداکولو سره غسل اداکيږي۔

قال ابراهيم الحلبي: (و ان يغتسل في موضع لا يراه احد) لاحتمال بدؤ العورة حال الاغتسال او اللبس و الحديث يعلى بن أمية ان النبي صلى الله عليه وسلم قال ان الله حي ستير يحب الحياء و التستر فاذا اغتسل احدكم فليستتر رواه ابو داؤد. (كبيري ص ٥١، فرائض الغسل) قال ابن عابدين: قال في شرح المنية و هو غير مسلم لان ترك المنهي مقدم على فعل المامور. و للغسل خلف و هو التيمم فلا يجوز كشف العورة لاجله عن من لا يجوز نظره اليها. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ١٥٦ ، ابحاث الغسل)

## د عورت د بربنډولو په صورت کښې د : تيمم رخصت

الاستفتاء: که چېرته يوه سړي ته په داسې ځاي کښې د غسل ضرورت پيښ شي چه د غسل کولو لپاره د پردې ځاي نه وي. او که غسل کوي نو د عورت د بربنډيدو ډيرا امکان وي. آيا په داسې صورت کښې د غسل په ځاي د تيمم کولو رخصت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصليا: کله چه د نورو خلکو په وړاندې د عورت له بربنډ بدلو پرته غسل ممکن نه وي نو د داسې سړي لپاره تيمم کول جائز دي يعنې د عورت له بربنډ ولو څخه د ځان ساتنې لپاره دې په تيمم اکتفاء وکړي او کله چه موقع ورته پيدا شي نو بيا دې غسل وکړي۔

قال ابراهيم الحلبي: و للغسل خلف وهو التيمم و لا يجوز كشف العورة عند من لا يجوز نظره اليها لاجله (كبيري ص ٥١، فرائض الغسل) قال ابن عابدين: و لا يخفى ان تاخير الغسل لا يقتضى عدم التيمم فان المبيح له و هو العجز عن الماء قد وجدنافهم. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ، ص ١٥٥، ابحاث الغسل) .;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٩٦

## د شهوت د موجود والي تر ځنګ د مني په بندولو سره غسل حکم

الاستفتاء: که چېرته چا خپل د ذکر سر کلک و نيو او مني ئې پرې نهښوده چه را ووځي. ليکن کله ئې چه شهوت ختم شو نو بيا ئې پرېښوده آيا په داسې صورت کښې په نوموړي باندې غسل واجبيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصليا: د طرفينو (امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله) په نزد په دې صورت کښې غسل پرې واجبيږي ليکن د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد د مني د خروج په وخت کښې د شهوت شتون ضروري دي په نوموړي صورت کښې د مني د خروج په وخت کښې د شهوت د نشت والي له وجهې د امام ابو يوسف په نزد غسل واجب نه دي ليکن فتوي د طرفينو په قول ده۔ البته که چېرته يو څوک چېرته ميلمه وي او د احتلام په صورت کښې د کوربه له خوا څخه د شک د پيدا کيد و امکان وي نو بيا د احتلام په وخت کښې د دې طريقې په اختيارولو سره د امام ابي يوسف په قول باندې عمل کول جائز دي ليکن فتوي پرې نه شي ورکول کيدلی۔

.......قال العلامة الحصكفي: و شرطه ابو يوسف و بقوله يفتي في ضيف خاف ريبة او استحي كما في المستصفى و في القهستاني و التاتارخانية معزياً للنوازل و بقول ابي يوسف ناخذ لانه ايسر على المسلمين قلت و لا سيما في البناء و السفر. و قال ابن عابدين قوله و شرطه ابو يوسف اى شرط الدفق، و اثره الخلاف يظهر فيما لو احتلم او نظر بشهوة فامسك ذكره حتى سكنت شهوته ثم ارسله فانزل وجب عندهما لا عنده. (و بعد اسطر) (قوله قلت) ظاهره الميل الى اختيار ما في النوازل، و لكن اكر الكتب على خلافه حتى البحر و النهر و لا سيما قد ذكروا ان قوله قياس و قولهما استحسان و انه الأحوط الافتاء بقوله

في مواضع الضرورة، فقط. (رد المحتار على الدر المختار ج١ ، ص ١٦٠ ، ابحاث الغسل) قال ابن نجيم: ثم اتفق اصحاب المذهب انه لا يجب الغسل اذا انفصل عن مقره من الصلب بشهوة الا اذا خرج على رأس الذكر و انما الخلاف في انه هل يشترط مقارنة الشهوة الخروج فعند ابي يوسف نعم و عندهما لا و قد اشار الى اختيار قولهما يقوله عند الفصاله اي فرض الغسل عند خروج مني موصوف با لدفق و الشهوة عند الانفصال عن محله عندهما. (البحر الرائق ج١ ، ص ٥٥ ، مبحث الغسل)

## د غسل په وخت کښې چه کوم ځـــا ي ته د اوبو رسول مشکل وي نو بيا

الاستفتاء: د ختني (سنتی) په وخت کښې د حشفې (د ذکر سر) گير چاپيره گله واري پوستکي پاتي کيږي چه له وجهې ئې د غسل په وخت کښې حشفې ته اوبو رسول مشکل وي او پرته له تکليف او سخت کوشش څخه اوبو نه ور د اخليږي. نو آيا په د اسې صورت کښې به سړي څه کوي؟

الجواب حامدا و مصليا: کوم ځاي ته چه د اوبو د اخلول مشکل وي نو په هغه ځاي باندې د غوړونو د سوريو غوندې په ظاهر پوستکي باندې له اوبو بهولو سره غسل صحيح کيږي. د د اسي تديرونو د غوره کولو ضرورت نشته چه د حرج او تکليف موجب وي.

قال العلامة الحصكفي: و لو كان خاتمه ضيقاً نزعه او حركه وجوباً كقرط و لو لم يكن بثقب اذنه قرط قد دخل الماء فيه اي الثقب عند مروره على اذنه اجزاء كسرة و اذن دخلهما الماء (و الا) يدخل ادخله و لو باصبعه و لا يتكلف بخشب و نحوه و المعتبر غلبة ظنه با لوصول. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١ ، ص ١٥٥، ابحاث الغسل) قال ابراهيم الحلبي: امرأة اغتسلت هل تتكلف في ايصال الماء الى ثقب القرط ام لا قال اى محمد تتكلف فيه اي في ايصال الماء الى ثقب القرط كما تتكلف في تحريك الخاتم ان كان ضيقاً و المعتبر فيه غلبة الظن با لوصول (و بعد اسطر) و لا تتكلف لغير الامرار من ادخال عود و نحوه فان الحرج مدفوع. (كبيري ص ٤٨ ، فرائض الغسل) و مثله في الهندية ج١ ، ص ١٤، في فرائض الغسل.

## له غسل څخه وروسته د دوباره اودس كولو حكم

الاستفتاء: آيا له غسل څخه وروسته دوباره اودس كول ضروري دي او كه د غسل په ضمن كښې په شوي اود اسه باندې اكتفاء صحيح ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: بهتره داده چه له غسل څخه مخكښې اودس وشي. البته كه چيرته ئې له غسل څخه مخكښې اودس نه وي كړي نو بيا د غسل په ضمن كښې په اود اسه سره اكتفاء صحيح ده . په داسې حالت كښې له غسل څخه وروسته دوباره اودس ضروري نه دى- البته كه چيرته له غسل څخه وروسته په بلې مرحلې كښې اودس وكړي نو جائز دى-

قال ابن نجيم: و اتفق العلماء على عدم وجوب الوضوء في الغسل الا داؤد الظاهري فقال با لوجوب في غسل الجنابة و اذ توضأ اولا لا يأتي به ثانياً بعد الغسل فقد اتفق العلماء على انه لا يستحب وضوء ان للغسل اما اذا توضأ بعد الغسل و اختلف المجلس على مذهبنا او فصل بينهما بصلوة كما هو مذهب الشافعي فيستحب . (البحر الرائق ج۱، ص ۵۰، سنن الغسل)قال العلامة الحصكفي: لو توضا اولا لا يأتي به ثانياً لانه لا يستحب وضوء ان للغسل اتفاقاً اما لو توضأ بعد الغسل واختلف المجلس على مذهبنا او فصل بينهما بصلوة كقول الشافعية فيستحب. (الدر المختا رعلى صدر رد المحتار ج۱،ص ۱۵۸، سنن الغسل) .;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۲۹۷

## له خوب څخه د پاڅيدلو نه وروسته يو اخې په لمد و الې باندې د غسل حكم

الاستفتاء: كه چيرته يو سړي سهار له خوب څخه د پاڅيد. و په وخت كښې پر ته له شهوت، د فق يعني تو پ څخه لمد و الي محسوس كړي نو آيا غسل پرې و اجيږي او كه نه؟ په داسې حال كښې چه احتلام هم وربه زړه نه وي او نه ئې د لمد والي په باره كښې د ايقين وي چه دا مني ده؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: په خوب كښې د احتلام د نه ياديد و تر څنګ يو اخې د لمدوالي د محسوسولو په صورت كښې احتياطاً غسل پرې واجب دى- البته كه چيرته ئې د ايقين وي چه دا مني نه بلكه مذي ده نو بيا غسل پرې و اجب نه دى-

قال ابراهيم الحلبي: و اما اذا لم يتذكر الاحتلام و تيقن انه مني او شك هل هو مني او مذى فكذلك يجب عليه الغسل في هاتين الحالتين ايضاً اجماعاً للاحتياط و ان تيقن انه مذى فلا غسل عليه. (كبيري

ص ٤٢ ، اما الطهارة الكبرى نهي الاغتسال) قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و الثالث اذ رأى البلل على فراشه و لم يتذكر الاحتلام عندهما يجب عليه الغسل و عند ابي يوسف لا غسل عليه. (خلاصة الفتاوى ج١، ص١٣، الفصل الثاني في الغسل) و مثله في الهندية ج١، ص ١٥، الفصل الثالث في المعاني الموجبة.

## د احتلام د هيريدو په صورت کښې د اداشوي لمونځونو حکم

الاستفتاء: له يوه چا څخه احتلام هير شوي وو او له څو ورځو وروسته وريه زړه شو چه په فلاني ورځ خوزه شيطان خطا کړي وم-نو اوس به ئې د څو ورځو د اداشوي لمونځونو حکم څه وي؟

الجواب حامداومصليا: که چېرته څو ورځي وروسته احتلام وريه زړه شي چه فلاني ورځ زه شيطان خطا کړي وم نو له هغې ورځې څخه دې د لمونځونو قضايي شروع کړي. او که چېرته ئې د ورځې د تعين په اړه علم نه وي نو له آخري خوب څخه به جنوب کڼل کيږي او له آخري خوب څخه وروسته ئې چه څومره لمونځونه اداکړي وي د هغو قضايي به راګرځوي-

لما قال الشيخ عبد الحي: اگر دانست که احتلام فلان روز است حکم جنابت ازان روز جاري خواهد شد و (فارسى) ج٣، ص ٢٦، باب الغسل) اگر تعين روز معلوم نه شد حکم احتلام از آخر نوم که بعد ازان نه خمپيده است داده خواهد شد. (مجموعة الفتاوى

## له ډبوسکي سره ايلاج (دخول) د غسل موجب دى

الاستفتاء: د ډبوسکي د استعمالولو په صورت کښې له انزال پرته جماع د غسل موجب دي او که نه؟

الجواب حامداومصليا: په نفس التقاء ختانين (د دوو فرجونو سره لګيد نه) سره چه کله حشفه پټه شي نو له انزال پرته هم غسل واجبيږي خو په دې شرط چه دواړو ته د يوه او بل د فرجونو حرارت محسوس شي. د دې لپاره فقهاوو هغه ايلاج (دخول) چه له غټ توکري سره وي او د فرج د داخل حرارت محسوس نه شي د غسل موجب نه دي ګرځولي ليکن په ډبوسکي کښباګر که ذکر پټ وي مګر دا غلاف دومره نري وي چه له هغه سره سره د تهولو لذتونو احساس او د دواړو له يوه او بل څخه خوند اخيستلي شي. نو د دې لپاره د ډبوسکي سره په کيږي داخلولو کښې له انزال پرته هم غسل واجبيږي

لما قال حسن بن عمار: و منها ایلاج بخرقة مانعة من وجود اللذة علی الاصح . قال الشیخ احمد الطحطاوي(قوله مانعة من وجود اللذة) اقتصر علی ذکر اللذة هنا و زاد فیما تقدم وجود الحرارة و لعلهما متلازمان. (الطحطاوی حاشیة مراقي الفلاح ص ۸۰، فصل عشرة اشیاء لا یغتسل منها)و قال ایضاً لو لف ذکره بخرقة و اولجه و لم ینزل فا لاصح انه ان وجد حرارة الفرج و اللذة وجب الغسل و الافلا. (مراقي الفلاح علی صدر الطحطاوي ص ۷۸، موجبات الغسل) و قال ایضاً لو لف ذکره بخرقة و اولجه و لم ینزل فا لاصح انه ان وجد حرارة الفرج و اللذة وجب الغسل و الافلا. (مراقي الفلاح علی صدر الطحطاوي ص ۷۸، موجبات الغسل)قال العلامة الحصفکی: اولج حشفته او قدرها ملفوفة بخرفة ان وجد لذة الجماع وجب الغسل و الا لا علی الاصح. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۱، ص ۱٦٤/۱٦٥، باب الغسل)

## د ټیسټ ټیوب بې بي سره د غسل د وجوب مسئل

الاستفتاء: د ټیسټ ټیوب بې بي په ذریعې سره چه کومه مني د ښځې په رحم کښې اینـودله کیږي نو آیا په دې سره په ښځې باندې غسل واجبیږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: د غسل د وجوب سبب د نفس مني وتل او یا د خول نه دې بلکه اصل علت یکښې لذت او د قلب تسکین دې کوم چه د شهوت په ذریعه حاصلیږي. په ټیسټ ټیوب بې بي کښې د لذت او تسکین علت نشته او یوائې د مشین په ذریعې سره مني د ښځې رحم ته رسول کیږي. نو ښکاره خبره چه په دې طریقې سره هغه لذت او تسکین نه ورته حاصلیږي کوم چه له سړي سره په جماع کښې ورته حاصلیږي – د دې مثال د اسې دې لکه چه یوه ښځه پخپل فرج کښې ګوته د اخله کړي او یا د او یا له سړي پرته د بل شي ذکر داخل کړي کوم چه د غسل واجوونکي نه دي- البته که چېرته د تیست

ټیوب بې بي په وخت کښې د ښځې انزال وشي نو بیا غسل پرې و اجبیږي. لیکن بغیر د انزال نه هم غسل کول ډیر احوط دی-

لما قال العلامة الحصکفي: و فرض الغسل عند خروج منی من العضو . فیه منفصل عن مقره هو صلب الرجل و ترائب المرأة. بشهوة ای لذة و لو حکماً کمحتلم و لم یذکر الدفق یشمل منی المرأة لان

الدقق..غير ظاهر. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص١٦٠/١٥٩ ، باب الغسل) و ايضاً قال و لا عند ادخال اصبع و نحوه كذكر غير آدمي و ذكر خنثي و ميت وصبى لا يشتهي و ما يصنع من نحو خشب في الدبر او القبل على المختار. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ١٦٦، باب الغسل)قال حسن بن عمار: اولها خروج المني و هو ماء الى ظاهر الجسد لانه ما لم يظهر لا حكم له اذا الفصل عن مقره بشهوة من غير جماع. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٧٦، فصل موجبات الغسل)و ايضا و منها ادخال اصبع و نحوه كشبه ذكر مصنوع من نحو الجلد في احد السبيلين على المختار مقصورالشهوة. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٨١، فصل عشرة اشياء لا يغتسل منها) ;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٢٩٩.

## د څنـــاورد وطي کولو په صورت کښي د غسل مسئله

الاستفتاء: که چېرته يو شوک کوم څناور وطي کړي ليکن انزال ئې و نه شي نو آيا غسل پرې

الجواب حامداو مصليا: يوائې ايلاج (دخول) د غسل واجبوونکي نه دي بلکه د ايلاج لپاره محل مشتهات ضروري دى. لکه څرنګه چه څناور يا مړي د مشتهات محل نه دي نو د دې لپاره له انزال پرته په نفس و طي غسل نه واجبيږي.

لما قال العلامة الحصكفي: و لا عند وطى بهيمة او ميتة او صغيرة غير مشتهاة بان تصير مفضاة با لوطي و آن غابت الحشفه....... بلا انزال لقصور الشهوة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١ ، ص ١٦٦ ، ابحاث الغسل، سنن الوضوء)و في الهندية: و الايلاج في البهيمة و الميتة و الصغيرة التي لا يجامع مثلها لا يوجب الغسل بدون الانزال. (الهندية ج ١، ص ١٥ ، الفصل الثالث في المعاني الموجبة الغسل) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ١، ص ١٣ ، الفصل الثاني في الغسل.

## د التقاء ختانينو په صورت کښي د غسل حکم

الاستفتاء: د ښځي او نر فرجونه چه کله له يو بل سره ولګيږي نو آيا په دواړو باندې غسل واجبيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د مقدسو احاديثو له صريحو او واضحو الفاظو څخه دا څرګنديږي چه په نفس التقاء ختانينو سره غسل نه واجبيږي خو په دې شرط چه حشفه په فرج کښې داخل شوي نه وي۔

لما الخرج الامام ابو عيسى الترمذي عن عائشة قالت اذا جاوز الختان الختان وجب الغسل فعلته انا و رسول الله ﷺ فاغتسلنا. (الجامع الترمذي ج۱، ص۳۰، باب ما جاء اذا التقى الختان وجب الغسل)قال الحصكفي: و عند ايلاج حشفه هي ما فوق الختان آدمي احتراز عن الجني يعني اذا لم تنزل......... اوايلاج قدرها من مقطوعها و لو لم يق منه قدرها ...... في احد سبيلي آدمي حي يجامع مثله عليهما. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۱۶۱/۱۶۲، سنن الغسل) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۱۵ ، الفصل الثالث في المعاني الموجبة.

## له غسل څخه وروسته د مني په وتلو سره د غسل حکم

الاستفتاء: کله کله د ييړې له وجهې د جماع يا احتلام څخه وروسته سړي غسل کوي او له غسل څخه وروسته د مني څاڅکي خارجيږي نو آيا دوباره غسل واجبيږي او که لومړي غسل کافي دی؟

الجواب حامدا ومصليا: د غسل له کولو څخه وروسته چه کومې څاڅکي را ووځي په هغو کښې دا تفصيل دی چه که چېرته د مني څاڅکي له ګرځيدو، خوب او يا له متيازو کولو څخه مني را ووځي نو د دې لپاره د شهوت د نشتوالي له وجهې لومړی غسل کافي دی او دوباره وروسته وتلې وي نو لکه څرنګه چه ډير واري په د اسې حالاتو کښې له شهوت او توپ څخه پرته غسل پرې و اجب نه دی. او که چېرته د يادو شويو عوارضو څخه مخکښې د مني څاڅکي را ووځي نو دوباره غسل پرې واجب دی۔

لما في الهندية: لو اغتسل من الجنابة قبل ان يبول او ينام و صلى ثم خرج بقية المنى فعليه ان يغتسل عندهما خلافا لابي يوسف و لكن لا يعيد تلك الصلوة في قولهم جميعا كذا في الذخيرة و لو خرج بعد ما بال او نام او مشى لا يجب عليه العسل اتفاقا كذا في التبيين. (الهندية ج۱ ، ص ۱۴ ، الفصل الثالث في المعاني الموجبة الغسل)قال ابن عابدين: و كذا لو خرج منه بقية المنى بعد الغسل قبل النوم أو البول او المشى الكثير نهر اي لا بعده لان النوم و البول و المشي يقطع مادة الزائل عن مكانه بشهوة فيكون الثاني زائلاً عن مكانه بلا شهوة فلا يجب الغسل اتفاقاً. (رد المحتار ج ۱، ص ۱۶۰، موجبات الغسل)

## په سوئمنګ پول کښې د غسل کولو حکم

الاستفتاء: نن صبا د غسل کولو لپاره په ځینو ځایونو کښې سوئمنګ پول جوړ شوي دي کوم چه د لس په لسه (سل ذراع) حوض څخه لوي دی-آیا په هغه کښې غسل کول صحیح دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: کوم حوض چه لس په لسو کښې وي نو د مفتي به قول له مخې د هغه اوبو د جاري اوبو په حکم کښې دي لهذا په نوموړي صورت کښې که چېرته دا سوئمنګ پول د لس په لسه ذراع او يا له دې څخه لوي وي نو هغه د جاري اوبو په حکم کښې راځي. د دې لپاره په هغه کښې غسل کول جائز دي. البته لکه څرنګه چه په سوئمنګ پول کښې غسل کول د کفارو او فساقو شيوه او طريقه ده نو د دې لپاره په داسې ځايونو کښې له غسل کولو څخه پرهيز وکړی-

لما قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: الحوض الكبير مقدار بعشرة ازرع في عشرة ازرع......... و عليهالفتوى. (خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۳، كتاب الطهارة)التقدير بعشر في عشر هو المفتى به قال السيد احمد الطحطاوى (قوله هو المفتى به) هو قول عامة المشائخ خانية و هو قول الاكثر و به ناخذ نوازل و عليه الفتوى كما في شرح الطحطاوى. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ۲۱، كتاب الطهارة، بحث اقسام المياه) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۸، الباب الثالث في المياه.

## د جنابت غسل فوراً ضروري نه دی

الاستفتاء: په عوامو کښې دا خبره زياته مشهوره ده چه له ښځې سره د جماع له کولو څخه فوراً وروسته غسل کول ضروري دي او که نه نو ګناهګاريږي. آيا په رښتيا هم دا خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د جماع له کولو څخه وروسته اګر که غسل په سړي واجبيږي ليکن دا وجوب على الفور نه دي بلکه کله چه موقع پيدا شي نو غسل دې وکړي-ليکن بهتره دا ده چه چه له جماع څخه فورا وروسته غسل وکړي-

عن ابن عمر قال ذكر عمر بن الخطاب رضي الله عنه لرسول الله حين انه تصيبه الجنابة من الليل فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم توضا و اغسل ذكرك ثم نم. متفق عليه. (مشكوة ج ۱، ص ۹ ٤ ، باب مخالفة الجنب عن عائشة رضي الله عنها قالت كان رسول الله اذا كان جنباً فاراد ان يأكل او ينام توضأ وضوء للصلوة.

(متفق عليه) (مشكوة المصابيح ج ١، ص ٤٩ ، باب مخالطة الجنب و ما يباح له) و مثله في الفقه الاسلامي و ادلته جا ص ٣٨٢، المطلب الخامس مكروهات الغسل.

## د مصنوعي ويښتانو په اودس او غسل کښې حکم

الاستفتاء: په موجوده دور کښې ښځې خپل ويښتان اوږده او د ګڼ ښکاريدو لپاره مصنوعي ويښتان لګوي. نو په اودس او غسل کښې د دغو ويښتانو حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: اګر که دا عمل شرعاً ممنوع دی۔ رسول الله ﷺ دا عمل د لعنت موجب ګرځولي دي ليکن که چېرته ئې څوک ولګوي نو په غسل کښې د ښځو لپاره يواځې دا ضروري ده چه د ويښتانو بېخونو ته اوبو ورسوي او په غسل او اودس کښې د دغو ويښتانو لرې کول ضروري نه دي. خو په دې شرط چه په اودس کښې د سر د مسحې څلورمه برخه په اصلي ويښتانو وشي. او که چېرته ټوله مسح په مصنوعي ويښتانو وشي نو بيائې اودس نه کيږي۔

لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني: ليس على المرأة ان تنقض ضفائرها في الغسل اذا بلغ الماء اصول الشعر. (الهداية ج١، ص ١٤ ، فصل في الغسل) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: لا يفترض نقض المضفور من شعر المرأة ان سرى الماء في اصوله اتفاقاً الخ. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٨٢، فصل فرائض الغسل) و مثله في كبيرى ص ٤٧ ، فرائض الغسل.

## يواځې د لمد والي محسوسول د غسل موجب نه دی

الاستفتاء: که چېرته يو سړي د ويښې په حالت کښې له شهوت او توپ پرته پخپل ذکر کښې د مني يا مذي لږ غوندې لمد والي محسوس کړي کوم چه د احليل د ننه پاتې شي او د باندې را و نه ووځي نو آيا په دې صورت کښې غسل پرې و اجبيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په نوموړي صورت کښې غسل واجب نه دي ځکه چه د غسل د وجوب لپاره د مني وتل په شهوت او توپ سره ضروري دي کوم چه په نوموړي صورت کښې نشته. البته د دې لمد والي په وتلو سره اودس ماتيږي. او که چېرته څاڅکي د باندې را و نه ووځي او د احليل د ننه پاتې شي نو بيائې اودس هم نه ماتيږي –

و في الهندية: منها الجنابة و هي تثبت بسببين احدهما خروج المنى على وجه الدفق و الشهوة. (الهندية ج١) ص ١٤، الفصل الثالث في المعاني الموجبة للغسل) قال برهان الدين المرغيناني: المعاني الموجبة للغسل انزال المنى على وجه الدفق و الشهوة من الرجل و المرأة حالة النوم و اليقظة. (الهداية ج ١، ص ٣١، فصل في الغسل) و مثله في خلاصة الفتاوى ج١، ص١٢، الفصل الثاني

## د څو ځله جماع لپاره يو غسل کافـــي دی

الاستفتاء: که چېرته يو سړي له خپلي منکوحي سره څو ځلي جماع وکړي او يا له خپلو دوو ، درېو يا څلورو ښځو سره جماع وکړي او په آخر کښې يو ځل غسل وکړي نو دا غسل ئې کيږي او که

الجواب حامدا و مصليا: له يوې يا ډيرو ښځو سره د څو ځله جماع کولو لپاره يو غسل کافي دي او د هر ځل جماع لپاره د جلا غسل ضرورت نشته

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چه: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم طاف ذات يوم على نسائه في غسل واحد. (ترمذي ج ١، ص ٣٦، باب ما جاء في الرجل يطوف على نسائه بغسل واحد)و قال الحصكفي: و لا معاودة اهله قبل اغتساله الا اذا احتلم لم يأت اهله. قال الحلبي ظاهر الاحاديث انما يفيد الندب لا نفي الجواز المفاد من كلامه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ١٧٥/١٧٦، ابحاث الغسل) قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و لا بأس للجنب ان ينام و يعاود اهله قبل ان يغتسل او يتوضا. (خلاصة الفتاوى ج ١، ص ١٤، الفصل الثاني في الغسل) و مثله في مشكوة ج١، ص ٤٩، باب مخالطة الجنب و يباح له الفصل الاول."

## د جنابت په حالت کښې د ضرورت په وخت کښې جومات ته د تللو حکم

سؤال: که چېرته له جومات څخه د باندې ګرمې اوبه نه وي او په سړو اوبو باندې غسل تکليف وي نو د ګرمو اوبو د راخيستلو لپاره جومات ته د اخليدلي شي او که نه؟ او همدارنګه ډير ځله د پمپ ټنې په جومات کښې دننه وي. نو آيا جنوب سړي د اوبو د مشين د چالانولو لپاره جومات ته د اخليدلي شي او که نه؟ په د اسې حال کښې چه په سړو اوبو باندې په غسل کولو کښې تکليف وي؟

الجواب حامدا ومصليا: كه چېرته له جومات څخه د باندې د غسل انتظام نه وي او د ضرورت په خاطر جومات د اخليدل ضروري وي نو تيمم دې وكړي او بيا دې جومات ته داخل شي-

**قال ابن عابدين: لكن لقائل ان يقول ان مراد المبتغى ان الجنب اذا وجد ماء في المسجد و اراد دخوله للاغتسال تيمم و يدخل. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٢٤٣ ، باب التيمم) قال ابراهيم الحلبي: جنب وجد الماء في المسجد و لم يجده في غيره و ليس معه احد ياتيه به تيمم لاجل الدخول. (كبيري ص ٧٢، باب التيمم)**

## باب البير

## د كوهي د اوبو او بيت الخلاء تر منځ د فاصلې اندازه

الاستفتاء: په ډيرو كورونو كښې د بيت الخلاء لپاره كندې كيندل كيږي كوم چه د بيت الخلاء ټول غټې او وړې متيازې پكښې جمع كيږي او همدارنګه د دې كوهي په شاوخوا كښې د اوبو كوهي هم موجود وي. آيا د كوهي او بيت الخلاء تر منځ بايد څومره فاصله وي او كه چېرته ډير ور نژدې وي نو د كوهي په اوبه باندې كوم اثر كوي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د اوبو د پاكوالي او نجاست حكم د بيت الخلاء د كندې او كوهي تر منځ د ګندګي په ور رسيدلو پورې موقوف دى. او د ا رسيدنه د زمكې د سخت او نرم والي له وجهې فرق كوي. په هكله ئې كومه خاصه فاصله نه ده ټاكل شوې. بيا هم سړي بايد دې ته وګوري چه له څومره فاصلې څخه د كوهي د اوبو د رنګ او خوند د بدليدو خطره نه وي نو هغومره فاصله دې په منځ كښې پريږدي او د بيت الخلاء كنده دې وكني-

**---قال في الهندية: بئر الماء اذا كانت بقرب البئر النجسة فهي طاهرة ما لم يتغير طعمه او لونه او ريحه كذا في الظهرية ولا يقدر هذا با لذرعان حتى اذا كان بينهما عشر اذرع و كان يوجد في البئر اثر البالوعة فماء البئر نجس و ان كان بينهما ذراع واحد و لا يوجد اثر البالوعة فماء البئر طاهر . كذا في المحيط و هو الصحيح. (الهندية ج١، ص ، الباب الثالث في المياه)قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و ادنى ما ينبغي ان يكون بين بئر الماء و البالوعة سبعة اذرع و التعويل على نفوذ الرائحة ان تغير لونه او طعمه او**

ريحه نجسة و الا فلا. (خلاصة الفتاوى ج١، ص١٢، الجنس الثالث في الآبار) و مثله في رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٦٢ ، فصل في البئر) .;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٣٠٦

## په کوهي کښې د مرد ارشي لکه څپلی، لرګی، څیره او د اسې نورو د پریوتلو حکم

الاستفتاء: په کوهي که چېرته مرد ارشي لکه څپلی، لرګی، څیره او د اسې نور شیان ولویږي نو آیا کوهي پرې مرد اریږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: که چېرته د لویدلي شي ایستل له کوهي څخه ممکن وي نو ایستل ئې ضروري دي. او که چېرته ئې ایستل ممکن نه وي نو بیا که د کوهي د ټولو اوبو ایستل مشکل نه وي نو ټولې اوبه به ئې باسي او که نه وي نو د دریو سوو بوکو په ایستلو سره کوهي پاک ګڼل کیږي۔

قال العلامة الحصكفي: ينزح كل مائها بعد اخراجه الا اذا تعذر كخشبه او خرقة متنجسة فينزح الماء الى حد لا يملأ نصف الدلو يطهر الكل تبعاً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٢١٢، فصل في البئر )قال في الهندية: و لو وقعت في البئر خشبه نجسة او قطعة ثوب نجس و تعذر اخراجها و تغيبت فيها طهرت الخشبه و الثوب تبعا بطهارة البئر كذا في الظهيرية، (الهندية ج١، ص٢٠، الباب الثالث في المياه) و مثله في السعاية ج١، ص٤٢٦)

## د هغه کوهي حکم چه د مړ حیوان ایستل ترې مشکل وي:

الاستفتاء: که چېرته په کوهي کښې کوم چرګ یا بل شي ولویږي او مړ شي او ایستل ئې هم ترې ممکن نه وي او نه د ټولو اوبو ایستل ئې ممکن وي نو د دریو سوو بوکو د ایستل تر څنګ به په کوهي کښې د نجاست له موجود والي سره د کوهي څه حکم وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصليا: په داسې حالت کښې چه کله د تولو اوبو ایستل ممکن نه وي او د نجاست ایستل هم د انسان په وس کښې نه وي نو له کوهي څخه به دومره پورې اوبه نه استعمالوي چه هغه چرک یا کوم بل حیوان خاورې شوې نه وي. ځینو علماوو ئې د خاورې کید و نیته شپږ میاشتې ښوولې ده -

قال ابن عابدين: قلت فلو تعذر ايضاً ففي القهستاني عن الجواهر لو وقع عصفور فيها فعجزوا عن اخراجه فما دام فيها فنجسة فترك مدة يعلم انه استحال وصار حماة و قيل مدة ستة اشهر. (رد المحتار على الدر المختار ج١، ص ٢١٢، فصل في البئر) قال محمد عبد الحي: و ذكر القهستاني في جامع الرموز نقلا عن الجواهر لو وقع فيها عصفور فعجزوا عن اخراجه فما دام فيها فنجسة فيترك مدة يعلم انه استحال و صار حماة و قيل مدة ستة اشهر انتهى. و هذا ايضاً يفيد انه لا بد من اخراج عين النجس فاذا تعذر فيترك الى ان يستحيل. (السعاية ج١، ص ٤٢٦ ، فصل في البئر)

## د سپي په لويدو سره د کوهي د اوبو حکم

الاستفتاء: که چیرته کوم کوهي ته سپي ورلويږي او مرشي نو د کوهي په اوبو باندې څومره اثر کوي؟ که چیرته کوهي پرې مرد اريږي نو په کوهي کښې د ختو، بوکو او رسی به څه حکم وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداً ومصليا: د سپي په لويدلو سره اوبو مرد اريږي. د سپي د جسم له ایستلو څخه وروسته به د کوهي ټولې اوبو به وباسي که چیرته ممکن وي او که نه وي نو له دوو سوو بوکو څخه تر دريو سوو بوکو پورې اوبه دې ترې وباسي. د ختو، بوکو او رسی مينځل ضروري نه دي. همدا رنګه د کوهي کير چاپيره ديوالونه د لمد والي له وجهې هم نه خرابيږي. .

قال في الهندية: اذا وقعت في البئر نجاسة نزحت و كان نزح ما فيها من الماء طهارة لها باجماع السلف كذا في الهداية. (الهندية ج١، ص ١٩، الباب الثالث في المياه قال ابن عابدين: (قوله ينزح كل ما فيها) اى دون الطين لورود الآثار بنزح الماء (و بعد اسطر) (يطهر الكل) اي من الدلو و الرشاء و البكرة. (رد المحتار على الدر المختار ج١، ص٢١٢، فصل في البئر) و مثله في مراقي الفلاح

## په ناپاکو اوبو سره د پاخه شوي شي د خوړلو او د اودا سه په کولو سره د اداشوي لمونځونو حکم

الاستفتاء: له کوهي څخه مړ ځناور که هغه وروست شوي وي او که نه چه وايستل شي او د لويدود تاکلي وخت څخه نا خبري په بنا باندې د هغه کوهي اوبو د اودا سه يا د جامو د پرې مينځلو، يا د وړو د لمدولو او ديګ پخولو لپاره استعمال شوي وي. نو د دې حالت په باره کښې د شريعت حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا او مصليا: کوهي ته نجاست ولويږي او د لويدلو وخت ئې معلوم نه وي نو د لويدلو د وخت له معلومولو مخکښې که چېرته د دې کوهي په اوبو باندې اودسونه شوي وي، يا کالي پرې پرې مينځل شوي وي نو په اجماع سره د هيڅ شي بيرته را ګرځول نشته. او که چېرته له بې اودسي يا جنابت څخه ئې اودس يا غسل پرې کړي وي او ناپاکې جامې پرې مينځل شوي وي نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد که چېرته حيوان وروست شوي وي يا پرسيدلي وي نو د دريو شپو او ورځو لمونځونه به را ګرځوي او په دې دوران کښې ئې چه څومره جامې يا لوښي مينځلي وي د هغو دوباره مينځل لازمي دي. او کوم وړه چه پرې لامده شوي وي که هغه موجود وي نو ځناورو ته دې ورکړي. او د صاحبينو په نزد د يوه شي بيرته راګرځول هم پرې نشته بلکه په کوم وخت کښې ئې چه د لويد و علم راغلي وي له هغه وخت څخه به کوهي مردار ګڼل کيږي. ځينو علماوو د صاحبينو قول راجح ګرځولي دي او مفتي به ئې ګڼلي دی۔ ليکن اکثرو علماوو د امام صاحب قول راجح بللي دی. بيا هم که چېرته دبنته يا ډاګ وي او د کوهي د حفاظت کوم انتظام نه وي نو بيا د صاحبينو په قول باندې عمل کول هم صحيح دي۔

لما قال شيخ الاسلام ابو بكر بن علي الحداد: اذا وجد في البئر فارة ميتة او غيرها ...... و لا يدرون متى وقعت و لم تنتفخ و لم تتفسخ اعادوا صلوة يوم و ليلة و ان كانت انتفخت او تفسخت اعادوا صلوة ثلاثة ايام و لياليها. في قول ابي حنيفة (اذا كانوا توضئوا منها) اى و هو محدثون و غسلوا كل شيء اصابه ماؤها اي غسلوا ثيابهم من نجاسة اما ان توضئوا منها و هو متوضئون او غسلوا ثيابهم من غير نجاسة فانهم لا يعيدون اجماعاً...... و قال ابو يوسف و محمد ليس عليهم شيء حتى يتحققوا متى وقعت. (الجوهرة النيرة ج١، ص٢٠، فصل في البئر) قال ابن عابدين: (قوله قيل و به يفتى) قائله صاحب الجوهرة و قال العلامة قاسم في تصحيح القدوري قال في فتاوى العتابي قولهما هو المختار قلت لم يوافق على ذلك فقد اعتمد قول الامام البرهاني و النسفي و الموصلي و صدر الشريعة و رجح دليله في جميع المصنفات. (رد

المحتار ج۱، ص۲۱۹، مطلب مهم في تعريف الاستحسان) قال ابن نجيم: و اعلم ان البئر تنجس من وقت وقوع الحيوان الذي وجد ميتاً فيها ان علم ذلك الوقت و ان لم يعلم فقد صار الماء مشكوكا في طهارته و نجاسته فاذا توضئوا منها و هم متوضئون او غسلوا ثيابهم من غير نجاسة فانهم لا يعيدن اجماعاً لان الطهارة لا تبطل با لشك و ان توضئوا منها و هم محدثون او اغتسلوا من جنابة او غسلوا ثيابهم عن نجاسة...... في الاول و الثاني خلاف فعند أبي حنيفة التفصيل المذكور في الكتاب و قالا يحكم بنجاسة ماؤها قبل العلم بها و لا يلزمهم اعادة شيء من الصلوة و لا غسل ما أصابه ماؤها قبل العلم و هو القياس لان اليقين لا يزول بالشك. (البحر الرائق ج۱، ص ۱۲۳، كتاب الطهارة) و قال (بعد اسطر) في تصحيح الشيخ القاسم و في فتاوى العتابي المختار قولهما قلت هوا المخالف لعامة الكتب فقد رجح دليله في كثير من الكتب و قالوا انه الاحتياط فكان العمل عليه و ذكر الاسبيجابي ان ما عجن به قال بعضهم يلقى الى الكلاب و قال بعضهم يعلف المواشي. (البحر الرائق ج۱، ص۱۲۵، كتاب الطهارة) و مثله في السعاية ج۱، ص۴۳۹/۴۳۸، كتاب الطهارة في احكام الآبار) .;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۳۰۸

## بــــاب الحوض

### د لس په لس څخه د کوچني حوض حکم

الاستفتاء: په ځينو سيمو کښې واړه واړه حوضونه جوړيږي او د اوبو د جاري والي په وخت کښې خو څه مشکله مسئله نه وي ليکن کله چه اوبو جاري نه وي نو له د اسې حوض څخه د اودس کولو حکم څه دي په ځانګړې توګه په هغه وخت کښې چه د حوض يوې خوا ته د سپيو يا نورو ياحيواناتو نجاست هم موجود وي؟

الجواب حامدا و مصليا: کوم حوض چه لس په لس ګزه کښې نه وي نو يو اځې د نجاست په لويدو سره مرد اريږي. او کوم حوض چه لس په لس ګزه يا تر دې زيات لوي وي نو تر څو پورې چه د اوبو اوصاف بدل شوي نه وي يو اځې د نجاست په لويد و سره نه مرد اريږي. له دې وجهې که چيرته نوموړي حوض د لس په لس ګزو څخه کم وي او نجاست پکښې لويدلې وي نو د دې لپاره چه اوبه ئې نجسې دي اودس کول پرې ناجائز دي. البته د اوبو د بهيدو په صورت کښې د لس په لس ګزو څخه کوچني حوض هم نه مرد اريږي

-لما قال العلامة عبد الله بن محمود المودود و الماء الراكد اذا وقعت فيه نجاسة لا يجوز به الوضوء الا ان يكون عشرة اذرع في عشرة. (الاختيار لتعليل المختار ج ١ ، ص ١٤، حكم الماء الراكد ان وقعت فيه نجاسة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و الماء الراكد الاصل عندنا ان الماء القليل ما لم يكن عشرا في عشر يتنجس بوقوع النجاسة فيه و ان لم يظهر فيه اثرها من لون و نحوه. (كبيري ص ٩٤، فصل في احكام الحياض) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ١، ص ٤ ، احكام الحياض .

## د ګول (د ائرې غوندې ګرد) حوض حكم

الاستفتاء: د سور او اوږدوالي د اندازې له بيانولو څخه خرګنديږي چه حوض به ياد مستطيل شكل لري او يا د مربع- ليكن ډير حوضونه د اسې دي چه ګول يعني د د ائرې شكل لري. نو آيا د څلويښت ګزه د ائره شكله حوض ته حوض كبير ويل كيدلي شي او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: د حوض د مستطيل يا مربع شكل درلودل ضروري نه دي بلكه د پاكوالي د ار و مدار ئې په لويوالي باندې دى. له دې وجهې د ګول يعني د ائرې شكله حوض چه ساحه ئې لس په لس ګزه كيږي نو هغه ته حوض كبير ويل كيږي

قال ابن عابدين: (قوله اي في المربع) اشار الى ان المراد من اعتبار العشر في العشر ما يكون وجهه مائة ذراع سواء كان مربعاً و هو ما يكون كل جانب من جوانبه عشرة و حول الماء اربعون و وجهه مائة او كان مدوراً او مثلثا(رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ١٤٢ ، باب المياه)قال ابن نجيم: فان كان الحوض مدوراً ففي الظهيرية يعتبر ستة و ثلاثون و هو الصحيح و هو مبرهن عند الحساب ......... و في الخلاصة و صورة الحوض الكبير المقدر بعشرة في عشرة ان يكون من كل جانب من جوانب الحوض عشرة و حول الماء اربعون ذراعاً. (البحر الرائق ج١، ص٧٧، كتاب الطهارة)

## د مختلفو كنارو لرونكي حوض حكم

الاستفتاء: كه چيرته د حوض اوږدوالي او سور (پلنوالى) مختلف وي ليكن سره له دې اوسطه ساحه ئې د لس په لس ګزو څخه زياته وي نو آيا د اسې حوض د لوي حوض په حكم كښې ګڼل كيږي او كه نه؟

الجواب حامداو مصليا: د لوي حوض اوبو د بهيدونكي اوبو په حكم كښې د راتلو د ارو مدار د اطرافو په تناسب او برابروالي پورې موقوف نه دى. بلكه د اوبو په ډير والي پوري موقوف دى. كه چيرته د حوض در ميانه ساحه د لس په لس گزو څخه زياته وه او د مبتلي به په رأيه كښې اوبو زياتي معلوميدلې نو بيا د سور او اوږدوالي د فرق له وجهې د اسې حوض د لس په لس گزو په حكم كښې راځي او د جاري اوبو په حكم كښې د اخليږي

قال الحصكفي: و لو له طول لا عرض لكنه يبلغ عشراً في عشر جاز تيسراً. قال ابن عابدين (قوله تيسرا) اي جاز الوضوء منه بناء على نجاسة الماء المستعمل او المراد جاز و ان وقعت فيه نجاسة و هذا احد قولين، و هو المختار. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص١٩٣، باب المياه) قال ابن نجيم: فان كان الحوض مدوراً ففي الظهيرية يعتبر ستة و ثلاثون و هو الصحيح و هو ميرهن عند الحساب و في الخلاصة و صورة الحوض الكبير المقدر بعشرة في عشرة ان يكون من كل جانب من جوانب الحوض عشرة و حول الماء اربعون ذراعاً. (البحر الرائق ج١، ص٧٧، كتاب الطهارة)

## په لـــوى حوض كښې د اوداسه حكم

الاستفتاء: كه چيرته كوم حوض د شرعي اند ازې په مقدار لوي وي او يو څوك اودس پكښې وكړي او د اودس كولو په وخت كښې د مستعملو اوبو څاڅكي بيرته پكښې ولويږي نو آيا د سړي اودس پكښې صحيح كيږي او كه نه؟ په داسې حال كښې چه د مستعملو اوبو د وتلو كومه بله طريقه نه وي؟ بينوا توجروا

-الجواب حامدا و مصليا: په لوي حوض كښې تر څو پورې چه د اوبو اوصاف يعني رنگ، خوند او بوي بدل شوي نه وي د مستعملو اوبو د څاڅكو په لويدلو سره اوبه نه مرد اريږي. په شريعت كښې دا اوبو پاكې دي او اودس او غسل دواړه پرې جائز دي-

قال العلامة الحصكفي: و كذا يجوز براكد كثير كذلك اى وقع فيه نجس لم ير اثره و لو في موضع وقوع المرئية به يفتى بحر. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج ١، ص١٩١/١٩٠، باب المياه) قال ابن نجيم: (قوله و الا فهو كا لماء الجارى) اي و ان يكن عشراً في عشر فهو كا لجاري فلا يتنجس موضع الوقوع. (البحر الرائق ج١، ص٨٢، كتاب الطهارة) و مثله في الهندية ج١، ص١٨، الباب الثالث في المياه .

## [ زیـــاتي اوبو د اوصافو له تبدیلي څخه پرته پاکې وي

الاستفتاء: که چېرته یو لوی حوض چه اندازه ئې د لس په لس ګزو څخه زیاته وي. آیا د خوشایو او د اسې نورو ګندګیو په لویدلو سره مرد ارېږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامداو مصلیا: څرګنده دې وي چه کومې اوبو چه حقیقتاً جاري وي او که حکما په هغو کښې د نجاست د لویدلو په صورت کښې چه د اوبو اوصاف بدل نه کړي په اوبو کښې هیڅ فرق نه راځي-لیکن دا دې هم څرګنده وي چه لس په لس ګزه کښې حوض د جاري اوبو په حکم کښې راتلل د امام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب کښې یو روایت دې لیکن په نن زماني کښې د ناپوهۍ له وجهې فقهاء کرامو په لس په لس ګزه باندې فتوي ورکوي-

قال العلامة نطاهر بن عبد الرشيد البخاري: النجاسة اذا وقعت في حوض ان كان كبيراً فهو بمنزلة البحر لا ينجس الا ان يتغير طعمه او لونه او ريحه. قال (بعد اسطر) الحوض الكبير مقدر بعشرة اذرع في عشرة اذرع و عليه الفتوى. (خلاصة الفتاوي ج ۱، ص ۳، كتاب الطهارة)و التقدير بعشر في عشر هو المفتى به و ذكر السيد احمد الطحطاوي في تحت (قوله و المفتى به) هو قول عامة المشائخ خانية و هو قول الاكثر و به ناخذ نوازل و عليه الفتوى. (الطحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص۲۱، بحث اقسام المياه) و مثله في الهندية ج۱، ص ۱۸ ، الباب الثالث في المياه.

## په نهـــر کښې د ګندګۍ د اچولو په صورت کښې د اوبو حکم

الاستفتاء: لوی لوی نهرونه چه آبادیو ته نژدې تیر شوي وي خلک په عمومي توګه خپل نجاستونه پکښې اچوي آن تر دې پورې چه د کلي د بیت الخلاء کانو اوبو هم په دغو نهرونو کښې شاملېږي. ډېر واري د نجاست ډېر والي په اوبو کښې هم څرګندېږي. نو آیا د داسې نهرونو په اوبو باندې اودس او غـــل صحیح دی؟

الجواب حامداو مصلیا: د نهرونو اوبو بهیدونکې وي او په بهیدونکو اوبو باندې چه تر څو پورې ئې اوصاف یعني رنګ، خوند او بوي بدل شوي نه وي یوائې د نجاست په لویدلو سره اوبو ناپاکي نه ګرځي. په د اسې لویو نهرونو کښې عموماً نجاست مغلوبېږي او په اوبو باندې یې کوم خاص اثر نه معلومېږي. نو د دې لپاره د نهرونو اوبو صفا او پاکې وي او غـــل او اودس د واړه پرې جائز دي-

قال الحصكفي: و يجوز بجار وقعت فيه نجاسة و الجاري هو ما يعد جارياً عرفاً ان لم يرى يعلم اثره فلو فيه جيفة او بال فيه رجال فتوضأ آخر من اسفله جاز ما لم ير في الجرية اثره و هو اما طعم او لون او ريح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۱۸۷، باب المياه) قال في الهندية: و في النصاب و الفتوى في الماء الجاري انه لا يتنجس ما لم يتغير طعمه او لونه او ريحه من النجاسة كذا في المضمرات، (الهندية ج۱، ص۱۷ ، الباب الثالث في المياه) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۸۲، كتاب الطهارات)

## بـــاب التيمم

### د تيمـــــــم نيت

الاستفتاء: د تيمم نيت سړي بايد څنګه وکړي؟ که چېرته عربي نيت د چا زده نه وي نو پخپلې ژباندې د نيت کولو حکم څه دی؟ او همدا رنګه د عربي نيت الفاظ کوم دي؟

الجواب حامدا او مصليا: د تيمم نيت د زړه له ارادې څخه مراد دی. چه کله په زړه کښې د تيمم اراده وکړي نو همدا د تيمم نيت دی- بيا هم بهتره دا ده چه په ژبې سره هم نيت الفاظ ووايي- که چېرته د چا په عربي ژبې باندې نيت زده نه وي نو پخپلې ژبې باندې هم د هغه ترجمه ويلی شي. او په عربي کښې د تيمم نيت دا دی: "نويت ان أتيمم لرفع الحدث و لاستباحة الصلوة ليکن نيت په ژبې باندې د تيرولو په وخت کښې د نومړي عمل په زړه کښې اراده ضروري ده تر څو چه د ژبې او زړه اراده سره يو ځاي شي-

قال الحسن بن عمار: و هو لغة القصد و شرعاً مسح الوجه و اليدين عن صعيد مطهر و القصد شرط له. (و بعد اسطر) يشترط لصحة نية التيمم للصلوة به احد ثلاثة اشياء امانية الطهارة من الحدث القائم به او نية استباحة الصلوة او نية عبادة مقصودة لا تصح بدون طهارة. (مراقي الفلاح ص ٦٠، باب التيمم)و في الهندية: منها النية و كيفيتها ان ينوى عبادة مقصودة لا تصح الا با لطهارة او نية الطهارة او استباحة الصلوة تقوم مقام ارادة الصلوة..... الخ. (الهندية ج۱، ص ۲۵/۲٦، باب التيمم) و مثله في تبيين الحقائق ج ۱، ص ۳۹/٤۰ ، باب التيمم.

## د جومـــــات په خاورې باندې د تيمم حکم

الاستفتاء: د ضرورت په وخت کښې د جومات په ديوالونو باندې د تيمم و هلو څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً و مصلياً: د جومات په ديوال يا فرش باندې تيمم وهل مکروه دي ځکه چه د تيمم په صورت کښې دا خاوره د حدث يعنې بې اودسي لرې کوونکې وګرځي. کومه خاوره يا خته يا ډبره چه په جومات کښې لګيدلې وي هغه واجب التعظيم وي. نو د دې تعظيم او احترام له مخې په هغې باندې د حدث د لرې کولو نسبت بې ادبي ده. البته که چېرته د ديوال يا فرش خاوره چا جمع کړې وي او د جومات په کوم ګنج کښې ئې ايښې وي نو بيا تيمم پرې جائز دي ځکه چه د خاورې جمع کول او د جومات په کوم ګنج کښې ئې کېښودل له جومات څخه د باندې ګڼل کيږي. او د جومات خاوره چه کله د باندې و ايستل شي نو هغه تقدس او حرمت ئې پخپل حال نه پاتې کيږي

قال قاضي خان: و يكره مسح الرجل من طين و الردغة بأسطوانة المسجد او بحائطه و ان مسح بتراب في المسجد ان كان ذلك التراب مجموعاً في ناحية غير منبسط لا بأس به و ان كان منبسطاً مفروشاً يكره لانه بمنزلة ارض المسجد. (فتاوي قاضي خان على هامش الهندية ج ١، ص ٦٥ ، فصل في المسجد) قال العلامة اشرف على التهانوى: په دې وخت كښې روايت لاس ته را نه غي ليكن چېرته مې ليدلي دي چه مكروه دى- (امداد الفتاوي ج ١ ، ص ٣٩، فصل في التيمم) و مثله في امداد الاحكام ج ١، ص ٤٤٠ ، آداب المساجد) .;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣١٣

## په تيمم کښې د ږيرې د خـــلالولو حکم

الاستفتاء په اودسه کښې خو د ږيرې خلالول سنت دي ليکن آيا په تيمم کښې د ږيرې خلالول څه حکم لري؟.

:الجواب حامداً و مصلياً: په تيمم کښې د ږيرې خلالول سنت دي ليکن د خلالولو لپاره ئې مستقله ضربه په تيمم کښې نشته

قال العلامة ابن عابدين: و في الفيض و يخلل لحيته و اصابعه و يحرك الخاتم و القرط كا لوضوء و الغسل آه. قلت لكن في الخانية ان تخليل الاصابع لا بد منه ليتم الاستيعاب و قال في البحر و كذا نزع الخاتم

او تحريكه آه فبقي تحليل اللحية من السنن. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۲۳۲، باب التيمم)
;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۳۱۴.

## د جنازې د لمانځه لپاره د تيمم حکم

الاستفتاء: د اوبو د موجود والي تر څنگ که چېرته د جنازې د فوت کېدو خطره وي نو تيمم جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: هر هغه لمونځ چه خليفه (قائم مقام) و نه لري او د قضا راگرځولو ئې ممکن نه وي او د هغه د فوت کېدو خطره وي نو د دې مجبورۍ په اساس د هغه د ادا کولو لپاره تيمم کول جائز دي. لهذا د جنازې د لمانځه د فوت کېدو له وجهې تيمم جائز دی-يا هم د مړي ولي له دې حکم څخه مستثني دي او د هغه لپاره او دس کول ضروري دي.ن

قال العلامة الحصكفي: و جاز لخوف فوت صلوة الجنازة اى كل تكبيراتها و لو جنباً. او فوت عيد بفراغ امام او زوال الشمس) قال ابن عابدين: (قوله و جاز لخوف فوت صلوة جنازة) اى لو كان الماء قريباً (قوله كل تكبيراتها) فان كان يرجوا ان يدرك البعض لا يتمم لانه يمكنه اداء الباقي وحده. بحر عن البدائع و القنية. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص ۲٤۱، باب التيمم)قال في الهندية: و يجوز التيمم اذا حضرته جنازة الولي غيره فخاف ان اشتغل با لطهارة ان تفوته الصلوة و لا يجوز للولي وهو الصحيح هكذا في الهداية. (الهندية ج۱، ص۳۱، الفصل الثالث في المتفرقات) و مثله في مختصر القدوري ص ۱۵ ، باب التيمم) ;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۳۱۴

## د قرآن د تلاوت لپاره تيمم جائز دی

الاستفتاء: آيا د قرآن مجيد د تلاوت لپاره پرته له عذر څخه تيمم جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: د تلاوت لپاره اودس شرط نه دي او هر هغه عبادت چه د هغه لپاره اودس شرط نه وي د هغه ادا کول بې له اودسه هم صحيح وي. ليکن سره له دې تيمم ورته مستحب دی-رسول الله ﷺ يو ځل يو اځي د سلام د ځواب د ادا کولو لپاره تيمم وهلي دی-

قال محمد عبد الحي: و يتمم لذكر الله و لكل خير و لو السلام قال ابن عمر مر رجل من المهاجرين على رسول الله ﷺ و هو يبول فسلم عليه و لم يرد عليه حتى كاد الرجل يتوارى عنه ثم يتمم فرد السلام و قال لم يمنعنى ان ارد عليك السلام الا اني لم اكن على طهر ففي هذا الحديث دلالة على كراهة الكلام و عدم استحباب السلام و رده في هذا المقام و على انه يستحب ان يكون ذكر الله على الوضوء او التيمم لان السلام اسم من اسماء الله تعالى كذا في المصابيح و نحوه اي يتيمم ايضاً لمثل ذلك المذكور كمس المصحف و قرأة القرآن عنه أو عن ظهر القلب، و زيارة القبور و دفن الميت و الآذان و الاقامة و الدخول في المسجد او خروجه و لو عند وجود الماء صرح به في شرح النقاية نقلاً من المبسوط. (السعاية ج١، ص ٥٣٢، باب التيمم) قال العلامة محمد يوسف البنورى: و يجوز التيمم مع وجود الماء لما ليس الطهور شرطاً في فعله و حله كدخول المسجد للمحدث و كذا النوم او قرأة القرآن على ظهر القلب .. الخ. (معارف السنن ج١، ص ٤٩٧، بيان مسئلة جواز التيمم مع وجود الماء لما لم يكن الطهور شرطاً.

## د عذر د چنبتن لپاره د خادم د نشت والي په صورت کښې د تيمم حکم

الاستفتاء: که چېرته د چا په لاس او پښو باندې د اسې مرض لګېدلي وي چه له وجهې ئې نوموړي پخپله په اودس باندې قادر نه وي نو آيا د اسې څوک به د اودس لپاره خادم نيسي او که تيمم به وهي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: په داسې سړي باندې د خادم د نيولو ضرورت نشته. کله چه د معاون يا خادم کوم ممکن صورت ورته ميسر وي نو اودس به کوي او که نه نو په تيمامه سره به لمونځ کوي

قال ابن نجيم: او كان لا يجد من يؤضئه و لا يقدر بنفسه اتفاقاً و ان وجد خادماً كعبده و ولده و اجيره لا يجز به التيمم اتفاقاً. (البحر الرائق ج ١، ص ١٤٠، باب التيمم) قال العلامة الحصكفي: او لم يجد من يؤضئه فان وجد و لو بأجرة مثل و له ذلك لا يتيمم في ظاهر المذهب .(الدر المختار على هامش رد المحتار ج١، ص٢٣٣ ، باب التيمم) و مثله في الهندية ج٢، ص٢٨، باب التيمم .-

## د جنابت په تیمم باندې د اودس مـــاتیدل هیڅ اثر نه کوي

الاستفتاء: یو جنوب سړي که چېرته د کوم عذر له وجهې تیمم وکړي او له هغه نه وروسته ئې اودس مات شي او تر اوسه پورې دې په غسل باندې هم قدرت نه وي پیدا کړی. نو آیا د اوداسه د کولو تر څنګ به د جنابت لپاره دوباره تیمم وهي او که مخکښـني تیمم ئې د جنابت لپاره کافي دی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامداومصلیا: تر څو پورې چه عذر باقي وي نو د جنابت لپاره هم هغه یو تیمم کافي دی- د غسل کوم و اجبوونکي عمل چه تر څو پورې دوهم ځل متحقق شوي نه وي نو په اوبو باندې د قدرت د پیدا کولو تر وخته پورې د جنابت لپاره د د و هم تیمم ضرورت نشته. البته چه اودس ئې کله مات شي نو دوباره به باقاعده اودس کوي. لیکن که چېرته د دوهم ځل لپاره احتلام شي یا جماع وکړي نو بیا به د دوهم جنابت لپاره د و هم ځل تیمم وهي-

قال ابراهيم الحلبي: و ان كان الماء يكفي للوضوء و لا يكفي للمعة يتوضأ به و لا ينتقض تيمم الجنابة لان الماء في حق اللمعة كا لمعدوم لعدم كفايته لها. (كبيرى ص٨٦، باب التيمم) قال في الهندية: لو كان مع الجنب ما يكفي للوضوء يتيمم و لا يجب التوضؤ به الا اذا كان مع الجنابة حدث يوجب الوضوء. (الهندية ج ١ ، ص ٣٠، الفصل الثالث في المتفرقات)

## څومره چې سړي د اوبو څخه لیري وي تیمم رواه دي ؟

الاستفتاء انسان باید څو کیلو میتره د اوبو څخه لیري وي چي تیمم ورته رواه سي ؟

الجواب حامداومصلیا: تقریبا دوه کیلو میتره یا څه اندازه کم چي د فقها و و په اصطلاح کښي ورته یو میل وایي دومره اندازه چي د اوبو څخه یو کس لیري وي نو تیمم کول ورته رواه دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ولومقيما في المصر (ميلا) أربعة آلاف ذراع، وهو أربع وعشرون أصبعا، وهي ست شعيرات ظهر لبطن، وهي ست شعرات بغل .ولما قال العلامة المرغيناني الفرغيناني رحمه الله تعالى في الهداية : ومن لم يجد ماء وهو مسافر أو خارج المصر بينه وبين المصر نحو ميل أو أكثر يتيمم بالصعيد " لقوله تعالى: فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيباً﴾ (النساء: ٤٣) وقوله عليه الصلاة والسلام " التراب طهور المسلم ولو إلى عشر حجج ما لم يجد

الماء " والميل هو المختار في المقدار لأنه يلحقه الحرج بدخول المصر والماء معدوم حقيقة والمعتبر المسافة دون خوف الفوت لأن التفريط يأتي من قبله . ( الدرالمختار مع رد المحتارج ۱ ص ۲۳۵ باب سنن التيمم مكتبه شامله / فتح القديرج ۱ ص ۱۲۲ باب التيمم / هداية ج ۱ ص ۲۷ باب التيمم )

## دمريضي په خاطريې په تيمم سره لمونځونه وکړل بيا چې جوړ سونو کړي لمونځونه راګرځول غواړي که يا ؟

الاستفتاء : يو کس زخمي دي ډاکټران وايي چې د اوبو استعمال تاوان ورته کوي نو دغه کس په دغه حالت کښې ټول لمونځونه په تيمم سره وکړل او س دي جوړ سو نو پس له جوړوالي بيا هغه کړي لمونځونه راګرځول غواړي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : کله چې شرعا ويو چاته د مريضي يا زخم تپ و غيره دوجې څخه تيمم کول روا سو نو بيا په هغه تيمم سره ټول کړي لمونځونه صحيح او درست دي بيا راګرځول نه غواړي . دا فقط يو تشويش دي چې د دغه کس سره ورسره دي بايد تشويش و نه کړی

## ايا جنب کس په ډېريخ کښې د مريضی له ويري تيمم و هلاي سي که يا ؟

الاستفتاء يو کس د جنابت په حالت کښې دي او به ډيري يخې دي دي پر دې ييريږي که زه غسل وکړم نو سخته مريضي به راته پېښه سي ايا په داسي حالت کښې دغه کس ته دا جواز لري چې د غسل پرځاي تيمم ووهي ؟

الجواب حامدا و مصليا : دغه مريض ته شرعا دارواده چې د غسل پرځاي تيمم وکړي او وروسته تر تيمم دي بيا اودس وکړي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قوله يشتد) أي يزيد في ذاته،وقوله أو يمتد: أي يطول زمنه، وكذا لو كان صحيحا خاف حدوث مرض كما في القهستاني، وهو معلوم من قول المصنف أو برد (قوله بغلبة ظن) أي عن أمارة أو تجربةشرح المنية (قوله أو قول حاذق مسلم) أي إخبار طبيب حاذق مسلم غير ظاهر الفسق، وقيل عدالته شرط شرح المنية (قولة ولو بتحرك) متعلق بيشتد. اهـ ح ولا مانع من تعلقه بيمتد أيضا لأن التحرك يكون سببا في الامتداد أيضا ط. وفي البحر: ولا فرق عندنا بين أن

يشتد بالتحرك كالمبطون أو بالاستعمال كالجدري (ردالمحتارج ۱ ص ۱۷۱ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي على المراقي ص ۱۱۵ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۸ مكتبه رشيديه / فتاوي محموديه ج ۵ ص ۱۷۸ اردو / فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۱ ص ۲۴۷ پښتو / اپ كي مسائل ج ۳ ص ۱۳۰ اردو)

يو كس په بنيبنه كښې بند دي او به هم نسته چي اودس وكړي او خاوره هم نسته چي تيمم وكړي.

الاستفتاء يو كس په بنيبنه كښې بند دي او به هم نسته چي اودس وكړي او خاوره هم نسته چي تيمم وكړي داسي كس به څه كوي ايا شريعت مطهره ددې يو حل را ايستلي دي كه يا؟

الجواب حامدا ومصليا: داسي كس ته د فقها و په اصطلاح كښې فاقد الطهورين ويل كيږي معنى دا چي په داسي ځاي كښې رابند وي چي نه هلته اوبو ته رسېدل ممكن وي او نه هم دمځكي د جنسه څخه داسي شي موجود وي چي دغه كس تيمم پرووهي يا خو

موجود وي خو دغه كس د څه عذر په خاطر د هغه د استعماله څخه عاجزه وي. نو دې كس ته شرعي حكم دادي چي دي به تشبه بالمصلين (مشابهت دي دلمونځ كوونكو) اختياروي بې له اوداسه او نيته او قرآته څخه دي پر لمانځه ودريږي ركوع او سجده دي كوي كه ممكنه وه او كه نه وه په اشاره سره دي لمونځ كوي بيا چي كله موقع مساعده سوه نو دي هغه تيرسوي لمونځونه ټوله را وګرځوي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(والمحصور فاقد الماء والتراب (الطهورين) بأن خيس في مكان نجس ولا يمكنه إخراج تراب مطهر، وكذا العاجز عنهما لمرض (يؤخرها عنده: وقالا: يتشبه بالمصلين وجوبا،فيركع ويسجد إن وجد مكانا يابسا وإلا يومئ قائما ثم يعيد كالصوم (به يفتى واليه صح رجوعه) أي الإمام كما في الفيض (الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۱۵۸ سنن التيمم مكتبه شامله / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ج ۱ ص ۱۱۷ باب التيمم مكتبه شامله / البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ۱ص ۱۷۲ الجمع بين التيمم والغسل مكتبه شامله

## دتبي په حالت کښې تيمم روا ده دي که يا؟

الاستفتاء: دتبي په حالت کښې په تيمم سره لمونځ کيږي که يا؟ شريعت د تيمم کولو اجازه ورکوي که يا؟

الجواب حامداو مصليا: که چيرې داسي تبه وي چې د اوبو په استعمال سره ضررا و د مرض د زياتيدو يقيني بيره ورسره وي نو تيمم صحيح دي پکار ده چې دداسي مشکل په وخت کښې ديو ماهر او مسلمان ډاکټر څخه مشوره واخيستل سي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : اولمرض يشتد او كغلبه الظن او قول حاذق مسلم يمتد الخ الذاخاف المحدث ان توضا ان يقتله البرد او يمرضه الخ (ردالمحتارج ١ ص ١٧١ باب التيمم مكتبه حبيبه / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ١١٥ باب التيمم مكتبه رشيديه / خلاصة الفتاوي ج ١ ص ٣٨ كتاب الطهارة مكتبه رشيديه/فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ١ ص ٢٤٣)

## که مريض ته بل کس تيمم ورو کړي نيت به څوک کوي؟

الاستفتاء: که يو کس سخت مريض او ناجوړي وي يو لاس يا دواړه لاسونه يې شل وي او خپله پر تيمم کولو قدرت نه لري نو دو هم کس که را ولاړسي تيمم وروو هي ايا دغه تيمم يې صحيح دي که يا؟ او نيت د تيمم به څوک کوي هغه مريض او که دا جوړسري الجواب حامداو مصليا راکړئ-

الجواب حامداو مصليا: په دغه ذکر سوي مجبورئ او لاچارئ کښې که دغه مريض ته دو هم کس تيمم وروکړي نو تيمم يې صحيح دي مګر نيت د تيمم به هغه ناجوړي سړي کوي نه هغه جوړسړی

وفي الفتاوى الهندية : مريض يتممه غيره فالنية على المريض دون المتيمم. كذا في (الفتاوى الهندية ج ١ ص ٢٦ الفصل الأول في أمور لابد منها في التيمم / فتاوي رحيميه ج ٤ ص ٦٤

## مريض اودس کولاي سي مګر غسل نه سي کولاي؟

الاستفتاء کوم مريض چي اودس کولاي سي قدرت پر لري مګر د غسل کولو څخه معذوره دي دهغه لپاره شرعا د غسل پر برابر څه حکم دی؟

الجواب حامدا و مصليا: دغه مريض ته شرعا داروا ده چي د غسل پرځاي تيمم وکړي او وروسته تر تيمم بيا او دس وکړي مفتي عزيز الرحمن صاحب دغه الجواب حامدا و مصليا ورکړي دي دغه الاستفتاء

وفي الفتاوى الهندية: ويجوز التيمم إذا خاف الجنب إذا اغتسل بالماء أن يقتله البرد أو يمرضه

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۸ الفصل الأول في أمور لابد منها في التيمم مكتبه رشيديه / فتاوي ديوبندج ۱ ص ۲۴۷ / ردالمحتارج ۱ ص ۱۷۱ باب التيمم مكتبه حبيبه / ستاسو مسائل اودهغوي حل ج ۳ ص ۱۳۰)

## چي اوبه وي د قران د مسه کولو لپاره تيمم رواه دي که يا؟

الاستفتاء يو ځاي او به سته خو يا په ځاه کښي دي يا يخي دي يالرليري دي ايا د قرآن کريم د مسه کولو لپاره تيمم رواه دي که يا؟

الجواب حامدا و مصليا: چي او به موجود وي نو په داسي صورت کښي د قرآن کريم دمسه کولو لپاره يا مسجد ته د داخلېدو لپاره تيمم نه دي صحيح شرعا

قلت: وفي المنية وشرحها: تيممة لدخول مسجد ومس مصحف مع وجود الماء ليس بشيء بل هو عدم؛ لأنه ليس لعبادة يخاف فوتها، (ردالمحتارج ۱ ص ۱۷۹ باب التيمم مكتبه حبيبه / فتاوي ديوبندج ۱ ص ۲۴۵)

## فالج والا د خادم او نوکر

الاستفتاء: علماء کرام په دې مسئلې کښې څه فرمائي چه زيد په لاس، غوږ او سترګو سره بالکل روغ رمټ دې ليکن په خپو فالج وهلې دې چه ګرزيدې نه شي داسې په وخت کښې دننه داودس کولو انتظام نشي کولې ځکه چه پخپله داوبو تلاش نشي کولې او وخت هم تيرېږي که دې د تيمم په ذريعه مونځ ادا کړي نو دا جائز دې که نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: داسې د خادم او نوکر په عدم موجودګۍ کښې تيمم کولې شي.

كمافي شرح التنوير اولم يجد من يوضئه فان وجد ولو باجرة مثل وله ذلك لا يتيمم في ظاهر المذهب كما في البحر (هامش ردالمحتار ۲۱۵ جلد ۱)(۱) وبمعاه في الهنديه ص۲۸ جلد ۱ (۲﴾ وفتاوي دارالعلوم ديوبند ص ۲۴۴ جلدا فليراجع. وهو الموفق(۱) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۱۷۱ جلدا باب التيمم)(۲) وفي الهنديه او كان لا يجد من يوضيه ولا يقدر بنفسه فان وجد خادما او مايستأجربه اجيراً او عنده من لو استعان به اعانه فعلى ظاهر المذهب انه لا يتيمم لانه قادر كذافي فتح القدير . (عالمگيريه ص ۲۸ جلد ۱ الباب الرابع في التيمم الفصل الاول)

## د مرګي د مريض د پاره د غسل په ځاي باندي د تيمم حکم

الاستفتاء: څه د مرګي مريض يم يو ځل مي د غسل اراده اوکړه نو د غسل په وخت کښي راباندي دوره راغله او تندي مي په تيره ګټه باندي اولګيدو او زخمي شو او تقريبا يو مياشت پوري زخم وو نو داسي حالت کښي به ماته د غسل نه کولو اجازت وي که نه غسل کول به ضروري وی؟ يا څه بله طريقه اوښايي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: که آسانه وي نو د صبا راختلو نه مخکښي غسل کوه او باقي مسئله داده که په غسل کولو سره دوره راتلل يقيني وي يا غالب ګمان وي نو بيا تيمم کولي شي

كمافي الهندية ويعرف ذلك الخوف اما بغلبة الظن عن امارة اوتجربة اواخبار طبيب حاذق مسلم غير ظاهر الفسق كذا في شرح منية المصلي لابراهيم الحلبي ۱ . وهو الموفق هام (فتاوي هنديه ص۲۸ ج ۱ باب التيمم الفصل الاول)

## په يو لاس باندي د شل سړي اودس او تيمم

الاستفتاء علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي که د چا لاس نه وي نو دي سړي د پاره داوبو په عدم موجودګي کښي تتمم فرض دي يانه؟ او که فرض وي نو تيمم به څنګه کوی؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: يو لاس والا کس اودس هم کولي شي او تيمم هم کولي شي په يو (ضرب) دي مخ مسح کړي او لاس دي په خاوري وغيره پوري راکاږي او دغه شان د خادم په ذريعي سره هم اودس او تيمم جائز دي

فليراجع الى ردالمحتار وغيره ۵۲۵. و هو الموفق (۲) قال ابن عابدين رحمه الله (قوله كمافي البحر) حاصل مافيه انه ان وجد خادما اي من تلزمه طاعته كعبده وولده واجيره لا يتيمم اتفاقاً وان وجد غيره ممن لو استعان به اعانه ولوزوجته فظاهر المذهب انه لا يتيمم ايضاً الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۷۱ جلدا باب التيمم ) وقال ايضا وفي التاترخانيه الرجل المريض اذالم..... (باقي په بل مخ)

## بــــاب المسح على الخفين

### تر بنګري پورې په موزو باندې د مســـــح د کولو حکم

الاستفتاء: که چېرته موزې د مضبوط ډول څرمن څخه د اسې جوړې شي چه بنګري پرې پټ شي نو آيا په د اسې موزو باندې مسح جائزه ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په موزو باندې د مسح د جواز لپاره دا ضروري ده چه په هغو کښې بنګري پټ شي بلکه که چېرته د پنډۍ څه برخه پکښې پټه شي نو بيا هم په مسح کښې کوم فرق نه راځي-

قال في الهندية: منها ان يكون الخف مما يمكن قطع السفر به و تتابع المشى عليه و يستر الكعبين و ستر ما فوقهما ليس بشرط هكذا في المحيط حتى لو لبس خفا لا ساق له يجوز المسح ان كان الكعب مستوراً. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۳۲، الباب الخامس في المسح على الخفين)قال العلامة الحصكفي: شرط مسحه ثلاثة امور الاول كونه ساترا محل فرض غسل القدم مع الكعب. (الدرالمختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۲٦۱، باب المسح على الخفين) .;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۳۱٦

### له جـرابو سره په موزو باندې د مسح حکم

الاستفتاء: که چېرته يو څوک لومړی جرابې په پښو کړي او بيا پرې د پاسه موزې واغوندي آيا په د اسې صورت کښې په موزو باندې مســح کيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: په صورت مسئوله کښې مسح په اصل حقيقت کښې په موزو باندې کيږي او د موزو لاندې جرابې په پښو کول د مسـح لپاره کوم مانع عمل نه دی. له دې وجهې له جرابو سره هم په موزو باندې مسـح روا کيږي-

قال ابن عابدين: (قوله او جرموقيه و لو فوق خف او لفافة اي سواء كانت ملفوفة على الرجل تحت الخف او كان مخبطة ملبوسة تحته كما افاده في شرح المنية. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص۲۶۹/۲۶۸، باب المسح على الخفين) قال ابراهيم الحلبي: يعلم منه جواز المسح على خف لبس فوق خف مخيط من كرباس او جوخ او نحوهما مما لا يجوز عليه المسح لان الجرموق اذا كان بدلاً عن الرجل و يجعل ما لا يجوز المسح عليه في حكم العدم اولى ما في اللفافة. (كبيري ص۱۱۲، فصل في المسح على الخفين) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۱۸۱، باب المسح على الخفين)

## په جـــــارابو باندې د مسح شرطونه

الاستفتاء: په جرابو باندې د مسح د کولو په باره کښې د شريعت حکم څه دی؟ ځينې خلک د اسې دي چه هغوي له نيلون څخه په جوړو شويو جرابو مسح کوي. په شريعت کښې په داسې صورت کښې اودس کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د متواترو احاديثو له مخې په موزو باندې مسح ثابته ده. موزې په عمومي توګه له څرمنې څخه جوړې شوي وي نو د دې لپاره په مطلق جرابو باندې مسح جائزه نه ده. البته علماوو په جرابو باندې د مسح کولو لپاره څلور شرطونه لګولي دي چه په لاندې ډول دي:

(۱) داسې سختې او ډبلې وي چه درې ميله (دولس زره کامه) پرته له څپلۍ څخه تګ ورسره ممکن وي۔

(۲) د اغوستلو په صورت کښې په پنډيو باندې پخپله بايد لګيدلې وي او ښکته نه راځي۔

(۳) او د لاندې له خوا څخه اوبو نه جذبوي۔

(۴) د پاسه له کتلو څخه د ننه پښه نه ترې معلوميږي۔

لکه څرنګه چه په اوسني نيلوني جرابو کښې دا شرطونه موجود نه دي نو د دې لپاره مسح

پرې جائزه نه ده. او چه څوک ئې پرې وکړي نو اودس به ئې نيمګړې وي۔

قال العلامة الحصكفي: او جوربيه و لو من غزل او شعر الثخنين بحيث يمشي فرسخا و يثبت على الساق بنفسه و لا يرى ما تحته و لا يشف الا ان ينفذ الى الخف قدر الفرض. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۱، ص ۲۶۹، باب المسح على الخفين) قال ابن نجيم: (قوله و الجورب المجلد و المنعل و

الثخين) اي يجوز المسح على الجورب اذا كان مجلداً او منعلاً او ثخيناً (و بعد اسطر) و الثخين ان يقوم على الساق من غير شد و لا يسقط و لا يشف و في التبيين و لا يرى ما تحته. (البحر الرائق ج۱، ص۱۸۲، باب المسح على الخفين) و مثله في خلاصة الفتاوى ج۱، ص۲۸، باب المسح على الخفين.
;كذافي فتاوي حقانيه ج۲ ص۳۱۷.

## په بوټونو بـــاندې د مسح حکم

الاستفتاء: که چېرته يو څوک د اسې بوټونه په پښو کړي چه شنګـري تنې پکښـې پټ وي او مضبوط هم دومـــره وي چه پرې کيدل ئې نه وي نو آيا په د اسې بوټونو باندې مسـح جائزه ده او که نه؟ او ځرګنده دې وي چه په هغو باندې له دريو ميلونو څخه زيـــات سفر هم پرې کولې شي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په داسې بوټانو باندې د مـح د جواز ټول شرائط موجود دي له دې وجهې مـح پرې جائزه ده -

قال العلامة الحصكفي: شرط مسحه ثلاثة امور الاول كونه ساترا لقدم مع الكعب او يكون نقصانه اقل من الخرق المانع فيجوز على الزربول لو مشد ودا. و الثاني كونه مشغولاً با لرجل ليمنع سراية الحدث الثالث كونه مما يمكن متابعة لمشى المعتاد فيه فرسخا فاكثر. قال ابن عابدين (قوله لو مشدوداً) لان شدة بمنزلة الخياطة و هو مستمسك بنفسه بعد الشد كا لخف المخيط بعضه ببعض فافهم. و في البحر عن المعراج و يجوز على الجاروق المشقوق على ظهر القدم و له ازرار يشدها عليه تشده لانه كغير المشقوق.... الخ. (رد المحتار على الدر المختار ج۱ ص ۲٦۱ تا ۲٦۳، باب المسح على الخفين) قال ابن نجيم: و يجوز على الجاروق المشقوق على ظهر القدم و له ازرار يشده عليه يسده لانه كغير المشقوق و ان ظهر من ظهر القدم شيء فهو كخروق الخف. (البحر الرائق ج۱، ص۱۸۳، باب المسح على الخفين) ومثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص۲۸، باب المسح على الخفين)

## په ګوتو کښې د ورم د پيدا کيدو له وجهې په پښو باندې د مسح حکم

الاستفتاء: د ژمي په موسم کښې ډير وارې په پښو کښې سوزش پيدا کيږي او ګوتې شړيږي چه له وجهې ئې د اوبو له استعمالولو څخه تکليف نور هم زياتيږي نو آيا په د اسې پښو باندې مسح جائزه ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په نوموړي صورت کښې که چېرته د سړو اوبو په استعمالولو سره سړي ته تکليف وي نو ګرمې اوبو دې استعمالې کړي او کــــه چېرته د ګرمو اوبو استعمال هم ورته د تکليف باعث وي نو بيا مســح ورته جائزه ده. البته که چېرته د پټۍ لاندې مسح کول ورته تکليف نه وو نو بيا دې په ځرمن باندې مسح وکړي او که چېرته په ځرمنې باندې په مسح کولو کښې تکليف وو او د مرض د زياتوالي خطره وه نو بيا دې په پټۍ باندې مســح کول ورته جائز دي.

قال ابن نجيم: و في شرح الجامع الصغير لقاضيخان و المسح على الجبائر على وجوه ان كان لا يضره غسل ماتحته يلزمه الغسل و ان كان يضره الغسل با لماء البارد و لا يضره الغسل بالماء الحار يلزمه الغسل با لماء الحار و ان كان يضره الغسل و لا يضره المسح يمسح ما تحت الجبيرة و لا يمسح فوقها. (البحر الرائق ج١، ص١٨٧، باب المسح على الخفين)قال ابراهيم الحلبي: و المسح على الجبيرة على وجوه ان كان لا يضره غسل ما تحته يلزم الغسل با لاجماع وان كان يضره الغسل ما تحته با لماء البارد و لا يضره با لماء الحار يلزمه الغسل با لماء الحار و ان كان يضره الغسل لا يضره المسح بمسح ما تحت الجبيرة و لا يمسح ما فوق الجبيرة. (صغيري ص ٦٥، باب المسح) و مثله في الهندية ج١،ص ٣٥، باب المسح. ;كذافي فتاوي حقانيه ج٢ ص٣١٨.

# بــــاب الحيض

## د حيض په حالت کښې د تسبيح لوستلو حکم

الاستفتاء: د حيض او نفاس په دوران کښې خو ښځه د قرآنکريم تلاوت نه شي کولي ليکن آيا تسبيحات او قرآني او مسنوني دعاګانې لوستلي شي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: د حيض او نفاس په حالت کښې د ښځو لپاره د تسبيحاتو او دعاګانو لوستل جائز دي. البته د قرآني دعاګانو د تلاوت په نيت سره لوستل ورته حرام دي او د دعا په نيت سره ورته جائز دي۔

قال العلامة الحصكفي: و لا يكره النظر اليه اي القرآن لجنب و حائض و نفساء لان الجنابة لا تحل العين كمالا تكره ادعية اي تحريماً. و الا فا لوضوء لمطلق الذكر مندوب و تركه خلاف الاولى و هو مرجع كراهة التنزيهية. (الدرالمختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۱۷٤ ، مطلب يطلق الدعاء على ما يشمل الثناء)و في الهندية: و لا يكره قرأت القنوت في ظاهر الرواية كذا في التبيين و عليه الفتوى كذا في التجنيس والظهيرية و يجوز للجنب و الحائض الدعوات و الجواب حامداومصلياالآذان و نحو ذلك كذا في السراجية. (الهندية ج۱، ص۳۸.الفصل الرابع في احكام الحيض و النفاس)كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۱۹

## : د حيض په حالت کښې له ښځې سره د جماع حکم

الاستفتاء: د حيض په ورځو کښې له ښځې سره د جماع کولو حکم څه دی؟ او له جماع برسيره لمس(لاس وروړل) او تقبيل (ښکلول) ئې جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: له حائضه ښځې سره د قرآني نص له مخې جماع ناجائزه او حرامه ده —په د اسې حالت کښې له جماع څخه پرهيز او د ځان ساتنه وکړي۔

لقوله تعالى: و يسئلونک عن المحيض قل هو اذي فاعتزلوا النساء في المحيض و لا تقربوهن حتى يطهرن.البته له جماع څخه پرته لمس او تقبيل او همدارنګه د ضرورت په وخت کښې له مافوق الازار څخه استفاده جائزه ده۔

قال العلامة الحصكفي: وقربان ما تحت آزار يعني ما بين سرة و ركبة و لو بلا شهوة و حل ما عداه.و قال ابن عابدين: تحت قوله (يعنى ما بين سرة و ركبة) فيجوز الاستمتاع با لسرة و ما فوقها و الركبة و تحتهاو لو بلا حائل و كذا بما بينهما بحائل بغير الوطي. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۲۹۲، باب الحيض.قال العلامة ابو بكر بن على الحداد: حرمة الجماع و له ان يقبلها و يضاجعها و يستمتع بجميع بدنها ما خلا ما بين السرةو الركبة. (الجوهرة النيرة ج ۱، ص ۳۵، باب الانجاس) و مثله في الفتاوى الهندية ج۱ ، ص ۳۹، الفصل الرابع في احكام الحيض كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۱۹

## د ناقص الخلقت بچي په ولادت باندې د نفاس حکم

الاستفتاء: که چېرته د يوې ښځې د بچي خلقت پوره شوي نه وي يعني ځينې اند امونه ئې جوړ شوي او ځينې نه وي جوړ شوي يا بالکل اند امونه جوړ شوي نه وي بلکه د غوښې ټکړه وي. نو د دې ناقص الخلقت او يا د غوښې د ټکړې له وتلو څخه وروسته له ښځې څخه چه کومه وينه راځي هغې ته نفاس ويل کيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته حمل د غوښې يوه ټکړه وي يعني اند امونه بالکل جوړ شوي نه وي او ضائع شي نو له هغې نه وروسته تلونکې وينه د حيض په حکم کښې ګڼل کيږي په دې شرط چه د حيض تر مودې پورې جاري وي او د حيض له مودې څخه زياته شوې وينه مرض ګڼل کيږي. البته که چېرته د حمل اند امونه جوړ شوي وي نو د هغه د ضائع کيدو نه وروسته به وينه د نفاس وينه ګڼل کيږي۔

قال في الهندية: و السقط ان ظهر بعض خلقه من اصبع او ظفر او شعر ولد فتصير به نفساء هكذا في التبيين و ان لم يظهر شيء من خلقه فلا نفاس لها فان امكن جعل المرئى حيضاً يجعل حيضاً وا لا فهو استحاضة. (الهندية ج۱، ص۳۷ الفصل الثاني في النفاس) قال العلامة الحصكفي: و سقط ظهر بعض خلقه كيد او رجل او اصبع او ظفر او شعر ولد حكماً فتصير المرأة به نفساء و الامة ام ولد فان لم يظهر له شيء فليس بشيء و المرئى حيض ان دام ثلاثاً و تقدمه طهر تام و الاستحاضة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۳۰۲، مطلب احوال السقط) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۲۱۸، باب الحيض. كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۰

## د حيض په ورځو کښې د استعماليدونکې ځيرې حکم

الاستفتاء: ځينې ښځې د حيض په ورځو کښې استعماليدونکې ځيره (کرسف) ګليو ته غورځوي چه له وجهې ئې د انسان په ذهن کښې عجيب او غريب ډول خيالات پيدا کيږي. پوښتنه دا ده چه د داسې ځيرې په باره کښې د اسلامي شريعت حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د غيرت او حيا دا تقاضا ده چه د حيض په ورځو کښې استعماليدونکې ځيره (کرسف) دوباره استعمال نه شي بلکه ښه خبره دا ده چه وسوزول شي او په ګليو کښې اچول ئې مناسب نه دي۔

قال العلامة الحصكفي: كل عضو لا يجوز النظر اليه قلب الانفصال لا يجوز بعده كشعر عانته و شعر رأسها و عظم ذراع جرة ميئة و ساقها و قلامة زفر رجلها دون يدها و ان النظر الى ملأة الاجنبية بشهوة حرام. (رد المحتار ج٦ ص ۳۷۱، كتاب الكراهية، فصل في النظر) و في خير الفتاوى: كه چېرته له پرېمنځلو وروسته دوباره استعمال نه شي نو بيا دي وسوځول شي. (خير الفتاوي ج ۲، ص ۱۳۹، باب الحيض) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۰

## حيض كله او څنګه شروع شو

الاستفتاء: حضرت مفتي صاحب! يوه مسئله را ته پيښه شوې ده او هغه دا چه حيض كله او څنګه او له چا څخه شروع شوي دي چه ترننه پورې جاري او ساري ده مهرباني وكړي د دې مسئلې په تړلو اړخونو باندې رڼا واچوی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: حيض يو مرض دي چه الله تعالى د آدم عليه السلام لونړې پكښې مبتلا كړي دي. حضرت حوا عليها السلام غنم او يا كوم بل شي چه له خوړلو څخه ئې منع شوي وو وئې خوړه نو الله تعالى حضرت حوا له دې وجهې په دې مرض باندې اخته كړه او ترننه پورې د هغې په اولاد كښې دا بيماري روانه ده-

----لما قال العلامة الحصكفي: و سببه ابتداء ابتلاء الله لحواء لاكل الشجرة و في الشامي اي و بقي بناتها الى يوم القيامة و ما قيل انه اول ما ارسل الحيض على بني اسرائيل فقد رده البخاري بقوله و حديث النبي صلى الله عليه وسلم اكبر و هو ما رواه عن عائشه رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في الحيض هذا شيء كتبه الله على بنات آدم قال النووى اى انه عام في جميع بنات آدم. (رد المحتار ج ۱، ص ۲۸۳، باب الحيض) قال الشيخ السيد احمد الطحطاوى: (قول و سببه ابتداء) اى السبب في حصوله اولاً (قوله ابتلاء الله لحواء) فيه رد على من قال انه اول ما ارسل على بنى اسرائيل فان الحديث دال على عمومه لجميع بنات آدم و الحديث اقوى و هو ما روى عن عائشة قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في الحيض هذا شيء كتبه الله على بنات آدم. (طحطاوى حاشية الدر المختار ج ۱، ص ۱٤٦، باب الحيض) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۱

## د حیض په دوران کښې د هر رنګ او به حیض بلل کیږي

الاستفتاء: د حیض په ورځو کښې له ښځې څخه مختلف ډوله اوبو راځي. آیا ټول ډولونه (رنګونه) د حیض دي او که یوائې د سور رنګ وینه یا اوبو حیض ګڼل کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: د حیض په ورځو کښې هر رنګ لرونکې اوبو به حیض ګڼل کیږي پرته له خالص سپین رنګ څخه ځکه چه خالصې سپینې اوبو حیض نه دي بلکه هغه پاکي او د پاکوالي علامه ده ام المؤمنین حضرت سیده عائشه رضي الله تعالی عنها په خدمت کښې مسلمانې ښځې خپل کرسفونه (هغه ټیره چه د وینې د نه خورید و لپاره ئې ښځې استعمالوي)

لیږل نو هغې به ورته وفرمایل چه انتظار وکړي تر دې پورې چه سپینې اوبو راشي۔

**لما قال المرغیاني: و ما تراه المرأة من الحمرة و الصفرة و الکدرة حیض حتی تری البیاض حائضاً. (الهدایة ج۱، ص٦٤ ، باب الحیض) قال العلامة الحصکفي: و ما تراه المرأة من لو ن ککدرة و تربیة في مدته المعتادة سوی بیاض الخالص. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۱، ص ۲۸۹ ، باب الحیض) کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص۳۲۱**

## حائضه ښځه دې د لمانځه په وختونو کښې ذکر او اذکار خپل معمول جوړ کړي

الاستفتاء: د حیض په حالت کښې ښځې ته د لمانځه د کولو اجازه نشته. آیا یوه ښځه د خپل معمول د همیشه والي لپاره د لمانځه په وختونو کښې چه پخپلې مصلي باندې د کیناستلو په صورت کښې تسبیح، تهلیل او نور اذکار کولي شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: د حائضه ښځې لپاره مستحبه داده چه د لمانځه په وختونو کښې دې اودس وکړي او پخپلې مصلې دې کینیني او تر دومره وخته پورې دې تسبیح، تحمید، تهلیل او داسې نور اذکار وکړي چه تر څومره وخته پورې ئې مخکښې لمونځ کاوه تر څو چه معمول کښې ئې فرق را نه شي

**قال ابن عابدین: و یستحب لها ان تتوضأ لوقت کل صلوة و تقعد علی مصلاها و تسبح و تهلل و تکبر بقدر ادائها کي لا تنسی عادتها و في روایة یکتب لها احسن صلوة کانت تصلی. (رد المحتار ج ۱، ص**

۲۹۰، باب الحيض) قال العلامة عالم بن العلاء الانصارى: و يستحب للمرأة الحائض اذا دخل عليها وقت الصلوة ان توضا و تجلس عند مسجد بيتها. و في السراجية مقدار ما يمكن اداء الصلوة لو كانت طاهرة و تسبح و تهلل كيلا تزول عنها عادة العبادة. (الفتاوى التاتارخانية ج١، ص٣٣٢، باب الحيض، نوع في الاحكام التي تعلق با لحيض) و مثله في الهندية ج١، ص٣٨، الباب السادس في الدماء المختصة بالنساء، الفصل الرابع في احكام الحيض .ص ٣٨، الباب السادس في

## د حيض په حالت کښې د جماع حکم

الاستفتاء: ځينې خلک په داسې حال کښې چه له شرعي احکامو او د حيض او نفاس له مسائلو څخه خبر نه وي له خپلو ښځو د حيض او نفاس په حالت کښې جماع کوي نو آيا د شريعت له مخې د هغوي دا عمل څه حکم لري؟

الجواب حامدا ومصليا: د حيض په دوران کښې له ښځې سره جماع د قرآنکريم او نبوي احاديثو د تصريحاتو له مخې ناجائزه، حرامه او ګناه کبيره ده. په دې دوران کښې له خپلې ښځې سره سړي بايد جماع ونه کړي. البته که چېرته يو څوک د غلطۍ او بې علمۍ له وجهې د حيض په ابتدائي ورځو کښې جماع وکړي نو يو دينار او که په آخري ورځو کښې ئې جماع وکړي نو نيم دينار صدقه کول افضل دي او توبه او استغفار پرې واجب دی-

لما قال العلامة حسن بن عمار : و يحرم با لحيض و النفاس الجماع و الاستمتاع بما تحت السرة الى تحت الركبة لقوله تعالى: و لا تقربوهن حتى يطهرهن.. . و قونه "لك ما فوق الازار" فان وطئها غير مستحل له يستحب ان يتصدق بدينار و نصف و يتوب و لا يعود و جزم في المبسوط و غيره بكفر مستحله، (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص١١٦، باب الحيض)و في الهندية: فان جامعها و هو عالم با لتحريم فليس عليه الا التوبة و الاستغفار و يستحب ان يتصدق بدينار و نصف دينار. (الهندية ج١، ص٣٩، الفصل الرابع في احكام الحيض و النفاس الخ) و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٢٩٧، كتاب الحيض. كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٢

## د حیض په حالت کښې د قرآنکریم د ورښوولو حکم

الاستفتاء: نن صبا د نجونو په مدارسو کښې ښځې استاذانې دي نو آیا د هغوي لپاره د حیض په حالت کښې نجونو ته د قرآنکریم ورښوول جائز دي او که نه؟ په داسې حال کښې چه د قرآنکریم ورښوول یو ضروري کار دی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: په شریعت مقدسه کښې حائضه ښځې ته د قرآنکریم ور ښوول جائز نه دي لیکن چېرته چه تلاوت ضروري وي هلته د مفتي به قول له مخې د تعلیم په نیت سره په تکي لوستل جائز دي-اگر که د امام طحاوي د تحقیق مطابق نیم آیت هم لوستلې شي-

قال ابن عابدین: (قوله و قرأة القرآن) ای ولو دون آیة من المرکبات لا المفردات لانه جوز للحائض المعلمة تعلیمه کلمة کلمة کما قدمناه انتهی. (رد المحتار ج۱، ص۲۹۳)قال الشیخ السید احمد الطحطاوي: قوله و قرأة القرآن) اي یمنع الحیض و مثله الجنابة قرأة قرآن و شمل اطلاقه الآیة و ما دونها و هو قول الکرخي و صححه صاحب الهدایة في التجنیس و قاضیخان في شرح الجامع الصغیر و الولوالجي في فتواه و مشی علیه المصنف في المستصفی و قواه في الکافي و نسبه صاحب البدائع الی عامة المشایخ.. (طحطاوی حاشیة الدر المختارج۱، ص ۱۵۰ ، باب الحیض) و مثله في التاتارخانیة ج۱، ص۳۳۳، باب الحیض، نوع في الاحکام التي تتعلق با لحیض. کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص۳۲۳

## د حائضه ښځې لپاره د دیني کتابونو د مطالعې حکم

الاستفتاء: د حیض په حالت کښې ښځې ته د دیني کتابونو کتل جائز دي او که نه؟

..الجواب حامدا ومصلیا: د حیض په حالت کښې له قرآنکریم څخه پرته د نورو دیني کتابونو کتنه شرعاً منع نه دي. البته د مطالعې لپاره ئې اخیستل او د پاڼې اړول ئې له پونړ یا غلاف څخه پرته مکروه دي-

لما قال العلامة ابن الهمام: قالوا یکره مس کتب التفسیر و الفقه و السنن لانهالا تخلوا عن آیات القرآن و لهذا التعلیل یمنع شروح النحو ایضاً. (فتح القدیر ج ۱ ص ۱۵۰ ، باب الحیض) قال ابن نجیم: قالوا یکره مس التفسیر و الفقه و السنن لانها لا تخلوا عن آیات القرآن و لهذا التعلیل یمنع مس شروح النحو

ايضاً. (البحر الرائق ج١، ص٢٠١، باب الحيض) و مثله في التاتارخانية ج١، ص٣٣٣، باب الحيض، نوم في الاحكام التي تتعلق با لحيض. كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٣

## د حيض په حالت کښې د آيت الکرسي تلاوت

الاستفتاء: زه اکثره د شپې په خوب کښې ډارېږم يوه صاحب ما ته ويلي دي چه آيت الکرسي تلاوتکوه نو آيا د حيض په حالت کښې زه آيت الکرسي لوستلي شم او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د اسې خو شرعاً د حائضې او جنوب لپاره د قرآنکريم تلاوت جائز نه دي ليکن که چېرته يو قرآني آيت د دعا په نيت سره ولولي نو له کراهيت پرته جائز دي. البته د تلاوت په نيت سره ئې مه لولې

لما قال ابن عابدين: (و قرأة القرآن بقصده) اي فلو قرأت الفاتحة على وجه الدعاء او شيا من الآيات التي فيها الدعاء و لم ترد القرأة لا بأس به الخ. (رد المحتار ج ١، ص ٢٩٣، باب الحيض) قال الشيخ السيد احمد الطحطاوى: (قوله بقصده) اما اذا قرأ على قصد الثناء او افتاح أمر لا يمنع في اصح الروايات و الشميه لا تمنع اتفاقاً اذا كانت على قصد الثناء أو افتاح امر خلاصة و في العيون لابي الليث و لو قرأ الفاتحة على سبيل الدعاء او شيأً من الآيا ت التي فيها معنى الدعاء و لم يرد به القرآة فلا بأس به. (طحطاوي حاشية الدر المختار ج ١، ص ١٥٠، باب الحيض) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٣

## د حائضه ښځې په لاس د پاخه شوي شيانو حکم

الاستفتاء: حائضه ښځه د حيض په ورځو کښې خوراکونه او د اسې نور شيان پخوي او خپل بچي تهشيدې هم ورکوي. نو آيا د دوي په لاس د پاخه شوي شيانو او خپل بچي ته د حيض په حالت کښې د شيدو ورکولو حکم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: اسلام د فطرت دين دي او د يهوديانو غوندې په دې حالت کښې ئې ښځه د يوه مردار شي غوندې نه دي ګڼلي او نه ئې د نصاراوو غوندې د مخکښيني پاک حالت غوندې له ګټلو سره د استعمالولو حکم ورکړي دي بلکه په کومو کومو ځايونو کښې چه پرهيز ممکن وي هلته ئې ممانعت فرمايلي دي او په کومو ځايونو کښې چه خلاصون نه وي هلته ئې د جواز حکم ورکړي دی. د دې لپاره د حائضه په لاس د پاخه شوي شيانو له خوړلو او په دې حالت کښې خپل بچي ته د شيد و ورکولو څخه خلاصون نه وي. نو له دې وجهې د دې په لاس د. پاخه شوي شيانو خوړل او خپل

بچي ته شيدې ورکول جائز دي. البته مستحبه داده چه د دغوکارونو لپاره دې ښځه اول اودس وکړي او بيا دې خپلو کارونو ته انجام ورکړي-کارونو لپاره دې ښځه اول اودس و در

لما قال الشيخ السيد احمد الطحطاوى: و له ان يقبلها و يضاجعها و لا يكره طبخها و لا استعمال ما مسته من عجين او ماء او غيرهما. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص١١٦، باب الحيض) قال الشيخ السيد احمد الطحطاوي: و لا يكره طبخها و لا استعمال ما مسته من عجين او ماء او غيرهما الا اذا توضأت بقصد القربة كما هو المستحب الخ. (طحطاوي حاشية الدر المختار ج١، ص١٤٩، باب الحيض) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٤

## د آپريشن په ذريعې سره د بچي له ايستلو ځخه وروسته د وينې حکم

الاستفتاء: نن صبا له ډيرو ښځو ځخه د آپريشن په ذريعې سره بچي ايستل کيږي. نو له آپريشن ځخه وروسته چه کومه وينه راځي آيا هغه د نفاس په حکم کښې ده او که څنګه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: نفاس هره هغه وينه ده چه د بچي له پيدا کيدو وروسته د مور له رحم ځخه روانه وي. که بچي ئې د آپريشن په ذريعه را ايستل شوي وي او که پخپله په فطري توګه پيدا شوي وي. نو اوس که چېرته راتلونکې وينه له رحم ځخه وي نو نفاس دي او که د آپريشن له ځاي ځخه راځي نو نفاس نه دي او په ښځې باندې به اودس او لمونځ لازم وي

لما قال العلامة الحصكفي: و النفاس لغة ولادة المرأة و شرعاً دم يخرج من رحم فلو ولدته من سرتها إن سال الدم من الرحم فنفساء و الا فذات جرح و ان ثبت له احكام الولد عقب ولد او اكثر منقطعاً عضوا عضوا لا اقله. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٢٩٩، باب الحيض) قال الشيخ السيد احمد الطحطاوي: قوله فلو ولدته من سرتها) بان كان بها جرح فا نشقت و خرج الولد منها (قوله فنفساء) لانه وجد خروج الدم من الرحم عقب الولادة (قوله الا فذات جرح) يعني لا تعطى حكم النفساء (قوله وان ثبت له احكام الولد) من انقضاء العدة و صيرورة الامة به ام الولد و لو علق الطلاق بولادتها وقع لوجود الشرط. (طحطاوي حاشية الدر المختار ج ١، ص ١٥٣ ، باب الحيض) و مثله في الهندية ج١، ص٣٧، الباب السادس في الدماء المختصة بالنساء، الفصل الثاني في النفاس . كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٤

## له ولادت ښځه مخکښې د راتلونکې وینې حکم

الاستفتاء: کله کله له ولادت ښځه مخکښې له ښځې ښځه د وینې راتلل شروع کیږي. د دې وینې څه حکم دی؟ او په دې دوران کښې نوموړې ته د لمانځه او د اسې نورو احکامو په ځای کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: نفاس هرې هغې وینې ته ویل کیږي چه د بچي له پیدا کیدو ښځه وروسته راځي او حیض هغې وینې ته ویل کیږي چه پرته له کوم سبب ښځه له رحم ښځه راځي. په نوموړې صورت کښې په دې وینې باندې د نفاس تعریف نه صادقیږي ځکه چه د بچي له ولادت ښځه مخکښې راغلي ده او نه د حیض په حکم کښې راځي ځکه چه د رحم خوله د بچي له وجهې بنده ده نو د دې لپاره دا وینه د استحاضه په حکم کښې ده چه په دې دوران کښې هر ډول عبادت ورته جائز دي۔

قال برهان الدین المرغیناني: و الدم الذي تراه الحامل ابتداء او حال ولادتها قبل الولد استحاضة. (الهدایة ج۱، ص ۵۲ ، کتاب الحیض)و في الهندیة: و کذا ما تراه الحامل ابتداء او حال ولادتها قبل خروج الولد. (الهندیة ج۱، ص۳۸، الباب السادس في الدماء المختصة الخ، الفصل الثالث في الاستحاضة. و مثله في الفقه الاسلامي و ادلته ج۱، ص۴٦۵، المبحث الثاني في تعریف الناس و مدته. کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص۳۲۵

## له حائضه ښځه د انتفاع اخیستلو حکم

الاستفتاء: له حائضه ښځې سره جماع د قرآنکریم د آیت له مخې حرامه ده لیکن آیا له دې ښځه مطلقاً انتفاع اخیستل جائز دي او که څه گنجائش پکښې نشته؟

الجواب حامدا و مصلیا: اسلام له حائضه ښځې سره جماع حرامه کړې ده او له جماع پرته استمتاع شرعا کومه بده خبره نه ده. نو د دې لپاره فقهاء کرامو لیکلي دي چه د سرې لپاره له حائضې ښځه له نامه ښځه پورته او له زنگنو ښځه کښته استمتاع پرته له کومې پردې ښځه جائزه ده او له نامه ښځه کښته او له زنگنونو ښځه پورته له حائل سره یعنې د پرتاکه له پاسه استمتاع جائزه ده۔

لما قال العلامة ابن العابدین: (تحت قوله یعني ما بین سرة و رکبة) فیجوز الاستمتاع با لسرة و ما فوقها الرکبة و ما تحتها و لو بلا حائل و کذا بحائل بغیر الوطيء و لو تلطخ دما. (رد المحتار ج ۱، ص ۲۹۲،

باب الحيض) و في الهندية: و له ان يقبلها و يضاجعها و يستمتع بجميع بدنها ما خلا بين السرة و الركبة عند ابي حنيفة و ابي يوسف، (الهندية ج ۱، ص ۳۹، الباب السادس ، الفصل الرابع في احكام الحيض و النفاس) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۵

## : د ستني په ذريعې سره د حيض د بندولو حکم

الاستفتاء نن سبا داسې ستني سته چه په لګولو سره يې ښځو ته وينه نه راځي يعني حيض يې بنديږي بنديږي خصوصا د حج په ورځو کښې ښځې د اسې ستني لګوي. که چېرته د کومې ښځې د حيض وخت او ميعاد پوره وي او وخت ئې هم تاکلي وي چه په هره مياشت کښې هغې ته حيض ورځي. او د ستنې په ذريعې سره په دې مياشت کښې ئې وينه را نه شي نو آيا دا ښځه د خپل

حيض په نيته کښې چه د ستنې په ذريعې سره ئې وينه بنده ده لمونځ، روژه او داسې نور عبادتونه کولې شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: حيض د هغې وينې په ليدلو پورې اړه لري چه پرته له کوم سبب څخه له رحم څخه راځي ګواکه حيض د وينې راتلو ته ويل کيږي. په صورت مسئوله کښې چونکه وينه د ستنې په ذريعې سره بنده شوې ده نو د دې لپاره يوائې ورځو ته حيض نه ويل کيږي او نه د حيض احکام پرې جاري کيږي بلکه د اسې ښځې ته لمونځ، روژه، طواف او د اسې نور تول عبادات جائز بلکه لازمي دي۔

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: يجب ان يعلم بان حكم الحيض و النفاس و الاستحاضه لا يثبت إلا بخروج الدم و ظهوره و هذا هو ظاهر مذهب اصحابناو عليه عامة المشائخ. (الفتاوى التاتارخانية ج۱، ص ۳۳۰، كتاب الحيض، نوع في بيان انه متى يثبت حكم الحيض) و في الهندية: اذا رأت المرأة الدم تترك الصلوة من اول ما رأت قال الفقيه و به ناخذ. (الهندية ج۱، ص۱۳۸ الباب السادس، الفصل الرابع في احكام الحيض و النفاس) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۶

## د پنځلسو ورځو د طهر (پاکوالي) له تیرېدو ښخه وروسته د وینې د راتلو حکم

الاستفتاء: که چېرته د یوې ښځې د حیض له تیرېدو ښخه وروسته دوباره وینه راشي نو آیا دا وینه به حیض ګڼل کیږي او که نه؟ او د پاکوالي کمه موده څو ورځې ده؟

الجواب حامداً ومصلیاً: د حنفي فقهې د تصریحاتو په رڼا کښې د طهر کمه موده پنځلس ورځې ده. که چېرته وینه د پنځلسو ورځو له تیرېدو ښخه مخکښې یا راشي او د دې ښځې کوم تاکلې عادت نه وي نو دا وینه چه د پنځلسو ورځو له تیرېدو ښخه مخکښې شروع شوې ده د پنځلسو ورځو تر پوره کېدو پورې به استحاضه ګڼل کیږي او له هغه ښخه وروسته به حیض ګڼل کیږي-

**لما قال العلامة الحصكفي: و اقل الطهر بين الحيضتين او النفاس و الحيض خمسة عشر يوما و لياليها اجماعاً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ۲۸۵، باب الحيض) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: و من جمة ذلك الدم المتخلل في اقل مدة الطهر و لا يمكن معرفة ذلك الا بعد معرفة اقل الظهر و الله خمسة عشر يوما عندنا. (الفتاوى التاتارخانية ج۱، ص ۳۲٤، كتاب الحيض) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۶**

## د جنابت په حالت کښې په کمپیوټر سره د قرآنکریم د لیکلو حکم

الاستفتاء: د جنابت په حالت کښې د ټایپ په مشین یا کمپیوټر په ذریعې سره د قرآني آیتونو لیکل ښنګه دي؟

الجواب حامداً ومصلیاً: په شریعت مقدسه کښې اصل شې د قرآنکریم احترام او عظمت دی- همدا وجه ده چه د جنوب لپاره د قرآنکریم تلاوت صحیح نه دي او همدارنګه فقهاء کرامو د جنوب لپاره د قرآنکریم لیکل هم منع کړي دي. چه په ټایپ یا کمپیوټر سره د قرآنکریم د لیکلو هم همدا حکم دي یعنې جائز نه دي. البته د دغو جدید و آلاتو په ذریعې سره د بې اودسې په حالت کښې د قرآنکریم د آیتونو لیکل جائز دي خو په دې شرط چه د قرآن په آیتونو ئې لاس و نه لګیږي-

**لما في الهندية: و الجنب لا يكتب القرآن و ان كانت الصحيفة على الارض و لا يضع يده عليها و ان كان ما دون الآية، (الفتاوى الهندية ج۱، ص۳۹، الفصل الرابع في احكام الحيض الخ) قال السيد احمد الطحطاوي و اما كتابة القرآن فلا بأس بها اذا كانت الصحيفة على الارض عند ابي يوسف لانه ليس بحامل**

للصحيفة و كره ذلك محمد و به اخذ مشائخ بخاري. (الطحطاوي على مراقي الفلاح ص ۱۱۵، باب الحيض) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۷

## د حائضه ښځي د دمولو حکم

الاستفتاء: که چېرته حائضه، نفاسه او جنوب مريض شي نو په قرآني آيتونو سره ئې د مولي شي او که نه؟

الجواب حامدا او مصليا: د وظائفو او اوراد و لپاره پاکوالي شرط نه دي او له پاکوالي څخه پرته هم څوک د مولی شي. نو کله چه د دم کوونکي لپاره پاکوالي شرط نه دي نو په چا باندې چه دم کيږي د هغه په درجه اولي سره پاکوالي شرط نه دی. له دې وجهې حائضه يا نفاسه ښځه اگر که پخپله ناپاکه وي ليکن د مولئې جائز دي-

لما قال العلامة الحصكفي: و لا بأس لحائض و جنب بقرأة ادعية و مسها و حملها و ذكر الله تعالي و تسبيح و زيارة قبور و دخول مصلى عيد. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۲۹۳، باب الحيض) قال السيد احمد الطحطاوى: (تحت قوله و يحرم قرأة آية من القرآن الا بقصد الذكر) اي او الثناء أو الدعاء ان اشتملت عليه فلا بأس به في اصح الروايات قال في العيون و لو انه قرأ الفاتحة على سبيل الدعاء او شيأً من الآيات التي فيها معنى الدعاء و لم يرد به القرآن فلا بأس به. (الطحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ۱۱٤، باب الحيض) و مثله في البحر الرائق ج ۱، ص ۱۹۹، باب الحيض. كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۷

## د مستحاضه حکم

الاستفتاء: ډير وارې يوې ښځې ته د حيض او نفاس په موده کښې له خپلې مودې څخه زياته يا کمه وينه راځي. په دې دوران کښې د اسې ښځې بايد څه وکړي؟

الجواب حامدا او مصليا: د حيض او نفاس له شرعي مودې څخه د کمو يا زياتو وينو راتللو ته استحاضه ويل کيږي. په داسې ښځې يعني مستحاضه ښځې باندې دا لازمي ده چه د حيض او نفاس د وخت له پوره کيدو څخه وروسته غسل وکړي او بيا به د هر لمانځه لپاره نوې اودس کوي- او د اسې ښځې ته د ټولو هغو عبادتونو کول جائز دي چه د حيض په دوران کښې ورته ناجائزوو-

لما قال العلامة الحصكفي: و دم الاستحاضة حكمه كرعاف دائم وقتاً كاملاً لا يمنع صوماً و صلوة و لو نفلاً وجماعا – لحديث توضيءوصلى ان قطر الدم على الحصير. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص۲۹۸، باب الحيض) و فيه: حكمه الوضوء لا غسل ثوبه و نحوه لكل فرض اللام للوقت ………. ثم يصلى به فرضاً و نفلاً. (الدر المختار علي صدر رد المحتار ج ۹، ص۳۰۶، باب الحيض) قال العلامة المرغيناني: و المستحاضة و من به سلسل البول و الرعاف الدائم و الجرح الذي لا يرقا يتوضئون لوقت كل صلوة فيصلون بذلك الوضوء في الوقت ما شاؤا من الفرائض و النوافل. (الهداية على صدر البداية ج ۱، ص ٤٧٩ ، باب الحيض) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۳۹، الباب السادس في الدماء المختصة بالنساء، الفصل الرابع في احكام الحيض.

## د معذور شرعي تعريف

الاستفتاء: په شريعت مقدسه کښې د معذور چا ته ويل کيږي تعريف ئې وکړی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: کله چه يوه مريض ته د لمانځه په ټول وخت کښې دومره وخت پيدا نه شي چه له مرض پرته پرې تير شي نو د اسې سړي ته معذور ويل کيږي۔

قال العلامة الحصكفي: بان لا يجد في جميع وقتها زمناً يتوضا و يصلى فيه خالياً عن الحدث الخ. و هذا شرط العذر في حق الابتداء و في حق البقاء كفي وجوده في جزء من الوقت و لو مرة الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۳۰۵، مطلب في احكام المعذور) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: و لا يصير من ابتلي بناقض معذوراً حتى يستوعبه العذر وقتاً كاملاً ليس فيه انقطاع لعذره بقدر الوضوء و الصلوة اذ لو وجد لا يكون معذوراً. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۱۱۹، باب الحيض) و مثله في الهندية ج۱، ص ٤٠ ، الباب السادس، الفصل الرابع في احكام الحيض و النفاس . كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۲۸

## د داسې معذور سړي حکم چه د مالوچ په ایښودلو سره ئې متیازې بندیږي

الاستفتاء: که چېرته د مثانې د کمزورۍ له وجهې د انسان متیازې څه څیدلې او د مخنیوي لپاره ئې مالوچ کښیږدي نو آیا په دې حالت کښې هم د وخت په تیریدو سره اودس ماتیږي او که نه؟

الجواب حامداومصلیا: د اودس د ماتیدلو د ارو مدار تر احلیله پورې د متیازو په وتلو پورې دی. له دې وجهې که چېرته له کومې وجهې د متیازو څاڅکې بندې کړې شي نو تر څو پورې چه متیازې تر احلیله پورې نه وي رسیدلې تر هغو ئې اودس نه ماتیږي. البته چه کله مالوچ و ایستل شي او کرسف لوند شوي وي نو په دې وخت کښې ئې اودس ماتیږي–

...لما قال الشیخ السید احمد الطحطاوي: و في المضمرات عن النصاب به سلسل بول فجعل القطنة في ذكره و منعه من الخروج و هو يعلم انه لو لم يخش ظهر البول فاخرج القطنة و عليها بلة فهو محدث ساعة اخراج القطنة فقط و عليه الفتوى. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ١١٩، باب الحيض) قال الشيخ عبد الحي اللكهنوي: اذا خاف الرجل خروج البول فحشا احليله بقطنة و لو لاالقطنة يخرج منه البول فلا بأس به و لا ينقض وضوئه حتى يظهر البول على القطنة و ان ابتل الطرف الداخل كذلك ما لم يبتل الظاهر منه. (السعاية ج١، ص٢٠١، باب الحيض)

## : څلوېښت ورځې وروسته وينه راغله بیا یوه هفته پاکه وه بیا وینه راغله.

الاستفتاء: یوې ښځې ته د نفاس وینه څلوېښت ورځې راغله وروسته اوه یا اته ورځې پاکه وه بیا سره وینه راغله آیا دغه وینه به د حیض حسابیږي او که د مریضۍ او د دغې ښځې عادت له مخه تر دغه دېرش ورځې وینه راتلل وه؟

الجواب حامداومصلیا: د دې ښځې نفاس د دې واري څلوېښت ورځې بلل کېږي او وه (٧) یا اته (٨) ورځې وروسته چې کومه وینه بیا راغلې ده هغه استحاضه ده ولې چې پنځلس (١٥) ورځې وروسته د نفاس تر ختمېدو نه دي پوره سوي. او قاعده داده چې هغه وینه حیض بلل کیږي چې کم تر کمه به د دوو وینو تر مابین پنځلس ورځې فاصله راغلې وي.

## که چیرې یوې ښځې ته په روژه کښې د حیض وینه راغله.

الاستفتاء بعضې ښځې په دغو مبارکو ورځو کښې روژه داري وي لیکن د ورځې په مابین کښې معذوره سي یعنې حیض ورته راسي بیا هم د وي تر مابنامه روژه نیسي آیا دا جواز لري که یا او باید کومه طریقه اختیاره سي؟

الجواب حامدا ومصليا: فقهاء کرامو ليکلي دي چي حائضې ښځې ته په روژه کښې خوراک او چيښاک کول رواه دي البته د چا په مخکې دي خوراک نه کوي هم دغه بهتره صورت دي.

وفي خلاصة الفتاوى : واجمعوا على ان لايجب التشبه على الحائض والنفساء .وفي البحر الرائق شرح كنز الدقائق : ومن لم يكن على تلك الصفة لم يجب الإمساك كمافي حالة الحيض والنفاس ثم قيل الحائض تأكل سرا لا جهرا .( البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ۲ ص ۳۱۱ فصل في عوارض الفطر في رمضان مكتبه شامله /خلاصة الفتاوي ج ۱ ص ۲۶۳ / دروزې مسائل تاليف مفتي انعام الحق صاحب ص ۶۹ اردو )

## د کوم عمر ښځه د ښځي وينه حيض شمارل کيږي.

الاستفتاء: د شريعت د اندازې ښځه چي وښځي ته وينه راسي د څو کلنۍ ښځه دغه وينه حيض يا جامه شمارل کېږي؟ او پر څو کلنۍ باندي د ښځي حيض شرعا ختمېږي؟

الجواب حامدا ومصليا: تر ټولو کم سن او عمر د حيض نهه (۹) کاله دي که پر نهه کالو او يا تر نهه کالو و وروسته يوې ښځي ته وينه راسي، نو دغه وينه شرعا د حيض بلل کيږي او که تر نهه کلنۍ مخکې وينه راغله هغه وينه د مرض ده ليکن عام عادت داسي را روان دي چي پر پنځلس کلنۍ باندي د ښځي، حيض شروع کېږي او د ښځي د حيض د ختمېدو عمر ته سين اياس وائي شرعا زموږ په نزد (۵۵) کاله دي، او د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد (۶۰) کلونه دي پس له دغه عمره حيض را تلل نادر او کم دي اصلي اندازه د بلوغ د هلک او انجلۍ لپاره پنځلس کاله ده، ليکن اولني وخت او موده د بلوغ د هلک لپاره دوولس (۱۲) کلني ده او د انجلۍ په حق کښي نهه کاله دي، همدغه د احنافو او شوافعو مذهب دي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : بلوغ الغلام بالاحتلام والحيض والحبل . وادني مدته ..... لها تسع سنين . وقال فان لم يوجد منهما حتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة.وفي مرقاة المفاتيح : واول وقت بلوغ الغلام عندنا استكمال اثنى عشرة سنة وتسع سنين للجارية .(مرقات شرح مشكوة المصابيح ج ۶ ص۴۹۰/ البحرالرائق ج ۱ص ۳۳۲/ ردالمحتارج ۶ ص ۱۵۳ فصل في بلوغ الغلام طبع سعيد / كفايت المفتي ج ۲ ص ۳۲۴)

## دحيض دزماني قضاسوي لمونځونه راګرځول .

الاستفتاء يوې ښځي ته خو شرعا د حيض د ورځو لمونځ پرېښوول روا او معاف دي ليکن بيا هم دا را ولاړېږي هغه لمونځونه چي د دې ښځه د حيض په ورځو کښي تللي دي دا يې پس له حيضه قضا راوړي آيا دې لره دا لمونځونه را ګرځول رواه دي که نه دي ؟

الجواب حامدا او مصليا : يو شي چي الله معاف کړي وي بيا هم هغه عمل کول د دې مطلب دا دي چي دالله جل جلاله مخ ته جرأت ښکاره کول دي چي زه خو داسي غښتلي او جرأت منديم چي تا معاف کړي دي هغه لا کوم دا غلطه طريقه ده نفل دي وکړي په نيت د قضا دي نه کوي.

قال العلامة ابن نجيم رحمة الله عليه في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : وهل يكره لهاقضاء الصلوة ؟ لم اره صريحا ، وينبغي ان يكون خلاف الاولى كما لا يخفى .(نفع المفتي والسائل ص ٤٢٠ / البحرالرائق شرح كنز الدقائق ج ١ ص ٢٠٤ باب مايمنعه الحيض مكتبه شامله )كذافي فتاوي رحمانيه

## د حيض تاکلي موده ختمه سوه بيا وينه راغله .

الاستفتاء که چيري ديوې ښځي د حيض د تيريد و څخه وروسته دوباره وينه راسي نو ايا دا وينه به حيض ګڼل کيږي که يا ؟

الجواب حامدا او مصليا : دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه د فقهي په رڼا کښي د طهر او پاکي کمه موده پنځلس ورځې ده [يعني کله چي ديوې ښځي د حيض موده پوره سوه نو کم تر کمه به دغه ښځه پنځلس ورځي پاکه وي که چيري دغه وينه د پنځلسو ورځو دتيريدو څخه مخکي راغلې وي او دا ښځه يو تاکلي عادت هم نه لري ، نو دغه وينه د پنځلسو ورځو څخه مخکي شروع سوېده د پنځلسو ورځو تر پوره کېدو پوري به استحاضه [ يعني مرض ] وي او دهغه څخه وروسته به حيض ګڼل کيږي ، او که

چيري دغه ښځي تاکلي عادت درلودي نو دا بيا خپل عادت ته رد کيږي او د هغه څخه وروسته پاته ورځي استحاضه [يعني مرض ] بلل کيږي تر هغه وخته چي پنځلس ورځي پوره کيږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : واقل الطهر بين الحيضتين اوالنفاس والحيض خمسة عشر يوما ولياليها اجماعاً قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه

الله تعالى : ومن جملة ذلك الدم المتخلل في اقل مدة الطهر ولايمكن معرفة ذلك الا بعد معرفة اقل الطهر الخ . (الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج اص ۲۸۵ باب الحيض / الفتاوی التاتارخانية ج ۱ ص ۳۲۴ كتاب الحيض فتاوي حقانيه ج ۲ ص ۳۲۶)

## دحيض په حالت کښې لاسونه په نوکروزو سره کول.

الاستفتاء دځینو ښځو ځخه مو داسي اوریدلي دي چي ښځي باید دحیض په شپو او ورځو کښې لاسونه پهنکروزو سره نه کړي ځکه چي د حیض ځخه وروسته ددغه سره کړو لاسو سره لمونځ نه دي درست آیا دا خبره شرعا صحت لري که یا ؟

الجواب حامدا ومصليا : ښځو ته دحیض په شپو او ورځو کښې لاسونه سره کول او نوکروزي استعمالول شرعا رواه دي او داخیال قطعا او یقینا غلط دی چي ددغه سرو لاسونو سره بیا تر حیض وروسته لمونځ نه دي صحیح او یا دا چي دغه نوکروزي ددغي وجي ځخه ناپاکي سولي .

وفي الفتاوى الهندية : جنب اختضب واختضبت امرأته بذلك الخضاب قال أبو يوسف .رحمه الله تعالى ـ لا بأس به ولا تصلي فيه وإن كان الجنب قد غسل موضع الخضاب فلابأس بأن تصلي فيه كذا في فتاوى قاضي خان.( الفتاوى االهندية ج۵ ص ۳۵۹ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۳ ص ۱۴۱ باب الحيض والنفاس / فتاوي قاضيخان بحواله عالمگیري )۳٤۱

## دنفاس وینه چي تر اکثره مودي زیاته سي حکم یې څه دي .

الاستفتاء کله چي دیوې ښځي بچي پیدا سي او بیا دي ته وینه راتلل شروع سي او بیا دا وینه دومره زیاته سي چي تر څلویښتو شپو لا هم واوړي نو په داسي صورت کښې دغه ښځه باید شرعا څه وکړي ؟

الجواب حامدا ومصليا : دغه ښځه چي دغه بچي یې پیدا سوي دي دا به دده حاله څخه نه وي خالي یا به یې دا اول بچي وي او یا به ددې څخه مخکي ددې نور بچي هم سوي وي که یې چیري اول بچي وو نو بیا ددې ښځي حکم دادي چي تر څلویښتو شپو پوري دغه وینه نفاس ده نه به لمونځ کوي نه به روژه نیسي او د څلویښتو ورځو څخه وروسته بیا مرض دي هر لمانځه ته به جلا جلا اودس کوي او روژې به نیسي که میاشت د روژې وه ، او که چیري دغه ښځي ددې څخه مخکي یو خاص عادت درلودي مثلا لس ورځي وینه ورته راتله یا شل ورځي نو په داسي صورت کښې یا دغه ښځه هغه خپل عادت

ته رد کيږي يعني هغه د عادت ورځي يې نفاس بلل کيږي او دانوري ييا مرض او استحاضه دي په دې شرط سره چې تر څلويښتو شپو زياته نه سي نو په داسي صورت کښي به دا ښځه هم لمونځ کوي او هم به روژه نيـــي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (قوله والزائد على أكثره) أي في حق المبتدأة، أما المعتادة فما زاد على عادتها ويجاوز العشرة في الحيض والأربعين في النفاس يكون استحاضة كما أشار إليه بقوله أو على العادة إلخ.أما إذا لم يتجاوز الأكثر فيهما، فهو انتقال للعادة فيهما، فيكون حيضا ونقاشا.( الدرالمختار مع ردالمحتارج ١ ص ٢٨٥ باب الحيض بيروت چاپ / فتاوي هاديه ص ١٠ كتابالطهارة / فتاوي عالمگيري ج ١ ص ١٣٧حكام الحيض والنفاس / الهداية ج ١ ص ٦٨ باب الحيض مكتبه حنفيه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٣ ص ١٣٩ باب الحيض )

## بــــــاب الانجـــــــاس

### د خوب په حالت کښي له خولې څخه د وتونکې اوبو حکم

الاستفتاء: زما له خولې څخه د خوب په حالت کښي ډيرې اوبو را ووځي او ډير ځله مې په کاليو پورې هم لګيږي نو آيا دا اوبو پاکې دي او که مرداري؟ او که مرداري وي نو آيا کالي پريږي

الجواب حامدا ومصليا: د ژوندي سړي له خولې څخه وتونکې اوبو پاکې دي اګر که د خوب په حالت کښي له نس څخه هم وتلي وي. البته د مړ سړي له خولې څخه وتونکې اوبو مرداري دي. د دې لپاره د خوب يا ويښې په حالت کښي د خولې لاړې او يوتونکې اوبو پاکې دي او کالي هم نه پريږي مرد اريږي

لما في الهندية: لعاب النائم طاهر سواء كان من الفم أو منبعثا من الجوف عند ابي حنيفة و محمد و عليه الفتوى و اما لعاب الميت فقد قيل انه نجس. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ٤٦ ، باب الانجاس) قال الشيخ الدكتور وهبة الزحيلي: عرفنا في انواع المطهرات في الآدمي الميت قولين قول الحنيفة انه نجس عملاً بفتوى بعض الصحابة وابن عباس و ابن الزبير) كسائر الميتات . و اما الماء السائل من في العالم وقت

السوم فهو طاهر كما صرح الشافعية والحنابلة، والفقه الإسلامي و ادلته ج ١، ص ١٦٦، الآدمی ميت و ما يسيل من قلم العالم) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٩

## د غسل د کولو په وخت کښې د اوبو په لوښي کښې د مستعملو اوبو څاڅکي د لويد لو حکم

الاستفتاء: د غسل په وخت کښې که چېرته د بې احتياطۍ له وجې يا سره له احتياطه د مستعملو اوبو څاڅکي د اوبو لوښي ته ولوېږي نو آيا اوبو پرې مرد اربږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته د اوبو په دغو څاڅکو کښې ظاهري نجاست نه وي يعني په هغو باندې ظاهري نجاست لږې شوي نه وي نو د کمو څاڅکو په لويدلو سره اوبو نه مرد اربږي ځکه چه له دې ځخه بچ کيدل د انسان په وس کښې نه وي. يا هم ترڅو چه ممکن وي بايد سړي احتياط ورسره وکړي چه څاڅکي د اوبو لوښي ته ور و نه لوېږي.

قال العلامة الحصكفي: و انتضاح غسالة لا تظهر مواقع قطرها في الاناء عفو. و قال ابن عابدين و في الفتح و ما ترشش على الغاسل من غسالة الميت مما لا يمكنه الامتناع عنه ما دام في علاجه لا ينجسه لعموم البلوى. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٣٢٥، باب الانجاس) قال ابن نجيم: ما ترشش على الغاسل من غسالة الميت مما لا يمكنه الامتناع عنه ما دام في علاجه لا ينجسه لعمومو البلوى، والبحر الرائق ج١، ص٤٤٦، باب الانجاس) و مثله في مراقي الفلاح ص ٨٥، باب الانجاس

## د پلاستيکي لوښي د پاکولو طريقه

الاستفتاء: پلاستيکي لوښي که چېرته په گند کې ککړ شي نو د هغه د پاکولو طريقه څه ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د شريعت له مخي چه کوم لوښي جاذب نه وي يعني نجاست ئې نه جذب کاوه نو له د اسې لوښي سره که چېرته نجاست ولگيږي نو په درې ځله پرې مينځلو سرپاکيږي. په د اسې صورت کښې د يا يا پرې مينځلو لپاره و چوالي ضروري نه دی-

قال ابن عابدين: اى ما لا يتشرب النجاسة مما لا ينعصر يطهر با لغسل ثلاثاً و او دفعة بلا تجفيف كا لخزف و الأجر المستعملين كما مرو كا لسيف و المرأة و مثله ما يتشرب فيه شيء قليل كا لبدن و النعل. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٣٣٢، مطلب في حكم الوشم)قال في الهندية: و ما لا ينعصر يطهر با لغسل ثلاث مرات و التجفيف في كل مرة لان التجفيف آثراً في استخراج النجاسة وحد التجفيف ان يخليه حتى ينقطع التقاطر و لا يشترط فيه اليبس هذا اذا تشربت النجاسة كثيراً و ان لم يتشرب فيه او تشربت قليلاً يطهر با لغسل للالاً هكذا في المحيط. (الهندية ج ١، ص ٤٢ ، الباب السابع في النجاسة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٣٠

## : د جنوب د خولو حکـــم

الاستفتاء: که چیرته د جنابت په حالت کښې څه وخت په سړي تیر شي او د ګرمي له وجهې ئې له بدن څخه خوله ووځي نو د دې خولې حکم څه دی؟آیا جامې پرې مرد اربږي او که نه؟بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: د انسان خوله په هر حالت کښې پاکه ده که سړي جنوب وي او که پاک د خولې د پاکوالي تخصیص له اسلام سره دی. فقهاء کرامو د پس خوردې او خولې حکم یو ګڼلي دی-البته که چیرته کوم اندامباندې نجاست لګیدلي وي او د خولې په وتلو سره نجاست پوست شي او جامې پرې ککړې شي نو جامې مرد اربږي-

قال العلامة الحصكفي: فسور آدمي مطلقاً و لو جنباً او كافراً أو امرأة و ماكول اللحم طاهر الفم (طاهر) طهور بلا كراهة (وبعد اسطر) و حكم عرق كسور. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٢٢٢/٢٢٨، مطلب في السور) قال العلامة ابن نجيم و عرق كل شيء معتبر بسوره طهارة و نجاسة و كراهية. (البحر الرائق ج١، ص١٢٦ باب الانجاس) و مثله في تبيين الحقائق ج١، ص٣١، باب الانجاس . كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٣٠

## له جــامو څخه د مني د پاکولو طريقه

الاستفتاء: که چېرته د چا کالي په مني ککړ شوي وي نو آيا يواځې په ګرولو سره پاکېږي او که مينځلو ته ئې هم ضرورت شته. همدا رنګه په نرمې او سختې مني کښې فرق شته او که دواړه يو شي دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: له مني څخه د پاکوالي دوه طريقې دي که چېرته نرمه وي نو له مينځلو پرته ئې بله چاره نشته او که چېرته سخته وي او وچه شوې وي نو له وچېدلو وروسته به ګرولو سره هم پاکېږي خو چه اثرات ئې پاتې نه شي. او د علامه ابن عابدين د تحقيق مطابق دا حکم يواځې د سختې منی لپاره دي که چېرته مني د کومې بيمارۍ له وجهې نرۍ شوې وي و مينځل ئې ضروري دي.

قال العلامة الحصكفي: و يطهر مني اي محله يابس بفرك و لا يضر بقاء اثره ان طهر رأس حشفه كان مستنجيا بماء و في المجتبى اولج فنزع فانزل لم يطهر الا بغسله لتلوكه با لنجس انتهى اي برطوبة الفرج فيكون مفرعاً على قولهما بنجاستها، أما عنده فهي طاهرة كسائر رطوبات البدن، جوهرة. و الا يكن يابساً او لا رأسها ظاهر فيغسل كسائر النجاسات و لو دماً عبطاً على المشهور بلا فرق بين منية و لو رقيقاً لمرض به و منيها، قال ابن عابدين (قوله و منها) اى منى المرأة كما صححه في الخانية و هو ظاهر الرواية عندنا كما في مختارات النوازل و جزم في السراج و غيره بخلافه و رجحه في الحلية بما حاصله ان كلامهم متظافر على ان الاكتفاء با لفرك في المنى استحسان با لاثر على خلاف القياس، فلا يلحق به الا ما في معناه من كل وجه و النص ورد في منى الرجل و منى المرأة ليس مثله لرقته و غلظ منى الرجل و الفرك انما يؤثر زوال المفروك او تقليله و ذلك فيما له جرم و الرقيق المائع لا يحصل من فركه هذا العرض فيدخل منى المرأة اذا كان غليظاً و يخرج منى الرجل اذا كان رقيقاً لعارض. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٣١٢/٣١٣، باب الانجاس) و في الهندية: (و منها) الفرك في المنى اذا اصاب الثوب فان كان رطباً يجب غسله و ان جف علي الثوب اجزا فيه الفرك استحساناً. والهندية ج١، ص ٤٤ ، الباب السابع في النجاسة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص ٣٣٠

## لـــه مني، مذي او ودي ٹخه د پاکوالي حکم

الاستفتاء: آیا د مني، مذي او ودي ٹخه د جامو د پاکولو دا یوه طریقه ده چه په اوبو سره به ئې سړي مینځي او که د هر یوه د پاکوالي ځان ځانته طریقې دي؟

الجواب حامدا و مصلیا: له مذي او ودي ٹخه پاکوالي یواځې په اوبو سره حاصلیدلې شي البته د مني د پاکوالي طریقه دا هم ده چه د وچید و په صورت کښې په ګرولو سره هم پاکیږي خو په دې شرط چه مني نړی نه وي. او که نړی وي نو په اوبو سره ئې مینځل ضروري دي۔

قال طاهر بن عبد الرشید البخاري: اذا حت النجاسة لم یجز الا في المنی الیابس فان کان رطباً لا یطهر الا با لغسل و هو نجس عندنا (و بعد اسطر) و لکن هذا اذا لم یخرج المذی قبل خروج المنی اما اذا خرج المذی ثم خرج المنی لا یظهر الثوب با لفرك. (خلاصة الفتاوی ج ١، ص ٤١ ، الفصل السادس في غسل العرب و الدهن) قال ابراهیم الحلبي: و اما الفرك فیزیل النجاسة في المنی فیطهر الثوب من المني به اي با لفرك اذا یبس المنی علی الثوب. (کبیري ص ١٨٠، فصل في الاسار)

## د کوڅه ګشتي چرګې (جـــاجه مخلاة) د پس خوردې حکم

الاستفتاء: په کلیو او ګندګیو کښې ګرځیدونکې چرګې که چیرته د اوبو په ډک لوښي کښې مـنـوکه ډوبه کړي نو اوبو پرې مرد اریږي او که نه آیا کومې چرګې چه په پنجره یا کوټه کښې بندې دې له هغو چرګو سره برابرې دې چه د باندې ګرځېدونکې دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب حامدا و مصلیا -نجاست باندې ئې حکم نه شي لګیدلې-حلا نه وي د هغه لاړې له اوبو سره د ګډیدو په صورت کښې اوبو نه مرد اریږي. لهذا که چیرته د کورنۍ چرګې مېنبوکې له نجاست او ګندګي ٹخه پاکه وي او د اوبو په لوښي کښې ئې ډوبه کړې دې نو اویوه نه مرد اړوي. البته په کلیو کښې د ګرځیدونکې چرګې منـوکه په عمومي توګه له نجاست ٹخه پاکه نه وي نو د دې لپاره د داسې چرګې پس خورده مـشـکوکه ده لیکن په

قال حسن بن عمار و سؤر الدجاجة المخلاة التي تجول في القاذورات و لم يعلم طهارة منقارها من نجاسة فكره سؤرها للشك فان لم يكن كذلك فلا كراهة فيه، (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٢٤، فصل في احكام السور) قال ابن عابدين: و اما المخلاة فلعابها طاهر فسؤرها كذلك لكن لما كانت تأكل العذرة كره سؤرها و لم يحكم بنجاسة للشك حتى لو علمت النجاسة في فمها تنجس و لو علمت الطهارة انتفت الكراهة. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٢٢٤، باب المياه) و مثله في البحر الرائل ج ١، ص ١٣٢، مسئلة السور) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٣١

## د سپي څـــرمن د دباغت وروړه

الاستفتاء: آيا د سپي پوستكي په دباغت سره پاكيږي او كه نه؟ په داسې حال كښې چه د فقهې په عامو كتابونو كښې دي چه پوستكي د دباغت له وجهې پاكيږي؟

الجواب حامداً ومصلياً: د احنافو په نزد له دې وجهې چه سپي يو نجس العين حيوان نه دي پوستكي ئې په دباغت سره پاكيږي. البته د حشرات الارض لكه مار، لړم او خنزير پوستكي د دباغت وړ نه دي-

قال العلامة الحصكفي: و كل اهاب دبغ و لو بشمس و هو يحتملها طهر فيصلي به و يتوضا منه و ما لا يحتملها (فلا و عليه) فلا يطهر جلد حية و فارة خلا جلد خنزير فلا يطهر (و بعد اسطر) و افاد كلامه طهارة جلد كلب و قيل هو المعتمد. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٢٠٤، مطلب في احكام الدباغة) قال حسن بن عمار : و يطهر جلد الكلب لانه ليس نجس العين في الصحيح با لدباغة. (مراقي الفلاح ص ٩٠ فصل يظهر جلد الميدة) و مثله في كبيري ص ١٧٧، فصل في النجاسة الحقيقة. كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٣

## د سپي د پس خوردې، په لوښي کښې ئې د خوراک او بيائې د پاکولو حکم

الاستفتاء: ځيني خلک په عمومي توګه پڅلو کورونو کښې سپي ساتي کله کله په ناڅاپي توګه د خوړلو او ڇنلو په لوښي کښې خوله ننه باسي نو آيا په داسې لوښي کښې خوراک او څښاک جائز دي او که نه؟ او همدارنګه د داسې لوښي د پاکولو طريقه څنګه ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د سپي پس خورده د نجاست غليظه په حکم کښې دی. لهذا کوم لوښي نه چه سپي خوله ننه ايستلې وي هغه که چېرته جاذب (جذب کوونکې) نه وي نو په دري ځله پريمينځلو سره پاکيږي او که چېرته لوښي جاذب وي نو د هر ځل پريمينځلو سره به يې وچول (يعني دومره انتظار چه د اوبو څڅيدل ترې بند شي) ضروري دي.

قال حسن بن عمارة و القسم الثاني سؤر نجس نجاسة غليظة و قيل خفيفة لا يجوز استعماله اي لا يصح التطهير به بحال و لا يشربه الا مضطر كا لميتة و هو أي السور النجس ما شرب منه الكلب سواء فيه كلب صيد او ماشية و غيره لما روى الدار قطني عن ابي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم في الكلب ولغ في الاناء انه يغسل ثلاث أو خمساً أو سبعاً. قال الشيخ احمد انه يغسل ثلاثا...... الخ. و ما ذاك الا لنجاسته و يندب عندنا التسبيع و كون احداهن با لتراب. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٢٣، فصل في بيان احكام السور) قال محمد عبد الحي: و قول خامس ذهب اليه اصحابنا الحنفية من عدم وجوب التسبيع و الثمان مع نجاسة السور و كفاية الثلاث كسائر النجاسات.(السعاية ج١، ص ٤٤٩ ، سؤر الكلب) و مثله في الهندية ج١، ص ٤ ٢ ، الفصل كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٢٣

## د نجسې جامې له مينځلو وروسته د نښتيځلو حکم

الاستفتاء: د مردارې جامې له مينځلو وروسته څو وارې نښتيځل ضروري دي؟ آيا د پاکوالي د ارومدارئې په نښتيځلو پورې دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په جامو باندې که چېرته نجاست مرئيه (په سترګو ښکاريدونکې نجاست) لګيدلې وي نو د عين نجاست له لرې کيد و سره جامې پاکيږي او نښتيځل ئې ضروري نه دي. البته که چېرته نجاست غير مرتبه (چه په

سترګو نه ښکاريږي) وي نو د هغه د پاکوالي دارومدار په غلبه ظن پورې اړه لري. او د درې ځله نښتيځلو سره په عمومي توګه جامه پاکه ګڼل کيږي ليکن دا هم په ذهن کښې کښينوي چه آخري ځل بايد ښه مضبوط و نښتيځل شي..

قال ابراهيم الحلبي: اما اذا اصابت الثوب نجاسة هذا شروع في كيفية تطهير النجاسة با لغسل فان النجاسة اما ان تكون مرئية او غير مرئية فان كانت مرئية فطهارته زوال عينها الا ما يشق (و بعد اسطر) و ان لم تكن النجاسة مرئية يغسلها حتى يغلب على ظنه انه قد طهر و هذا اذا لم يكن لها ريح فان كان يجب الغسل الى زواله الا ما يشق و قيل اذا غسل الثوب من غيره مرةهو عصر با لمبالغة يطهر و قبل اله لا يطهر ما لم يغسل ثلاث مرات يعصر في كل مرة و الفتوى على الاول. (كبيري ص ٢١١/٢١٢، فصل في الاسار) قال العلامة الحصكفي: و كذا يطهر محل نجاسة مرئية بقلعها اى بزوال عينها و آثرها و لو بمرة او بما فوق ثلاث في الاصح و لا يضر بقاء الر. و يظهر محل غيرها اى غير المرئية بغلبة ظن الغاسل طهارة محلها بلا عذر و به يفتي و قدر ذلك لموسوس بغسل و عصر ثلاثا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٣٢٨/٣٣١، مطلب في حكم الوشم) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ١، ص ٤٠ ، الفصل السادس في غسل الثوب و الدهن.

## خارجي لباسونو سره د مينځلو پرته د لمانځه د اداکولو حکم

الاستفتاء: نن صبا په بازار کښې د بهرني مستعملي جامي لکه کوټونه، جامي او پايجامي او د اسې نور پلورل کيږي. په ظاهره خو په دغو باندې هيڅ نجاست نه ښکاريږي ليکن دا هم څرګنده نه وي چه پاکې به وي او که نه؟ نو آيا د داسې جامو سره له مينځلو پرته لمونځ اداکيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته په ظاهره پرې نجاست نه وي او غالب ګمان دا وي چه نجاست پرې نه دي لګيدلي نو پاکې دي او اغوستل او لمونځ ورسره اداکول جائز دي البته مينځل ئې بهتر دي-

قال ابن عابدين: و من هنا قالوا لا بأس بلبس ثياب اهل الذمة و الصلوة فيها الا الازار و السراويل فانه تكره الصلوة فيها لقربها من موضع الحدث و تجوز، لان الأصل الطهارة، و للتوارث بين المسلمين في

الصلوة بثياب الغنائم قبل الغسل، و تمامه في الحلية. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۲۰۶/۲۰۵، احكام الدباغة)قال العلامة الحصكفي:ثياب الفسقة و اهل الذمة طاهرة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱،ص ۳۵۰، فصل في الاستنجاء) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۳۴

## د غټې او ډبلې جامې د پاکولو طـــــريقه

الاسـتفتاء: د اسې جامې يا بل شي چه نښتـي‌خلـئې مشكل‌وي د پاكولو طريقه ئې څه ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: كه چېرته په د اسې جامې يا كوم بل شي باندې نجاست وليدل شي چه نښتـي‌خلـئې ممكن نه وي نو د اسې جامه د نجاست په لرې كولو سره پاكيږي. او كه چېرته د اسې نجاست پرې لګيدلې وي چه په ستر ګو نه ليدل كيده نو پاكوالي ئې د مينځونكي په ظن غالب پورې تړلې ده. او كه چېرته داسې څوک وي چه په غلبه ظن باندې نه پوهيده نو درې وارې دې پريمينځي او د هر ځل نه پريمينځلو وروسته دې دې دومره څڅنډ پكښې وكړي چه د اوبو د څاڅكو څڅيدل ترې بند شي. برسيره پردې يو بله طريقه ئې هم شته او هغه دا چه په يو ه لوې حوض يا د جارې اوبو په وياله كښې دې ډوب كړې او يو څه وخت دې پكښې پريږدي- چه كله ئې ترې را باسي نو پاكه به ګڼل كيږي

-قال العلامة الحصكفي: و يطهر محل غيرها اي غير مرئية بغلبة ظن غاسل لو مكلفاً و الا فمستعمل طهارة محلها بلا عدد به يفتي و قدر ذلك لموسوس بغسل و عصر ثلاثاً او سبعاً فيما ينعصر مبالغاً بحيث لا يقطر و لو كان لو عصره غيره قطر طهر با لنسبة اليه دون ذلك الغير، و لو لم يبالغ لرقته هل يطهر الاظهر نعم للضرورة و قدر بتثليث جفاف اي انقطاع تقاطر في غيره اي غير منعصر مما يتشرب النجاسة و الا فبقلعها كما مر، و هذا كله اذا غسل في اجانة، اما لو غسل فيغدير او صب عليه ماء كثير او جرى عليه الماء طهر مطلقاً بلا شرط عصر و تجفيف و تكرار غمس هو المختار.(الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۳۳۳/۳۳۱، باب الانجاس) قال ابراهيم الحلبي: و في فتاوى ابى الليث خف بطانة ساقه من الكرباس فدخل في جوفه ماء نجس فغسلة الخف دلكه با ليد ثم ملأ الخف ثلاثاً و اهرقه الا انه لم يتهيأ له عصر الكرباس فقد طهر الخف اى بمجرد جريان الماء ظاهرا و باطنا و لم يشترط فيه عصر الخف و لا

الكرباس لتعسره قياساً على مسئلة البساط. (كبيري ص ۱۸٤، فصل في الاسار) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۳۴

## په ډرائي کلينر باندې د جامود پاکولو حکم

الاستفتاء: د ډرايي کلينر په ذريعې سره جامې په پټرول سره پاکيږي ليکن په دې طريقې کښې جامې نښتيځل کيږي نه بلکه په حرارت سره جامې وچيږي. نو آيا په دې طريقې سره په مينځل شويو جامو کښې لمونځ کيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته جامې پاکې وي او يوائې خيرنې شوي وي او دا خيرې ئې د پرائي کلينر په ذريعې سره لرې کولې نو د جامو په پاکوالي باندې هيڅ اثر نه کيږي. بيا هم دا ضروري ده چه په مائع شي باندې د پريمينځلو په وخت کښې ناپاکې جامې ورسره نه وي يو ځاي کړي. که چېرته ئې ناپاکې جامې ورسره يو ځاي کړې وي او دومره پټرول ئې پرې اچولې وي چه جامې نښتيځل کيدلې شواي نو په دې صورت کښې هم جامې پاکيږي. او که چېرته جامې د حرارت په ذريعې سره وچيدلې او ناپاکې جامې ورسره يو ځاي شوې وي نو د خيرې له لرې کولو وروسته هم جامې مرد اري پاتې کيږي او بيائې په اوبو سره پريمينځل ضروري دي

-قال العلامة الحصكفي: يجوز رفع نجاسة حقيقية عن محلها و لو اناء او ماكولا علم محلها او لا بماء و لو مستعملا به يفتي و بكل مائع طاهر قالع للنجاسة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۳۰۹، باب الانجاس) لما قال العلامة ابو البركات النسفي: يطهر البدن و الثوب با لماء و بمائع مزيل كا لخل و ماء الورد. (كنز الدقائق ج ۱، ص ۱۵ ، باب الانجاس) و مثله في الاختيار ج ۱، ص ۳۵، باب الانجاس .

## شيدو کښې د پچو يا خوشايو په لويدلو سره د شيدو حکم

الاستفتاء: د ووزې، غوا او مينې د لوشلو په وخت کښې په شيدو کښې که چېرته پچې يا خوشايي ولويږي نو شيدې پرې مرد اريږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته پچې يا خوشايي په شيدو کښې حل شوي نه وي بلکه له لويد و سره زر ترې وايستل شي نو شيدې نه پرې مرد اريږي- البته که چېرته پکښې حل شي نو بيا شيدې مرد اريږي او د استفادې ورنه پاتې کيږي- ليکن دا خبره هم شته چه دا حکم د شيدو د لوښلو له وخت سره خاص دې او که چېرته له دې وخت څخه پرته په بل وخت کښې پچې په شيدو کښې ولويږي نو په دم ګړې (فورا) کښې شيدې مرد اريږي

–قال العلامة الحصكفي: و بعرتي ابل و غنم كما يعفى لو وقعتا في محلب وقت الحلب فرميتا فوراً قبل تفتت و تلون. قال ابن عابدين: قال في الفيض فلا ينجس الا اذا كان كثيراً سواء كان رطباً او يابساً صحيحاً او منكسراً و لا فرق بين ان يكون للبئر حاجزا كالمدن اولاكالفلوات هو الصحيح و في التاتارخانية و لم يذكر محمد في الاصل روث الحمار و الخثي و اختلفوا فيه فقيل ينجس و لو قليلا او يابساً و قيل لو يابساً فلا و اكثرهم على انه لو فيه ضرورة و بلوى لا ينجس و الا نجس (قوله و قت الحلب) فلو وقعت في غير زمان الحلب فهو كوقوعها في سائر الاواني فتنجس في الاصح. (قوله و التعبير با لبعرتين) أي في مسئلتي البئر و المحلب . (رد المحتار ج ۱، ص ۲۲۱، فصل في البئر) قال ابراهيم الحلبي: و ان وقعت الى البعرة و البعرتان في اللبن وقت الحلب فاخرجت حين وقعت و لم يبق لها لون لم يتنجس اللبن (و بعد اسطر) و في الكافي قال لا فرق بين الرطب و اليابس و الصحيح و المنكسر و الروث و الخثي و البعرة لان الضرورة تشمل الكل و الروث اذا كان صلباً فهو بمنزلة البعرة في الحكم. (كبيري ص۱۶۲/۱۶۱، فصل في البئر) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۹، الباب الثالث في المياه) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۳۵

## د ناپاک شربت د پاکولو طـــــريقه

الاستفتاء: که چېرته په کوم لوښي کښې ډېر شربت وي او سپي خوله پکښې ډوبه کړي او څه ئي ترې وڅښل نو آيا پاتې شربت به توييوي او که د ګوړې په جوړولو کښې به استعماليږي او هم دا رنګه د شريعت له مخې ئې د پاکوالي کوم امکان شته او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: د اسې مائع چه د سپي د خولې له لاړو بولو سره يو ځل مرد ار شي نو له هغه څخه د ګوړې جوړول او چښل حرام او ناجائز دي. البته د فقهاء کرامو له تصريحاتو څخه د هغه د پاکوالي يوه طريقه څرګنديږي چه د شربت له اندازې څخه درې ګوني اندازه اوبه ورسره ګډې کړي او بيا ئې دومره پخه او رکښېږدي او وئې خوټوي چه ټولې اوبه ئې د اور په ذريعه وچې شي نو له اوبو څخه پاتې شوي شربت پاکيږي.

قال ابن عابدين: (قوله و يطهر دهن و عسل) قال في الدرر و لو تنجس العسل فتطهيره ان يصب فيه ماء بقدره فيغلى حتى يعود الى مكانه و الدهن يصب عليه الماء فيغلى فيعلوا الدهن الماء فيرفع بشيء هكذا ثلاث مرات. آه. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱ ، ص ۳۲٤، مطلب في تطهير الدهن و الغسل) قال ابراهيم الحلبي: الا يرى ما روى عن ابي يوسف في تطهير الدهن النجس انه اذا جعل الدهن في اناء فصب على الماء فيعلوا الدهن على وجه الماء فيرفع بشيء و يراق الماء ثم يفعل هكذا حتى اذا فعل كذلك ثلاث مرات يحكم بطهارة الدهن. (كبيري ص ۱۷۳، فصل في الاسار) و مثله في الهندية ج۱، ص ٤ ٢ ، الباب السابع في النجاسة.

## د حقيقت له بدليدو سره حکم هم بدليږي

الاستفتاء: که چېرته د مالګې په کان کښې ناپاکې اوبه جمع شي او مالګه وګرځي نو آيا د دغې مالګې استعمالول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب حامداو مصليا: په شريعت کښې د شيانو د حقيقت په بدليدو سره ئې حکم هم بدليږي. له دې وجهې په نومړي صورت کښې ناپاکې اوبه او يا نور مرد ار شيان د مالګې په کان کښې د مالګې د جوړېدو په صورت کښې مالګه ګرځي او پاکيږي او له د اسې کان څخه د مالګې خوړل جائز دي.

قال العلامة الحصكفي: و لا ملح كان حماراً او خنزيراً و لا قذر وقع في بئر فصار حماة لانقلاب العين، به يفتى.قال ابن عابدين: مقتضى ما مر ثبوت انقلاب الشيء عن حقيقة کا لنحاس الى الذهب و قيل انه غير ثابت لان قلب الحقائق محال و القدرة لا تتعلق با لمحال و الحق الاول. (رد المحتار على الدر المختار

ج ۱، ص۳۲٦، باب الانجاس) قال ابراهيم الحلبي: و لو احرقت العذرة او الروث فصار كل منهما رماداً او مات الحمار في الملحة فصار ملحا او وقع الروث و نحوه في البئر فصار حماة زالت نجاسة و طهر عند محمد حتى لو اكل الملح او صلى على ذلك الرماد جاز. (كبيري ص۱۸۸، فصل في البئر)

## دنجس شي څخه د جوړ شوي صابون حکم

الاستفتاء: که چېرته له نجس شي څخه صابون جوړ شي نو آيا د داسې صابون استعمال جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: داسې صابون پاک دی او استعمالئې جائز دی- ځکه چه د صابون په جوړولو سره د نجس شي حقيقت هم بدليږي. او د حقيقت له بدلون سره هغه شي پخپل حال کښې نه پاتې کيږي. له دې وجهې دا شي له مردارې يا ناپاکې څخه د پاکوالي حالت ته داخل شو-

قال العلامة الحصكفي: و يطهر زيت تنجس بجعله صابوناً به يفتى للبلوى كتنور رش بماء نجس لا بأس بالخبز فيه كطين نجس فجعل منه كوز بعد جعله على النار يطهر ان لم يظهر فيه اثر النجس بعد الطبخ ذكره الحلبي. (انسر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۳۱۵/۳۱٦، باب الانجاس) قال ابراهيم الحلبي: و اكثر المشائخ اختاروا قول محمد و عليه الفتوى لان الشرع رتب وصف النجاسة على تلك الحقيقة و قد زالت با لكلية فان الملح غير العظم و اللحم فاذا صارت الحقيقة ملحاً ترتب عليه حكم الملح (و بعد اسطر) وعلى قول محمد فرعوا طهارة صابون صنع من دهن نج و عليه يتفرع ما لو وقع انسان او كلب في قدر الصابون فصار صابوناً يكون طاهراً لتبدل الحقيقة. (كبيري ص۱۸۹، فصل في الاسار) و مثله في خلاصة الفتاوى ج۱، ۰ ص ۴۳، الفصل السادس في غسل الثوب و الدهن. كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۳۷

## د حــــلال ځناور د متيازو او خوشايو حکم·

الاستفتاء: هغه حلال ځناور چه غوبښې ئې خوړل کيږي آيا د هغو متيازې او خوشايي نجاست خفيفه (سپکه مرداري) ده او که نجاست غليظه (سخته مرداري) ده او که د دغو ځناور نجاست په جامو باندې ولګيږي نو لمونځ ورسره جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د کومو ځناورو چه غوښه خوړل کيږي د هغو نجاست د نجاست خفيفه په حکم کښې دی-البته خوشايي ني نجاست غليظه ده او د نجاست خفيفه حکم دا دي چه که چيرته د جامو د مستقلې برخې لکه لستوني يا لمن د څلورمې برخې څخه په کمه اندازه پرې ککړه شي نو لمونځ ورسره کيږي او له دې څخه په زيات ککړ والي سره لمونځ نه کيږي. په داسې حال کښې چه نجاست غليظه د يوه درهم له اندازې څخه چه زياته وي نو لمونځ نه ورسره کيږي.

قال العلامة الحصكفي: و عفا الشارع عن قدر درهم و هو مثقال في نجس كثيف له جرم و عرض مقعر الكف في رقيق من مغلظة كعذرة و دم و خمر و خرا كل طير لا يذرق في الهواء كبط اهلي او دجاج و روث و خثي افاد بهما نجاسة خرأ كل حيوان غير الطيور و علي دون ربع جميع بدن وثوب و لو كبيراً من نجاسة مخففة كبول ماكول قال ابن عابدين: قوله (و لو كبيرا الخ) اعلم انهم اختلفوا في كيفية اعتبار الربع على ثلاثة اقوال فقيل ربع طرفاصابته النجاسة كالذيل والكم والدخريصاكاالمصاب ثوباوربع العفو المصاب كا ليد والر جل ان كان بدنا.وصححه في التحفة و المحيط و المجتبي و السراج. و في الحقائق و عليه الفتوى. (رد المحتار على الدر المختار ج۱، ص۳۱۶ تا ۳۲۲، باب الانجاس)و في الهندية: و كذلك الخمر و الدم المسفوح و لحم الميتة و بول ما لا يؤكل و الروث و اخثاء البقر و العذرة و نجوالكلب و خرء الدجاج و البط و الاوز نجس نجاسة غليظة هكذا في فتاوى قاضي خان. (الهندية ج۱، ص٤٦ ، الفصل الثاني في الاعيان النجسة) و مثله في فتاوي قاضي خان على هامش الهندية ج ۱، ص۱۸، فصل في النجاسة التي نصيب الثوب ازه حکم

## د سپي د متيــازو حکم

الاستفتاء: که چېرته سپي په کوم لوښي يا کوهي کښې متيازې وکړي نو د هغه لوښي او کوهي د اوبو څه حکم دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د سپي متيازې چونکه نجاست غليظه دي له دې وجهې که چېرته د متيازو يو څاڅکي ئې لوښي يا کوهي ته ولوېږي نو شرعاً د کوهي او د لوښي دواړو اوبو مردارېږي -

قال ابن نجيم: و انما ينجس ماء البئر كله بقليل النجاسة لان البئر عندنا بمنزلة الحوض الصغير الا ان يكون عشراً في عشر كذا في فتاوي قاضي خان. (البحر الرائق ج ۱، ص ۱۱۰، كتاب الطهارة) قال العلامة الحصكفي: اذا وقعت نجاسة ليس بحيوان و لو مخففة او قطرة بول او دم او ذنب فارة (و بعداسطر) ينزح كل مائها الذي كان فيها وقت الوقوع. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۲۱۱/۲۱۲، فصل في البئر) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱۰، مسائل البئر

## د پــــاکو او ناپاکو شيانو د ګډون حکم

الاستفتاء: هغه ناپاکې اوبو چه له پاکې خاورې سره ګډې شي او ختې ترې جوړه شي نو د دې ختې حکم به څه وي؟ آيا د اوبو د ناپاکۍ له وجهې به د اختې ناپاکه ګڼل کيږي او که د پاکې خاورې له وجهې پاکه ګڼل کيږي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: کله چه اوبو او خاوره سره ګډه شي اګر که اوبو پاکې وي او خاورې مرد ارې وي يا خاورې پاکې وي او اوبو مردارې وي په هغو کښې د فقهاء کرامو اختلاف دی- ځينو ئې پاکوالي ته او ځينو ئې ناپاکي ته ترجيح ورکړې ده. قاضي خان او ابراهيم حلبي د ناپاکي خبره مفتي به بللې ده نو د دې لپاره د اسې ختې به مرد اره ګڼل کيږي-

قال طاهر بن عبد الرشيدالبخاري: الماء الطاهر اذا اختلط به التراب النجس و صار طيناً او كان الماء نجساً و التراب طاهرفالعبرة للنجس ايهما كان نجسا فالطين نجس وبه اخذ الفقيه ابوالليث وهكذا روي عن ابي يوسف رح (خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ٤٦ ، الفصل الثامن في النجاسة قال ابراهيم الحلبي: الماء و التراب اذا اختلطا و كان احدهما نجساً فا لطين الحاصل منهما نجس لان اختلاط النجس با لطاهر

ينجمه هذا هو الصحيح كما ذكره قاضي خان و هو اختيار الفقيه ابى الليث (و بعد اسطر) فلله در الفقيه ابى الليث و الله در قاضي خان حيث جعل قوله هو الصحيح مشيرا الى ان سائر الأقوال لا صحة لها بل هي فاسدة لان النتيجة تابعة لاخس المقدمتين دائما. (كبري ص١٨٨، فصل الاسار) و مثله في الهندية ج١، ص ١٤٨، الفصل الثاني في الاعيان النجسة . كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٣٨

## د کالي مينځلو په مشين سره د مينځل شويو جامو حکم

الاستفتاء: د کالي مينځلو په مشين کښې کالي د اسې مينځل کيږي چه خلک يو ځل صابون يا سرف پوډر پکښې اچوي او پاکې او ناپاکې جامې يو ځاي پکښې اچوي او مينځي ئې او يا له يوه او بل پسې ئې مينځي. آيا په دې طريقې سره د جامو د پاکوالي حکم څه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب حامدا ومصليا: اگر که اول ځل په مرد ارو اوبو سره تړولې جامې مرد اريږي ليکن له دې مينځلو څخه وروسته له دې نجس صابون څخه له ايستلو وروسته په مشين کښې يا له ماشين څخه د باندې څو ځله مينځل کيږي او له جامو څخه هغه نجس صابون لرې کيږي چه له مخې ئې په جامو کښې نجس اوبو نه پاتې کيږي. نو د دې لپاره د مردارۍ له لرې کولو څخه وروسته جامې پاکيږي او له دې وجهې د کالي مينځلو په ماشين باندې پريمينځل شوي کالي پاک دي

–قال العلامة فخر الدين الزيعلي: و النجس المرئى يطهر بزوال عينه لان كنجس المحل باعتبار العين فيزول بزوالها و لو بمرة ....... و غيره با لغسل ثلاثاً و العصر كل مرة اى غير المرئى من النجاسة يطهر بثلاث غسلات و با لعصر في كل مرة و المعتبر فيه غلبة الظن. (تبيين الحقائق ج١، ص ٧٥، فصل في الانجاس)

• قال العلامة عالم بن العلاء الانصارى: و يجب ان علم ان ازالة النجاسة واجبة و ازالتها ان كانت مرئية بازالة عينها و اثرها ان كانت شيئاً يزول اثرها و لا يعتبر فيه العذر و ان كان شيئاً لا يزول اثرها فازالتها بازالة عينها و يكون ما بقي من الاثر عفواً و ان كان كثيراً...... هذا اذا كانت النجاسة مرئية و ان كانت غير مرئية كا لبول و الخمر ذكر في الاصل و قال يغسلها ثلاث مرات و يعصر في كل مرة فقد شرط الغسل ثلاث مرات و شرط العصر في كل مرة. (الفتاوى التاتارخانية ج١، ص٣٠٦، كتاب الطهارة، الفصل الثامن في

تطهير النجاسات) و مثله في الفقه الاسلامي و ادلته ج۱، ص۱٦٧ التقسيم الثالث، تقسيم النجاسة الى مرتبة الخ.

## : د شـــــرابو د خالي بوتل د استعمال حکم

الاستفتاء: د شرابو خالي بوتل د تيل يا د اسپ نورو لپاره استعمالول څنګه دي؟

الجواب حامدا ومصليا: شراب پخپل ذات کښې يو نجس شي دي چه په کوم لوښي کښې شراب موجود وي د هغه استعمال هم جائز نه دی-ليکن له ښه پرې مينځلو څخه وروسته چه کله د سړي د ايقين وشي چه د شرابو آثار پکښې پاتې نه دي نو بيا ئې استعمال د تيلو يا د اسپ نورو شيانو لپاره جائز دی-

قال النبي صلى الله عليه وسلم نهيتكم عن النبذ الا في سقاء فاشربوا في الاسقية كلها و لا تشربوا سكراً. (شرح طيبي ج۱، ص۱۳۸، كتاب الايمان، الفصل الأول) الايمان، الفصل الاول. قال العلامة ملا على القاري: فلما مضت مدة اباح النبي صلى الله عليه وسلم استعمال هذه الظرف فان اثر الخمر زال عنها. (مرقات شرح مشكوة ج ۱، ص ۹۱، كتاب الايمان، الفصل الاول) و مثله في حاشية مشكوة ج۱، ص۱۳؛ كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۳۹

## د تي رودونکي بچي د متيازو حکم

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! که چېرته تي رود ونکي بچي د چا په جامو باندې متـيازې وکړي نو د جامو پرېمينځل ورته ضروري دي او که د تي رودونکي بچي متيازې پاکې دي؟بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د تي رودونکي بچي متـيازې هم د لويو خلکو غوندې نجسې دي- چه کله د چا جامې پرې ککړې شي نو مينځل ئې ضروري دي. البته دومره فرق پکښې شته چه د تي رودونکي بچي له متيازو څخه ځان ساتنه ګرانه وي نو د دې لپاره د ټولې جامې پرېمينځل ورته ضروري نه دي بلکه يوائې د متيازو په ځاي باندې دې دومره اوبه واچوي چه په څو مره

قال العلامة حسن بن عمار: و بول ما لا يؤكل لحمه كا الآدمي و لو رضيعا . قال الشيخ السيد احمد الطحطاوي: (قوله و لو رضيعا) لم يطعم سواء كان ذكراً أو نثي. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ۱۲۳، باب الانجاس) قال العلامة الحصكفي: و بول غير ماكول و لو من صغير لم يطعم. قال ابن عابدين (تحت قوله لم يطعم) اى لم يأكل فلا بد من غسله. (رد المحتار ج۱، ص۳۱۸، باب الانجاس، مطلب في طهارة بوله)

## د شب پـــرک متیازو حکم

الاستفتاء: دلته زمونږ په سیمه کښې شب پرک ډیر دي کله کله زمونږ په جامو باندې هم متیازې کوي لیکن مونږ ته معلوم هم نه وي او لمونځ ورسره کوو. آیا په دې صورت کښې له نوموړو جامو سره زمونږ لمونځونه کیږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: اگر که د قاعدې له مخې د کوم شي چه غوښه نه خوړل کیږي متیازې او نور شیان ئې د نجاست غلیظه په حکم کښې دي لیکن شب پرک د مجبورۍ له مخې له دې حکم څخه مستثنی ده ځکه چه له هغه څخه ځان ساتنه ممکنه نه ده. لهذا د شب پرک متیازې او گندگي پاک دي او پرې ککړ شویو جامو سره لمونځ صحیح دی۔

قال العلامة ابن عابدين: و بول غير ماكول و لو من صغير لم يطعم الا بول الخفاش و خراه. قال ابن عابدين . تحته في البدائع و غيره بول الخفافيش و خرأها ليس بنجس لتعذر صيانة الثوب و الاوانى عنها لانها تبول من الهواء و هي فارة طيارة فلهذا تبول آه. و مقتضاء ان سقوط النجاسة للضرورة. (رد المحتار ج۱، ص۳۱۹، باب الانجاس) قال العلامة ابو بكر الكاساني: و بو الخفافيش و خرؤها ليس بنجس لتعذر صيانة الثياب و الاوانى عنه لانها تبول في الهواء و هي فارة طيارة فلهذا تبول. (بدائع الصنائع ج ۱، ص ۶۲ ، فصل و اما الطهارة الحقيقة) علوم كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص ۳۴۰

## په کوهي کښې د اوسیدونکې چنگښې د متیازو حکم

الاستفتاء: قدرمند مفتي صاحب! زمونږ د کور په کوهي کښې چنگښې ډیرې اوسیږي. که چرته په اوبو کښې متیازې وکړي نو د داسې اوبو په باره کښې د شریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د فقهي اصولو او قواعدو څخه څرګندیږي چه د چنګښې متيازې ناپاکې دي ځکه چه د هغه شي چه غوښه ئې نه خوړل کیږي متیازې نجاست غلیظه دي. په صورت مسئوله کښې چنګښې په اوبو کښې اوسیږي نو له دې وجهې چه ځان ساتنه ترې مشکله ده د ضرورت له مخې ئې په متيازو باندې د کوهې اوبو نه مردار یږي۔

قال العلامة الحصكفي: و بول غير ماكول و لو من صغير لم يطعم الا بول الخفاش و خراه فطاهر و كذا بول الفارة لتعذر التحرز عنه و عليه الفتوى. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٣١٨، باب الانجاس) قال الشيخ السيد احمد الطحطاوى: بول الفارة طاهر لتعذر التحرز عنه و عليه الفتوى يحمل على العفو. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ١٢٣، فصل في الانجاس)

## په مــــــردارو خټو باندې د جوړ شوي لوښي د استعمالولو حکم

الاستفتاء: که چیرته کولال د لوښو د جوړولو لپاره مردار اړې خټې لمدې کړي نو آیا په مردار و خټو باندې د جوړ شوي لوښي استعمال جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔.

الجواب حامدا ومصليا: د مردار شي د پاکولو ډیرې طریقې دي چه د هغو له جملې څخه په اور باندې د پخولو طریقه هم ده. په صورت مسئوله کښې چونکه نوموړي مرداره خټه په اور باندې پخه شوې ده د دې لپاره د اور په ذریعې سره نجاست ترې لرې شوي دي او لوښي پاک شوي دی. له دې وجهې د داسې لوښي استعمال جائز دی۔

قال العلامة ابن نجيم: في الفتاوى اذا احترقت الارض با لنار فتيمم بذلك التراب قيل يجوز التيمم و قيل لا يجوز و الاصح الجواز. (البحر الرائق ج١، ص٢٢٨/٢٢٦، باب الانجاس) و في الهندية: و منها الاحراق...... الطين النجس اذا جعل منه الكوز او القدر فطبخ يكون طاهرا كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية ج١ ، ص ٤٤ ، الباب السابع في الانجاس ، الفصل الاول في تطهير الانجاس) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٤١

## د مردار ځناور د څرمن حکم

الاستفتاء: که چېرته يو ځناور پخپله مردار شي نو د هغه د څرمني تر ايستلو وروسته د هغې د استعمال څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د حديث شريف له مخې په مطلقه توګه د کوم ځناور څرمن را ايستل او رنګول يا دباغت ورکولو سره پاکيږي. د دې لپاره د مردار ځناور څرمن د دباغت له ورکولو ورسته ئې استعمال جائز دی نذری

كثير من أصحابنا ، زرد المحتار ج ١، ص ٣١٨، باب الانجاس، مطلب في طهارة بوله ) قال الملا على القاري في جمع الوسائل: قال ابن حجرا و بهذا استدل جمع من امتنا المتقدمين و غيرهم على طهارة فضلاته صلى الله عليه وسلم وهو المختار و فاقاً لجمع من المتاخرين فقد تكاثرت الادلة عليه وعده الائمة من الخصائصه (جمع الوسائل شرح الشمائل ج ٢، ص ٣، باب ما جاء في تعطر رسول الله صلى الله عليه وسلم)

## د خوشايي تيې د استعمالولو او پلورلو حکم

الاستفتاء: په اکثرو کليو کښې د خوشايو په تيې اور بلوي او خوراک پرې تياروي او ځيني خلک ئې پلوري. نو آيا د تيې بلول او پلورل جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: د فقهاء کرامو له صريحو عباراتو څخه دا څرګنديږي چه د تيې په بلولو او خرڅولو کښې څه حرج نشته.

لما قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله كسرقين و بعر) و المراد انه يجوز بيعهما و لو خالصين. و في البحر عن السراج و يجوز بيع السرقين و البعر و الانتفاع به و الوقود به. (رد المحتار ج ٥، ص ٥٨ ، باب في البيع الفاسد، قبل مطلب الآدمي مكرم)قال العلامة ابن نجيم: يجوز بيع السرقين و البعر و الانتفاع به و الوقود كذا في ا لسراج الوهاج. (البحر الرائق ج٦، ص ٧١، كتاب البيوع، باب البيع الفاسد)

كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٤٤

## د ژوندي مـــار د پوستکي حکم

الاستفتاء: ځینې حکیمان زخمي سړي ته د مار جامه (هغه پوستکي چه مار پخپله له ځانه لرې کوي) د علاج په توګه ور استعمالوي. آیا شرعائې استعمال څنګه دی؟ او لمونځ ورسره کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: مسلمان حاذق طبیب چه مریض ته کومه دوایي ورکړي د هغې استعمالول جائز دي. تر کومه ځایه پورې چه د مار د پوستکي مسئله ده نو د فقهاء کرامو د تصریحاتو مطابق مار چه کله پخپل ژوند کښې خپل پوستکي واچوي نو پاک دی او لمونځ کول ورسره جائز دي۔

لما في الهندية: قميص الحية الصحيح انه طاهر كذا في الخلاصة. (الفتاوى الهندية ج١ ، ص ٤٦ ، باب الانجاس) قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و في سخة القاضي الامام و قميص الحية الصحيح انه طاهر. (خلاصة الفتاوى ج ١، ص ٤٤ ، الفصل السابع فيما يكون نجسا الخ)

## د کوچني شیدې خوړونکي ماشوم بولي پاکي دي که نجسي؟

الاستفتاء: کوم ماشوم چې شیدې خوري دداسي ماشوم بولي هم نجسي دي او که پاکي دي؟

الجواب حامدا ومصلیا: لکه څرنګه چي دلوی انسان بولي نجسي دي همدغه رنګه د کوچني بولي هم په مغلظ نجاست کښې راځي که څه هم شیدې خوړونکي وي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : ( وبول غير مأكول ولو من صغير لم يطعم ) وقال ابن عابدين رحمه الله : ( قوله : لم يطعم ) بفتح الياء أي : لم يأكل فلا بد من غسله وفي الهندية : وكذلك بؤل الصغير والصغيرة أكلا أو لا كذا في الاختيار شرح المختار (الدرمختار مع ردالمحتارج ١ ص ٢٣٣ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهنديه ج ١ ص ٤٦ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي ص ١٥٤ مكتبه رشيديه / فتاوي محموديه ج ٥ ص ٢٢٧ اردو / فتاوي دارالعلوم ديوبندج ١ ص ٢٩٥ پښتو)

## که په غوړو کښې موږک یا بل نجس حیوان مړ سي

الاستفتاء: که په غوړو کښي موږک یا بل داسي نجس حیوان مړ سي، د هغو غوړو څه حکم دی؟

الجواب حامداومصليا: غوړي که چېري يخي وه، نو هغه حيوان او د هغه شاوخوا غوړي وغورزوئ باقي پاته غوړي پاک دي، او که چېري ويلي وه، نو ټوله غوړي نا پاکه او مردار دي. البته د پاکي طريقه يي فقها وو داسي ذکر کړيده چي په دې غوړو کښي دي درې واره د دغه غوړو په اندازه اوبه ورواچول سي. او بيا دي درې واره دغه اوبه جوش کړل سي نو چي کله اوبه وسوځېدلې او وچي سوې نو غوړي پاک دي.

وفي فتاوى تنقيح الحامدية :( سئل ) في فارة وقعت في سمن مائع وماتت فيه فاذا وضع في اناء مخروق السفل وصب عليه الماء ثم اخذ عنه الماء من اسفله ثلاث مرات ؟ اوصب عليه الماء فطفا فرفع ثلاث مرات فهل يظهر بكل من هذين الصنيعين ؟ ( الجواب حامداومصليا) نعم يظهر كما في طهارة الخيرية وهكذا روى عن ابي ي،سف وعليه الفتوى كماذفي المجمع والبزازية وخزانة المفتي وغيرها وبه جزم في الظهيرية وصرح به في البحر .( فتاوي درالعلوم ديوبند ج ١ ص ٢٨٢باب النجاسة رشيديه / ردالمحتار علي الدرالمختار ج ١ ص ٢٤٥ باب الانجاس / فتاوى تنقيح الحامدية ج ١ ص ۴ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي الدرالمختارج ١ ص ١۶٣)

## تانکۍ ته که چيري موږک يا بل شي ولويدي او پړسيدلي وو

الاستفتاء تانکۍ ته که موږک يا يو بل مرغه يعني چوغکه ولوېږي او پړسېدلې وي د لوېدو وخت يې معلوم نه وي د څو ورځو لمونځ به راګرځوي؟

الجواب حامداومصليا: د فقهاؤ په دې کښي دوه قوله دي (١) که چيري دا حيوان پړسېدلي وي د درو ورځو لمونځونه به راګرځوي (٢) دوهم قول دادي: د څه وخت څخه چي ولېدل سيد هغه وخت څخه د اوبو د مرداری حکم لګول کېږي په اول قول کښي احتياط دي په دوهم کښي اساني ده.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ومذ ثلثة ايام ولياليها ان انتفخ او تفسخ استحساناً وقالا من وقت العلم فلايلزمهم شي قبله قيل وبه يفتي ( الدرالمختارج ١ ص ١٦١/ الهداية ج٣ ص ٤٧ / بدائع الصنائع ج ١ ص ٢٢٩/ البحرالرائقج١ ص ٢١٩)

## ديو څاه اوبه که بدبويه وي او دس په رواه دي که يا ؟

الاستفتاء: يو څاه دي ډېري نا پايه اوبه يې دي نور پاک دي صرف دغه اوبو يې ډېر څنډ په دې څاه کښې کړي دي چي يو قسم بوي ځيني احساسېږي آيا په داسي اوبو سره په اوداسه کښې څه مکروه والي راځي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا: په داسي ابو سره شرعا اودس صحيح او رواه دي څه حرج شرعاً نه لري.

الاستفشار : هل يجوز التوضوء بماء انتن بسبب المكث ؟ الاستبشار : نعم . (فتاوى اللكهنوي ص ٦١/ الموسوعة الفقهية ج ١ ص ٩٤/ البحرالرائق ج ١ص ١٢٦/ الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ١٣٦١/ خلاصة الفتاوى ج ١)

## د شيدو لوشلو په وخت کښې که حيوان په شيدو کښې بولي وکړي

الاستفتاء د شيدو لوشلو په وخت کښې حيوان په شيدو کښې بولي وکړي نو هغه لوشلي شيدې پاکي دي که نا پاکي؟ د غواؤو په فارمو کښې کله کله د دغه صورت مخي ته راځي بايد څه وکړل سي؟

الجواب حامدا ومصليا: هغه لوشلي شيدې په کومو چي بولي ګډي سوي وي هغه شيدې شرعا ناپاکي دي او استعمال يې حرام دی

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وبول ماكول اللحم نجس نجاسة خفيفة وطهره محمد (رحمه الله تعالى ) ولايشرب بوله اصلا لا للتداوي ولالغير عند ابي حنيفة (رح) (الدرالمختار مع ردالمحتارج ١ ص ١٥٤ باب الانجاس مكتبه حبيبه / حلبي الكبير ص ١٥٩ باب الانجاس قديمي چاپ/ فتاوي حقانيه ج ٢ ص ٣٣٥ / فتاوي دارالعلوم ديوبندج ١ ص ٣٠٥)

## د اهل کتابو لوښي پاک دي که ناپاکه او ددوي سره خوراک چيښاک څنګه دی؟

الاستفتاء: موږ اکثر و ختونه خارج ته د تجارت لپاره سفرونه کوو او د اهل کتابو او عيسايانو سره مو راکړه ورکړه ده او کله ددوي سره د خوراک او چيښاک نوبت هم راځي ايا ددوی لوښي پاک دي که يا ؟ اوددوي سره خوراک چيښاک شرعا رواه دی که يا؟

الجواب حامدا ومصليا: نصاري په اصل کښې اهل کتاب دي او پاته داچي هغه د خپل دين پابندي کوي او که يې نه کوي دا ځان ته خبره ده او چونکې دوي د شرعي محرماتو او ناپاکو شيانو استعمال کوي لکه: شراب او خنزير و غيره نو ځکه ددوی په لوښو کښې ددوي سره خوراک کول نه دي پکار جلا بايد خوراک و سي. او ددوی لوښي پاک دي ځکه چي هر ناپاکه شي که لوښي وي يا بل شي وي پاکېدلاي سي همدا شان د دوي مستعمل لوښي هم پاکېداي سي.

**لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : فسؤر آدمي مطلقا) ولو جنبا أو كافرا طاهر لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : قوله أو كافرا لأنه عليه الصلاة والسلام أنزل بعض المشركين في المسجد على ما في الصحيحين، فالمراد بقوله تعالى إنما المشركون نجس النجاسة في اعتقادهم بحر، ولا يشكل نزح البئر به لو أخرج حيا؛ لأن ذلك لما عليه في الغالب من النجاسة الحقيقية أو الحكمية كما قدمناه (ردالمحتارج ١ ص ١٦٣ مطلب في السور مكتبه حبيبه/غنية المستملي ص ١٦٤ سهيل اكيډلومي/فتاوي عالمگيريه ج ٥ ص ٣٤٧ [الباب الرابع عشر في اهل ذمة والاحكام التي تعود اليهم مكتبه رشيديه/جامع الفتاوي ج ٥ ص ١٦٢/فتاوي دارالعلوم ديوبندج ١ ص ٢٩٢ رشيديه**

## باب الاستنجاء

### د هوا په وتلو سره استنجاء نه بلکه صرف اودس (چار اندام) واجب کيږي

الاستفتاء: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دهو اوتلو په صورت کښې مخصوص ځائي نه وينځل کيږي اونور اندامونه وينځلې کيږي په دې شرط چه اندامي مخصوص گنده نه وي نود اولې داسې دى؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: صرف هوانه بلکه په متيازو کښې هم دا اعتراض کيدې شي اود جماع متعلق هم دټول بدن وينځلو په باره کښې دا استفتاء پيدا کيږي د داسې استفتاءونو پيژند ګلو دپاره درس نظامي وئيل ضروري دي

.(١)امام شاه ولي الله الدهلوي سنت دا واجب ګرځولي دي چه کله شرعي حکم په صحيح روايت سره ثابت شي نو په هغې باندې عمل کول به په دې وجه نشي روستو کولې چه ددې حکم مصلحت او حکمت معلوم نه دې ځکه چه ډيرو خلقو عقلونه دا حکاماتو دمصلحتونو معلومولو نه قاصره دي اوبله داچه درسول الله ﷺذات زمونږ دعقلونو نه زيات قابل اعتماد دي نوددې وجې دشرعي احکاماتو د پټو رازونو اوحکمتونو علم داهليت والونه علاوه دنورو خلقو نه پټ ساتلې شوي دي او ددې دپاره هغه شرطونه کيخودې شوې دي کوم چه دقران کريم دتفسير دپاره دي په ديکښې صرف په رائي سره غور و فکر کول چه سندئي دسنتو او آثارونه ملاؤ نشي حرام ګرځولي شوې دي. -(امام شاه ولي الله حسن قبح کاشرعی ياعقلي هونا) وقال الشاه اشرف علي تهانوي په دې کښې هيڅ شک نشته چه د احکام شرعيه او فرعيه د ثبوت مدار نصوص شرعيه دي چه دهغې نه پس ئي په قبلولو کښې دځه مصلحت او حکمت معلومولو انتظار کول يقيني طور سره دحق سبحانه وتعالى نه بغاوت اوهغه ئي ددې نه معلوميدلو دې لکه څنګه چه د دنياوي حکومتونو دقانونو وجوهات او اسباب که چاته معلوم نه وي.(باقي حاشيه) سبب باندې نه مني يا دا عذر اوکړي چه دوجې معلوميدلو نه بغيرئي څنګه او منم نو آيا يو عاقل سړي ته دده په باغي کيدلو کښې څه شک شبه شته؟ نو آيا دشرعي احکاماتو مالک ددې دنيوي بادشاهانو نه هم کم شو ؟غرض دا چه په دې کښې څه شک پاتې نه شو چه دشرعي او فرعي احکاماتو دثبوت دارومدار شرعي نصوص دي ليکن دغه شان په ديکښې هم څه شبه نشته چه ددې سره سره به په دې احکاماتو کښې داسې نورهم ډير رازونه او مصلحتونه وي خود دې احکاماتو دثبوت مدار به په هغې باندې نه وي (بوادر النوادر ص ١٠٥ غريبه در شرائط نافعيت تحقيق مصالح واحکام)فتاوي فريديه ج٢ ص٦

## متيازو لګيدو د پاكولو طريقه

الاستفتاء څومره خلق په دې باندې اختلاف كوي چه په كوم سرې باندې د متيازو ګندګي اولګي نو هغه نه صفا كيږي نو مهرباني اوكړئ چه داسې كس به كله صفا كيږي او په كوم څيز باندې به صفائي راځي شرعي مسئله راته اوښايي الله دې درته ډير ثوابونه دركړي؟ بينوا توجروا.

الجواب حامدا و مصليا: درې ځلې وينځلو سره بدن او جامې صفا كيږي

**قال العلامه حصكفي: يجوز رفع نجاسة حقيقة عن محلها.. بماء ولو مستعملا به يفتي وبكل مائع طاهر ...... ثلاثا. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ٢٢٦ جلدا باب الإنجاس) وفي الهنديه يجوز تطهير النجاسة بالماء وبكل مائع طاهر يمكن ازالتها به كالخل وماء الورد ونحوه مما اذا عصر انعصر كذافي الهدايه. (فتاوي عالمگيريه ص ٤١ جلد ١ الباب السابع في النجاسة واحكامها)**

## د متيازو كولو نه پس د استنجاء حكم

الاستفتاء: كه يو سړې په اودس كښې وي او متيازې ورته ورشي او د متيازو كولو نه پس په لوټې سره اودس اوچ كړي او صرف څلور اندام او كړي او په اوبو سره استنجاء اونه كړي نو آيا د هغه مونځ كيږي؟ يا استنجا هم ضروري ده؟ وضاحت اوكړئ ډيره شكريه به وي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: كه د متيازو د سوري نه علاوه د غټې روپۍ اندازې ته ګندګي رسيدلې وي نو بيا استنجاء سنت ده او كه ډيره وي نو بيا فرض ده.

والغسل بالماء بعده اى الحجر سنة ويجب ان جاوز المخرج نجس مانع (الدر المختار مختصراً) او اودس بهر حال صحيح دې ليكن په دې اودس سره به مونځ هله كيږي چه كله استنجاء فرض نه وي

**قال العلامه حصكفى: والغسل بالماء... بعده اى الحجر.. سنة مطلقا به يفتي ويجب اى يفرض غسله ان جاوز المخرج نجس مائع ويعتبر القدرالمانع لصلاة فيما وراء موضع الاستنجاء لان ماعلى المخرج**

ساقط شرعاً وان كثر ولهذا لا تكره الصلاة معه. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ٢٤٨ جلدا فصل الاستنجاء) كذافي فتاوي فريديه ج٢ ص١٣٢

## د سړي په شان زنانه هم لوټه استعمالولې شي

الاستفتاء: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ښځې لره په لوټه باندې استنجاء کول منع دي او د متيازو نه پس ورله په اوبو باندې استنجاء کول سنت دي ليکن که د سفر وغيره په وجه باندې داسې او شي چه د متيازو نه پس د استنجاء دپاره اوبه ملاؤ نشي او مونځ هم کول وي نو آيا په داسې وخت کښې زنانه لره په لوټه استنجاء کول جائز دي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: د سړي او زنانه په استنجاء کښې هيڅ فرق نشته، يعني څنګه چه سړي صرف لوټه استعمالولې شي او يا د لوټې نه پس او به استعمالولې شي نو بالکل د زنانه د پاره هم دغه شان حکم دې، خو بيشکه په زنانه باندې استبراء نشته، يعني په اوبو سره استنجاء کولو کښې دومره ايساريدل چه څاڅکي بند شي دا په زنانه باندې هسې بې فائدې کار دې. دا ټولې مسئلې

په ردالمختار ص٣١٢ جلد١ فصل الاستنجاء کښې ليکلي دي .ص٢٤٨ جلدا فصل الاستنجاء). قال العلامه ابن عابدين: وفيها ان المرءة كالرجل الا في الاستبراء فانه لا استبراء (ردالمحتار هامش الدرالمختارص ٥٣ ٢جلد ا مطلب في الفرق بين الاستبراء والاستقاء......) كذافي فتاوي فريديه ج٢ ص١٣٢

## د استنجاء په وخت کښې کشف عورت او د خرچ شوو اوبو اندازه

الاستفتاء: زمونږ په جمات کښې جنوباً شمالاً د استنجاء ځايونه جوړ شوي دي يو سړې ددې باوجود هميشه مشرق طرف ته مخ کوي او مغرب ته شا کوي او استنجاء کوي او پرده هم نه کوي ټول مونځ ګذار دده په دې حرکت باندې خفه دي ځکه چه زمونږ په نزد بربنډ کيدل ډير معيوب شمارلي کيږي دا سړې په استنجاء باندې دوه لوټې اوبه په غټه خوله استعمالوي نو په استنجاء باندې څومره او به خرچ کول پکار دي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: کوم سړي چه د خلقو په مخکښې عورت ښکاره کوي او استنجاء کوي نو دا فاسق او فاجر دي

في الدرالمختار بلاكشف عورة عنه احدا مامعه فيتركه كما مر فلو كشف له صار فاسقا وا (هامش ردالمحتار ص ۳۱۲،۳۱۳ جلد۱) د استنجاء په صورت کښې د اوبو څه خاص اندازه مقرره نه ده، دا د نجاست په لړوالي او ډيروالي پورې ده، د ګندګي په لرې کيدو کښې چه دې ترڅو غالب ګمان نه وي نو د اوبو استعمالول جائز دي ليکن د ګذارې نه کار

اخستل پکار دی.

(هامش ردالمختار ص۳۱۲، ۳۱۳ جلد۱) وهو الموفق(الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۲۴۸ جلد : فصل في الاستنجاء) قال العلامه الحصكفي والغسل بالماء الى ان يقع في قلبه انه طهر مالم يكن موسوساً فيقدر بثلاث كمامر. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۲۴۸جلد ۱ فصل في الاستنجاء)كذافي فتاوي فريديه ج۲ ص۱۳۳

## د مجبورۍ له وجهې بل ته استنجا وروهل

الاستفتاء: يو سړي دومره مريض دي چه پخپله استنجا نه شي وهلي آيا دغه سړي ته بل څوک استنجاء وهلې شي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چيرته يو څوک د بيمارۍ او کمزورۍ له وجهې پخپله په استنجا وهلو باندې قادر نه وي نو د بل استنجا وهل ورته جائز دي. خو په دې شرط چه خپله ښځه يا ئې وينځه وي. له خپلې ښځې يا وينځې څخه بغير ئې بل څوک استنجا نه شي وهلی. په دې صورت کښې بيا استنجا ورته معاف دی-

لما في الهندية: الرجل المريض اذا لم يكن له امرأة و لا امة و له ابن و اخ و هو لا يقدر على الوضوء فانه يوضئه ابنه او اخوه غير الاستنجاء فانه لا يمس فرجه و سقط عنه الاستنجاء كذا في المحيط. و المرأة المريضة اذا لم يكن لها زوج و عجزت عن الوضوء و لها ابنة او اخت توضيها و سقط عنها الاستنجاء. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۰ ه ، الفصل الثالث في الاستنجاء)قال العلامة فخر الدين قاضي خان: و كذا قالوا في المريض اذا لم يكن له امرأة و عجز عن الوضوء و له ابن او الح فانه يوضيه الا انه لا يمس فرجه

الا من يحل له وطؤها و المرأة المريضة ان لم يكن لها زوج و عجزت عن الوضوء و له بنت او اخت توضيها و يسقط عنها الاستنجاء. (الفتاوى قاضي خان على هامش الهندية ج۱، ص۳۳، فصل في صفة الوضوء)

## په ولاړې باندې د متيازو کولو مسئله

الاستفتاء: د پتلون د اغوستلو په صورت کښې په ولاړې باندې د متيازو د کولو ضرورت پيدا کيږي نو آيا په ولاړې باندې متيازې کول جائز دي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: رسول الله ﷺ د مجبورۍ په حالت کښې او د کوم عذر له وجهې په ولاړې باندې بولې کړي دي. او له عذر او مجبورۍ پرته په عامو حالاتو کښې ئې په ناستو بولې کړي دي. نو د دې لپاره فقهاء کرامو په ناستې د بولو کولو حکم ورکړي دی او په ولاړې ئې دي ليکن له ځاځکو څخه به ځان ساتي- بولې مکروه بللي دي. او د مجبورۍ په حالاتو کښې سړي ته په ولاړې باندې متيازې کول جائز....دي ليکن له ځاځکو څخه به ځان ساتي

لما قال العلامة الحصكفي: و كذا يكره......... ان يبول قائماً او مضطجعاً او مجرداً من ثوبه بلا عذر آه. قال العلامة ابن عابدين (تحت قوله ان يبول قائماً) لما ورد من النهي عنه لقوله عائشه رضي الله عنها من حدثكم ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يبول قائماً فلا تصدقوه ما كان يبول الا قاعد ........ فلذا قال العلماء يكره الا لعذر و هي كراهة تنزيهة لا تحريم. (رد المحتار ج ۱ ص ۳٤٤، باب الاستنجاء) قال العلامة يوسف البنوري: ان البول قائما و ان كانت فيه رخصة و المنع للتاديب لا للتحريم كما قال الترمذي و لكن اليوم الفتوى على تحريمه اولى حيث اصبح شعاراً لغير المسلمين من الكفار . (معارف السنن ج۱، ص۱۰٦، باب ما جاء من الرخصة في ذلك)

## د قضاء حاجت په وخت کښې که چيرته چا ته پرنجي ورشي نو څه به کوي؟

الاستفتاء: که چيرته د قضاء حاجت په وخت کښې چا ته پرنجي ورشي نو آيا الحمد لله به وايي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: د قضاء حاجت په وخت کښې خبرې، ذکر او اذکار مکروه دي. چېرته چا ته د قضاء حاجت په وخت کښې پرنجي ورشي نو هغه بايد الحمد لله ووايي ليکن په زړه کښې نه په ژبه-

لما في الهندية: فان عطس حمد الله بقلبه و لا يحرك لسانه الخ. (الفتاوى الهندية ج ۱ ، ص ۰ ٥، فصل في الاستنجاء) لما قال الشيخ وهبة الزحيلي: اذا عطس حمد الله بقلبه و يقول بعد الاستنجاء اللهم طهر قلبي من النفاق . الخ. (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۱، ص ۲۰٦ ، خامساً، اداب قضاء الحاجة)

## د قضاء حاجت لپاره د کښيناستو په وخت کښې د کالي د پورته کولو حکم

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! کله چه يو څوک د قضاء حاجت لپاره بيت الخلاء ته ورځي نو پرتوګ به څه وخت باسي او لمن به کله پورته کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: د قضاء حاجت لپاره د کښيناستلو په وخت کښې دې پرتوګ په هغه وخت کښې باسي او لمن به پورته کوي چه کله زمکې ته نژدې شي-

لما قال الشيخ وهبة الزحيلي: يستحب الا يرفع ثوبه حتى يدنو من الارض لان ذلك استر له و لما روى ابو داود عن النبي صلى الله عليه وسلم انه كان اذا اراد الحاجة لا يرفع ثوبه حتى يدنو من الارض. (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۱، ص ۲۰٤، خامساً آداب قضاء الحاجة) عن ابن عمر: ان النبي صلى الله عليه وسلم كان اذا اراد حاجة لا يرفع ثوبه حتى يدنو من الارض. قال الشيخ خليل احمد السهارنفوري تحت هذا الحديث و هذا لان النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن التعري في الخلوت. ايضاً و قال فا لله احق ان يستحي منه من الناس و هذا يدل على ان جواز التعرى في الخلوت للضرورة فلا ينبغي ان يرفع ثوبه قبل الضرورة. (بذل المجهود ج۱، ص ۱۰ ، كيف التكشف عند الحاجة)

## [د قضاء حاجت په دوران کښې د برش یا مسواک د وهلو حکم

الاستفتاء: د دې مسئلې په باره کښې د دین علماء کرام څه فرمايي چه يو سړي په بیت الخلاء کښې د قضاء حاجت لپاره ناست وي لیکن په همدې مهال کښې مسواک هم وهي آیا د اسې کولو شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: دا د قضاء حاجت له مستحباتو څخه دي چه سړي به د متیازې کولو په دوران کښې له قضاء حاجت پرته بل هیڅ عمل به هم نه کوي. نه به آسمان ته ګوري او نه به خپلې شرمګاه ته ګوري او نه بنې او چپې خوا ته ګوري. همدا رنګه سړي دې باید په دې دوران کښې له برش وهلو او مسواک وهلو څخه هم ډډه وکړي۔

لما قال الشيخ وهبة الزحيلي: يستحب الا ينظر الى السماء و لا الى فرجه و لا الى ما يخرج منه و لا يعبث بيده و لا يلتفت يميناً و لا شمالاً و لا يستاك لان ذلك كله لا يليق بحاله. (الفقه الاسلامي و ادلته ج۱، ص۲۰٦، آداب القضاء الحاجة) لما في الهندية: و لا ينظر لعورته الا لحاجة و لا ينظر الى ما يخرج منه و لا يبزق و لا يمتخط و لا يتنحنح و لا يكثر الالتفات و لا يعبث ببدنه و لا يرفع بصره الى السماء الخ. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ٥٠ ، فصل في الاستنجاء)

## د استعمال شوي لوټې د بیا استعمالولو حکم

الاستفتاء: ځینې خلک په استعمال شوي لوټې باندې دوباره استنجاء وهي- په شریعت کښې د لوټې له وچیدو څخه وروسته په هغې باندې د بیا استنجا وهلو اجازه شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: په لوټو یا ډېرو باندې د استنجاء وهلو په صورت کښې دا ضروري ده چه هغه لوټه یا ډېره پاکه وي. د دې لپاره فقهاوو په یو ځل استعمال شوي لوټې یا ډېرې باندې بیا استنجا وهل ناجائز ګرځولي دي. بیا هم که چیرته ډېره یا لوټه غټه وي او څو کونجونه ولري نو بیا د ګڼو لوټو په حکم کښې راځي او په هر یوه کونج ئې مستقله استنجا وهل له کراهیت پرته جائز دي–

قال العلامة ابن همام: و لا يجزئه الاستجاء بحجر استجى به مرة الا ان يكون له حرف آخر لم يستنج به. (فتح القدير ج ۱، ص ۱۹۰، فصل في الاستجاء) قال في الهندية: و كذا لا يستجى بحجر استجي به مرة هو او غيره الا اذا كان حجراً له احرف له ان يستجى كل مرة بطرف لم يستنج به فيجوز من غير كراهة كذا في المحيط. (الهندية ج۱، ص ٥٠ ، الفصل الثالث في الاستجاء) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ٢٤ ، باب الاستجاء

# .كتاب الصلوة

## باب المواقيت

### لمونځ له خپل تاكلي وخت څخه د وروسته كولو حكم

الاستفتاء: زمونږ د كلي په جومات كښې د جمعي د لمانځه وختونه ټاكلي دي ليكن كله كله امام صاحب له ټاكلي وخت څخه وروسته راځي چه له وجهي ئې ځيني خلك د لمانځه لپاره بل جومات ته ځي. آيا له ټاكل شويو وختونو څخه د لمانځه وروسته كول او ادا كول شرعاً جائز دي؟

الجواب حامدا و مصليا: د لمونځونو لپاره ټاكل شوي وختونه حتمي نه دي بلكه د لمونځ كوونكو آسانتيا وو ته په نظر كولو سره وختونه ټاكل شوي دي. كه چېرته په دغو وختونو كښې څه نا څه وړاندي والي يا وروسته والی وشي (په دې شرط چه په مكروه وخت كښې د اخل نه شي) نو هيڅ پروا نه كوي. البته كه چېرته امام تنخواه لرونكي وي نو بيا نورو دلائلو ته په كتو سره له ټاكلي وخت څخه وروسته والی له كراهيت څخه خالي نه دی، اگر كه بهتره خو داده چه لمونځ په مستحب وخت كښې ادا شي

...قال العلامة الحصكفي: (و يجلس بينهما) بقدر ما يحضر الملازمون مراعياً لوقت الندب. ( الا في المغرب)(الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص۳۸۹، باب الآذان)و في الهندية: و ينتظر المؤذن الناس و يقيم للضعيف المستعجل و لا ينتظر رئيس المحلة و كبيرها كذا في معراج الدراية. ينبغي ان يؤذن

في اول الوقت و يقيم في وسطه حتى يفرغ المتوضى من وضوئه و المصلى من صلوته و المعتصر من قضاء حاجته كذا في التاتارخانية. (الهندية ج١، ص ٥٧ ، باب الآذان) و مثله في البحرا الرائق ج١، ص ٢٥٥، باب الآذان) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٣٧٩

## د سهار د لمانځه وخت

الاستفتاء: د سهار د لمانځه وخت كله شروع كيږي؟ او د سهار د راختو او لمر د راختو ترمنځ څومره وخت وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د سهار د لمانځه وخت له صبح صادق څخه را واخله تر لمر ختو پورې وي چه اندازه ئې تقريباً پاو باندې يو ساعت راځي. البته كموالي او زياتوالي هم پكښې ممكن دى-او د صبح صادق نښه دا ده چه په هغه وخت كښې د آسمان په كنارې باندې سپينوالي غوندې ښكاره كيږي كوم چه د آسمان په كنارو كښې خپريږي-

قال العلامة الحصكفي: وقت صلاة (الفجر) : . (من) اول (طلوع الفجر الثاني) و هو البياض المنتشر المستطير لا المستطيل (الى) قبيل (طلوع ذكاء) با لضم غير منصرف اسم الشمس. (الدر المختار على صدر رالمحتار ج ١، ص ٣٦٣، كتاب الصلوة) و في الهندية: وقت الفجر من الصبح الصادق و هو البياض المنتشر في الأفق الى طلوع الشمس و لا عبرة با لكاذب و هو البياض الذي يبدو طولا ثم يعقبه الظلام في ا لكاذب لا يدخل وقت الصلوة و لا يحرم الأكل على الصائم هكذا في الكافي. (الهندية ج١، ص ٥١، الباب الاول في المواقيت) و مثله في البحر الرائق ج١، ص ٢٤٤، كتاب الصلوة)

## د روژې په مباركه مياشت كښې د سهار په تياره كښې د لمانځه د اداكولو حكم

الاستفتاء: زمونږ په كليو كښې د رمضان المبارك په مياشت كښې د سهار لمونځ په عمومي توګه په غلس (تياره) كښې اداكيږي چه له وجهې ئې خلك د جمعې په لمانځه كښې ډير وي، آيا د -فقهي له مخې د اسې كول صحيح دي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له جواز څخه ئې هيڅوک انکار نه کوي ليکن حنفي فقهې د اسفار په استحباب کښې د رمضان المبارک مياشت نه ده مستثنې کړې. د دې لپاره بنايي چه د وختي مصلحت له مخې بهتر وي ليکن په يقيني توګه سره اسفار (سپينوالى) مستحب دى-

**لما قال الشيخ الاسلام ابو بكر بن علي اليمني: و يستحب الاسفار با لفجر . قيل هو ان يصلى في وقت لو صلى بقرائة مسنونة مرة فاذا فرغ ظهر له فساد في طهارته امكنه الوضوء و الاعادة قبل طلوع الشمس و هذا كله في السفر و الحضر في الازمنة كلها الا يوم النحر با لمزدلفة للحاج. (الجوهرة النيرة ج۱ ، ص ۰ ۵ ، كتاب الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص ۳۸۰**

## د لمانځه لپاره مستحب وخت کوم يو دى؟

الاستفتاء: له روا والي څخه بغير د لمونځونو د مستحبو وختونو حقيقت څه شي دى؟ آيا تعجيل افضل دي او که تاخير؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: مطلقاً تعجيل يا تاخير مستحب نه دي بلکه د فقهاوو د تصريحاتو په رڼا کښې دا ويل کيدلي شي چه د سهار مستحب وخت اسفار دي او د اوړي (دوبي) په موسم کښې ماسپښين مؤخرول او د ژمي په موسم کښې ئې وړاندې والى افضل دى. د مازديګر لمونځ په ګرمي او يخ دواړو کښې مؤخر کول افضل دي په دې شرط چه په لمر کښې تغير نه وي راغلي او ماسخوتن تر دريمې حصې د شپې پورې مؤخر کول افضل دي. البته که چيرته په آسمان کښې وريځ وي نو په مازديګر او ماسخوتن کښې وړاندې والي او په نورو کښې وروسته والي مستحب دى-

**قال الحصكفي: و المستحب للرجل (الابتداء) في الفجر (باسفار و الختم به) هو المختار بحيث يرتل اربعين آية. ثم يعيده بطهارة لو فسد و قيل يؤخر جدا لان الفساد موهوم (الالحاج بمزدلفة) فا لتغليس افضل كمرأة ملطقاً و في غير الفجر الافضل لها انتظار فراغ الجماعة (و تاخير ظهر الصيف) بحيث يمشي في الظل (مطلقا) . تاخير العصر صيفاً وشتاء توسعة للنوافل (ما لم يتغير ذكاء) بان لا تحار العين فيها في الاصح (و) تاخير عشاء الى ثلث الليل الى آخره. و المستحب تعجيل ظهر الشتاء يلحق به الربيع و با**

لصيف الخريف و تعجيل عصر و عشاء يوم غيم. . تاخير غيرهما فيه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٣٦٦ تا ٣٦٩، كتاب الصلوة) يستحب تأخير الظهر في الصيف و تعجيله في الشتاء و في الهندية: يستحب تاخير الفجر و لا يؤخرها بحيث يقع الشك في طلوع الشمس بل يسفر بها. و يستحب تاخيرالظهرفي الصيف وتعجيله في الشتاء..... و يستحب تاخير العصر في كل زمان ما لم تتغير الشمس. ... و يستحب تعجيل المغرب في كل زمان كذا في الكافي.. ...... و كذا تاخير العشاء الى ثلث الليل و الوتر الى آخر الليل لمن يثق با لانتباه..... و في يوم الغيم ينور الفجر كما في حال الصحو و يؤخر الظهر لئلا يقع قبل الزوال – يعجل العصر خوفا من ان يقع في الوقت المكروه و يؤخر المغرب حذراً عن الوقوع قبل الغروب و يعجل العشاء كي لايمنع مطر او ثلج عن الجماعة. (الهندية ج١، ص٥١ تا ٥٢، كتاب مواقيت الصلوة) و مثله في شرح الوقاية ج – ص٤٨، كتاب الصلوة)

## د مازديگر په لمانځه کښې د ځنډ (تاخير) اندازه

الاستفتاء: د مازديگر په لمانځه کښې فقهاوو ځنډ (تاخير) مستحب بللي دی- ليکن د دې ځنډ اندازه به څومره وي؟ په دې باره کښې که معلومات راکړي نو ډيره مهرباني به مو وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: د مازديگر په لمانځه کښې له شک او شبهې پرته ځنډ مستحب دی- ليکن دومره ځنډ کوم چه د لمر تر اصفرار (زيړ والي) پورې ورسيږي مکروه تحريمي دی. په لمر باندې د زيړوالي د آثارو له ښکاريد و مخکښې مخکښې بايد د مازديگر له لمانځه څخه فارغ شي-

قال الحصكفي: (و) آخر (العصر الى اصفرار ذكاء) فلو شرع قبل التغير فمده اليه لا يكره. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص٣٦٨، كتاب الصلوة) قال ابن نجيم: (قوله و العصر ما لم تتغير اطلقه فشمل الصيف و الشتاء لما في ذلك من تكثير النوافل لكراهتها بعد العصر و اراد با لتغير ان تكون الشمس بحال لا تحار فيها العيون على الصحيح فان تاخيرها اليه مكروه لا الفعل لانه مامور بها منهى عن

ترکها فلا یکون الفعل مکروها کذا في السراج. (البحر الرائق ج۱، ص۲٤۷، مواقیت الصلوة) و مثله في الهندیة ج۱ ، ص ٥۳ ، مواقیت الصلوة) کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص ۳۸۱

## : د ماسپښین د لمانځه وخت

الاستفتاء: په مثل ثاني (دوه چنده سیوري) کښې د ماسپښین د لمانځه ادا کول په اداء کښې راځي او که په قضاء کښې؟ په داسې حال کښې چه د ځینو خلکو گومان دي چه امام صاحب د مثل ثاني له قول څخه رجوع کړې وه. لهذا په مثل ثاني کښې ادا شوي لمونځ په ادا کښې نه حسابیږي بلکه قضاء دی. د دې خبرې حقیقت څرگند کړی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د محققینو احنافو له کتابونو څخه دا خبره ثابتیږي چه په مثل ثاني کښې د ماسپښین د لمانځه اداکول په اداء کښې حسابیږي او قضاء نه وي او دا خبره کومه چه په خلکو کښې مشهوره ده چه امام صاحب له خپل قول څخه رجوع کړې ده هیڅ حقیقت نه لري بلکه دا یوه افتراء ده. البته احتیاط په دې کښې دي چه لمونځ تر مثل ثاني مخکښې اداشي-

قال ابن عابدین: (قوله الی بلوغ الظل مثلیه) هذا ظاهر الروایة عن الامام نهایة و هو الصحیح بدائع و محیط و ینابیع و هو المختار و غیاثیة و اختاره الامام المحبوبي و عول علیه النسفي و صدر الشریعة تصحیح قاسم و اختار اصحاب المتون و ارتضاه الشارحون قول الطحاوي و بقولهما ناخذ لا یدل علی انه المذهب و ما في الفیض من انه یفتي بقولهما في العصر و العشاء مسلم في العشاء فقط علی ما فیه و تمامه في البحر. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ۱، ص ۳٥۹، کتاب الصلوة) قال ابن نجیم: (قوله و الظهر من الزوال الی بلوغ الظل مثلیه سوی الفيء) ای وقت الظهر ...... و الاولی قول ابي حنیفة قال في البدائع انها المذکورة في الاصل و هو الصحیح و في النهایة انها ظاهر الروایة عن ابي حنیفة و في غایة البیان و بها اخذ ابو حنیفة و هو المشهور عنه و في المحیط و الصحیح قول ابي حنیفة و في الینابیع و هو الصحیح عن ابي حنیفة و في تصحیح القدوري للعلامة قاسم ان برهان الشریعة المحبوبي اختاره و عول علیه النسفي. (البحر الرائق ج۱، ص ۲٤٥، کتاب الصلوة)

## د لمر نه ډوبيدو په حالت کښې د لمانځه حکم

الاستفتاء: کله کله د مغرب خوا ته د سفر کولو په وخت کښې د لمر ډوبيدل نه تر سترګو کيږي، په د اسې حالت يا د اسې ملکونو کښې چېرته چه لمر بالکل نه ډوبيږي د لمانځه ادا کولو حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په کومو ځايونو کښې چه د لمر د نه ډوبيدو له وجهې د شپې او د ورځې فرق نا ممکن وي نو د نژدې ملکونو وختونو ته په اعتبار ورکولو سره په څلور ويشتو ساعتونو کښې د پنځو لمونځونو د ادا کولو اهتمام ضروري دی۔ البته که چېرته د سفر په حالت کښې وخت ممتد نه وي او د لمر د ډوبيدلو امکان وي نو بيا د لمر په ډوبيدو کښې د څنډ له وجهې د لمانځه په وخت باندې کوم اثر نه لوېږي۔

قال العلامة الحصكفي: (وفاقد وقتهما) كبلغار فان فيها يطلع الفجر قبل غروب الشفق في اربعينية الشتاء. مكلف بهما فيقدر لهما و لا ينوى القضاء لفقد وقت الاداء به افتى البرهان الكبير، و اختاره الكمال، و تبعه ابن الشحنة في الغازه فصححه فزعم المصنف انه المذهب. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۳۶۲، كتاب الصلوة) لما اخرجه الامام مسلم بن حجاج القشيري. عن النواس بن سمعان حديثاً طويلاً ...... ما لبثه في الارض قال اربعون يوما. يوم كسنة و يوم كشهر و يوم كجمعة و سائر ايامه ما كايامكم قلنا يا رسول الله فذلك اليوم الذي كسنة اتكفينا فيه صلوة يوم قال لا اقدروا له قدرة .... الخ. (الصحيح المسلم ج ۲، ص ۴۰ ، باب ذكر الدجال كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۸۲

## د زوال وخت

الاستفتاء: زه يو طالب علم يم او د تعليم په غرض سره يو ښار ته راغلي يم، دلته يوه خبره ډېره مختلف فيه ده. او هغه دا چه زمونږ د جومات امام صاحب وايي چه د ماسپښين د لمانځه وخت په ۱۱:۵۵ بجو شروع کيږي په د اسې حال کښې چه لمونځ په دولس نيمو بجو باندې کوي – آيا مونږ د دې مولوي صاحب د خبرې د منلو په صورت کښې په دولس نيمو بجو لمونځونه کولي شو او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصليا: د زوال وخت د موسم په بدليدو سره بدليږي او د ځاي د اختلاف له وجهې د زوال په وخت کښې هم اختلاف پيدا کيږي. پلټنه وکړي او دا څرګنده کړي چه د زوال وخت په دې وخت کښې زمونږ په ښار کښې کوم يو دی؟ زمونږ په ښارونو کښې چه کوم د ماسپښين لمونځ ادا کيږي نو په مستحب وخت کښې ادا کيږي که چېرته ئې څوک د مستحب تر وخت مخکښې ادا کړي نو د زوال وخت چه معلوم کړي نو بيا ئې ادا کولي شي. البته د زوال په وخت کښې د ماسپښين د لمانځه ادا کول مکروه تحريمي دي-

.....و الزوال ظهور زيادة الظل لكل شخص في جانب المشرق كذا في الكافي و طريق معرفة زوال الشمس و فيء الزوال ان تغرز خشبه مستوية في ارض مستوية فما دام الظل في الانتقاض فا لشمس في حد الارتفاع و اذا اخذالظل في الازدياد علم ان الشمس قد زالت فا جعل على رأس الظل علامة فمن موضع العلامة الى الخشبه يكون فيء الزوال. (الهندية ج ۱، ص ۵۱، الفصل الاول في اوقات الصلوة) ثلاث ساعات لا تجوز فيها المكتوبات...... و عند الانتصاف الى ان تزول. (الهندية ج۱، ص ۵۲، الفصل الثالث في بيان الاوقات التي لا تجوز فيها الصلوة و تكره فيها) – قال ابن نجيم: و في معرفة الزوال روايات اصحها ان يغرز خشبه مستوية في ارض مستوية و يجعل عند منتهى ظلها علامة فان كان الظل ينقص عن العلامة فالشمس لم تزل و ان كان الظل يطول و يجاوز الخط على انها زالت و ان امتنع الظل من القصر و الطول فهو وقت الزوال كذا في الظهيرة. (بحر الرائق ج۱، ص ۲٤۵، باب كتاب الصلوة) و منع عن الصلوة و سجدة التلاوة الجنازة عند الطلوع و الاستواء. ( ج ۱، ص ۲٤۹ ، باب الاوقات)

## د مکروه وختونو د اندازې حکم

الاستفتاء: د لمر د راختو او ډوبيدو په دوران کښې د مکروه وختونو اندازه څومره ده؟

الجواب حامداً ومصليا: فقهاء کرامو په دغو وختونو کښې د مکروه د وخت د پيژندګلوي دا علامه ليکلې ده چه د لمر د راختو يا ډوبيدو په وخت کښې چه کله لمر ته وکتل شي نو تر څنګه پورې ور کتلي شي او سترګو ته ئې کوم تکليف محسوس نه شي په دې شرط چه آسمان با لکل صاف وي، وريځ او د اسې نور نه وي، نو دا د مکروه وخت دی، تخميني

اندازه ئې داده چه کله.کله لمر د يوه رمح (نيزه، کوم چه دولس لويشتې وي) په اندازې سره پورته شي نو له هغه وروسته لمونځ کول جائز دي. له دې څخه مخکښې وخت د مکروه وخت دی. او د لمر د ډوبيدو په دوران کښې چه کله تر يوه رمح (نيزې) څخه په کمې اندازې سره غره ته نژدې شي نو مکروه وخت شروع کيږي.په دې وخت کښې يوائځې د هم هغې ورځ د مازديګر د لمانځه ادا کول جائز دي نور لمونځونه جائز نه دي-

قال العلامة الحصكفي: و تاخير عصر صيفا و شتاء توسعة للنوافل ما لم يتغير ذكاء بان لا تحار العين فيها في الأصح، قال ابن عابدين: (تحت قوله في الاصح) صححه في الهداية و في الظهيرية ان امكنه الحالة النظر فقد تغيرت و عليه الفتوى و في النصاب و غيره و به ناخذ و هو قول ائمتنا الثلاثة والمشائخ بلخ و غيرهم.. للغروب اقل من رمح. (رد المحتار ج ١، ص ٣٦٧، كتاب الصلوة، اوقات الصلوة)قال ابن عابدين: ايضاً (تحت قوله مع شروق) ما دامت العين لا تحار فيها فهي في حكم الشروق كما تقدم في الغروب انه الاصح كما في البحر...... اقول ينبغي تصحيح ما نقلوه عن الاصل للامام محمد من انه ما لم ترتفع الشمس قدر رمح فهي في حكم الطلوع لان اصحاب المتون مشوا عليه في صلوة العيد حيث جعلوا اول وقتها من الارتفاع و لذا جزم به في الفيض و نور الايضاح. (رد المحتار ج١، ص٣٧١، كتاب الصلوة، اوقات الصلوة) قال ابن نجيم: و ذكر في الاصل ما لم ترتفع الشمس قدر رمح فهي في حكم الطلوع و اختار الفضلي ان الانسان ما دام يقدر على النظر الى قرص الشمس في الطلوع فلا تحل الصلوة فاذا عجز عن النظر حلت. (البحر الرائق ج١، ص ٢٥٠، كتاب الصلوة، باب المواقيت)و في الهندية: و عند احمرارها الى ان تغيب الا عصر يومه ذلك فانه يجوز ادائه عند الغروب. (الفتاوى الهندية ج١، ص ٥٢ ، الفصل الثالث في بيان الاوقات التي لا تجوز فيها الصلوة)

## د لمر د استواء په وخت کښې د مکروه د وخت اندازه

الاستفتاء: د لمر د استواء په وخت کښې د مکروه وخت د اندازې په باره کښې خلک مختلفي رأيي لري، ځينې خلک ئې دوه درې دقيقې او ځينې ئې شل پنځه ويشت دقيقې بولي. له دې څخه په زړه کښې شکونه او شبهې پيدا کيږي. نو په دې صورت کښې د مکروه د وخت صحيح اندازه د شرعي له مخې بيان کړئ؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په زوال کښې زيات وخت نه لګيږي او نه کوم تاکلي وخت لري، نوځکه مناسبه دا ده چه له نصف النهار (د ورځې له نيمايي) څخه څو دقيقې مخکښې او څو دقيقې وروسته د لمانځه له اداکولو څخه بايد ډډه وکړی هکذا في فتاوي محمودية (ج۲، ص۲۳۷)

قال الشيخ المحقق محمد يوسف الدهيانوی: په زوال کښې له نهو دقيقو څخه زيات وخت نه لګيږي ليکن د احتياط له مخې له نصف النهار څخه پنځه دقيقې مخکښې او پنځه دقيقې وروسته له لمانځه څخه بايد ډډه وکړی. (ستاسو مسائل او د هغو حل ج۲، ص۱۰۵، باب اوقات نماز) کذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۸۴

## په مکروه وختونو کښې د جنازې د لمانځه او د تلاوت د سجدې حکم

الاستفتاء: په مکروه وختونو يعنې د لمر د راختو، د لمر د ډوبيدو او د لمر د استواء په وختونو کښې د جنازې لمونځ او د تلاوت سجده جائزه ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته خاص په مکروه وختونو کښې د جنازې لمونځ تيار شي يا د تلاوت سجده په چا واجبه شي نو بيا په همدغو وختونو کښې د جنازې د لمانځه او د تلاوت د سجدې ادا کول له کراهيت پرته جائز دي. البته که چېرته جنازه له مخکښې څخه تياره شوې وي يا سجده تلاوت له مخکښې څخه په چا واجبه شوې وي نو بيائې په همدغو مکروه وختونو کښې اداکول مکروه تحريمي دي.

قال العلامة الحصكفي: وكره صلوة مطلقاً و لو قضاء او واجبة او نفلا او على جنازة و سجدة تلاوت و سهولا شكر قنية مع شروق و استواء و غروب الا عصر يومه..... و سجدة تلاوة و صلوة جنازة تليت في كامل و حضرت الجنازة قبل لوجوبه كاملاً فلا يتأدى ناقصاً فلو وجبتا فيها لم يكره فعلها اى تحريماً و في التحفة الأفضل ان لا تؤخر الجنازة. قال ابن عابدين: (تحت قوله في التحفة الخ) فثبت كراهة التنزيهة في سجدة التلاوة دون صلوة الجنازة. (رد المحتار ج ١، ص ٣٧٠، تا ٣٧٤، كتاب الصلوة، الاوقات) و في الهندية: ثلاث ساعات لا تجوز فيها المكتوبة و لا صلوة الجنازة و لا سجدة التلاوة....... هذا اذا وجبت صلوة الجنازة و سجدة التلاوة في وقت مباح و اخرتا الى هذا الوقت فانه لا يجوز قطعا اما لو وجبتا في

هذا الوقت و اديتا فيه جاز لانها اديت ناقصة كما وجبت...... لكن الافضل في سجدة التلاوة تأخيرها و في صلوة الجنازة التاخير مكروه. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۵۲ ، الفصل الثالث في بيان الاوقات التي لا تجوز فيها الصلوة و تكره فيها) و مثله في البحر الرائق ج ۱، ص۲٤۹، مواقيت الصلوة)

## د سهار او مازديگر تر لمونځونو وروسته د قضاء د لمونځونو حکم

الاستفتاء: آيا د سهار له راختو وروسته د لمر ترختو پورې او د مازديگر تر لمانځه وروسته د لمر تر ډوبيد و پورې د قضايي لمونځونو اداکول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د سهار له راختو وروسته او د سهار تر لمانځه مخکښې يواځې دوه رکعته سنت دي. له دغو دوو رکعتو پرته نور نفلي لمونځونه جائز نه دي بلکه مکروه تحريمي دي او نه د مازديگر تر لمانځه وروسته نفل لمونځونه جائز دي. البته د قضائي لمونځونو په اداکولو کښې کومه بدي نشته-

لما قال العلامة الحصكفي: و كره نفل قصداً و لو تحية مسجد و لو سنة الفجر بعد صلوة فجر وصلوة عصر و لو المجموعة بعرفة و لا يكره قضاء فائتة و لو وتراً. الخ. قال ابن عابدين: (تحت قوله و كره نفل) و الكراهية ههنا تحريمية ايضاً كما صرح به في الحلية. و لذا عبر في الخانية و الخلاصة. بعدم الجواز و المراد عدم الحل لا عدم الصحة كما لا يخفى. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۷٤، كتاب الصلوة، اوقات الصلوة)قال العلامة ابراهيم الحلبي: و اما الوقات الأخران.. ..... فانه يكره فيهما التطوع فقط و لا يكره فيهما .. و هما اى الوقتان المذكوران ما بعد طلوع الفجر الى ان ترتفع الشمس فانه يكره في هذا الوقت النوافل . و ما بعد صلوة العصر الى غروب الشمس لحديث ابن عباس. (كبيري ص۲۳۸، كتاب الصلوة، الشرط الخامس) و مثله في البحر الرائق ج ۱، ص ۲۵۱ ، اوقات الصلوة) كلها الآسنة الفجر..

## په حرمــــين شريفينو کښې له مثلينو څخه مخکښې د مازديګر د

.الاستفتاء: خلک چه کله د حج يا عمرې لپاره حرمين شريفينو ته ځي نو هلته د مازديګر لمونځ تر مثلينو مخکښې اداکيږي، نو ايا مونږ له هغو سره د جمعې په لمانځه کښې د شريکيدو په صورت کښې د مازديګر لمونځ ورسره ادا کولې شو او که به تر مثلينو پورې په انتظار کوو؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا او مصليا: د مازديګر لمونځ له مثلينو څخه وروسته اداکول افضل دي اګر که د جمعې د لمانځه د فوت کيدو انديښنه هم موجوده وي- ليکن دا حکم د نورو عامو ځايونو لپاره دی. د حرمين شريفينو د حرمت او فضيلت له وجهې بايد چه د جمعې په لمانځه کښې شريک شي او تر مثلينو پورې ځنډول ئې ضروري نه دي. بلکه په حرمين شريفينو کښې د جمعې د لمانځه اداکول افضل دي-

**قال العلامة ابن عابدين: (و عليه عمل الناس يوم) و انظر هل اذا لزم من تاخيره العصر إلى المثلين فوت الجماعة يكون الاولى التاخير ام لا؟ و الظاهر الاول بل يلزم لمن اعتقد رجحان قول الامام. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۵۹، كتاب الصلوة، أوقات الصلاة**

## د روژې د ماتولو له وجهې د ماښام په لمانځه کښې د ځنډ حکم

الاستفتاء: په رمضان المبارک کښې د روژې د ماتولو له وجهې خلک د ماښام په لمانځه کښې تاخير کوي. آيا د افطارې له وجهې د ماښام په لمانځه کښې تاخير جائز دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا او مصليا: د ماښام په لمانځه کښې د دوه رکعتونو لمانځه په اندازه تاخير کول په اتفاق سره جائز دي. له دې څخه زيات تاخير مکروه تنزيهي دی. البته په رمضان المبارک کښې چه کله لوږه زياته وي نو څو دقيقې ځنډ جائز دی. په دې شرط چه دا ځنډ د ستورو د تعداد په ډيروالي کښې تر ځليد و پورې و نه رسيږي. د دې لپاره چه د لوږې په حالت کښې لمونځ مکروه دی-

**قال العلامة الحصكفي: كره اي التاخير لا الفعل لانه مأمور به تحريماً الا بعذر كسفر و كونه على اكل. قال ابن عابدين: (تحت قوله الا بعذر) و عبارته الا من عذر كسفر و مرض و حضور مائدة او غيم. (رد المحتار**

ج۱، ص۳٦۹) كتاب الصلوة، اوقات الصلوة)قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: و اما المغرب فيكره تاخيرها اذا غربت الشمس و في السراجية الا بعذر السفر او بان كان على المائدة. (فتاوى تاتارخانية ج۱ ، ص ٤٠٦ ،كتاب الصلوة، مواقيت الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۸٦

## د مابنام او د ماسخوتن تر منځ د وخت د تعين حکم

الاستفتاء: نن صبا په جوماتونو کښې د لمانځه لپاره د ائمي جنترۍ وي او خلک د هغې په مطابق د لمونځونو وختونه بدلوي، له هغو څخه په ځينو جنتريو کښې د مابنام او ماسخوتن تر منځ وخت پاو کم دوه ساعتونه او په ځينو کښې يو نيم ساعت ليکلي وي. اوس پوښتنه دا ده چه د مابنام او ماسخوتن تر منځ صحيح وخت څومره دی؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: د مابنام او ماسخوتن تر منځ کوم تاکلي وخت نه دي تاکل شوی، البته د مفتي به قول له مخې د سره شفق له ډوبيد و وروسته د ماسخوتن وخت د اخليږي. په داسې حال کښې چه د استواء د خط په منځني ځاي باندې په معتدلو ورځو کښې له پنځه څلويښتو دقيقو وروسته سور شفق ډوبيږي. او تر ۵۷ دقيقو وروسته سپينوالي ډوبيږي، په نورو ځايونو کښې له دې څخه زيات وخت هم کيداي شي چه واخلي. او د دې زياتوالي هيڅ حد نشته البته د مابنام د آذان تر پاو باندې يوه ساعت وروسته بايد د ماسخوتن آذان وشي۔

قال العلامة الحصكفي: و وقت المغرب منه الى غروب الشفق و هو الحمرة عندهما و به قالت الثلاثة و اليه رجع الامام كما في شروح المجمع و غيرهما فكان هو المذهب. قال ابن عابدين: (تحت قوله اليه رجع الامام) اي الي قولهما الذي هو رواية عنه ايضاً و صرح في المجمع بان عليها الفتوى. (رد المحتار ج۱، ص ۳٦۱، اوقات الصلوة، مطلب في الصلوة الوسطى)و في الهندية: و وقت المغرب منه الى غيبوبة الشفق و هو الحمرة عندهما و به يفتى. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۰۵۱ الباب الاول في المواقتى، الفصل الاول في اوقات الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج ۱، ص ٤٦ ۲ ، مواقيت الصلوة)

## له نيمي شپې وروسته د ماسخوتن د لمانځه د اداکولو حکم

الاستفتاء: مونږ په عامو کتابونو کښې ويلي دي چه د ماسخوتن د لمانځه وخت د شفق له ډوبيدو څخه د سهار تر را ختو پورې دي يعني په دې دوران کښې د ماسخوتن د لمانځه اداکول جائز دي ليکن په "مجموعه الفتاوي اردو ج۱، ص۲۰۱ (ايچ ايم سعيد کراچي) له مطالعې څخه څرګنديږي چه له نيمي شپې وروسته د ماسخوتن د لمانځه ادا کول مکروه تحريمي دي او سهار ته ئې بيرته را ګرځول واجب دي، کوا که له نيمي شپې وروسته مونځ نه کيږي په د اسې حال کښې چه دا وخت خو د لمانځه وخت دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د ماسخوتن لمونځ تر نيمي شپې پورې په ځنډولو کښې د علماوو اختلاف دي د ځينو په نزد تر نيمايي شپې پورې ئې مؤخر کول مکروه تحريمي دي، او کوم لمونځ چه له مکروه تحريمي سره ادا شي د هغه بيرته را ګرځول واجب وي، او د ځينو په نزد مکروه تنزيهي دي، د دې علت د جمعې د لمانځه تقليل دي، د تنزيهي کراهت معاد خلاف اولي دی، او همدا رايه راجحه او مفتي به ده، د دې لپاره له نيمي شپې وروسته د ماسخوتن لمونځ کيدلی شي او بيرته را ګرځول ئې واجب نه دي يوائې د اولي خلاف دی۔

لما قال العلامة الحصكفي: فان اخرها ما زاد على النصف كره لتقليل الجماعة...... قال ابن عابدين: (تحت قوله كره اي تحريماً كما يأتي تفيده في المتن او تنزيها و هو الاظهر كما نذكره عن الحلية. (رد المحتار ج۱، ص۳۹۸، كتاب الصلوة، اوقات الصلوة) ايضاً و قال ابن عابدين: (تحت قوله الماتن اى تحريما) كذا في البحر عن القنية لكن في الحلية ان كلام الطحاوي يشير الى ان الكراهة في تاخير العشاء تنزيهية و هو الاظهر. (رد المحتار ج ۱، ص ۲٦۹، كتاب الصلوةاوقات الصلوة) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: و في الغياثية الا اذا كان فيه لفرق الجماعة و بعده الى نصف الليل مباح غير مكروه. قال الطحاوي: و بعد :نصف ، الليل الى طلوع الفجر مكروه اذا كان التاخير بغير عذر. (الفتاوى التاتارخانية ج ۱، ص ٤٠٦، كتاب الصلوة، المواقيت)

## د تهجد وخت کله شروع کیږي

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! زه د تهجد لمانځه سره ډیر شوق لرم لیکن د خوب د غلبې له وجهې له صبح صادق څخه مخکښې پاڅیدل راته ډیر مشکل وي. که چیرته زه له نیمې شپې وروسته تهجد وکړم او ویده شم نو آیا زما د تهجد لمونځ کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا او مصلیا: د تهجد د وخت په باره کښې اګر که مختلف روایتونه راغلي دي لیکن روایت دا دي چه له نیمې شپې وروسته د تهجد وخت شروع کیږي، که چیرته څوک له نیمې شپې وروسته دوه یا څلور رکعتونه ادا کړي نو تهجد ئې ادا کیږي که بیرته ویده شي او که نه؟ البته له خوبه وروسته د تهجد وادا کول افضل دي۔

لما قال العلامة شاه عبد العزيز الدهلوی: اول وقت آن بعد از نصف شب است سواء سبقه النوم ام لا. (فتاوي عزیزي ص ۵، کتاب الصلوة) لما قال المفتی عبد الرحیم لاجپوری: غوره مذهب دا دي چه د تهجد وخت له نیمې شپې څخه وروسته شروع کیږي که له دې څخه مخکښې ویده وي او که نه. هو! له ویده کیدو وروسته په را پورته کیدو سره د تهجد ادا کول بهتر دي۔ (فتاوي رحیمیه ج ۴، ص۲۸۳، باب اوقات الصلوة ) کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص ۳۸۸

## د ماښام د وخت اندازه

الاستفتاء: د ماښام په لمانځه کښې د تعجیل افضل والي ته په کتو سره خلک په فریب کښې لویږي چه د ماښام وخت ډیر لنډ دی. نو آیا د ماښام د لمانځه د وخت اندازه باید څومره وي

الجواب حامدا او مصلیا: د ماښام وخت د حنفي فقهې مطابق د لمر له ډوبیدو څخه شروع کیږي او د سره شفق تر ډوبیدو پورې دوام کوي. او د امام صاحب په نزد د سپین شفق تر ډوبیدو پورې دوام کوي د ماښام وخت د موسم او علاقه جاتو د لرې والي او نژدې والي له وجهې متاثر کیږي تر دې پورې چه په ځینو علاقو کښې یو ساعت، په ځینو کښې یو ساعت او درې دقیقې، په ځینو کښې یو ساعت او پنځلس دقیقې او په ځینو علاقو کښې یو ساعت او شل دقیقې وي. په عمومي توګه د ماښام او ماسخوتن تر منځ باید یو نیم ساعت وخت ورکړي شي۔ البته د ماښام لمونځ باید د سره شفق تر ډوبیدو

مخکښې ادا شي تر څو چه په اختلاف کښې څوک و نه لويږي، البته مسافر يا بل د عذر څښتن لپاره په سپين شفق کښې هم د ماښام لمونځ ادا کول مرخص دي-

قال العلامة الحصكفي: (و) وقت (المغرب منه الى) غروب (الشفق و هو الحمرة) عندهما و به قالت الثلاثة و اليه رجع الامام كما في شروح المجمع و غيرها فكان هو المذهب (و) وقت (العشاء و الوتر منه الى الصبح)، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۳۶۱، كتاب الصلوة) و وقت المغرب منه الى غيبوبة الشفق و هو الحمرة عندهما وبه يفتي هكذا في شرح الوقاية و عند أبي حنيفة الشفق هو البياض الذي يلي الحمرة هكذا في القدوري و قولهما اوسع للناس و قول أبي حنيفة احوط لان الأصل في باب الصلوة ان لا يثبت فيها ركن و لا شرط الا بما فيه يقين كذا في النهاية ناقلاً عن الاسرار و مبسوط شيخ الاسلام و وقت العشاء و الوتر من غروب الشفق الى الصبح كذا في الكافي. (الهندية ج ۱، ص ۵۱، الباب الاول في المواقيت)

## ﴿باب الآذان و الاقامة﴾

### د آذان شرعي حکم

الاستفتاء: د اذان شرعي حکم څه دی؟ او د کومو کومو لمونځو لپاره بايد آذان وشي؟

الجواب حامداً و مصلياً: آذان ورکول د پنځه وخته لمونځونو او جمعې د لمانځه لپاره سنت مؤکده دي. فقهاء کرامو ليکلي دي چه که چېرته ټول قوم په اتفاق سره آذان پرېږدي نو له هغو سره دې قتال (جنګ) وشي، البته له پنځو لمونځونو او جمعې لمانځه څخه پرته د نورو لمونځونو لپاره لکه کسوف، خسوف، تراويح، جنازه او د اسې نورو لپاره آذان نه ورکول کيږي-

لما قال العلامة الحصكفي: و هو سنة للرجال في مكان عال مؤكدة هي كا لواجب في لحوق الاثم للفرائض الخمس في وقتها و لو قضاء لانه سنة للصلوة حتى يبرد به لا للوقت لا يسن لغيرها كعيد. قال

ابن عابدين: (تحت قوله كعيد) اي وتر و جنازه و كسوف و استسقاء و تراويح الخ. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۸٤، باب الآذان، مطلب في المواضع التي يندب لها اذان)قال العلامة صدر الشريعة: و هو سنة للفرائض الخمس و الجمعة و ليس بسنة في النوافل. قال العلامة عبد الحي الكهنوی: (تحت قوله و ليس بسنة في النوافل) اراد با لنوافل ما سوی الفرائض فان كل ما وراء الفرائض نافلة ای ائدة عليها. (السعاية ج ۲، ص ۹، باب الآذان) و مثله في مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۱۵٦ ، باب الآذان) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص ۳۹۰

## په یوه وخت کښې د آذان تعدد

الاستفتاء: زمونږ په ښار کښې يو جومات د اسې دي چه په هغه کښې د ماسخوتن تر آذ ان وروسته له اقامت څخه مخکښې تول لمونځ کوونکي له امام سره په لومړي صف کښې پخپلو پخپلوځايونو کښې دريږي او آذان ورکوي او د جومات په څلورو کونجونو کښې پوکي کوي، له هغه وروسته بيا اقامت وايي او په لمانځه باندې شروع کوي، آيا د شريعت له مخې د اسې کول جائز دي او کوم ثبوت ئې شته او که نه؟ او د داسې کولو حکم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا : د ماسخوتن د آذان او اقامت تر منځ څو څو واره د آذان د کولو شرعاً کوم ثبوت نشته. دا له ځانه يو جوړ شوي رواج او بدعت دی-آذان يوائې د فرض لمانځه لپاره روا دي او له هغه پرته د آذان سنت و الي ثابت نه دی

.قال العلامة الحصكفي: لأنه سنة للصلوة حتى يبرد به لا للوقت (لا) يسن (لغيرها) كعيد. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ۲۸٤، باب الآذان، كتاب الصلوة) و في الهندية: الآذان سنة لاداء المكتوبات با لجماعة كذا في فتاوي قاضي خان و ليس لغير الصلوة الخمس ( الجمعة نحو السنن و الوتر الى آخره. (الهندية ج ۱، ص ۵۳، باب الآذان)

## د ظالم سړي د آذان حکم

الاستفتاء: يو سړي پخپله هم ظالم دي او زوي ئې هم د کوم جرم په بدل کښې نيول شوي دى. د هغه د خلاصون لپاره ئې رشوت ورکړي دي او هغه ئې خلاص کړي دی. داسړي په مستقله توګه د يوه جومات مؤذن هم دى. هيچا ته اجازه نه ورکوي چه آذان وکړي، آيا د داسې سړي آذان صحيح دي او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: ظلم کول او رشوت ورکول د فسق کارونه دي. د داسې سړي آذان مکروه تحريمي دى. البته د داسې سړي په آذان باندې لمانځه کښې کوم فرق نه راځي او نه د لمانځه يرته راګرځول واجب دي. په د اسې حال کښې چه په د اسې آذان باندې د جمعې لمونځ هم اداکيږي- البته د آذان يرته راګرځول مستحب دي

----قا العلامة الحصكفي: و يكره اذان جنب و اقامته و اقامة محدث لا اذانه على المذهب (و) اذان (امرأة) و خنثي (و فاسق) و لو عالماً لكنه اولى بامامة و اذان من جاهل تسقي .. و يعاد اذان الجنب ندباً. قال ابن عابدين (يعاد اذان جنب زاد القهستاني و الفاجر و الراكب و القاعد....... الخ. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۹۲/۳۹۳، باب الآذان) قال ابن نجيم: تحت هذا القول (و كره آذان ....... و الفاسق) و اما الفاسق فلان قوله لا يوثق به و لا يقبل في الامور الدينية و لا يلزم احداً فلم يوجد الاعلام....... صرح بكراهة اذان الفاسق و لا يعاد فا لاعادة فيه ليقع على وجه السنة. (البحر الرائق ج ۱، ص ۲٦۳ ، باب الآذان) و مثله في فتح القدير ج ۱، ص ۳۲۰، باب الاذان) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۹۱

## د آذان په ځواب کښې د درود شريف د لوستلو حکم

الاستفتاء: ځيني خلک د آذان په ځواب کښې درود شريف لولي، آيا د درود شريف لوستل د آذان په ځواب کښې سنت دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د درود شريف لوستل يو ښه کار دي ليکن د آذان په ځواب کښې د درود شريف د لوستلو کوم ثبوت نشته بلکه د آذان په ځواب کښې اجابت سنت دي يعني کومه کلمه چه له آذان کوونکي څخه واوري هغه به

اوريدونكي هم وايي. البته په څو کلمو کښې به اختلاف په نظر کښې نيسي او د آذان ځواب به ورکوي. او که چېرته چا درود شريف ولوستلو نو پروا نه لري. هو! له آذان څخه وروسته او له دعا څخه مخکښې د درود شريف لوستل سنت دي

- لما قال النبي صلى الله عليه وسلم اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول ثم صلوا علي فانه من صلى علي صلوة صلى الله عليه بها عشرا. (صحيح مسلم ج١، ص١٦٦) و في الهندية: يجب على السامعين عند الآذان الاجابة وهي ان يقول مثل ما قال المؤذن الا في قوله حي على الصلوة حى على الفلاح فانه يقل مكان حي على الصلوة و الفلاح لا حول و لا قوة الا بالله العلى العظيم. الى آخره (الفتاوى الهندية ج١ ، ص ٥٧، الفصل الثاني في كلمات الاذان) وصفه الإجابة ان يقول كما قال اى مثل الفاظ المؤذن (و) لكن (حوقل) اى قال لا حول و لا قوة الا بالله اي لا حول لنا عن معصية و لا قوة لنا على طاعة الا بفضل الله (في) سماعه والحيعلتين). (مراقي الفلاح على الطحطاوي ص١١٠) و مثله في رد المحتار ج ١، ص٣٩٨، باب الآذان)

## د اشهد ان لا اله الا الله په آخر کښې ها ها ويل

الاستفتاء: زمونږ په کلي کښې چه کله آذان ورکول کيږي نو ځين خلک د اشهد ان لا اله الا الله په آخر ها ها او د اسې نور الفاظ وايي نو د شريعت له مخې د د اسې الفاظو حکم څه دى؟ بينوا توجروا

الجواب حامداو مصليا: که چېرته د کوم لفظ د زياتوالي يا کموالي له وجهې په معني زيات تغير راشي نو د شريعت له مخې د اسې کول ناجائز دي. که چېرته د معني تغير پکښې رانه شي نو جائز دي. له نوموړي غلطى څخه اگر که په معني کښې فساد نه راځي ليکن بيا هم ځان ساتل ترې لازمي دي-

قال العلامة الحصكفي: و منها القرائة بالالحان ان غير المعنى و الا في حرف مد و لين فلو في اعراب او تخفيف مشدد و عكسه بزيادة حرف فاكثر. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٦٣٠، باب ما يفسد الصلوة) اما ان قرأ حرفاً مكان حرف او زاد حرفاً او قدم المؤخر او آخر المقدم و اما ان كان كلمة

او زاد كلمة او نقص او قدم او اخر و اما ان قرأ آية مكان آية او نقص او زاد و قدم المؤخر او اخر المقدم اما اذا قرأ حرفاً مكان حرف و لم يغيرالمعنى بان قرأ ان المسلمين ان المسلمون لا يفسد. (خلاصه الفتاوي ج ۱، ص ۱۰٦، الفصل الثاني عشر في زلة القاري)

## په آذان کښې د کومې کلمې د هیریدلو حکم

الاستفتاء: که چېرته په آذان کښې کومه کلمه له چا څخه هیره شي او وروسته ورپه زړه شي نو د د به څه حکم وي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامداً ومصلیا: که چېرته کومه کلمه په هیره سره پاتې شي او یا وړاندې والي او وروسته والی ترې وشي نو د اذان له ختمیدو څخه مخکښې دې بیرته صحیح کړي او پاتې آذان دې په ترتیب سره وکړي. البته که چېرته ئې غلطي له آذان څخه وروسته ورته معلومه شي او د خبرې کولو له وجهې ئې هغه غلطي ورته ځرګنده نه شي نو بیرته دې را وګرځوي-

قال العلامة الحصكفي: و لو قدم فيهما مؤخراً اعاد ما قدم فقط (و لا يتكلم فيهما) اصلا و لو رد السلام فان تكلم استانفه. (در مختار ج۱، ص۲۸٦، باب الآذان) اذا قدم في آذانه و اقامته شيئاً بان قال اولا اشهد ان محمداً رسول الله ثم قال اشهد ان لا إله الا الله فعليه ان يقول بعد كلمة الشهادة اشهد ان محمد رسول الله و اذا اذن و مكث ساعة ثم اخذ في الاقامة فظن انها اذان و صنع فيها ما صنع في الآذان فقيل له هذه اقامة فانه يستقبل الاقامة من اولها. (خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ٤٩ ، الفصل الاول في الآذان) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۹۲

## د آذان او اقامت لپاره د نبي طرف ټاکنه

الاستفتاء: په آذان او اقامت کښې په عمومي توګه د نبي طرف رعایت کیږي. ډیر واري په کیڼ طرف باندې د آذان په ورکولو یا د اقامت په ویلو باندې رتنه هم کیږي، د شریعت له مخې آیا د ا تعین صحیح دي او که څنګه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: د آذان او اقامت لپاره د كوم ځانګړي طرف تعين ضروري نه دى، البته بهتره دا د چه آذان په داسې ځاي كښې وركول شي له كوم ځاي ځخه چه خلك په كامله توګه آذان اوريدلي شي كه د جومات په بني طرف وي يا په كيڼ طرف۔

قال ابن عابدي : (قوله قال ابن عابدين: (قوله و يستدير في المنارة) يعني ان لم يتم الاعلام بتحويل وجهه مع ثبات قدميه و لم تكن في زمنه صلي الله عليه وسلم من بني المنائر مئذنة (بحر) قلت و في شرح الشيخ اسماعيل عن الاوائل للسيوطي ان اول من رقي منارة مصر للآذان شرحبيل بن عامر المرادي و بني سلمة المناير للآذان بامر معاوية و لم تكن قبل ذلك. و قال ابن ابن سعد با لسند الى ام زيد بن ثابت كان بيتي اطول بيت حول المسجد فكان بلال يؤذن فوقه من اول ما اذن الى ان بني رسول الله ﷺ مسجده فكان يؤذن بعد على ظهر المسجد و قد رفع له شيء فوق ظهره. (رد المختار علي در المختار ج ١ ، ص٣٨٥/٣٨٧، باب الآذان) و في الهندية: و السنة ان يؤذن في موضع عال يكون اسمع لجيرانه و يرفع صوته و لا يجهد نفسه......... ويقيم على الارض هكذا في القنية و في المسجد هكذا في البحر الرائق. (الهندية ج١، ص٥٥، باب الآذان) و مثله في البحر الرائق ج١، ص ٢٥٥ ، باب الآذان)

## د آذان او اقامت اهميت

الاستفتاء: د شريعت له مخې آذان او اقامت څه اهميت لري؟ كه چېرته د ستو په حوالې سره پريبنودل شي نو نتيجه به ئې څه وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداومصليا: آذان او اقامت د دين له اهمو كارونو ځخه دي. د ځينو په نزد سنت مؤكده دي او د ځينو په نزد واجب دي. كه چېرته ئې د كوم كلي خلك آذان او اقامت په دائمي توګه پريږدي نو له هغو سره د قتال د كولو حكم دی۔

قال ابن عابدين: (هي كا لواجب) بل اطلق بعضهم اسم الواجب عليه لقول محمد لو اجتمع اهل بلدة على تركه قاتلهم عليه و لو تركه واحد ضربته و حسبته و عامة المشائخ على الاول و القتال عليه لما انه من اعلام الدين و في تركه استخفاف ظاهر به. (رد المحتار ج ١، ص ٣٨٤، باب الآذان)قال ابن عابدين:

(هي کا لواجب) بل اطلق بعضهم اسم الواجب عليه لقول محمد لو اجتمع اهل بلدة على تركه قاتلهم عليه و لو تركه واحد ضربته و حبسته و عامة المشائخ على الاول و القتال عليه لما انه من اعلام الدين و في تر كه استخفاف ظاهر به. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۸٤، باب الآذان) قال ابن نجيم: (قوله سن للفرائض) اي سن الآذان للصلوة الخمس و الجمعة سنة مؤكدة قوية قريبة من الواجب حتى اطلق بعضهم عليه الوجوب و لهذا قال محمد لو اجتمع اهل بلد على تركه قاتلناهم عليه و عند ابي يوسف يحبسون و يضربون و هو يدل على تاكده لا على وجوبه لان المقاتلة لما يلزم من الاجتماع على تركه من استخفافهم با لدين بخفض اعلامه لان الآذان من اعلام الدين. (البحر الرائق ج۱، ص ۲۵۵، باب الآذان) و مثله في خلاصة ج۱ ص ٤٨ ، باب الآذان) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۹۳

## .له وخت څخه مخکښې د آذان ورکولو حکم

الاستفتاء: په ځينو جوماتونو کښې ليدل شوي دي چه په هغو کښې د سهار اذان د سهار تر ختلو مخکښې ورکول کيږي، د داسې آذان حکم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: له وخت څخه مخکښې آذان د علماو په اتفاق سره جائز نه دی، او بيرته را گرځول ئې ضروري دي البته که چيرته لمونځ پخپل وخت وشي نو بيا کوم فساد پکښې نه راځي-

قال العلامة الحصكفي: فيعاد اذان وقع بعضه (قبله) کا لاقامة خلافا للثاني في الفجر. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۳۸۵، باب الآذان)و في الهندية: تقديم الآذان على الوقت في غير الصبح لا يجوز اتفاقاً و كذا في الصبح عند ابي حنيفة و محمدرحمهما الله تعالى و ان قدم يعاد في الوقت هكذا في شرح مجمع البحرين لابن الملك و عليه الفتوى هكذا في التارخانية ناقلاً عن الحجة (الهندية ج۱ ، ص ۵۳ ، باب الآذان) و مثله في بحر الرائق ج ۱، ص ۲۵۵ ، باب الآذان)

## [په آذان کښې روان والي سنت دی

الاستفتاء: په ځينو ځايونو کښې مؤذن د آذان هره کلمه جدا جدا وايي په داسې حال کښې چه مشهوره دا ده چه په آذان کښې بايد دوه دوه کلمې سره ولګېږي او بيا ووېل شي، که چېرته کوم سړي د آذان کلمې په دې ډول يل يل ووايي نو د آذان په صحيح والي باندې کوم اثر اچوي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: په آذان کښې ترسيل سنت دی. يعني تکبير به دوه دوه کلمې سره ګډ وي او بيا به ئې وايي. البته که چېرته چا د اسې و نه کړل بلکه هره کلمه بيله بيله ويله نو بيا هم جائز دي۔ ليکن بهتره داده چه آذان دې بيرته را وګرځول شي ترڅو چه آذان د سنتو مطابق وشي۔.....

.قال العلامة الحصكفي: (و يترسل فيه) بسكتة بين كل كلمتين و يكره تركه و تندب اعادته ــ قال ابنعابدين: (قوله بسكتة) اى تسع الاجابة مدنى عن منلا علي قارى و هذه السكتة بعد كل تكبيرتين لا بينهما كما افاده في الامداد اخذا من الحديث و به صرح في التارخانية (قوله و تندب اعادته) او لو ترك الترسل. (رد المحتار علي در المختار ج١، ص٣٨٧، باب الآذان) قال ابن نجيم: (قوله و يترسل فيه و يحدر فيها) اى يتمهل في الآذان و يسرع في ا الاقامة وحده ان يفصل بين كلمتى الآذان بسكنة بخلاف الاقامة للتوارث ...... و لو جعل الآذان اقامة يعيد الآذان و لو جعل الاقامة الآذان اذانا يعيد لان تكرار الآذان مشروع دون الاقامة ــ قال ابن عابدين في حاشيته ثم الاعادة انما هي افضل. (بحر الرائق مع منحةالخالق ج١، ص ٢٥٧/٢٥٨ ، باب الآذان) و مثله في طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ١٦١، باب الآذان)

## د نشې په حالت کښې د آذان حکم

الاستفتاء: زمونږ د جومات يو مؤذن دي کوم چه د اعمالو له مخې ډير کمزوري دی- د مثال په ډول د تل لپاره افيون، چرس او داسې نور شيان استعمالوي، په همدې حالت کښې آذان هم کوي او لمونځ هم کوي او د نشې په همدي –شريعت له مخې د داسې مؤذن اذان صحيح دي او که نه؟ همدا رنګه د مؤذن لپاره د شرائطو يادونه هم وکړی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: فقهاء کرامو د مؤذن لپاره چه کوم شرطونه ليکلي دي له هغو څخه يو شرط دا دي چه مؤذن عاقل، نيک، متقي او په سنتو باندې عمل کوونکي وي، پوه او د خلکو داحوالو هم پيژندونکي وي او د جماعت په پرينبودونکي باندې زجر هم کولي شي، ځکه هم په آذان هميشه و الي کولي شي او بهتره داده چه مؤذن د همدې کلي اوسيدونکي وي۔

و في الهندية: و ينبغي ان يكون المؤذن رجلاً عاقلاً، صالحاً تقياً عالماً با لسنة كذا في النهاية و ينبغي ان يكون مهيباً و يتفقد احوال الناس و يزجر المتخلفين عن الجماعات كذا في القنية...... و ان يكون مواظباً على الآذان هكذا في البدائع و التارخانية و ان يكون محتسباً في آذانه كذا في النهر الفائق و الاحسن ان يكون اماماً في الصلوة كذا في معراج الدارية و الافضل ان يكون المؤذن هو المقيم كذا في الكافي. (الهندية ج ۱، ص ٥٤ ، باب الآذان)

له دې وجهې چه کوم سړي چرسي يا پوډري وي نو د فسق د حکم له مخې د هغه آذان مکروه تحريمي دی. په لمانځه کښې کوم فرق نه راځي او نه ئې بيرته را ګرځول واجب دي، البته د آذان بيرته را ګرځول مستحب دي —

قال الحصكفي: . . و يكره آذان جنب و اقامته و اقامة محدث لا آذانه على المذهب (و) آذان (امرأة) وخنثي (فاسق) و لو عالماً لكنه اولى بامامة و آذان من جاهل تقي، و يعاد آذان جنب ندباً. قال ابن عابدين: تحت (قوله يعادآذان الجنب ) زاد القهستاني و الفاجر . (رد المحتار ج ۱، ص ۳۹۲/۳۹۳، باب الآذان)قال ابن نجيم: تحت هذا القول و كره آذان ...... و الفاسق و اما الفاسق فلان قوله لا يوثق به و لا يقبل في الامور الدينية و لا يلزم احداً فلم يوجد الاعلام. (بحر الرائق ج ۱، ص ۲٦۳ ، باب الآذان) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۳۹۵

## : د حي علي الفلاح د ويلو په وخت کښې د دريدلو حکم

الاستفتاء: زمونږ د کلي په ځينو جوماتونو کښې خلک د اقامت په وخت کښې صفونو ته راځي او کښيني او کله چه مؤذن حي علي الفلاح ته ورسيږي نو په دې وخت کښې دريږي. د دې عمل د ثبوت لپاره د ډيرو کتابونو حوالې لکه عالمګيري،

شرح وقايه او بحر الرائق حوالي وركوي اودا كښيناستل ضروري ګڼي. په د اسې حال كښې چه ځينې خلك ورته بدعت وايي او چه خون د اسې كوي هغو ته مبتدعين وايي، پوښتنه داده چه آيا د حي علي الفلاح په وخت يا له دې څخه مخكښې پورته كيدل سنت دي؟ بينوا توجروا-

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :ولو زاد کلمة أو نقص کلمة أو نقص حرفا لم تفسد ما لم يتغير المعنى (الدرالمختارعلي صدر ردالمحتارج ۱ ص ۴۶۸ باب مايفسد الصلاة ومايکره فيها مکتبه حبيبه/غنية المستملي ص ۴۴۷ سهيل اکيډمي/فتاوي عبادالرحمن ج ۲ ص ۱۴۵ /فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۴ ص ۳۸)

## په لمانځه کښي د قرائت حکم

الاستفتاء: په لمانځه کښي د قرآنکريم د قرائت حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښي د قرآنکريم قرائت لا على تعيين فرض دي چه اندازه ئې يو آيت دی. همدومره قرائت په نفلو، وتر او د سنتو په ټولو رکعتونو کښي او د فرضو په دوو رکعتونو کښي فرض دی. البته دري آيتونه او سورت فاتحه لوستل فرض نه بلکه واجب دي۔

لما قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله منها القرأة) اى قرأة آية من القرآن و هي فرض عملي في جميع رکعات النفل و الوتر و في رکعتين من الفرض کما سيأتي متناً في باب الوتر و النوافل و اما تعيين القرأة في الاولين من الفرض فهو واجب و قيل سنة لا فرض کما سنحققه في الواجبات و اما قرأة الفاتحة و السورة

او ثلاث آيات فهي واجبة ايضاً. (رد المحتار ج ١ ، ص ٤٤٦ ، فرائض الصلوة)قال العلامة ابو البركات النسفي: و فرض القرأة آية. (كنز الدقائق على هامش البحر الرائق ج١، ص٣٣٨، باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤١٨

## قراءة باالفارسية

الاستفتاء محترم مفتي صاحب كه ددغي مسئلي په اړه واضاحت راته راكړ چي قراءة په فارسي سره جائزده په لمانځه كښي اوكنه بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا محترمه په مسئولة صورت كښي دامام ابي حنيفة رح اودصاحبينو اختلاف ده صاحبين رحمها الله وايي چي قراءة باالفارسية نه ده جائز كه يه عربي ايزده وه ده صاحبينو دليل دكوم شئ چي په لمانځه كې حكم وركړل سوي ده هغه دقران قراءت ده اوقران دهغه عربي نظم نوم ده چي به معني دلالت كوي او مصاحفوكي مكتوب دي او نقل تواترسره رانقل سوي ده قوله تعالي اناجعلناه قرانا عربيا كه عربي له ويلوڅخه عاجز ووبيا په فارسي سره جائزده\ اوامام ابي حنيفة رحمه الله وايي قراءة باالفارسية جائزده كه يه عربي ايزده وي اوكه يه نوي ايزده امام صاحب دليل څكه قران نوم لپاره دي معني ده قوله تعالي انه لفي زبر الاولين هلته دغه نظم نه وو اوبل قوله تعالي ان هذالفي الصحف الاولي صحف ابراهيم وموسى. نوده ابراهيم عليه السلام صحفي په سرياني ژبه سره وي اودموسي عليه السلام صحفي عبراني ژبه سره وي نومنزل اصل كې معني ده نومعني په اختلاف دي لغات سره نه مختلفه كيږي نوڅكه امام صاحب رحمه الله په فارسي سره هم قراءة جائزبولي كه يه عربي ايزده وي اوكه نه /خودلته مفتي به قول دي صاحبينو ده څكه امام صاحب رحمه الله هم دي صاحبين قول ته رجوع كړي ده

<u>خلاصه</u> داسوه كه ديو انسان عربي ايزده وه بيا په فارسي سره قراءة ويل نه ده جائز په لمانځه كې اوكه ده عربي پرويلوباندي قادرنه وو بيا جائزده

كمافي الهنديه ج١ ص٦٩ وَلَا تَجُوزُ الْقِرَاءَةُ بِالْفَارِسِيَّةِ إلَّا بِعُذْرٍ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ وَبِهِ يُفْتَى. هَكَذَا فِي شَرْحِ النُّقَايَةِ لِلشَّيْخِ أَبِي الْمَكَارِمِ وَيَجُوزُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ – بِالْفَارِسِيَّةِ وَبِأَيِّ لِسَانٍ كَانَ وَهُوَ الصَّحِيحُ وَيُرْوَى رُجُوعُهُ إلَى قَوْلِهِمَا وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ. هَكَذَا فِي الْهِدَايَةِ وَفِي الْأَسْرَارِ هُوَ اخْتِيَارِي وَفِي التَّحْقِيقِ هُوَ مُخْتَارُ عَامَّةِ الْمُحَقِّقِينَ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَذَا فِي شَرْحِ النُّقَايَةِ لِلشَّيْخِ أَبِي الْمَكَارِمِ وَهُوَ

الْأَصَحُّ. هَكَذَا فِي مَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ. درمختار مع الرد ج١ ص٤٨٤ (أَوْ قَرَأَ بِهَا عَاجِزًا) فَجَائِزٌ إجْمَاعًا، قَيَّدَ الْقِرَاءَةَ بِالْعَجْزِ لِأَنَّ الْأَصَحَّ رُجُوعُهُ إلَى قَوْلِهِمَا وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى. قُلْت: وَجَعْلُ الْعَيْنِيِّ الشُّرُوعَ كَالْقِرَاءَةِ لَا سَلَفَ لَهُ فِيهِ وَلَا سَنَدَ لَهُ يُقَوِّيهِ، بَلْ جَعَلَهُ فِي التَّاتَرْخَانِيَّة كَالتَّلْبِيَةِ يَجُوزُ اتِّفَاقًا، فَظَاهِرُهُ كَالْمَتْنِ رُجُوعُهُمَا إلَيْهِ لَا هُوَ إلَيْهِمَا فَاحْفَظْهُ، فَقَدْ اشْتَبَهَ عَلَى كَثِيرٍ مِنْ الْقَاصِرِينَ قال العلامة ابن عابدين (قَوْلُهُ قَيَّدَ الْقِرَاءَةَ بِالْعَجْزِ) أَشَارَ إلَى أَنَّ قَوْلَهُ عَاجِزًا حَالٌ مِنْ فَاعِلِ قَرَأَ فَقَطْ دُونَ مَا قَبْلَهُ (قَوْلُهُ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى) وَفِي الْهِدَايَةِ وَشَرْحِ الْمَجْمَعِ لِمُصَنِّفِهِ، وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ (قَوْلُهُ وَجَعْلُ) بِالرَّفْعِ مُبْتَدَأٌ خَبَرُهُ قَوْلُهُ لَا سَلَفَ لَهُ فِيهِ إلَخْ (قَوْلُهُ كَالْقِرَاءَةِ) أَيْ فِي اشْتِرَاطِ الْعَجْزِ فِيهِ أَيْضًا وَفِي أَنَّ الْإِمَامَ رَجَعَ بِذَلِكَ إلَى قَوْلِهِمَا لِأَنَّ الْعَجْزَ عِنْدَهُمَا شَرْطٌ فِي جَمِيعِ أَذْكَارِ الصَّلَاةِ كَمَا مَرَّ (قَوْلُهُ لَا سَلَفَ لَهُ فِيهِ) أَيْ لَمْ يَقُلْ بِهِ أَحَدٌ قَبْلَهُ، وَإِنَّمَا الْمَنْقُولُ أَنَّهُ رَجَعَ إلَى قَوْلِهِمَا فِي اشْتِرَاطِ الْقِرَاءَةِ بِالْعَرَبِيَّةِ إلَّا عِنْدَ الْعَجْزِ. وَأَمَّا مَسْأَلَةُ الشُّرُوعِ فَالْمَذْكُورُ فِي عَامَّةِ الْكُتُبِ حِكَايَةُ الْخِلَافِ فِيهَا بِلَا ذِكْرِ رُجُوعٍ أَصْلًا، وَعِبَارَةُ الْمَتْنِ كَالْكَنْزِ وَغَيْرِهِ كَالصَّرِيحَةِ فِي ذَلِكَ حَيْثُ اُعْتُبِرَ الْعَجْزُ قَيْدًا فِي الْقِرَاءَةِ فَقَطْ (قَوْلُهُ وَلَا سَنَدَ لَهُ يُقَوِّيهِ) أَيْ لَيْسَ لَهُ دَلِيلٌ يُقَوِّي مُدَّعَاهُ لِأَنَّ الْإِمَامَ رَجَعَ إلَى قَوْلِهِمَا فِي اشْتِرَاطِ الْقِرَاءَةِ بِالْعَرَبِيَّةِ. لِأَنَّ الْمَأْمُورَ بِهِ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ، وَهُوَ اسْمٌ لِلْمُنَزَّلِ بِاللَّفْظِ الْعَرَبِيِّ الْمَنْظُومِ هَذَا النَّظْمَ الْخَاصَّ، الْمَكْتُوبِ فِي الْمَصَاحِفِ، الْمَنْقُولِ إلَيْنَا نَقْلًا مُتَوَاتِرًا. «المبسوط للسرخسي» (١/ ٣٧): «وَأَصْلُ هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ إذَا قَرَأَ فِي صَلَاتِهِ بِالْفَارِسِيَّةِ جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ - وَيُكْرَهُ، وَعِنْدَهُمَا لَا يَجُوزُ إذَا كَانَ يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ، وَإِذَا كَانَ لَا يُحْسِنُهَا يَجُوزُ» «المحيط البرهاني في الفقه النعماني» (١/ ٣٠٧):نوع آخر) في القراءة بالفارسيةوإذا قرأ في الصلاة بالفارسية جاز قراءته سواء كان يحسن العربية أو لا يحسن، غير أنه إن كان يحسن العربية يكره، وهذا قول أبي حنيفة، وقال أبو يوسف ومحمد: إن كان يحسن العربية لا تجوز قراءته، وإن كان لا يحسن العربية يجوز.فالعبرة عند أبي حنيفة للمعنى وعندهما للفظ والمعنى إذا قدر عليهما، وذكر شيخ الإسلام في شرح كتاب الصلاة شمس الأئمة السرخسي في «شرح الجامع الصغير» رجوع أبي حنيفة إلى قولهما رحمهما الله «مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر» (١/ ٩٣): «(وَكَذَا لَوْ قَرَأَ بِهَا) أَيْ بِالْفَارِسِيَّةِ (عَاجِزًا عَنْ الْعَرَبِيَّةِ) التَّقْيِيدُ بِالْعَجْزِ بِنَاءً عَلَى قَوْلِهِمَا؛ لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ بِالْفَارِسِيَّةِ فِي الصَّلَاةِ جَائِزَةٌ عِنْدَ الْإِمَامِ وَإِنْ كَانَ يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ؛ لِأَنَّ الْقُرْآنَ هُوَ الْمَعْنَى، وَالْفَارِسِيَّةُ تَدُلُّ عَلَى الْمَعْنَى فَيَكُونُ جَائِزًا فِي حَقِّ الصَّلَاةِ خَاصَّةً وَرُوِيَ أَنَّهُ رَجَعَ إلَى قَوْلِهِمَا، وَهُوَ الصَّحِيحُ وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ وَالْمُصَنِّفُ اخْتَارَ رُجُوعَهُ إلَى قَوْلِهِمَا وَلِهَذَا سَاقَ هَذِهِ الْمَسْأَلَةَ فِي صُورَةِ الِاتِّفَاقِ» «فتاوى الشبكة الإسلامية» (١١/ ٦٤٠٤ بترقيم الشاملة آليا)

«وذهب أبو يوسف ومحمد صاحبا أبي حنيفة إلى أن المصلي إن كان يحسن العربية لم يجز له أن يقرأ القرآن بغيرها، وإن كان لا يحسن يجوز. وقد كان الإمام أبو حنيفة –رحمه الله– يرى جواز القراءة بالفارسية، ولكنه رجع عن هذا القول إلى قول صاحبي «بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع» (١/ ١١٢): «ثم الجواز كما يثبت بالقراءة بالعربية يثبت بالقراءة بالفارسية عند أبي حنيفة سواء كان يحسن العربية أو لا يحسن، وقال أبو يوسف ومحمد: إن كان يحسن لا يجوز، وإن كان لا يحسن يجوز» «تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي» (١/ ١١٠): «وَأَمَّا الْقِرَاءَةُ بِالْفَارِسِيَّةِ فَجَائِزَةٌ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَا تَجُوزُ إذَا كَانَ يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ؛ لِأَنَّ الْقُرْآنَ اسْمٌ لِمَنْظُومٍ عَرَبِيٍّ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا} [الزخرف: ٣] وَقَالَ تَعَالَى {إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا} [يوسف: ٢] وَالْمُرَادُ نَظْمُهُ وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْله تَعَالَى {وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الأَوَّلِينَ} [الشعراء: ١٩٦] وَلَمْ يَكُنْ فِيهَا بِهَذَا النَّظْمِ وقَوْله تَعَالَى {إِنَّ هَذَا لَفِي الصُّحُفِ الأُولَى} [الأعلى: ١٨] {صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى} [الأعلى: ١٩] فَصُحُفُ إبْرَاهِيمَ كَانَتْ بِالسُّرْيَانِيَّةِ وَصُحُفُ مُوسَى بِالْعِبْرَانِيَّةِ فَدَلَّ عَلَى كَوْنِ ذَلِكَ قُرْآنًا وَمَا تَلَيَاهُ لَا يَنْفِي كَوْنَ»غَيْرِ الْعَرَبِيَّةِ قُرْآنًا؛ لِأَنَّهُ مَسْكُوتٌ عَنْهُ وَيَجُوزُ بِأَيِّ لِسَانٍ كَانَ سِوَى الْفَارِسِيَّةِ هُوَ الصَّحِيحُ؛ لِأَنَّ الْمُنَزَّلَ هُوَ الْمَعْنَى عِنْدَهُ وَهُوَ لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ اللُّغَاتِ وَالصَّحِيحُ أَنَّ الْقُرْآنَ هُوَ النَّظْمُ وَالْمَعْنَى جَمِيعًا عِنْدَهُ؛ لِأَنَّهُ مُعْجِزَةٌ لِلنَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَالْإِعْجَازُ وَقَعَ بِهِمَا جَمِيعًا إلَّا أَنَّهُ لَمْ يَجْعَلْ النَّظْمَ رُكْنًا لَازِمًا فِي حَقِّ جَوَازِ الصَّلَاةِ خَاصَّةً رُخْصَةً؛ لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِحَالَةِ الْإِعْجَازِ وَقَدْ جَاءَ التَّخْفِيفُ فِي حَقِّ التِّلَاوَةِ، أَلَا تَرَى أَنَّهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – قَالَ «أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ» فَكَذَا هُنَا. وَالْخِلَافُ فِي الْجَوَازِ إذَا اكْتَفَى بِهِ وَلَا خِلَافَ فِي عَدَمِ الْفَسَادِ حَتَّى إذَا قَرَأَ مَعَهُ بِالْعَرَبِيَّةِ قَدْرَ مَا تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ جَازَتْ صَلَاتُهُ وَيُرْوَى رُجُوعُهُ إلَى قَوْلِهِمَا وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ وَلَا يَجُوزُ بِالتَّفْسِيرِ بِالْإِجْمَاعِ؛ لِأَنَّهُ غَيْرُ مَقْطُوعٍ بِهِ قَالَ – رَحِمَهُ اللَّهُ

## په الرحمن الرحيم كښې اتصال دي او كه انفصال

الاستفتاء: په سورت فاتحه كښې د الرحمن الرحيم تر منځ په وصل او فصل كښې كومه طريقه بهتره چه سړى ئې بايد وكړي؟ بينوا توجروا.

الجواب حامدا ومصليا: په الرحمن الرحيم كښې اتصال او انفصال دواړه طريقې جائزې دي، له دې څخه په لمانځه كښې هيڅ كراهيت او فساد نه لازميږي. البته په قرائت كښې د اتصال او انفصال تفسير او تفصيل بايد له قراوو حضراتو څخه پوښتنه وشي

– وصل حرف من كلمة بحرف من كلمة اخرى ان وصل حرفاً من كلمة بحرف من كلمة أخرى نحو ان قرأ ايا كنعبد و وصل الكاف با لنون او غير المغضوب عليهم و وصل الباء يا لعين او سمع الله لمن حمده و وصل الهاء من الله با للام فا لصحيح انه لا يفسد و لو تعمد ذلك. (خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱۱۲، باب في زلة القاري) في الهندية: ان وصل حرفاً من كلمة بحرف من كلمة اخرى نحو ان قرأ اياك نعبد و وصل الكاف با لنون او غير المغضوب عليهم و وصل الباء با لعين او سمع الله لمن حمده و وصل الهاء من الله با للام فا لصحيح انه لا يفسد و كذا لو تعمد ذلك. (الهندية ج ۱ ، ص ۷۹، الفصل الخامس في زلة القاري)

## د فرضو په لمانځه كښې د سورت د تكرار حكم

الاستفتاء: د يوه جومات امام صاحب د فرض لمانځه په دواړو ركعتونو كښې سورت اخلاص وو ايه. آيا په د اسې كولو سره په لمانځه باندې كوم اثر لويږي او كه نه؟

الجواب حامدا ومصليا: په نفلو كښې د سورت تكرار جائز دي ليكن غير اولي دي البته به فرائضو كښې د سورت تكرار مكروه تنزيهي دي او په لمانځه كښې كوم فساد نه راځي-

قال العلامة الحصكفي: لا بأس ان يقرأ سورة و يعيدها في الثانية. قال ابن عابدين: افاد انه يكره تنزيها و عليه يحمل جزم المقنية با لكراهة و يحمل فعله عليه الصلوة و السلام لذلك على بيان الجواز هذا اذا لم يضطر. (رد المحتار ج ۱، ص ٤٦ ٥ ، باب القرائت) و في الاصل اذا قرأ سورة واحدة في ركعتين اختلف المشائخ رحمهم الله فيه و الاصح انه لا يكره و لكن لاينبغي ان يفعل و لو فعل لا بأس به. (خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۹٦، الفصل الحادي عشر في القرأة)

## د ماښام په لمانځه کښې د سورت الاعلی د لوستلو حکم

الاستفتاء: زمونږ د جومات امام صاحب اکثره وخت د ماښام په لمانځه کښې سورت الاعلی لولي په د اسې حال کښې چه په عامو کتابونو کښې د ماښام په لمانځه کښې د کوچنیو سورتونو د لوستلو ترغیب ورکړ شوي دی. آیا د ماښام په لمانځه کښې د سورت الاعلي په لوستلو سره په لمانځه باندې کوم اثر لوېږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په لمانځه کښې بهتره داده چه امام صاحب د مقتديانو رعايت په زړه کښې ونيسي او قرائت وکړي ځکه چه په مقتديانو کښې ځيني بيمار او کمزوري هم وي. د ې لپاره فقهاء کرامو په لمانځه کښې د قرائت اوږدول مکروه بللي دي. البته اوږد قرائت په لمانځه باندې کوم اثر نه اچوي. پخپله نبي کريم د ماښام په لمانځه کښې ځو ځو واري سورت الطور او سورت المرسلت لوستلي دي

لما قال العلامة حماد بن الحسن الشرنبلالی: و كره للامام تطويل الصلوة لما فيه من تنفير الجماعة لقوله عليه الصلوة و السلام من ام فليخفف ..... قال العلامة احمد الطحطاوی تحت قول تطويل الصلوة بقرأة او تسبيح او غيرهما. (الطحطاوي ص٢٤٦ – باب الامامة) قال العلامة الحصكفي: و يكره تحريماً تطويل الصلوة على القوم زائدا على قدر السنة في قرأة و اذكار رضي القوم ام لا لاطلاق الامر با لتخفيف. (رد المحتار ج ١ ، ص ٥٦٤ ، باب الامامة) عن جبير ابن مطعم عن أبيه قال سمعت رسول الله ﷺ يقرأ في المغرب با لطور. عن ام الفضل بنت الحارث قالت سمعت رسول الله ﷺ يقرأ با لمغرب با لمرسلت. (الصحيح المسلم ج١،ص ١٨٧، باب القرأة في المغرب) عن جبير ابن مطعم عن أبيه قال سمعت رسول الله ﷺ يقرأ في المغرب با لطور. عن ام الفضل بنت الحارث قالت سمعت رسول الله ﷺ يقرأ في المغرب با لمرسلت. (الصحيح المسلم ج١، ص١٨٧، باب الجهر في المغرب) و مثله في المشكوة ج ١، ص ٧٩، باب القرأة في الصلوة) و مثله في الجوهرة النيرة ج١، ص٧٠)

## په سورت او تکبير کښې د وصل حکم

الاستفتاء: زمونږ د جومات امام صاحب له آخري لــو سورتونو څخه يو په لمانځه کښې لولي نو رکوع ته د تللو په وخت کښې تکبير له سورت سره يو ځاي کوي او يا ئې وايي- يو مولوي صاحب فرمايي چه د اسې کول ښه نه دي بلکه چه کله د سورت آخري ته ورسيږي نو د سورت د آخر او د تکبير تر منځ د وقايه "ن" بايد زيات شي. پرته د "ن" له زياتوالي څخه لوستل صحيح نه دي. په داسې حال کښې چه زمونږ امام صاحب ئې د جواز قائل دی. آيا د وصل په وخت کښې د "ن" لوستل ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: يوه کلمه له بلې کلمې سره په داسې توګه لګول او لوستل چه په معني کښې ئې فساد پيدا شي صحيح نه دي او که چېرته د فساد انديښنه نه وي نو بيا جائز دی-لهذا الله اکبر د سورت له آخري لفظ سره لګول او لوستل د معني د نه فساد له وجهې جائز دي – البته د وصل په صورت کښې د وقايه نون د قرائت د قواعد و په بناء لوستل کيږي. هو! لکه څرنګه چه په دې صورت کښې الله اکبر د سورت د جزء ګرځيدو انديښنه ده د دې لپاره پرته له لګولو څخه ئې لوستل افضل دي

**–لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: ان وصل حرف من كلمة بحرف من كلمة اخرى ان وصل حرفاً من كلمة بحرف من كلمة اخرى نحو ان قرأ اياك نعبد و وصل الكاف با لنون او غير المغضوب و وصل الباء با لعين او سمع الله لمن حمده و وصل الهاء من الله با للام فا لصحيح انه لا يفسد و كذا او تعمد ذلك. (خلاصة الفتاوى ج۱، ص۱۱۲ ، زلة القاري) و في الهندية: ان وصل حرفا من كلمة بحرف من كلمة اخرى نحو ان قرأ اياكنعبد و وصل الكاف با لنون اق غير المغضوب عليهم و وصل الباء با لعين او سمع الله لمن حمده و وصل الهاء من الله با للام فا لصحيح انه لا تفسد و لو تعمد ذلك. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۷۹، الفصل الخامس في زلة القاري)**

## د قرائت ړومبي والي او وروسته والی

الاستفتاء: يو مولوي صاحب د جمعې په لمانځه کښې په لومړي رکعت کښې د سورت مريم څه آيتونه تلاوت کړل په داسې حال کښې چه په دوهم رکعت کښې ئې د سورت بقره څو آيتونه تلاوت کړل-آيا د اسې کول شرعا جائز دي چه په آياتو

کښې رومبي و الی وشي یا په ځینو کښې تأخیر وشي او ولوستل شي؟ دې لپاره د محققینو فقهاوو په نزد د قرآنکریم معکوس (سرچپه) تلاوت مطلقاً مکروه دی۔

الجواب حامداو مصلیا: د قرآن مجید به ترتیب سره تلاوت کول د تلاوت له آداب نه دی. د یواځې د هلکانو د تعلیم لپاره معکوس تلاوت بغیر له کراهیت نه جائز دی۔ اگر که ځینو فقهاوو په فرضي او نفلو لمونځونو کښې د منکوس تلاوت کوم فرق نه دي کړي لیکن د محققینو په نزد مطلق منکوس تلاوت که په لمانځه کښې وي او که پرته له لمانځه نه وي له کراهیت نه خالي نه دي

لما قال العلامة عمار بن حسن الشرنبلالي: و یکره قرأة سورة فوق التي قرأها ..... قال ابن مسعود: من قرأ القرآن منکوسا فهو منکوس و ما شرع لتعلیم الاطفال لا کتیسیر الحفظ بقصر السور. (مراقي الفلاح علی صدر الطحطاوي ص ۲۸٦، باب مکروهات الصلوة) لما قال العلامة الحصکفي: و یکره الفصل سورة قصیرة و ان یقرأ منکوساً... قال العلامة ابن عابدین: (تحت قوله و ان یقرأ منکوسا) بان یقرأ في الثانیة سورة الأعلی مما قرأ في الاولی لان ترتیب السورة في القرأة من واجبات التلاوة و انما جواز الصغار تسهیلاً لضرورة التعلیم. (رد المحتار ج ۱، ص ٥٤٦ ، فصل في القرأة، مطلب الاستماع للقرآن غرض کفایة) و مثله في فتح القدیر ج ۱، ص ۲۹۹، باب صفة الصلوة)

## --د سهار په لمانځه کښې د کوچني سورتونو ویل

الاستفتاء: په کلیو کښې د کم علم لرونکي ځینې امامانو د قرآنکریم خو لنډ لنډ سورتونه یاد کړي وي او لوي او اوږده سورتونه ئې یاد نه وي. نو آیا د سهار په لمانځه کښې کوچني سورتونه ویل کیدلي شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداو مصلیا: د سهار په لمانځه کښې مستحبه دا ده چه په اسفار کښې لمونځ شروع کړي که چیرته لمونځ فاسد شي نو د ستو له رعایتولو سره فرض لمونځ را گرځول کیدلي شي او کم تر کمه د څلویښتو آیتونو په اندازې سره تلاوت باید پکښې وشي. که چیرته دومره تاخیر پکښې وشي چه لمونځ فاسد شي نو د دوهم ځل لپاره په مستحبه طریقه لمونځ نه شواي را گرځیدلي نو دا ښه نه دي ګڼل شوي– البته که چیرته څوک کوچني سورتونه پکښې وايي او دوام هم پرې کوي نو په لمانځه

کښې کوم کراهيت نه راځي ځکه چه پخپله رسول الله ﷺ په معوذتينو باندې د سهار لمونځ اداکړې دی۔

لما قال العلامة ابن عابدين: في الجامع الصغير: يقرأ في الفجر في الركعتين سورة الفاتحة و قدر اربعين أو خمسين و اختصر في الاصل على الأربعين الخ. (رد المحتار ج ۱، ص ٥٤٠، فصل في القرأة) و قال العلامة ابن عابدين: كما ذكر اله صلى الله عليه وسلم قرأ با لمعوذتين في الفجر. (رد المحتار ج۱، ص ٥٦٥، باب الامامة، مطلب اذا صلى الشافعي قبل الحنفي الخ) قال العلامة السيد احمد الطحطاوى: و اختلف الآثار في قدر ما يقرأ في كل صلوة و في الجامع الصغير انه يقرأ في الفجر في الركعتين جميعاً اربعين او خمسين او ستين آية سورة الفاتحة. و روى الحسن ما بين ستين الى مائة فا لمائة اكثر ما يقرأ فيها و الاربعون اقل الخ. (طحطاوي حاشية مراقي ص ۲۱۳، فصل في بيان سنتها) قال يزيده ما في الصحيحين انه قرأ با لمعوذتين في الفجر فلما فرغ قالوا له او جرت قال سمعت بكاء صبى. (طحطاوي حاشية مراقي ص۲٤٦، فصل في بيان احق با لامامة) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص ۰۳٥۱ باب الامامة و الفتاوى الهندية ج۱، ص۷۷، الفصل الرابع في القرأة)

## قرآن مجيد ډير تيز ويل

الاستفتاء: په ځينو جوماتونو کښې ليدل کيږي چه امام صاحب په فرض لمانځه کښې او خصوصاً په تراويحو کښې، همد ارنګه ځينې خلک په انفرادي توګه ډير په تيزي سره قرائت وايي او ډير زر له لمانځه څخه د فارغيدلو کوشش کوي. آيا شرعا داسې کول جائز دي او که څنګه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: قرآنکريم که چېرته تيز تلاوت شي په دې شرط چه تلفظ صحيح وي او په حروفو کښې کوم کموالي را نه شي نو لمونځ نه پرې فاسديږي. البته که چېرته دومره تيز تلاوت شي چه په الفاظو کښې غلطي يا کموالي او زياتوالي پيدا شي نو بيا جائز نه دی۔

قال العلامة الحصكفي: و يجتنب المنكرات هذرمة القرأة. قال ابن عابدين: اي سرعة الكلام و القرأة. (رد المحتار ج ۲، ص ٤٧ ، فصل في التراويح) و يكره الاسراع في القرأة و في اداء الاركان كذا في السراجية. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۱۸، فصل في التراويح)

## د ماسپښين او مازديگر په فرضو کښې د مقتدي د سورت فاتحه د ويلو حکم

الاستفتاء: د ماسپښين او مازديگر په فرضو کښې په د اسې حال کښې چه امام قرائت کوي که چرته مقتدي سورت فاتحه ولولي نو حکم به ئې څه وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په حنفي فقهې کښې د مقتدي لپاره که امام په پټه قرائت کوي او که په زوره غلى دريدل ضروري دي. او د مقتدي لپاره په امام پسې قرائت مکروه تحريمي دی۔ البته لمونځ پرې نه فاسديږي۔

قال العلامة الحصكفي: (المؤتم لا يقرأ مطلقا) و لا الفاتحة في السرية اتفاقا و ما نسب لمحمد ضعيف كما بسطه الكمال (فان قرأ كره تحريما ....) (بل يستمع) اذا جهر (و ينصت) اذا اسر لقول ابي هريرة رضي الله تعالى عنه كنا نقرأ خلف الامام فنزل و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ٤ ٤ ٥ ، فصل قال الامام محمد بن الحسن الشيباني لا قرأة خلف الامام فيما جهر فيه و لا فيما لم يجهر بذلك جاءت عامة الآثار و هو قول ابي حنيفة موطا ما محمد ص ۹۷، باب قرأة الامام) و مثله في فتح القدير في القرأة) ج۱، ص ۲۹۷، فصل في القرأة)

## په قرائت کښې د امام له حد څخه د تجاوز کولو حکم

الاستفتاء: زمونږ د جومات امام صاحب په جهري لمونځونو کښې په دومره لوړ آواز سره تلاوت کوي چه تر ډير لرې ځايونو پورې اوريدل کيږي په د اسې حال کښې چه په جومات کښې يو اځې يو څو کسان وي. که چرته امام صاحب په ورو آواز سره قرائت وکړي نو بيا ئې هم ټول په آسانۍ سره اوريدلې شي. آيا په جهري لمونځونو کښې له حد څخه په زيات لوړ آواز باندې قرائت کول شرعا جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: په جهري لمونځونو کښې په لوړ آواز سره قرائت د امام لپاره واجب دی- البته د ومره په لوړ آواز سره قرائت کول چه خلک هم ترې تنګ شي او له خپل بشري طاقت څخه هم د باندې وي مکروه تنزيهي دی. بنه خبره دا ده چه د اسې و نه کړي، که چېرته ئې څوک کوي نو په لمانځه کښې کوم فساد نه راځي-

و لا يجهد الامام نفسه با لجهر كذا في البحر الرائق و اذا جهر الامام فوق حاجة الناس فقد اساء لان الامام انما يجهر اسماع القوم ليدبروا في قرأته ليحصل احضار القلب كذا في سراج الوهاج. (الهندية ج۱، ص ۷۲، واجبات الصلوة) قال السيد احمد الطحطاوي: و للاولى ان لا يجهد نفسه با لجهر بل بقدر الطاقة لان اسماع بعض القوم يكفي و المستحب ان يجهر بحسب الجماعة فان زاد فوق حاجة الجماعة فقد اساء كما لو جهر المصلي با لاذكار قهستاني عن كشف الاصول. (طحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۲۰۴، فصل في واجبات الصلوة) و مثله في رد المحتار ج۱، ص ۵۸۹، باب الامامة، مطلب في رفع المبلغ صوته زيادة على الحاجة)

## د صاد په ځاي د سين د لوستلو حکم

الاستفتاء: که چېرته کوم امام د صراط الذين په ځاي سراط الذين ولولي نو لمونځ پرې فاسديږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: اګر که يو حرف په بل حرف باندې د اسې بدلول چه په معني کښې تبديلي واقع شي نو لمونځ پرې فاسديږي ليکن په نو موړي کښې دا تبديلي د لمانځه فاسد وونکې نه ده ځکه چه صراط په سين سره هم يو قرائت دی. د دې لپاره د سراط الذين په لوستلو سره په لمانځه باندې هيڅ اثر نه لويږي. البته په صاد سره لوستل ئې بهتر دي-

لما قال العلامة جمال الدين ابو الفرج ابن الجوزي الصراط: الطريق يقال ان اصله با لسين لانه من الاستراط و هو الابتلاع فا لسراط كانه يسترط المارين عليه فمن قرأ با لسين كمجاهد و ابن محيص و يعقوب فعلى اصل الكلمة و من قرأ با لصاد كابي عمرو و الجمهور فلانها اخف على اللسان ....... . قال القرأ اللغة الجيدة با لصاد و هي لغة قريش الاولى. (زاد المسير ج ۱، ص ۱۴، تحت صراط الذين) قال العلامة محمود الآلوسي: (الصراط) الطريق و اصله با لسين من السراط ..... و با لسين على الاصل قرائن

كثير برواية قبل و اويس اللؤلؤى عن يعقوب و قرأ الجمهور با لصاد و هي لغة قريش. (روح المعاني ج ۱، ص ۹۲، تحت الصراط المستقيم) و مثله في تفسير ابن كثير ج ۱، ص ۴۳، تحت اهدنا الصراط)

## په دوهم ركعت كښې د يوه آيت زياتوالي د كراهيت سبب نه دى

الاستفتاء: زمونږ امام صاحب د مابنام د لمانځه په لومړي ركعت كښې درې آيتونه تلاوت كړه او په دوهم ركعت كښې ئې څلور آيتونه تلاوت كړه چه له وجهې ئې دوهم ركعت په لومړي ركعت باندې اوږد شو. آيا په دې سره د شريعت له مخې لمونځ مكروه كيږي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: اگر كه دوهم ركعت په لومړي ركعت باندې اوږدول مكروه دي ليكن دا كراهيت هلته لازميږي چه د دوهم ركعت قرائت په لومړي ركعت باندې له دوو آيتونو څخه زيات اوږد شي او له دوو آيتونو څخه كم زياتوالي د كرا هيت سبب نه گرځي-

لما قال العلامة ابراهيم الحلبي: اما اطالة الركعة الثانية على الركعة الاولى فمكروه با لاجماع لكن لا بمطلق الاطالة بل ان كانت الاطالة بثلاث آيات او بما فوقها تكره و ان كانت تلك الاطالة آية القى آيتين لا تكره. (حلبي كبير ص ۱۳۰، باب صفة الصلوة)

## په يوه ركعت كښې له يوه څخه د زياتو سورتونو د لوستلو حكم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په باره كښې چه په يوه ركعت كښې له يوه څخه د زياتو سورتونو لوستل جائز دي او كه نه؟

الجواب حامدا ومصليا: بهتره دا ده چه په يوه ركعت كښې يو سورت ولوستل شي. هو! كه چېرته په يوه ركعت كښې دوه درې سورتونه ولوستل شي نو په لمانځه باندې كوم بد اثر نه لويږي اگر كه د اولي خلاف خو خامخا دى-

لما قال العلامة السيد احمد الطحطاوي رحمه الله: و يكره.. .. و الجمع بين سورتين اي في ركعة واحدة لما فيه من الشبهه التفضيل و الهجر. (طحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۲۰۶ ، باب ما يكره في الصلوة)

﴿بقية الشروط الصلوة واركانها﴾

## په جيب کې له نسوارو سره د لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: که چېرته د چا په جيب کښې نسوار يا سګرېټ وي نو لمونځ ئې ورسره کيږي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب حامدا ومصليا: د لمانځه لپاره د ځای، بدن او جامو پاکوالي شرط دی- نسوار پخپل ذات کښې يو پاک شي دي او د نجاست هيڅ اړخ پکښې نه پيدا کيږي. لهذا که چېرته د چا په جيب کښې نسوار يا سګرېټ وي نو په لمانځه کښې ئې کوم فساد نه راځي.

**تطهير النجاسة من بدن المصلي و ثوبه و المكان الذي يصلى عليه واجب هكذا في الزاهدي في باب الانجاس . (الهندية ج ١ ، ص ٥٨ ، الفصل الأول في الطهارة)قال العلامة الحصكفي: (طهارة بدنه) اى جسده لدخول الاطراف في الجسد دون البدن فليحفظ (من حدث) بنوعيه و قدمه لانه اغلظ و خبث مانع كذلك و ثوبه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٤٠٢، باب شروط الصلوة) و مثله في الاختيار ج ١ ، ص ٤٥ ، باب ما يفعل قبل الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤١١**

## که چيري په لمانځه کښي د ښځي وېښتيان ښکاره وي نو لمونځ صحيح کيږي که يا ؟

الاستفتاء : نن صباځني ښځي داسي نازک پوړني پرسر کوي چي صورت يې ټول ځني معلوميږي په ځانګړي توګه چي کله پر لمانځه ودريږي نو د ښځي وېښتيان په ښکاره توګه معلوميږي نو ايا داسي پوړني سره لمونځ صحت لري که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا: د ازادي ښځي ټول بدن په لمانځه کښي بلکه په هر وخت کښي پټ ساتل ضروري دي او د ښځي د سر وېښتيان هم په ستر کښي شامل دي چي پټول يې لازم او ضروري دي لهذا که چيري ښځه په لمانځه کښي داسي پوړني پر سر کړي چي د سر وېښتيان يې ځني معلوميږي لمونځ يې نه صحيح کيږي بلکه د لمانځه بيرته راګرځول باندي لازم دي .

**لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وللحرة ) ولو خنثى ( جميع بدنها ) حتى شعرها النازل في الأصح ( خلا الوجه والكفين ) فظهر الكف عورة على المذهب (**

والقدمين ) لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :( وللحرة ) ولو خنثى ( جميع بدنها ) حتى شعرها النازل في الأصح ( خلا الوجه والكفين ) فظهر الكف عورة على المذهب ( والقدمين ) على المعتمد وفي الهنديه : والثوب الرقيق الذي يصف ما تحته لا تجوز الصلاة فيه كذا في التبيين وفي التبين : والثوب الرقيق الذي يصف ما تحته لا تجوز الصلاة فيه لأنه مكشوف العورة تغني (الدرمختار مع ردالمحتارج ص تبين الحقائق ج ص هنديه ج ۱ ص ۵۸ عبادالرحمن ج ۲ ص۱۰۸ حقانيه ج ۲ص ۵۳۹ )

## ښځه که به قعده کښي پښې راسته خواته نسي ايستلای نو چپه خواته پښې ايستلای سي؟

الاستفتاء يوه ښځه معذوره ده کله چي لمونځ کوي نو د ناستي پروخت خپلي پښې وراسته خواته نسي ايستلای ايا چپې خواته خپلي پښې ايستلای سي که يا

الجواب حامداو مصليا :دښځي دپاره سنت طريقه په لمانځه کښي داده چي کله داکښيني نو خپلي پښې به وراسته طرف ته باسي خو د عذريانا جوړی په حالت کښي يې چپه طرف ته هم ايستلای سي کوم مشکل نلري

لما قال العلامة مرغيناني رحمه الله تعالى في الهداية شرح بداية المبتدي : فإن كانت امرأةجلست على أليتها اليسرى وأخرجت رجليها من الجانب الأيمن لأنه أستر لها.و يسن تورك المرأة بأن تجلس على أليتها وتضع الفخذ على الفخذ وتخرج رجلها من تحت وركها اليمنى لأنه أستر لها (الهداية ج ۱ ص ۱۱۱ باب صفة الصلوة بيروت العناية ج ۱ ص ۳۱۲ باب صفة الصلوة بيروت / البناية ج ۲ ص ۲۶۴ باب صفة الصلوة بيروت/ اللباب في شرح الكتاب ج ۱ ص ۷۲بابصفةالصلوةبيروت/مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۹۹ باب صفة الصلوة سعيد چاپ / ستاسو مسائل اودهغوي حل ج ۳ ص ۵۴۴ / فتاوي دارالعلوم زكريا ج ۲ ص ۱۳۳)

## په نازکه جامه او نازک پوړني کښې لمونځ کول.

الاستفتاء ښځي لره په داسي جامه او پوړني کښي لمونځ کول چي بدن او د سرو ېښته تري معلومېږي څنګه دي؟

الجواب حامداً و مصلياً: دا زادي ښځي ټول بدن عورت دي او د نارينه وو له نامه څخه و اخله تر زنګنونو پوري عورت دي. په لمانځه کښي د دغو برخو پټول فرض دي لهذا که چيري د ښځي د بدن هره يوه برخه چي له دغو جامو يا پوړني څخه ښکاره سي يا د نارينه د عورت څخه کومه برخه پټه نه وي نو په دې صورت کښي لمونځ نه کيږي او بيرته راګرځول يې واجب دي.

لما في الفتاوى الهندية : بدن الحرة عورة إلا وجهها وكفيها وقدميها. كذا في المتون وشعر المرأة ما على رأسها عورة وأما المسترسل ففيه روايتان الأصح أنه عورة. كذا في الخلاصة وهو الصحيح وبه أخذ الفقيه أبو الليث وعليه الفتوى. يصف ما تحته لا تجوز الصلاة فيه. كذا في التبيين ( الفتاوى الهندية ج ١ ص ٥٨ الفصل الأول في الطهارة وستر العورة مكتبه رشيديه / ردالمحتارج ص٤٠٥ باب شروط الصلوة مكتبه رشيديه / فتاوي حقانيه ج ٢ ص٥١٥ باب مكروهات الصلوة

## : پټو نه وو ورسره پر نامعلومه فرش باندي لمونځ کول.

الاستفتاء زما پوښتنه دا ده چي پټو نه دي را سره او س ماته پر يو نامعلومه فرش باندي لمونځ کول روا دي که يا؟.

الجواب حامداً و مصلياً: دا دي چي دغه نامعلومه فرش د اصله او ذاته څخه پاک دي که نه دي؟ که چيري د اصله او ذاته څخه پاک وو او س يې په ناپاکه کېدو کښي شک دي او دليل د ناپاکۍ يې هم نسته د رسره نو دا فرش شرعاً پاک دي لمونځ باندي روا دي تر څه

وخته چي يې پر ناپاکه کېدو باندي دليل نه وي راغلی.

وفي شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي رحمه الله تعالى : اليقين لايزول بالشک ( شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي ج ١ ص ١ ص ١٨ مكتبه حقانيه / شرح المجلة للمرحوم سليم رستم بازج ١ ص ٢٠

المادة ٤ / العناية علي هامش فتح القديرج ۱ ص ۹۳ مکتبه رشيديه / الهداية ج ۱ ص ٤۷ فصل في البير مکتبه حقانيه / فتاوی في الفقه الحنفي ج ۱ ص ۴۰۳)

## : په لمانځه کښې که د ښځې لاسونه تر ښنګلو پورې لڅ وي ؟

الاستفتاء که چيرې د ښځې لاسونه په لمانځه کښې تر ښنګلو پورې لڅ وي او بجلکې يې هم لڅې وي لمونځ يې فاسد دي که يا؟

الجواب حامدا ومصليا : لاسونه تر ښنګلو پورې هر لاس کامل عضوه ده. لڅېدل د ښځې د لاس تر ښنګلې پورې لمونځ فاسده وي که چيرې دغه لڅوالي د درو تسبيحاتو ويلو د وخت په اندازه پاته سي نو فساد راولي، او بجلکې بيا کامل او پوره عضوه نه ده د هغو لڅوالي په لمانځه کښې فساد او بطلان نه راولي

.لما في الفتاوی الهندية : بدن الحرة عورة إلا وجهها وكفيها وقدميها كذا في المنونوفي المرافي : ( وجميع بدن الحرة عورة إلا وجهها وكفيها ) باطنهما وظاهرهما في الأصح وهو المختار وذراع الحرة عورة في ظاهر الرواية وهي الأصح وعن أبي حنيفة ليس بعورة ( و ) إلا ( قدميها ) في أصح الروايتين باطنهما وظاهرهما لعموم الضرورة ليسا من العورة فشعرالحرة حتى المسترسل عورة في الأصح وعليه الفتوى (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۵۸ مکتبه رشيديه / مجمع الانهرج ۱ ص ۱۲۲ مکتبة الحرمين الشريفين الفقه الاسلامي وادلته ج ۱ ص ۷۴۲ مکتبه حبيبه / فتاوی في الفقه الحنفي ج ۱ ص ۷۰۰ مکتبة الکريميه / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۱۲۸ مکتبه شامله / امدادالفتاوي ج ۱ ص ۳۴۵ اردو)

## که چيرې ديو چا لمن د استنجاء په اوبو لنده سي څه حکم لري ؟

الاستفتاء: د استنجاء په اوبو سره که ديو شخص لمن لنده سي څه حکم لري آيا د داسي کالو سره لمونځ جواز لري که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : د استنجاء په اوبو سره که لمن لنده سوه نو مرداره ده په دې شرط که د شرم پر اندامونو باندې نجاست و او که پر دغه اندامونو باندې نجاست نه وو نو بيا دا مستعملې اوبه دي او مستعملې او به کالي نه مرداره وي .

نوکه ددرهم تر اندازې دغه لوند والي زيات وي يا نوپه دغه جامه ياکالو کښې لمونځ صحت نه لري او که يې لمونځ پکښې وکړي را ګرځول يې ضروري دي۔

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وعفا) الشارع (عن قدر درهم) وإن كرة تحريما، فيجب غسله، وما دونه تنزيها فيسن، وفوقه مبطل (الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۳۱۶ باب الانجاس مكتبه شامله / الهداية ج ۱ ص ۱۳۰باب الانجاس مكتبة البشرى / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۴۵ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي ص ۱۵۶ مكتبه رشيديه)

## د تکبير تحريمة فرضيت

الاستفتاء: د لمانځه لپاره تکبير تحريمه شرط دي او که سنت يا مستحب، که چېرته څوک تکبير تحريمه و نه وايي نو د هغه د لمانځه حکم څه دی؟بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: تکبير تحريمه د لمانځه له فرضونو څخه دی۔بغير له تکبير تحريمه څخه لمونځ نه کيږي۔

قال العلامة الحصكفي: من فرائضها التي لا تصح بدونها التحريمة قائماً و هي شرط في غير جنازة على القادر به يفتى. قال ابن عابدين: (تحت قوله على القادر) متعلق بشرط لتضمنه معنى الفرض اي و هي شرط مفترض عليه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٤٤٢ ، باب صفة الصلوة) منها التحريمة.......... و هي شرط عندنا حتى ان من يحرم للفرائض كان له ان يؤدى بها التطوع هكذا في الهداية. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۶۸، باب صفة الصلوة، الفصل الاول) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۲۹۰، باب صفة الصلوة

## د شفا خانې په یونیفارم (جامو) کښې د لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: یو سړی په شفاخانې کښې نوکر دی هر وخت زخمیان پورته کوي، دوایی او داسې نور شیان ورکوي کوم چه د زخمیانو د خدمت له وجهې ئې کالي مردار یږي. آیا د نوموړي لپاره په همدغو جامو کښې لمونځ جائز دي او که به لمانځه ته نورې جامې اغوندي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداومصلیا: د لمانځه د ادا کولو لپاره څو شرطونه دي چه له هغو څخه یو د جامو پاکوالی دی. د دې لپاره که چېرته د شفا خانې د نوکرۍ جامې د زخمیانو په وینو یا زوو باندې ککړې شوې وي نو دا جامې به بدلوي او په نورو جامو کښې به لمونځ کوي۔ لیکن که چېرته نورې پاکې جامې نه وې نو د مجبورۍ له وجهې په همدغو جامو کښې هم لمونځ ورته جائز دی۔

**لما قال العلامة الحصكفي: الشرط شرعاً ما يتوقف عليه الشيء و لا يدخل فيه هي ستة طهارة بدنه .......... و كذا ما يتحرك بحركته او يعد حاملاً له كصبي عليه نجس..... الخ (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص ۱٤۰۲ باب شروط الصلوة)........و في الهندية : تطهير النجاسة من بدن المصلى و ثوبه و المكان الذي يصلى عليه واجب. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۵۸ ، الباب الثالث في شروط الصلوة، الفصل الاول في الطهارة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۱۲**

## په دوکان کښې لمونځ کول جائز دي

الاستفتاء: زما د دوکان برسیره په دوهم چت باندې یو میوزک سنټر (د سازونو او سروزونو دوکان) دی آیا زه پخپل دوکان کښې لمونځ کولی شم؟ په داسې حال کښې چه ځینې خلک را ته وایي چه. ستا لمونځ نه کیږي ځکه چه په دوکان کښې لمونځ کول جائز نه دي –

الجواب حامداومصلیا: د لمانځه لپاره د ځای پاکوالی ضروري دي که هغه هر ځای وي یعنې که دوکان وي یا کور، جومات وي یا حجره په دې شرط چه پاک وي. د دې لپاره په دوکان کښې لمونځ کول صحیح دي. البته بهتره داده چه لمونځ په جومات کښې وشي –

لما قال العلامة الحصكفي: الشرط . . شرعا ما يتوقف عليه الشيء و لا يدخل فيه هي ستة طهارة بدنه اي جسده لدخول الاطراف في الجسد دون البدن من حدث بنوعيه و قدمه لانه اغلظ و خبث مانع كذلك ثوبه .. مكانه اي موضع قدميه او احداهما ان رفع الاخرى و موضع سجوده اتفاقاً في الاصح. الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١ ، ص ٤٠٢ ، باب شروط الصلوة) و في الهندية : تطهير النجاسة من بدن المصلى و ثوبه و المكان الذي يصلى عليه واجب . (الفتاوى الهندية ج١ ، ص ٥٨ ، الباب الثالث في شروط الصلوة، الفصل الاول في الطهارة)

## د بندي خانې په مصلي (جا نماز) باندې د لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: ما ته يوه ملګري د پېښور له سنټرل جيل څخه يوه مصلي را ليږلې ده آيا زه په هغې باندې لمونځ ادا کولي شم په داسې حال کښې چه هلته هر ډول خلک اوسيږي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د لمانځه د ادا کولو لپاره د مصلي پاکوالي ضروري دی- چونکه دا پاکي يقيني وي او په شک سره له منځه نه ځي. د دې لپاره له بندي خانې څخه را غلي جانماز پاک او لمونځ پرې صحيح دی-

لما قال العلامة الحصكفي: لو شك في نجاسة ماء او ثوب او طلاق او عتق لم يعتبر . قال ابن عابدين: (تحت قوله و لو شك) في التاتارخانية من شك في انائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر ما لم يستيقن. الخ. (رد المحتار ج ١ ، ص ١٥١ ، قبيل از مطلب في ابحاث الغسل) قال العلامة عالم بن علاء الانصاري: من شك في انائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة ام لا فهو طاهر ما لم يستيقن. (الفتاوى التاتارخانية ج١، ص ١٤٦، كتاب الطهارة الوضوء ما نوع مسائل الشك)

## د جومات په خولۍ باندې د لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: نن صبا د خلکو يو رواج جوړ شوي دي چه د لمانځه د ادا کولو لپاره خپلې خولۍ يا رومال او داسې نور له ځان سره جومات ته نه راوړي بلکه د جومات خولۍ په سروي او لمونځ ورسره کوي، په د اسې حال کښې چه بازار يا نورو

ځایونو ته له دغو خولیو سره ورتګ عار او شرم ګڼي. نو آیا په جومات کښې له پرتو خولیو سره لمونځ کول صحیح دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصلیا: لمونځ یو د اسې اهم عبادت دي چه په هغه کښې د الله تعالي دربار ته حاضري وي. د دې لپاره د لمانځه د ادا کولو لپاره ښه او بهترین لباس اغوستل افضل دي او که نه نو کم تر کمه د اسې لباس باید واغوستل شي چه له هغه سره نورو ځایونو ته تګ عار نه. ګڼل کیږي. له دې وجهې فقهاء کرامو په ثیاب بذله (په خیرنو او د کار په جامو کښې لمونځ جومات د خولیو استعمالول له کراهیت څخه خالي نه دي. لیکن لمونځ ئې ورسره کیږي مکروه بللي دی. لهذا بهتره داده چه هر لمونځ کوونکي له ځان سره خولۍ راوړي کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص۴۱۳

## په تکبیر تحریمه کښې لاسونه تر کومو ځایو پورې پورته کیږي

الاستفتاء: په تکبیر تحریمه کښې به سړي لاسونه تر کومو ځایونو پورې پورته کوي. په تفصیل سره ئې بیان کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: له نبي کریم څخه په دې باره کښې مختلف روایتونه راغلي دي د حنفي فقهې د تحقیق مطابق تر غوږونو پورې د لاسونو پورته کول سنت دي۔ ځینو علماء کرامو ویلي دي چه د ګوتو سرونه دې د غوږونو له سرونو سره برابر کړي په د اسې حال کښې چه ورغوي دې د اوږو سره برابر کړي نو بیا به په دواړو روایتونو عمل وشي د اسې حال کښې

رواه ابو داؤد السجستاني: عن وائل بن حجر قال رأیت رسول الله ﷺ یرفع ابهامیه في الصلوة الی شحمة أذنیه (بذل المجهود شرح ابي داؤد ج۲، ص۱۸، باب افتتاح الصلوة) عن مالك بن الحویرث رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ کان اذا کبر رفع یدیه حتی یحاذي بهما أذنیه و في روایة حتی یحاذي بهما فرو أذنیه. (اعلاء السنن ج۱، ص۱۰۸، باب افتراض التحریمة و سننها) و مثله في صحیح مسلم ج۱، ص۱٦۸ ، باب استحباب رفع الیدین حذو المنکبین) کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص۴۱۴

## له تكبير تحريمه څخه وروسته د لاسونو زوړندول او كه مخامخ تر نامه لاندې تړل

الاستفتاء: ځيني خلك موليدلي دي چه د تكبير تحريمه له ويلو وروسته لاسونه زوړند وي او بيائې په نامه پورې تړي. آيا د اسې كول صحيح دي او كه څنګه؟

الجواب حامدا ومصليا: د تكبير تحريمه له ويلو وروسته كه لاسونه وزړوي بيا ئې په نامه پورې وتړي او كه ئې مخامخ په نامه پورې وتړي دواړه صحيح دي. البته د امام ابو حنيفه په نزد له تكبير تحريمه څخه دې فورا وروسته بايد لاسونه تر نامه لاندې ځاي پورې وتړي او و ئې نه زړوي. همدا بهتر هم دي

-لما قال العلامة الحصكفي: و وضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته اخذاً رسغها بخنصره و ابهامه هو المختار تضع المرأة و الخنثى الكف على الكف تحت ثديها (كما فرغ من التكبير) بلا ارسال في الاصح. قال ابن عابدين: (تحت قوله بلا ارسال) هو ظاهر الرواية. (رد المحتار ج ١، ص ٤٨٦ ، اركان الصلوة، مطلب في بيان المتواتر و الشاذ) قال الشيخ عبد الحي الكهنوي: (تحت قوله تحت سرته) و عند ابي حنيفة و ابي يوسف يضع كما فرغ من التكبير و لا يرسل و به جزم قاضيخان في فتاواه و لم يذكر خلافا الخ. (السعاية ج ٢، ص ١٥٦، باب صفة الصلوة) و مثله في امداد الاحكام ج١، ص ٤٧٦ ، باب صفة الصلوة)باب شروط الصلوة و

## د سړي لپاره د لمانځه په وخت كښې پخپله كعبې يا د كعبې خواته د مخ ګرځولو حكم

الاستفتاء: د حنفي فقهي په كتابونو كښې ليكلي دي چه د مكي لپاره پخپله كعبې او د شاو خوا خلكو لپاره د كعبې خوا ته مخ ګرځول ضروري دي ليكن ن صبا په مكې كښې لوي لوي عمارتونه د مسجد حرام او لمونځ كوونكي په منځ كښې حائل جوړ شوي دي-نو په دې صورت كښې به مكي د قبلې تعين څنګه كوي؟

الجواب حامدا ومصليا: دا حكم د هغه مكي لپاره دي چه كعبه شريفهويني نو په هغه باندې لازمه ده چه عين كعبې ته مخ وګرځوي او لمونځ ادا كړي او چا ته چه كعبه نه معلوميږي د هغه لپاره د آفاقي غوندې د كعبې طرف كافي دي اګر كه هغه په مكه مكرمه كښې اوسيږي هم-

قال العلامة الحصكفي: فللمكى اصابة عينها ليعم المعاين و غيره لكن في البحر انه ضعيف و الاصح ان ما بينه و بينها حائل كا لغائب. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٤٢٧/٤٢٨ ، باب شروط الصلوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و في الدراية من كان بينه و بين الكعبة حائل الاصح انه كا لغائب. (كبيري ص٢١٧، الشرط الرابع)

## د حطيم خوا ته د مخ په ګرځولو سره د لمانځه د اداکولو مسئله

الاستفتاء: مونږ په کتابونو کښې ليدلي دي چه حطيم د بيت الله شريف برخه ده لهذا که چېرته کوم سړي د حطيم خوا ته مخ وګرځوي او لمونځ وکړي نو لمونځ ئې کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً و مصلياً: اګر که له خبر احاد څخه څرګنديږي چه حطيم د بيت الله شريف برخه ده ليکن دا يو ظني امر دی او قبلې ته مخامخ و الی له قطعي الثبوت دليل څخه ثابت دي۔ لکه څرنګه چه فقهاء کرامو ليکلي دي چه که چېرته کوم سړي حطيم ته مخامخ ودريږي او لمونځ وکړي نو لمونځ ئې نه کيږي۔

قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله كاستقباله احتياطاً) فانه اذا استقبله المصلى لم تصح صلوته لان فرضية استقبال القبلة ثبتت با لنص القطعي و كون الحطيم من الكعبة ثبتت با لآحاد فصار كانه من الكعبة من وجه دون وجه. (ردالمحتار ج ١ ، ص ٤٩٦ ، مبحث الطواف) قال العلامة ابراهيم الحلبي: الكعبة اسم الموضة...... و لو صلى الى الحطيم وحده لا يجوز. (كبيرى ص ٢٢٥، الشرط الرابع فروع في شرح الطحاوى) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤١٥

## د قبلې د سمت د ټاکلو لپاره د قبله نما د استعمالولو حکم

الاستفتاء: په نن دور کښې خلک د قبلې د تعين لپاره قبله نما استعمالوي. د دې شرعي حيثيت څه شي دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداو مصليا: د لمانځه د ادا کولو لپاره يو اهم رکن په ښارونو او کليو کښې قبلې ته. مخ کرځول او يا د قبلې طرف دی- فقهاء کرامو د دې د پېژندلو لپاره د پخوا زمانې جوماتونه او چه له هغو ځخه غالب ګمان کيږي چه قبلې په دې خواده. چونکه د موجوده زمانې دا آله (قبله نما) د ظن غالب د حاصلولو لپاره ډير د کار شي دی. د دې لپاره د قبلې په تعين کښې د دې آلې استعمالول شرعا صحيح دي او د قبلې صحيح طرف پرې تا کل کيږي-

لما قال في الهندية: وجهة الكعبة تعرف با لدليل في الامصار و القرى المحاريب التي نصبها الصحابة والتابعون فعلينااتباعهم فان لم تكن فا لسؤال من اهل ذلك الموضع و اما في البحار و المفاوز فدليل القبلة النجوم. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ٦٣، الفصل الثالث في استقبال القبلة) و تعرف با لدليل و هو في القرى و الامصار محاريب الصحابة و التابعين و في المفاوز و البحار النجوم كا لقطب . قال ابن عابدين: (تحت قوله كا لقطب).. . و على ما وضعوه لها من الآلات كا لربع و الاصطرلاب فانها لم تفد اليقين تف غلبة الظن للعالم بها و غلبة الظن كافية في ذلك، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٤٣٠، كتاب الصلوة، اركان الفرائض)

## په ريل ګاډي کښې د لمانځه په وخت استقبال قبله ضروري ده

الاستفتاء: په ريل ګاډي کښې د سفر په دوران کښې د لمانځه وخت هم راځي ليکن په هغه کښې د قبلې ډيره لويه مسئله وي ځکه چه د قبلې صحيح اندازه نه لګيږي او که چرته و هم لګيږي نو ريل ګاډي کله کله د لمانځه په عين دوران کښې د قبلې له خوا ځخه ګرځي نو په دې حالت کښې به د لمانځه حکم ځه وي؟

الجواب حامداو مصليا: ځينې ريل ګاډي د اسې جوړ شوي دي چه د مسلمان لپاره په لمانځه کښې قبلې ته مخامخ دريدل ممکن وي. لهذا د لمانځه له پيل ځخه تر آخره پورې مخامخ قبلې ته بايد لمونځ وکړي. که چېرته په ابتداء کښې قبلې ته مخامخ شي او لمونځ شروع کړي او په منځ کښې د ريل ګاډي مخ له قبلې ځخه و اوړي نو لمونځ کوونکي دې په لمانځه کښې خپل مخ قبلې ته واړوي. البته که چېرته په ريل ګاډي کښې دومره زيات هجوم وي چه مخ ګرځول ممکن نه وي نو د مجبورۍ له مخې ئې لمونځ کيږي. په فقهي ذخيرو کښې د دې مثال د لنګر اچوونکي بيړۍ غوندې دی-

قال العلامة الحصكفي........ و المربوطة بلجة البحر ان كان الريح يحركها شديداً فكا لسائرة و الا فكالواقفة و يلزم استقبال القبلة عند الافتتاح و كلما دارت. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۱۰۱، باب صلوة المريض)

وقال الشيخ المفتي عزيز الرحمن: اگر کسي در ريل نماز فرض خواند پس استقبال قبله وقيام در کوع و سجود وغيره جمله ارکان صلوة ادا کردن ضروري است و محض از سواري ريل استقبال ساقط نمي شود چرا که باوجود تحويل الواح به قدري دقت و تکلف استقبال ممکن است، اگر بلا مجبوري ترا استقبال کرد نماز جائز ادا نمي شود و اگر مستقبل قبله بوده نماز شروع کرد و در حالت صلوة سمت قبله مبدل گرديد پس مصلي را ضروري است که و در صلوة نفل جائز او هم متوجه قبله بوده نماز تمام کند که جمله ارکان صلوة ادا شوند و مصلي ريل را در نماز فرض قعود قطعاً جائز نيست است. البته اگر في الحقيقت هجوم اين قدر باشد که حرکت رکوع و سجود ممکن نيست ونيز بر ص۱٤٦، ارکان الصلوة، فصل ثالث، استقبال قبله) صلوة از خارج ريل قادر نيست بلا استقبال و بلا قيام ادا کند و اين صورت نادر است. (فتاوي دار العلوم ديوبند ج۲،

## په ريل ګاډي کښې هم د لمانځه لپاره قيام فرض دی

الاستفتاء: مونږ له پېښور څخه کراچۍ ته سفر په ريل ګاډي کښې کوو. په ريل ګاډي کښې د ډير هجوم له وجهې په ولاړې لمونځ کول مشکل وي. په داسې صورت کښې مونږ په ناستو سره لمونځ کولي شو او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې قيام (دريدل) فرض دي بغير له شرعي عذر څخه ئې پريښودل صحيح نه دي. د دې لپاره لومړي خپلو هم سفرو ملګرو ته عرض وکړي او د لمانځه لپاره ځاي ترې وغواړي. که چېرته ځاي درنه کړي نو بيا په ناستې سره لمونځ وکړي ليکن د دې لمانځه بيرته را ګرځول ضروري دي. البته که چېرته د سر د ګرځيدو او يا د لويد و خطروي نو پر ته له را ګرځولو څخه مو هم لمونځ جائز دی۔

قال العلامة ابن نجيم: الاسير في يد العدو اذا منعه الكافر عن الوضوء و الصلوة يتيمم و يصلى با لايماء ثم يعيد اذا خرج..... كا لمحبوس لان الطهارة التيمم تظهر في منع وجوب الاعادة ثم قال فعلم منه ان

العذر ان كان من قبل الله تعالى لا تجب الاعادة و ان كان من قبل العبد وجب الاعادة. (البحر الرائق ج۱، ص۱٤۹ ، باب التيمم) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۱۷

## د لمانځه په دوران کښې د دواړو پښو تر منځ د فاصلې حکم-

الاستفتاء: د دريدو په حالت کښې به لمونځ کوونکي د دواړو پښو تر منځ څومره فاصله پريږدي؟ ځينې خلک د دواړو پښو تر منځ يوه لويشت پورې فاصله پريږدي، آيا شرعاً دا فاصله صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: دا د لمانځه له آدابو څخه ده چه لمونځ کوونکي به د دواړو پښو تر منځ د څلورو ګوتو په برابر فاصله پريږدي. دومره فاصله به نه پريږدي چه توازن ئې پرې خراب شي

لما قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله منها القيام) و ينبغي ان يكون بينهما مقدار اربع اصابع اليد لانه اقرب الى الخشوع. (رد المحتار ج ۱، ص ٤٤٤ ، فرائض الصلوة) قال العلامة عبد الحي الكهنوى: و يستحب ان يكون بين الرجلين عند القيام مقدار اربعة اصابع كما في البزازية و غيرها لكونه اقرب الى الخشوع. (السعاية ج۲، ص۱۱۱، باب صفة الصلوة) و مثله في فتاوي دار العلوم ديوبند ج۰۲ ص ۱۵۳ ، فصل اول، باب صفة الصلوة)

## له عذر څخه پرته په يوې پښې باندې دريدل او لمونځ کول

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! په لمانځه کښې پرته (بغير) له کوم عذر څخه په يوې پښې باندې دريدل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په لمانځه کښې بايد په دواړو پښو باندې ودريږي- فقهاء کرامو په يوې پښې باندې دريدل مکروه بللي دي. د دې لپاره په داسې صورت کښې سستي او کاهلي ظاهريږي-

لما قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله و منها القيام) و يكره القيام على احد القدمين في الصلوة بلا عذر (رد المحتار ج ۱ ، ص ٤٤٤ ، فرائض الصلوة) و في الهندية: و يكره القيام على احد القدمين من غير

عذر و تجوز الصلوة و للعذر لا يكره. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۹ ٦ ، الباب الرابع في صفة الصلوة، الفصل الاول) و مثله في الجوهرة النيرة ج ۱، ص ۵۸، باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۱۸

## سجدې ته د تللو په وخت کښې په زمکې باندې لومړي لاسونود کیښودلو حکم

الاستفتاء: ځيني خلک سجدې د تګ په وخت کښې لومړي لاس په زمکه ږدي او بيا زنګنونه. په داسې حال کښې چه له علماء کرامو څخه مو اوريدلي دي چه سجدې ته د تللو په وخت کښې بايد لومړي زنګنونه کيښودل شي او بيا لاسونه. که چيرته څوک په نوموړي صورت سجدې ته لاړ شي نو لمونځ ئې کيږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: په مبارکو احاديثو کښې دواړه صورتونه راغلي دي. د حضرت وائل بن حجر په روايت کښې وضع الركبتين قبل اليدين (د زنګنونو له لاسونو څخه مخکښې د کيښودلو) الفاظ راغلي دي او د حضرت ابو هريره په يوه روايت کښې وضع اليدين قبل الركبتين ذکر راغلي دی. ليکن احنافو علماوو د حضرت وائل بن حجر روايت له ډ نورو مؤيد اتو له وجهې راجح بللي دی. د دې لپاره سنت دا دي چه لومړي په زمکې باندې زنګنونه کيښودل شي او بيا لاسونه. البته که چيرته کوم عذر وي نو بيا دې لومړي لاسونه کيښودل شي.

قال العلامة الحصكفي: و يسجد واضعا ركبتيه اولا لقربهما من الأرض ثم يديه الا لعذر. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱ ، ص ۴۹۷ ، فصل اذا اراد الشروع) قال العلامة ابوا البركات النسفي: ثم كبر و وضع ركبتيه ثم يديه ثم وجهه بين كفيه. قال ابن نجيم المصرى:تحت قوله ثم كبر و وضع الخ) كما كان يفعله عليه السلام ..... انه اذا اراد السجود يضع أولاً ما كان اقرب الى الارض فيضع ركبتيه اولا ثم يديه...... الخ. (البحر ا .. الخ. (البحر الرائق ج۱، ص۳۱۷، باب صفة الصلوة)

## په تخته پوښ باندې د لمانځه د اداکولو حکم

الاستفتاء: نن صبا د نجونو مور او پلار د واده په وخت کښې په جهيز کښې يا د هلک خپلوان د لمانځه لپاره يو تخت جوړوي چه په پښتو کښې ورته "تخته پوش" وايي. د شريعت له مخې په تخته پوش باندې لمونځ څنګه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته د اسې تخت له لرګي څخه جوړ شوي وي چه د قيام په حالت يا رکوع او سجدې باندې کوم اثر نه اچوي نو په د اسې تخت باندې لمونځ جائز دي په دې شرط چه په زمکې باندې اېښې وي

قال العلامة الحصكفي: لا يصح لعدم السجود على محله و بشرط طهارة المكان و ان يجد حجم الارض. قال ابن عابدين: (تحت قوله ان يجد حجم الارض ) تفسيره ان الساجد لو بالغ لا يتسفل رأسه ابلغ من ذلك فصح على طنفسة و حصير و حنطة و شعير و سرير و عجلة ان كانت على الارض لا على ظهر حيوان كبساط مشدود بين اشجار. (رد المحتار ج ١ ، ص ٥٠٠، فصل اذا اراد الشروع) قال العلامة ابن نجيم المصرى: و الاصل كما انه يجوز السجود على الارض على ما هو بمعنى الارض مما تجد جبهته حجمه و تستقر عليه و تفسير وجد ان الحجم ان الساجد لو بالغ لا يسفل رأسه ابلغ من ذلك فيصح السجود على الطنفسة و الحصير و الحنطة و الشعير و السرير و العجلة ان كانت على الارض لانه يجد حجم الارض. (البحر الرائق ج١، ص٣١٩، باب صفة الصلوة) و مثله في فتاوي دار العلوم ديوبند ج ٢، ص ١٥٢ ، فصل اول صفة الصلوة)

## د قالينې او فوم په فرشونو باندې د لمانځه حکم

الاستفتاء: زمونږ د کلي په جومات کښې يو د خير خاوند د لمونځ کوونکو لپاره قالينه ويره کړې ده چه ډيره نرمه ده. آيا په داسې قالينې باندې لمونځ جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په لمانځه کښې په زمکې باندې سجده يعنې د زمکې د کلکوالي احساس ضروري دی. لهذا که چېرته په قالينې باندې د سجدې په دوران کښې د زمکې د کلکوالي احساس کيد اي شواي نو لمونځ پرې جائز دي او

که نه نو جائز نه دی. لکه څرنګه چه د نن صبا په قالینو کښې د زمکې د کلکوالي ادراک کیږي له دې وجهې په قالینې، کاربټ، دري او د اسې نورو باندې لمونځ کول جائز دي. البته ډیر نرم فوم باندې لمونځ جائز نه دی-

لما قال العلامة الحصكفي: لا يصح لعدم السجود على محله و بشرط طهارة المكان و ان يجد حجم الارض . قال ابن عابدين: (تحت قوله ان يجد حجم الارض) ...... او حشيش الا ان وجد حجمه و من هنا يعلم الجواز على الطراحة القطن فان وجد الحجم جاز و الا فلا، (رد المحتار ج ۱، ص ۵۰۱، فصل اذا اراد الشروع) قال العلامة ابن نجيم: و الاصل كما انه يجوز السجود على الأرض يجوز على ما هو بمعنى الأرض مما تجد جبهته حجمه و تستقر عليه و تفسير وجد ان الحجم ان الساجد لو بالغ لا يتسفل رأسه ابلغ من ذلك، (البحر الرائق ج۱ – ص۳۱۹، باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۲۰

## د آخرې قعدې حکم

الاستفتاء: په لمانځه کښې د آخري قعدې حکم څه دی؟ یعني فرض ده او که واجبه؟

الجواب حامدا ومصليا: د آخري قعدې په باره کښې مختلف اقوال دي. ځینې ئې واجبه بولي او ځینې فرض، ځینې ئې د لمانځه یو رکن بولي په داسې حال کښې چه ځینې ئې بیا د لمانځه له شرائطو څخه بولي. راجحه خبره داده چه آخري قعده فرض او شرط ده –

قال العلامة الحصكفي: و منها القعود الاخير و الذي يظهر انه شرط لانه شرع للخروج كا لتحريمة للمشروع. قال ابن عابدين: (تحت قوله و الذي يظهرالخ) اختلف في القعدة الأخيرة قال بعضهم هي ركن اصلى. و في كشف للبزودى: انها واجبة لا فرض لكن الواجب هنا في قوة الفرض في العمل كا لوتر وفي خزانة الروايات انها فرض و ليست بركن اصلي بل هي شرط للتحليل و جزم انها فرض في الفتح و التبيين. (رد المحتار ج۱، ص۴۴۸، فرائض الصلوة، في بحث القعود الاخير)قال العلامة بدر الدين العيني: و ذكر في الايضاح اما القعدة الأخيرة فمن جملة الفروض و ليست من الاركان لان الشيء ما يفسر به ذلك الشيء و تفسير الصلوة لا يقع با لقعدة و انما يقع با لقيام و القرأة و الركوع و السجود و انما انعدمت الركنية في

القعدة لانها اعتدت لغيرها لا لعينها لان الصلوة لتعظيم و هو با لقيام و دار با لركوع و يتاهي با لسجود و القعدة للخروج. (البناية ج٢، ص١٦٨، باب صفة الصلوة) و مثله في الطحطاوي حاشيه مراقي الفلاح ص ١٢٨، باب شروط الصلوة و اركانها.

## د آخري قعدې له فرضيت څخه منكر كافر نه دى

الاستفتاء: زمونږ د كلي په جومات كښې د دوو كسانو تر منځ بحث كيده. يوه وويل چه كوم سړي په لمانځه كښې له آخري قعدې څخه منكر وي نو هغه كافر نه دي او بل وويل چه كافر دى-اوس پوښتنه دا ده چه په دغو دواړو كښې د كوم يوه خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا او مصليا: د آخري قعدې په باره كښې له فقهاء كرامو څخه مختلف روايتونه راغلي دي. په كشف الاسرار للبزودي كښې دي چه آخري قعده واجبه ده او فرض نه ده ليكن. فتاوي حقانيه دويم جلد دا وجوب د فرضيت په حكم كښې دى. او د خزانه الروايات مصنف وايي چه فرض ده. او دي روايت لره ابن الهمام او فخر الدين الزيلعي راجح بللي دى-بناء پر دي اختلاف كه چيرته څوک په لمانځه كښې د اخري قعدې له فرضيت څخه منكر وي نو كافر نه دي. البته د روا والي منكر ئې كافر دى. نو ځكه د لومړي سړي خبره صحيح ده

قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله لا يكفر منكر) الظاهر ان المراد منكر فرضيته لانه قبل بوجوبه كما في القهستاني و اما منكر اصل مشروعيته فينبعى ان يكفر لثبوته با لاجماع بل معلوم من الدين با لضرورة افاده و يؤيده ما قالوا في السنن الرواتب من لم يرها حقاً كفر . (رد المحتار ج ١ ، ص ٤٤٨ ، فرائض الصلوة في بحث القعود الاخير) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالى: و حكم الواجب استحقاق العقاب بتركه عمداً و عدم اكفار جاحده و الثواب بفعله و لزوم سجود السهو لنقص الصلوة بتركه سهوا. آه (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ١٩٩/٠ فصل في واجبات الصلوة) و مثله في الفقه الاسلامي و ادلته ج ١، ص ٦٢٤، الفصل الخامس اركان الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٢١

## باب واجبات الصلوة

### د جماعت په لمانځه کښې د امام یواځې پاتې کیدل

الاستفتاء: که چېرته کله واري د کوم امام مقتدیان د جمعې په لمانځه کښې وتښتي او امام یواځې پرېږدي نو امام به تکبیرونه په زوره وايي او که په پټه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصلیاً: د مقتدیانو په تښتیدلو باندې د امام په لمانځه هیڅ اثر نه لوېږي، البته په دې صورت کښې به امام د یواځې لمونځ کوونکي غوندې ګرځي. لهذا په سري لمونځونو کښې به اخفاء کوي او په جهري لمونځونو کښې جهر هم ورته جائز دی۔

و ان كان منفرداً ان كانت صلوة يخافت فيها حتما هو الصحيح و ان كانت صلوة يجهر فيها فهو با لخيار و الجهر افضل و لكن لا يبالغ مثل الامام لانه لا يسمع غيره كذا في التبين و لا يجهر الامام نفسه با لجهر كذا في البحر الرائق. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۷۲، واجبات الصلوة، الفصل الثاني) قال العلامة ابن عابدين: و الاسرار يجب على الامام و المنفرد فيما يستر فيه و هو في صلوة الظهر و العصر.(رد المحتار ج ۱، ص ٤٦٩ ، واجبات الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۳۰۲، واجبات الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص٤۲۳

### اوله قعده واجبه ده

الاستفتاء: درې یا څلورو رکعاتو فرض لمانځه کښې خو اوله قعده واجبه ده، آیا په نفلو (صلوه التسبیح او د اسې نورو لمونځونو کښې هم اوله قعده واجبه ده او که څنګه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصلیاً: اوله قعده لکه څرنګه چه په درېو یا څلورو رکعتونو فرضو کښې واجبه ده همدارنګه په نفلو ، سنتو او وترو کښې هم واجبه ده –

قال العلامة الحصكفي: و لها واجبات ....... و القعود الاول و لو في نفل في الأصح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١ ، ص ٦٥ ٤ ، باب صفة الصلوة، مطلب واجبات الصلوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و من الواجبات القعدة الاولى لما مر مراراً. (كبيرى ص٢٩٦، واجبات الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣٠٠، واجبات الصلوة، باب صفة الصلوة)

## د ارکانو تعدیل واجب دی

الاستفتاء: ځیني خلک د اسې لمونځ کوي لکه څرنګه چه چرګ د انه ټولوي. دد اسې لمانځه حکم څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: نوموړي صورت د لمانځه په واجباتو پورې تعلق لري. په لمانځه کښې د لمانځه د ارکانو په آرام او اطمینان سره اداکول واجب دي . کوم لمونځ چه د ارکانو له تعدیل سره ادا نه شي د هغه لمانځه بیرته را ګرځول واجب دي-البته که چېرته په سهو سره له چا څخه تعدیل د ارکانو پاتې شي نو په سجده سهو سره ئې لمونځ صحیح کیږي-

قال العلامة الحصكفي: لها واجبات لا تفسد بتركها و تعاد وجوباً في العمد و السهو ان لم يسجد له و ان لم ، ، يعدها يكون فاسقا اثماً.. . و هي قرأة فاتحة الكتاب ..و تعديل الاركان. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١ ص ٤٥٦ و ٤٦٤ ، مطلب واجبات الصلوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و عندهما تعديل الاركان من الواجبات لا من الفرائض. (كبيري ص ٢٩٤، باب صفة الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٢٩٩، باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج ٢ ص٢٢۴

## په لمانځه کښې د قومې او جلسې حکم

الاستفتاء: ځیني خلک لیدل کیږي چه په لمانځه کښې له رکوع څخه سیده نه دریږي بلکه له رکوع څخه مخامخ سجدې ته ځي، همدا ډول د دواړو سجدو په منځ کښې هم په پوره ډول نه کښیني بلکه له یوې سجدې څخه ئې لا پوره سر نه وي پورته کړي چه دو همې سجدې ته لاړ شي، آیا د ډول لمونځ جائز دی؟

الجواب حامدا و مصليا: قومه (له ركوع څخه وروسته سيده دريدل) او جلسه (د دوو سجدو په منځ کښې کښيناستل) دواړه واجب دي، که چېرته په سهو سره پاتې شي نو سجده سهو ورته کافي ده او که چېرته په قصد سره ئې څوک پرېږدي نو د لمانځه بيرته راګرځول پرې واجب دي۔

:قال العلامة الحصكفي: و لها واجبات .. و هي قرأة فاتحة الكتاب . . . تعديل الاركان اي تسكينالجوارح قدر تسبيحة في الركوع و السجود و كذا في الرفع منهما على ما اختاره الكمال. قال ابن عابدين: (تحت قوله و كذا الرفع) اي يجب التعديل ايضاً في القومة من الركوع و الجلسة بين السجدتين و تضمن كلامه وجوب نفس القومة و الجلسة أيضاً الخ.. حتى لو تركها او شيئاً منها ساهيا يلزمه السهو و لو عمداً يكره اشد الكراهة و يلزمه ان يعيد الصلوة. (رد المحتار ج ١، ص ٤٦٤ ، باب صفة الصلوة، مطلب واجبات الصلوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: قال الشيخ كمال الدين بن الهمام و ينبغي ان تكون القومة و الجلسة واجبتين للمواظبة. (كبيري ص ٢٩٤ ، باب الثامن تعديل اركان) و مثله في البحر الرائق ج١، ص ٣٠٠، باب صفة الصلوة)

## په لمانځه کښې د التحيات د لوستلو حکم

الاستفتاء: په لمانځه کښې التحيات لوستل ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د لمانځه په دواړو قعدو کښې تشهد لوستل واجب دي، که چېرته په سهوې سره پاتې شي نو سجده سهو لازميږي، او که چېرته په قصد سره ئې څوک پرېږدي نو د لمانځه بيرته راګرځول پرې ضروري دي۔

قال العلامة ابراهيم الحلبي: و منها قرأة التشهد فانها واجبة في القعدتين الاولى و الاخيرة......... فاوجب السجود بترك التشهد في القعدة الاولى كما في القعدة الأخيرة و هو ظاهر الرواية. (كبيرى ص ٢٩٦، واجبات الصلوة) قال العلامة ابن عابدين: تحت قوله و لها واجبات..... (و التشهد ) اي تشهد القعدة الاولى و تشهد الاخير . (رد المحتار ج ١، ص ٤٦٦ ، مطلب واجبات الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٢٤

## د وترو په لمانځه کښې د دعاء قنوت حکم

الاستفتاء: په وترو کښې د دعاء قنوت حکم څه دی؟ که چېرته سهو آله چا څخه پاتې شي نو بیا ئې څه حکم دی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په وترو کښې د دعاء قنوت لوستل واجب دي. که چېرته له چا څخه سهواً پاتې شي نو سجده سهو پرې لازمیږي-

قال العلامة الحصكفي: و قرأة قنوت الوتر و هو مطلق الدعاء. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١ ، ص ٤٦٨ ، باب صفة الصلوة، مطلب واجبات الصلوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و منها قرأة القنوت في الوتر. (كبيري ص ٢٩٦، واجبات الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣٠١، واجبات الصلوة، باب صفة الصلوة)

## : د زوائد و تکبیرونو حکم

الاستفتاء: په اخترونو کښې څو زوائد تکبیرونه دي؟ او دا تکبیرونه سنت دي او که واجب؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په کوچني او لوي اختر کښې زوائد تکبیرونه شپږ دي او د اتکبیرونه د لمانځه په واجباتو کښې داخل دي. که چېرته په سهوې سره دا تکبیرونه پاتې شي نو سجده سهو واجبیږي-

قال العلامة الحصكفي: و تكبيرات العيدين و كذا احدها و تكبير ركوع ركعة الثانية كلفظ التكبير في افتتاحه لكن الاشبه وجوبه في كل صلوة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٤٦٩ ، مطلب واجبات الصلوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و منها تكبيرات العيدين للمواظبة عليها من غير ترك و المراد التكبيرات الزوائد لا جميع. (كبيرى ص٢٩٦، واجبات الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣٠١، واجبات الصلوة، باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٢٥

## باب سنن الصلوه

### په التحاتو كښې په ګوتې سره اشاره سنت ده

الاستفتاء: د تشهد په حالت کښې په سبابه (د شهادت) په ګوتې باندې اشاره کول څنګه دي؟ ځيني خلک ئې په حراموالي قائل دي په داسې حال کښې چه روايتونه ئې په ثبوت، استحباب او سنتوالي باندې د ال دي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په تشهد کښې د اشهد ان لا اله الا الله ويلو په وخت کښې د سبابه (د شهادت ګوته) په ګوتې باندې اشاره د احاديثو او فقهي ذخائرو له مخې ثابته ده. د دې لپاره په لمانځه کښې د اشهد ان لا اله الا الله ويلو په وخت په ګوتې باندې اشاره سنت ده کوم خلک چه بدعت ورته وايي د هغو دا رأيه د صريحو حديثو مخالفه ده

-عن عبد الله بن الزبير عن ابيه قال كان رسول الله اذا قعد يدعو وضع يده اليمنى على فخذه اليمنى و يده اليسرى على فخذه اليسرى و اشار باصبعه السبابة و وضع ابهامه على اصبعه الوسطى و يلقم كفه اليسرى ركبته. (الصحيح المسلم ج١، ص٢١٦، باب صفة الجلوس في الصلوة)عن وائل بن حجر قال قلت لانظرن الى صلوة رسول الله صلى الله عليه وسلم و حلق بشر الابهام و الوسطى و اشار بالسبابة. (سنن ابي داؤد ج١، ص ١٠٥، باب رفع اليدين) و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٥٠٨، آداب الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٢۶

### د رفع اليدين تحقيق

الاستفتاء: د لمانځه په دوران کښې په رفع اليدين (له تکبير اولې څخه پرته د لمانځه په نورو رکنونو کښې د لاسونو پورته کولو او نه رفع اليدين کښې کوم يو له صحيحو روايتونو سره موافق دی؟

الجواب حامدا و مصليا: په احاديثو کښې د رفع اليدين او نه رفع اليدين دواړو روايتونه موجود دي-ليکن د احنافو د تحقيق مطابق رفع اليدين نه کول بهتر دي-

عن براء بن عازب قال ان رسول الله ﷺ كان اذا افتتح الصلوة رفع يديه الى قريب من أذنيه ثم لا يعود. (ابي داؤد ج١، ص١٠٩) عن علقمة قال قال لنا ابن مسعود الا أصلى بكم صلوة رسول الله ﷺ فصلى و لم يرفع يديه الا مرة واحدة مع تكبير الافتاح، رواه الترمذي و ابو داؤد و النسائي. (مشكوة ج١، ص٧٧، باب صفة الصلو) عن عبد الله بن عمر قال رأيت رسول الله ﷺ اذا افتتح الصلوة رفع يديه حذو منكبيه و اذا اراد ان يركع و بعد ما يرفع رأسه من الركوع فلا يرفع و لا بين السجدتين. (مسند حميدي ج٢، ص٢٧٧، رقم حديث ٦١٤ ، احاديث عبد الله بن عمر بن الخطاب) و مثله في الجامع الترمذي ج١، ص ٥٩ ، باب رفع اليدين عند الركوع)

## .د تكبير تحريمه په وخت كښې د لاسونو پورته كول

الاستفتاء: په تكبير تحريمه كښې د لاسونو د پورته كولو مسنون وخت كوم دى؟

الجواب حامدا ومصليا: د تكبير تحريمه په وخت كښې له تكبير ويلو څخه مخكښې يا وروسته او يا د تكبير ويلو سره يو ځاي د لاسونو په پورته كولو سره د رفع يدين سنت اداكيږي-البته بهتره داده چه له تكبير څخه مخكښې لاسونه پورته شي او بيا تكبير وويل شي-

قال الحصكفي: (و رفع يديه) قبل التكبير و قيل معه قال ابن عابدين (قوله رفع اليدين) للتحريمة. (رد المحتار ج١، ص ٤٧٤، سنن الصلوة)قال المرغيناني: يرفع يديه مع التكبير و هو سنة لان النبي عليه السلام واظب عليه و هذا اللفظ يشير الى اشتراط المقارنة و هو المروى عن ابي يوسف و المحكى عن الطحاوي و الاصح انه يرفع يديه اولا ثم يكبر لان فعله نفى الكبرياء عن غير الله تعالى و النفى مقدم و يرفع يديه. (الهداية ج١، ص١٠٠، صفة الصلوة) و مثله في الهندية ج١ ، ص ٧٢، الفصل الثالث في سنن الصلوة)

## د قومې او جلسې اندازه

الاستفتاء: د قومې او جلسې اندازه او په لمانځه کښې ئې حيثيت څه دی؟

الجواب حامدا ومصليا: قومه او جلسه دواړه ډیرو کتابو د لمانځه له سنتونو څخه بللي دي خوراجح او مفتي به داده چي له واجباتو څخه دي چه اندازه ئې د يو ځل تسبيح ويلو سره برابره ده

قال العلامة الحصكفي: (و) كذا (الرفع منه) بحيث يستوى قائماً..... (و الجلسة بين السجدتين وضع يديه فيها على فخذيه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص٤٧٦ ، سنن الصلوة)

دسنتو په پرېښودو سره لمونځ نه فاسديږي البته پرېښودل ئې مناسب نه دي-

(و سنتها) ترك السنة لا يوجب فساداً و لا لهوا بل اساء ة لو عامدا غير مستخف و قالوا الاساءة ادون من الكراهة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٤٧٣، سنن الصلوة) (سننها) و القومة و الجلسة كذا في البحر الرائق و كذا الطمانية فيها قدر تسبيحة كذا في شرح المنية لابن امير الحاج. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۷۲، الفصل الثالث في سنن الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص ۳۲۱، باب صفة الصلوة)لما قال العلامة رحمه الله تعالى في الدر المختار ولهاواجبات.......وهي قرأة فاتحة الكتاب وتعديل الاركان اي تسكين الجوارح قدرتسبيحة في الركوع والسجود وكذا فيالرفع منهما علي مااختاره الكمال الدرالمختار مع رد المحتار ج ۱ص۳۴۲بدائع الصنائع ج۱ص۳۹۹ حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص۲۵۰فتاوى رحيميه ج۵ص۱۵۳فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۲ص۱۴۰

## .په لمانځه کښې د تسبيح اندازه

الاستفتاء: زمونږ د کلي امام په رکوع او سجدې کښې پنځه وارې تسبيح وايي. په داسې حال کښې چه ځيني مقتديان ئې په دې اصرار کوي چه درې وارې دې وويل شي او په پنځه وارې ويلو باندې ډير وخت تيريږي، آيا د شريعت له مخې په درې وارې ويلو سره لمونځ کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته يو څوک په رکوع او سجدې کښې درې ځله تسبيح ووايي نو سنت ئې اد اکېږي او له دې څخه زيات ويل ئې د استحباب درجه لري - - تكبير الركوع و تسبيحه ثلاثا. (الفتاوى الهندية ج١، ص ٧٢، سنن الصلوة)

البته امام صاحب بايد چه د مقتديانو لحاظ وکړي او په درې ځله تسبيح ويلو باندې اکتفاء وکړي

عن ابي هريرة قال قال رسول الله اذا صلى أحدكم للناس فليخفف فان فيهم السقيم و الضعيف و الكبير و اذا صلى احدكم لنفسه فليطول ما شاء. متفق عليه. (مشكوة ج١، ص١٠١، باب ما على الامام) و في المسلم: عن ابي هريرة يقول قال رسول الله : اذا صلى أحدكم للناس فليخفف فان في الناس الضعيف و السقيم وذا الحاجة. (مسلم ج١، ص١٨٨) قال القدوري: يقول في ركوعه سبحان ربي العظيم ثلثا ذلك ادناه. (مختصر القدوري ص ٣٣، باب صفة الصلوة) و مثله في البخاري ج ١، ص ٩٧، باب اذا صلى لنفسه فليطول ما شاء. (الجوهرة النيرة ج١، ص ٦٢ ، باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٢٧

## .د سجدې په حالت کښې د ښځو لپاره مسنون کيفيت

الاستفتاء: په سجدې کښې ښځې بايد کوم کيفيت غوره کړي؟ آيا ښځې به د سړيو غوندې سجده کوي او که د ښځو لپاره کوم ځانګړې کيفيت شته په خاصه توګه د پښو کيفيت به ئې څنګه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په سجدې کښې د ښځو کيفيت له سړيو څخه بيل دی- بهتره داده چه ښځې د سجدې په وخت کښې پښې نه پورته کوي، ګېډه به له ورنونو سره لګوي او سجده به کوي په د اسې حال کښې چه څنګلې به له خپل جسم سره د لګولو په صورت کښې په زمکې باندې پړې دي، يعني په کوم کيفيت کښې چه د دوی لپاره زيات ستر وي هغه دې غوره کوي-

قال العلامة الحصكفي: (و المرأة تنخفض) فلا تبدئ عضديها (و تلصق بطنها بفخذيها) لأنه استر و حررنا في الخزائن انها تخالف الرجل في خمسة و عشرين . ذكر في البحر : انها لا تنصب اصابع القدمين كما

ذكره في المجتبى. (رد المحتار ج ١، ص ٥٠٤، باب صفة الصلوة) و المرأة لا تجافي في ركوعها و سجودها و تقعد على رجليها و في السجدة تفترش بطنها على فخذيها كذا في الخلاصة. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ٧٥ ، الفصل الثالث في سنن الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص ٣٢١، باب صفة الصلوة)

## .په لمانځه کښې د قيام په حالت کښې د لاس د تړلو طريقه

الاستفتاء: په لمانځه کښې د قيام په حالت کښې د لاس د تړلو طريقه څنګه ده؟ کله کله د لاس د تړلو په وخت کښې د کيڼ لاس په بند کښې کړى تړلې وي په دې سره خو به لمونځ مکروه کيږي نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې د لاس تړلو طريقه دا ده چه د ښي لاس ورغوي به د کيڼ لاس په شا باندې ږدي او د ښي لاس په خچې او بټې ګوتې باندې به د کيڼ لاس بند نيـــي او د نامه لاندې به ئې تړي-البته کړى کوم مقصود بالذات شي نه دي او نه د هغې په لاس کولو سره کوم ډول خنډرا منځ ته کيږي. لهذا د ګړى له وجهې هيڅ ډول کراهيت په لمانځه کښې نه راځي-

قال الحصكفي: (و وضع) الرجل (يمينه على يساره تحت السرة اخذ رسغها بخنصره و ابهامه) هو المختار. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١ ، ص ٤٨٦ ، صفة الصلوة) ذلك بان يضع باطن كفه اليمنى على ظاهر كفه اليسرى و ياخذ الرسغ با لخنصر و الابهام و يرسل الباقى على الذراع. (الهندية ج١، ص٧٣، سنن الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣٠٨، باب صفة الصلوة)

## په لمانځه کښې په جهر سره د آمين ويلو کيفيت

الاستفتاء: د جمعې په لمانځه کښې د آمين ويلو په وخت کښې به سړي کوم کيفيت اختيار وي؟ د احنافو په جګ آواز سره د آمين په ويلو سره په لمانځه کوم اثر کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: د آمين په اړه دوه ډوله روايتونه راغلي دي، د احنافو د تحقيق مطابق په آمين کښې اخفاء سنت ده، البته که چېرته کوم حنفي سري آمين په زوره ووايي نو بيا هم جائز دي او لمونځ ئې پرې نه فاسديږي۔

.::قال العلامة الحصكفي: (و امن الامام سراً كماموم و منفرد) و لو في السرية اذا سمعه و لو من مثله في نحو جمعة و عيد اما حديث اذا امن الامام فامنوا فمن التعليق بمعلوم الوجود فلا يتوقف على سماعه عنه بل يحصل بتمام الفاتحة بدليل اذا قال الامام و لا الضالين فقولوا آمين. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٤٩٢ ، آداب الصلوة) اذا فرغ من الفاتحة قال آمين و السنة فيه الاخفاء كذا في المحيط المنفرد و الامام سواء و كذا المأموم اذاسمع هكذا في الزاهدي. (الهندية ج١ ، ص ٧٤، الفصل الثالث في سنن الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣١٣. باب صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٢٩

## .په لمانځه کښې د صفونو د برابرولو حکم

الاستفتاء: په لمانځه کښې د صفونو د برابرولو حکم څه دی؟

الجواب حامداو مصليا: د جمعي په لمانځه کښې د صفونو سيده کول سنت مؤکد دي، رسول الله ﷺ ئې ډير اهتمام کړې دی، او په کږو وږو صفونو باندې سخت وعيدونه راغلي دي۔

عن النعمان بن بشير قال كان رسول الله ﷺ يسوى صفوفنا حتى كانما يسوى بها القداح حتى راى انا قد عقلنا عنه ثم خرج يوماً فقام حتى كاد ان يكبر فراى رجلاً بادياً صدره من الصف فقال عباد الله لتسون صفوفكم او ليخالفن الله بين وجوهكم. (مشكوة ج١، ص٩٧، باب تسوية الصفوف) قال العلامة ظفر احمد العثماني: و في حاشية البخاري عن العيني و هي (اى تسوية الصفوف) سنة الصلوة عند ابي حنيفة و الشافعي و مالك. (ج١، ص١٠٠) قلت : و الظاهر من كلام اصحابنا انها سنة مؤكدة لاطلاقهم الكراهة على ضدها و الكراهة المطلقة هي التحريمية الخ. (اعلاء السنن ج ٤، ص٣١٣، باب سنية تسوية الصف الخ) و مثله في معارف السنن ج ٢، ص٢٩٧، باب ما جاء في اقامة الصفوف)

## د تکبیــر تحریمه په وخت کښې ورغوي کومې خواته کـــــرځوي

الاستفتاء: ځینې خلک لیدل کیږي چه د تکبیـر تحریمه په وخت کښې د خپلو ورغوو مخونه د خپل مخ خواته ګرځوي آیا د اسې کول صحیح دي او که څنګه؟

الجواب حامدا ومصلیا: د تکبیر تحریمه په وخت کښې ورغوي د قبلې خواته ګرځول هم جائز دي او د خپل مخ خواته هم. البته د قبلې خواته ګرځول ئې ډیر بهتر دي

لما قال العلامة الحصكفي: و يستقبل بكفيه القبلة و قيل خديه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص ٤٨٢ ، باب صفة الصلوة، قبل مطلب الفارسية) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و يوجه حالة الرفع بطن كفيه نحو القبلة اكمالا عليها. و في الحاوى و قال يجعل بطن كل كف الى الكف الاخرى. (كبيري ص ۳۰۰، صفة الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص ۴۳۰

## .د نامه لاندې د لاسونو تړل سنت دي

الاستفتاء: له تکبیر تحریمه نه وروسته لاسونه په کوم ځاي باندې تړل کیږي؟ ځینې حضرات ئې په سینې پورې د تړلو تاکید کوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: د احنافو علماوو د تحقیق مطابق نارینه دې باید له تکبیـر تحریمه وروسته خپل لاسونه تر نامه لاندې ونیــي ځکه چه همدا سنت دی، البته ښځې او خُنثي مشکل دې په سینې پورې خپل لاسونه تړي۔

لما قال العلامة الحصكفي و وضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته اخذ رسغها بخنصره و ابهاميه هو المختار تضع المرأة و الخنثى الكف على الكف تحت ثديها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٤٨٦، باب صفة الصلوة، مطلب في بيان المتواتر و الشاذ) و في الهندية: و وضع يده اليمنى على اليسرى تحت السرة كما فرغ من التكبير و المرأة تضعها تحت ثديها . (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۷۲، الفصل الثالث في سنن الصلوة) و مثله في كبيري ص ۳۰۱، صفة الصلوة)

## .له ثناء څخه مخکښې او له تکبیر تحریمه څخه وروسته د دعاګانو مسئله

الاستفتاء: د حدیثو په کتابونو کښې له نبي کریم څخه تر تکبیر تحریمه وروسته ځینې دعاګانې مروي دي، آیا دا دعاګانې په فرائضو، سنتو او ټولو لمونځونو کښې ویل کیږي او که یواځې په نفلو کښې ویل کیږي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: اګر که په مبارکو حدیثونو کښې له نبي کریم څخه په مختلفو مقاماتو کښې مختلفې دعاګانې منقولې دي لیکن احنافو علماوو دا روایتونه په نفلو باندې محمول کړي دي او د دوي په نزد دا دعاګانې یواځې په نفلو کښې ویل کیږي-

لما قال العلامة الحصكفي: و قرأ كما كبر سبحانك اللهم تاركاً و جل ثنائك الا في الجنازة مقتصراً عليه فلا يضم و جهت وجهي الا في النافلة، قال ابن عابدين: (تحت قوله الا في النافلة) لحمل ما ورد في الاخبار عليها ..وفي الخزائن و ما ورد محمول على النافلة بعد الثناء في الاصح و قال في هامشه صححه في الزاهدي و غيره. (رد المحتار ج١، ص٤٨٨ ، باب صفة الصلوة، مطلب بيان المتواتر و الشاذ) قال الشيخ المفتي عزيز الرحمن: احنافو دا دعاګانې په نفلو باندې محمولې کړي دي لهذا دا به یواځې په نفلو کښې ویل کیږي- (فتاوي دار العلوم دیوبند ج٢، ص١٧۴، فصل سنن

## .د کعبینو الحاق (د بنګرو د لګولو) مسئله

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! ما په الدر المختار کښې لیدلي دي چه "و ان یلحق کعبیه په رکوع کښې د کعبینو الحاق یعني لګول مسنون دي، آیا په رښتیا هم په رکوع کښې د بنګرو لګول مسنون دي؟ په داسې حال کښې چه په شامي کښې راغلي دي چه د قیام په حالت کښې به د دوو پښو تر منځ د څلورو ګوتو په برابر فاصله باید موجوده وي؟ د دې ځواب راکړې ډېره مهرباني به مو وي؟

الجواب حامدا ومصلیا: د کعبینو د الحاق مسئله اګر که د متاخرینو په کتابونو کښې پید کیږي لیکن له متقدمینو علماء کرامو څخه په دې باره کښې څه ثبوت نشته. د دې لپاره د متاخرینو د دې تصریح محل او مقام دا دي چه د جماعت په لمانځه کښې دې هر سړي له بل سړي سره خپل بنګري لګوي تر څو چه صفونه سیده شي، لکه څرنګه چه په حدیث شریف

کښې راغلي چه "سوو صفوفکم و تواصوا و سدوا الخلل. (مشکوة، ج، ص، باب تسوية الصفوف) حکم راغلي دی. لهذا د رکوع په حالت کښې له بل سره د خپل ښنګري لګول مسنون نه دي البته که چېرته څوک د اسې وکړي نو څه پروا هم نه لري –

.لما قال الشيخ المحقق عبد الحي الكهنوی: و منها الصاق الكعبين ذكره جمع من المتاخرين و جمهور الفقهاء لم يذكروه و لا اثر له في الكتب المعتبرة كا لهداية و شروحها النهاية و العناية و البناية و الكفاية و فتح القدير و غيرها و الكنز و شرحه العيني و شرح النقاية لالياس زاده و البرجندی و الشمني و فتاوي قاضي خان و البزازية و غيرها و امام الدين اورده في ذكره الزاهدي حيث قال في المجتبى برمز بط يسن في الركوع الصاق الكعبين و استقبال الاصابع القبلة........ قال خير المتاخرين شيخ مشائخنا محمد عابد السندي المدني في طوالع الانوار شرح الدر المختار قوله و الصاق كعبيه ای حالة الركوع. قال الشيخ الرحمتي مع بقاء تفريج ما بين القدمين قلت لعلة اراد من الصاق المحاذاة و ذلك بان يحاذي كل من كعبيه لأخر فلا يتقدم احدهما على الآخر. (السعاية ج۲، ص ۱۸۰، باب صفة الصلوة) قال العلامة عبد القادر الرافعي الفاروقي الحنفي: على قول الحصكفي قول الشارح و يسن ان يلصق كعبيه قال الشيخ ابو الحسن السندي الصغير في تعليقه الدر هذه السنة انما ذكرها من ذكرها من المتاخرين تبعاً للمجتبى و ليس لها ذكر في الكتب المتقدمة كا لهداية و شروحها و كان بعض مشائخنا يرى انها من اوهام صاحب المجتبى و لم ترد في السنة على ما وقفنا عليه و كانهم توهموا ذلك مما ورد ان الصحابة كانوا يهتمون سد الخلل في الصفوف حتى يضمون. الكعاب و المناكب و لا يخفى ان المراد هنا الحاق كعبه بكعب صاحبه لا كعبه مع كعبه الآخر. (تقريرات الرافعي جا – ص ٦٠ ، باب صفة الصلوة) و مثله في فتاوي دار العلوم ديوبند ج ۲، ص ۲۰۳، فصل سنن الصلوة)

## که چېرته له چا څخه تکبيرات انتقالات پاتې شي نو بيا به څه کوي؟

الاستفتاء: له تکبير تحريمه څخه پرته د نورو تکبيراتو حکم څه دی؟ که چېرته له کومي وجهي څخه له چا پاتې شي نو په لمانځه کښې ئې څه فرق راځي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: تکبیر تحریمه فرض دي او د انتقالاتو نور تکبیرونه سنت دي. لهذا که چېرته بغیر له عذر څخه هم له چا څخه پاتې شي نو په لمانځه کښې ئې کوم فرق نه راځي

لما قال العلامة محمد يوسف البنوري: تكبيرات الانتقالات سنة عند الجمهور قال ابن المنذر و به قال ابو بكر الصديق و عمر و جابر و قيس بن عبادة و لشعبي و الاوزاعي و سعيد بن عبد العزيز و مالك و الشافعي و ابو حنيفة الخ معارف السنن ج ٢، ص ٤٤٦ ، باب ما جاء في التكبير عند الركوع والسجود) قال الشيخ ظفر احمد العثماني: باب كون التكبير سنة عند كل رفع و خفض. عن عبد الله ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يكبر في كل خفض و رفع و قيام و قعود.. راى التكبير) عام في جميع الانتقالات في الصلوة. (اعلاء السنن ج٣، ص ٣، باب كون التكبير سنة عند كل رفع و خفض) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٣٢

## د شهادت د ګوتې پورته کول بدعت نه دي

الاستفتاء: لمونځ کوونکي چه کله اشهد ان لا اله الا الله ته ورسیږي نو آیا د سبابه ګوته به پورته کوي او که نه؟ په د اسې حال کښې چه ځینې خلک بدعت ورته وایي

الجواب حامدا ومصليا: په تشهد کښې د اشهد ان لا إله الا الله ویلو په وخت کښې د شهادت په ګوتې باندې اشاره کول سنت دي. له رسول الله ﷺ څخه په تشهد کښې اشاره کول ثابت دي- کوم خلک چه بدعت ورته وایي د هغو قول د روایت او درایت خلاف دی

لما قال العلامة الحصكفي: و في الشرنبلالية عن البرهان الصحيح انه يشير ؛ بمسبحته وحدها يرفعها عند النفي و يضعها عند الاثبات و احترز با لصحيح عما قيل لا يشير لانه خلاف الدراية و الرواية الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٥٠٩، باب صفة الصلوة، قبل مطلب مهم في عقد الاصابع عند التشهد) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: و تسن الاشارة في الصحيح لانه صلي الله عليه وسلم

رفع اصبعه السبابة و قد احناها و من قال انه لا يشير اصلاً فهو خلاف الرواية و الدراية. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۲۱۸، فصل في منن الصلوة) و مثله في كبيري ص ۳۲۸، باب صفة الصلوة)

## په التحياتو کښې به د نبي لاس ګوته پورته کوي

الاستفتاء: په التحياتو (قعده) کښې د اشهد ان لا اله الا الله ويلو په وخت کښې به د کوم لاس ګوته پورته کوي؟ يو سړي مې وليده چه د کيڼ لاس ګوته ئې پورته کړه؟

الجواب حامدا ومصليا: په التحياتو کښې د اشهد ان لا اله الا الله ويلو په وخت کښې د نبي لاس د شهادت د ګوتې پورته کول سنت دي او د کيڼ لاس د ګوتې پورته کول صحيح نه دي.

قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله بل في متن درر البحار الخ). ....... و صفتها ان يحلق من يده اليمنى عند الشهادة الابهام و الوسطى و يقبض البنصر و الخنصر و يشير با لمسبحة الخ. (رد المحتار ج۱. ص۵۰۸. باب صفةالصلوة. قبل مطلب مهم في عقد الاصابع عند التشهد) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: وتسن الاشارة في الصحيح لانه رفع اصبعه السبابة و قد احناها شيئا و من قال انه لا يشير اصلاً فهو خلاف الرواية و الدراية وتكون با لمسبحة الى السبابة من اليمنى فقط يشير بها . . . يرفعها الى المسبحة عند النفى. و يضعها عند الاثبات. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص۲۱۸، فصل في سنن الصلوة) كذافي فتاوي حقانيه ج۳ص۳۳۳

## په تشهد کښې د وحده لا شريک له الفاظو زياتول

الاستفتاء: که چېرته يو څوک په تشهد کښې تر اشهد ان لا اله الا الله څخه وروسته د وحده لا شريک له الفاظ زيات کړي نو د لمانځه حکم به ئې څه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له رسول الله ﷺ څخه التحيات په مختلفو طريقو باندې ثابت دی. په ځينو روايتونو کښې د وحده لا شريک له الخ ويل هم راغلي دي ليکن حنفيه وو د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه تشهد غوره کړي دي

او نوموړي الفاظ په هغه کښې نشته. د دې لپاره د دې الفاظو لوستل مناسب هم نه دي، البته که چا دا الفاظ ورسره زيات کړل نو په لمانځه کښې ئې کوم فرق نه راځي-

لما اخرجه ابو داؤد: عن حطان بن عبد الله الرقاشي بهذا الحديث زاد فاذا قرأ و انصتوا قال في التشهد بعداشهد ان لا إله الا الله زاد وحده لا شريك له. (ابو داؤد شريف ج١، ص ١٤٠، باب التشهد) عن ابن عمر عن النبي في التشهد ......... اشهد ان لا إله الا الله قال ابن عمر زدت فيها وحده لا شريك له و اشهد ان محمداً عبده و رسوله: (التلخيص الخبير ج١، ص ٢٦٦، باب صفة الصلوة) و مثله في دار القطني ج١، ص ٣٥٢، باب صفة التشهد و وجوبه و اختلاف الروايات فيه.

## په آخره قعده کښې د درود شريف د لوستلو حکم.

الاستفتاء: په آخري ناستې کښې د درود شريف د لوستلو حکم څه دی؟ که چېرته يو څوک درود شريف و نه وايي نو لمونځ ئې کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د لمانځه په آخري ناستې کښې درود شريف لوستل سنت دي که چېرته د کومې مجبورۍ له مخې درود شريف پاتې شي نو لمونځ ئې له کراهيت پرته صحيح کيږي په د اسې حال کښې چه په قصد سره د پرېښودلو په صورت کښې ئې لمونځ له کراهت څخه خالي نه وي چه بيرته را ګرځول ئې مستحب دي-

قال العلامة الحصكفي: و سننها . . و الصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم في القعدة الأخيرة. (الدر المختار علىصدر رد المحتار ج ١، ص ٤٧٧ ، باب صفة الصلوة) و قال ايضاً ترك السنة لا يوجب فساداً و لا سهوا بل اساء ة لو عامداً غير مستخف و قالوا الاساءة ادون من الكراهة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٤٧٤ ، باب صفة الصلوة، مطلب في قولهم الاساءة ادون) قال العلامة حسن بن عمار لشر نبلالي: و تسن الصلوة على النبي محمد في الجلوس الاخير الخ. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٢١٩، فصل في بيان سننها)قال الشيخ السيد احمد الطحطاوي: ترك السنة لا يوجب

فساداً و لا سهوا بل اسائة لو عامداً غير مخفف و قالوا الاساءة ادون من الكراهة. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٢٠٧، فصل في بيان سنها ) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٣٣

## په درود شريف کښې د "سيد نا'' د لفظ د زياتولو حکم.

الاستفتاء: په لمانځه کښې چه کوم درود شريف لوستل کيږي که چرته څوک په هغه کښې د سيد نا'' لفظ ور زيات کړي نو حکم به ئې څه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په درود شريف کښې د ''سيدنا'' د لفظ په زياتولو کښې هيڅ پروا نشته. البته د لمانځه په قعده کښې درود شريف د سيدنا له لفظ څخه پرته لوستل بهتر دي

لما قال العلامة الحصكفي و ندب السيادة لأن زيادة الاخبار با لواقع عين سلوك الادب فهو افضل من تركه ذكره الرملي الشافعي وغيره. قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله ذكره الرملي الشافعي) اي في شرحه على منهاج النووي و نصه و الافضل الاتيان بلفظ السيادة. كما قاله ابن ظهيرة و صرح به جمع و به افتى الشارح لان فيه الاتيان بما امرنا به و زيادة الاخبار با لواقع الذي هو ادب فهو افضل من تركه و ان تردد في افضليته الاسنوي و اما حديث لا تسيدوني في الصلوة فباطل لا اصل له كما قال بعض متاخرى الحفاظ الخ. (رد المحتار ج ١، ص ٥١٢/٥١٣، باب صفة الصلوة، مطلب في جواز التراحم على النبي ابتداء)قال العلامة الشيخ المفتى عزيز الرحمن: د ''سيدنا'' د لفظ په زياتولو کښې هيڅ پروا نشته ليکن په تشهد کښې لکه څرنګه چه تشهد وارد شوي دي هم هغسې ويل ئې صحيح دي يعني پرته د سيد نا له لفظ څخه ويل ئې بهتر دي-

(فتاوي دار العلوم ديوبند ج ٢، ص ١٦٩، فصل في سنن الصلوة)

## په آخري قعده کښې د دعا د پريښودلو حکم

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! زمونږ د کلي د جومات امام په لمانځه کښې التحيات دومره په تيزي سره وايي چه مونږ (مقتديان) له درود شريف څخه لا فارغ شوي نه وو چه امام صاحب سلام اړوي نو آيا مونږ به د امام په اتباع کښې سلام ګرځوو او که د درود شريف له پوره کولو څخه وروسته سلام وګرځوو؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداً ومصليا: په آخري قعدې کښې د درود شريف او دعا لوستل سنت دي او د امام اتباع واجبه ده. لهذا کله چه امام د مقتديانو د دعا له ختمولو څخه مخکښې سلام وګرځوي نو بايد چه دوي هم د امام په اتباع کښې سلام وګرځوي او دعا پرېږدي-

لما قال العلامة الحصكفي: و لو سلم الامام و المؤتم في ادعية التشهد تابعه لانها سنة و الناس عنه غافلون قال ابن عابدين: (تحت قوله في ادعية التشهد) يشمل الصلوة على النبي ﷺ(رد المحتار ج۱، ص۴۹۶، باب صفة الصلوة، فصل اراد الشروع)قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: لو سلم الامام او تكلم قبل فراغ المقتدي من قرأة التشهد يتمه لانه من الواجبات ثم يسلم لبقاء حرمة الصلوة و امكن الجمع با لاتيان بهما و ان بقيت الصلوة و الدعوات يتركها و يسلم مع الامام لان ترك السنة دون ترك الواجب. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۲۵۰، فصل فيمايفعله المقتدى بعد الخ) و مثله في فتاوي دار العلوم ديوبند ج ۲، ص ۱۶۵، فصل في سنن الصلوة)

## د امام د متابعت له وجهې د تسبيحاتو د پوره نه ويلو حکم

الاستفتاء: زمونږ د کلي امام صاحب رکوع او سجده دومره په تېزي سره ادا کوي چه مقتديان ئې درې واړې تسبيح هم نه شي پوره کولی نو آيا مقتدي به درې واړې تسبيح پوره کوي او که به د امام متابعت کوي؟ بينوا توجروا-

...الجواب حامداً ومصليا: لومړي خو بايد امام د اسې و نه کړي بلکه په رکوع او سجدې کښې دې دومره ځنډ وکړي چه مقتديان ئې درې واړې تسبيحات وويلې شي ليکن که چېرته مقتدي د امام متابعت وکړي او درې واړې تسبيحات و نه شي ويلی نو لمونځ ئې کيږي-

لما قال العلامة الحصكفي: لو رفع الامام رأسه من الركوع و السجود قبل ان يتم الماموم التسبحات الثلاث وجب متابعته آه. قال علامة ابن عابدين: (تحت قوله و اعلم) يسبح فيه ثلاثاً فانه سنة على المعتمد المشهور في المذهب لا فرض و لا واجب كما مر فلا يترك المتابعة الواجبة لاجلها. (رد المحتار ج۱، ص۴۹۵/۴۶۳ ، باب صفة الصلوة، فصل اذا اراد الشروع) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي:

و يسن تسبيحه اى الركوع ثلاثاً لقول النبي صلى الله عليه وسلم اذا ركع احدكم فليقل ثلاث مرات . و الأمر للاستحباب فيكره ان ينقض عنها و لو رفع الامام قبل اتمام المقتدى فا لصحيح انه يتابعه آه. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۲۱۵، فصل في سنن الصلوة)

## له فرض لمانځه وروسته په سر باندې د لاس ایښودلو حکم

الاستفتاء: ځینې خلک مولیدلي دي چه تر فرض لمانځه وروسته خپل ښي لاسونه په سرونو باندې ږدي او څه وايي. د دې عمل شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداً و مصلیا: په روایتونو کښې له رسول الله ﷺ راغلي دي چه دی مبارک سره چه کله له لمانځه څخه فارغ شو نو خپل ښي لاس به ئې پخپل سر مبارک باندې کیښود او دا دعا به ئې ویله: بسم الله الذي لا اله الا هو الرحمن الرحیم، اللهم اذهب عنی الهم و الحزن. د دې لپاره بهتره داده بلکه سنت دي چه تر لمانځه وروسته که فرض وي او که نفل یا سنت او داسې نور ښي لاس په سر باندې کیښودل شي او د ادعا ولوستل شي۔

كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا صلي و فرغ من صلوته يمسح يمينه على رأسه و قال بسم الله الذي لا اله الا هو الرحمن الرحيم، اللهم اذهب عنى الهم و الحزن. (حصن حصين)

لما قال الشيخ المفتى عزيز الرحمن: تر فرض لمونځونو وروسته باید هر څوک خپل ښي لاس په خپل سر باندې کیږدي او دا دعا ولولي. بسم الله الذي لا اله الا هو الرحمن الرحیم اللهم اذهب عنی الهم و الحزن. (فتاوي دار العلوم دیوبند ج ۲، ص۲۱۱، فصل سنن الصلوة) کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص ۴۳۶

## کینې خواته د سلام ګرځولو په وخت کښې د آواز ټیټولو حکم

الاستفتاء: د سلام ګرځولو په وخت کښې دواړو خواوو ته به د امام آواز یو شي وي او که به څه فرق پکښې کوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداومصليا: سنت او افضل دا دي چه په دو هم سلام کښې به له لومړني سلام څخه ثه په خپل آواز کښې ټيټوالي غوره کوی. که چېرته څوک دواړو خواوو ته په يو ډول آواز سلام وګرځوي نو بيا هم په لمانځه کښې کوم کراهت نه راځي

قال العلامة الحصكفي: و سن جعل الثاني اخفض من الاول خصه في المنية با لامام و اقره المصنف. (الدرالمختار على صدر رد المحتار ج١، ص ٥٢٦ ، باب صفة الصلوة)و السنة في السلام ان تكون التسليمة الثانية الخفض من الاول كذا في المحيط و هو الاحسن كذا في التبيين. (الهندية ج١، ص ٧٦، سنن الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص ٣٥٣، باب صفة الصلوة)

## د فرض مونځ نه پس اوږده دعا کول يا د اللهم انت السلام د مقدار حکم

الاستفتاء: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د مونځ نه پس د امام يا مقتدي په ناسته باندې د اوږدې دعا څه حکم دې؟ او حال دا چه په روايتونو کښې خو صرف د اللهم انت السلام مقدار راغلې دې آيا دې نه زياته ناسته جائز نه ده؟ بينوا توجروا

الجواب حامداومصليا: د فرض مونځ نه پس د ذکر مقدار د فقهائې کرامو د تصريح مطابق د اللهم انت السلام په مقدار يا څه کم وزيات دې

كما في ردالمحتار ص ٤٩٥ جلدا وقول عائشة رضي الله عنها بمقدار لا يفيد انه كان يقول ذلك بعينه بل كان يقعد بقدر ما يسعه ونحوه من القول تقريباً فلا ينا في ما في الصحيحين من له صلى الله عليه وسلم كان يقول في دبر كل صلوه مكتوبة لا اله الا الله الخ (ا). وهو الموفق١٦( ردالمحتار هامش الدر المختار ص ٣٩١ جلد ا قبيل فصل في القراءة)كذافي فتاواي فريديه ج ٢ ص ٢٤٥

## د (اللهم انت السلام) په وخت کښې لاس اوچتول

الاستفتاء: د فرض مونځ نه پس د اللهم انت السلام.. الخ وئيلو په وخت کښې به لاسونه اوچتوو که نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا يرفع الايدي عند زيادة الكلمات الدعائيه وعند عدم الزيادة لم يثبت الرفع وكذا لا يقتضيه الاصل (١) الا ان يقال ان الثناء على الكريم دعاء (٢) . وهو الموفق وفي المنهاج : اعلم انه لم يثبت مواظبة النبي انا على ذكر خاص وكذا لم يثبت عند رفع الايدى عند مثل هذه الاذكار ، واما رفع الايدي عند الدعوات خارج الصلوة فقد ثبت باحاديث كثيرة قولية وفعلية في الامهات الست وغيرها منها ما اخرجه ابن ابي حاتم وذكره الحافظ ابن كثير في تفسيره ص ١٧٢ جلد ٣ عن ابي هريره ان رسول الله ﷺ رفع يديه بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة فقال اللهم اخلص الوليد بن الوليد الى آخر الدعاء الخ. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ك١ جلد ٢ باب مايقول اذا سلم) (٢) قال العلامه سيد احمد الطحطاوي: قوله والدعاء هذا لا ينا في الاتيان باللهم انت السلام الخ لانه ليس دعاء بل ثناء الا ان يراد بالدعاء ما يعم الذكر او هو بالنظر الى قوله فحينا الخ دعاء على مافيه. (الطحطاوي شرح مراقي الفلاح ص ٣١٣فصل في صفة الاذكار) كذافي فتاوي فريديه ج٢ ص٢٤٦

## : د فاتحې او سورت په مينځ کښې بسم الله وئيل

الاستفتاء: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دسورت نه مخکښې د امام دپاره هم په قلاره باندې بسم الله وئيل مستحب دي که نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: د فاتحې او سورت په مينځ کښې بسم الله وئيل جائز غير مکروه (حسن) دي

. (الدر المختار ص٤٥٨جلد ١، (٢) وهو الموفق قال العلامة المحصكفي: ويقصد بالفاظ التشهد معانيها مرادة له على وجه الانشاء كانه يحى تعالى ويسلم على نبيه وعلى نفسه واولياء ه لا الاخبار عن ذلك قال ابن عابدين: اى لا يقصدالاخبار والحكاية عما وقع في المعراج منها ومن ربه سبحانه ومن الملائكة عليهم السلام.(الدرالمختار مع ردالمحتار ص٣٧٧ جلد ١ قبيل مطلب في جواز الترحم على النبي ابتداء) كذافي فتاوي فريديه ج٢ ص٢٥٠

## د رکوع څخه چي سجدې ته ځي لاسونه به چيري ايږدي ؟

الاستفتاء د رکوع څخه چي لمونځ کوونکي سجدې ته ځي نو لاسونه به چيري ايږدي.او د سجدې څخه چي را پورته سي، نو به لاسونه چيري ايږدي مستحب طريقه د فقها و و په نزد څه ده؟

الجواب حامدا و مصليا: کله چي لمونځ کوونکي د رکوع څخه وروسته سجدې ته ځي لاسونه به يې ايله وي، او کښته به زړيږي بعضي عوام لاسونه پر ځنګنو تکيه کوي او سجدې ته ځي او دا طريقه مستحب بولي ليکن دا طريقه مستحب نه ده بلکه خلاف د سنت ده . د بلي پوښتني جواب دا دي کله چي لمونځ کوونکي د ناستي څخه و دريم رکعت ته ولاړيږي يا د سجدې څخه وقيامي ته ځي، نو لاسونه پر ځنګنو تکيه کول مستحب کاردی

.لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قال في العلائية ويكبر للنهوض على صدور قدميه بلا اعتماد وقعود واستراحة ولوفعل لابأس . وفي الشامية : قوله بلا اعتماد إلخ) أي على الأرض قال في الكفاية: أشار به إلى خلاف الشافعي في موضعين: أحدهما يعتمد بيديه على ركبتيه عندنا وعنده على الأرض.والثاني الجلسة الخفيفة. قال شمس الأئمة الحلواني: الخلاف في الأفضل حتى لو فعل كما هو مذهبنا لا بأس به عند الشافعي، ولو فعل كما هو مذهبة لا بأس به عندنا كذا في المحيط. وفي موضع آخر : (قوله مع الخرور) بأن يكون ابتداء التكبير عند ابتداء الخروروانتهاؤه عند انتهائه شرح المنية، ويخر للسجود قائما مستويا لا منحيا لئلا يزيد ركوعاآخر يدل عليه ما في التارخانية: ( رد المحتاعلي الدر المختار رج ١ ص ٤٩٧ / ج ١ ص ٥٩٦ بيروت چاپ / احسن الفتاوي ج ٣ ص ٤٥)

## .ربنا لک الحمد دي که ربنا ولک الحمد دي ؟

الاستفتاء موږ اوريدلي دي چي ځيني کسان دغه تحميد (ربنا ولک الحمد ) په واوسره هم وايي او بيله و او يې (ربنا لک الحمد )هم وايي پوښتنه داده چي کوم صورت يې صحيح دي ؟

الجواب حامدا و مصليا: درست او صحيح دواړه صورتونه دي خو د بخاري او مسلم شريف په حديث کښي راغلي دي چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي کله امام سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسي (ربنا لک الحمد )

وواياست په دي حديث کښي تحميد بيله و او ثخه راغلي دي . البته په نورو رواياتو کښي دواو په زياتي سره هم راغلي دي يعني ( ربنا ولک الحمد ) او په بعضي رواياتو کښي يا ( اللهم ربنا ولک الحمد )راغلي دي او هم دغه صورت ته فقها و و ترتولو افضل ويلي دي

**لما قال العلامة أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي – توفي ١٢١٣ ه في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح :والأفضل اللهم ربنا ولك الحمد" لزيادة الثناء . وفي مراقي الفلاح شرح نورالايضاح :وفي مراقي الفلاح شرح نورالايضاح : في الحديث : "إذا قال الإمام: سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لك الحمد" رواه الشيخان والأفضل: اللهم ربنا لك الحمد ويليه ربنا لك الحمد(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ج ١ ص ٢٨٣ فصل في كيفية ترتيب افعال الصلاة مكتبه شامله / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ج ١ ص ١٠٦ مكتبه شامله / الهداية ج ١ ص٩٧ باب صفة الصلوة مكتبه حنفيه )**

## دهر ركعت به شروع كښي بسم الله ويل .

الاستفتاء دهر ركعت په شروع کښي بسم الله ويل سنت ده که واجب ؟او پر پرېښوولو باندي يې سجده سهوه لازميږي که يا ؟او دسورت او فاتحې په مېنځ کښي ويل سنت ده که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : دهر رکعت په شروع کښي بسم الله ويل سنت ده او سنت هغه عمل دي چي پر ترک باندي يې سجده سهوه نه لازميږي او نه هم لمونځ يا دسره ثخه اعاده غواړي . او دسورت ثخه مخکښي د فاتحې ثخه وروسته بسم الله ويل که ثخه هم سنت نه ده البته فقها و و ليکلي دي چي ويل يې مستحب دي .

**لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(سمى) غير المؤتم بلفظ البسملة، (سرا في) أول (كل ركعة) ولو جهرية .... ! . وذكر في المحيط: المختار قول محمد، وهو أن يسمي قبل الفاتحة وقبل كل سورة فيكل ركعة.( الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ١ ص ٣٦٢ مطلب**

لفظة الفتوى أكد من لفظة المختار /فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۲ ص ۱۶۷ باب سنة الصلوة وهيئتها / مكتبه رشيديه / فتاوي فريديه ج ۲ ص ۲۶۱ باب سنن الصلوة )

## په ركوع او سجده كښې څومره تسبيحات ويل كيږي ؟

الاستفتاء درکوع او سجده کښې د تسبيحاتو اندازه او مقدار فقهاء کرامو څومره بيان کړي دي ؟ .

الجواب حامدا ومصليا: درې واره تسبيحاتې په ركوع او سجده كښې ويل سنت دي . او ددې څخه زيات پنځه واره يا اووه واره ويل مستحب دي . البته كه چيرې يو كس امام وي او په مقتديانو كښې ډيرو تسبيحاتو د انتظار تحمل و برداشت نه وي نو امام ته پكار ده چې پر درې واره يا پنځه واره ويلو باندې اكتفاء وكړي .

لما في الفتاوى الهندية : وتكبير الركوع وتسبيحة ثلاثا . وفي الجوهرة النيرة : (قوله: ويقول في ركوعه سبحان ربي العظيم ثلاثا وذلك أدناه) أي أدني كمال الجمع أو أدني كمال الثنة أن يقولها عشرا. وفي منية المصلي أدناه ثلاث والأوسط خمس والأكمل سبع( الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۷۲ الفصل الثالث في سنن الصلاة وآدابها وكيفيتها / الجوهرة النيرة ج ۱ص ۵۲ باب صفة الصلوة / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۰۱ باب ما علي الامام / فتاوي حقانيه ج ۲ ص۴۲۷ باب سنن الصلوة / فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۲ ص ۱۴۳ باب صفة الصلوة / فتاوي محموديه ج ۵ ص ۶۰۹ باب صفة الصلوة )

## .په لمانځه كښې لاسونه تر نامه لاندې نيول په يو صحيح حديث سره ثبوت لري ؟

الاستفتاء: په لمانځه کښې لاسونه تر نامه لاندې نيول په يو صحيح حديث سره ثبوت لري که يا ؟ كه يې لري د هغه حديث او د كتب حواله راته ذكر كړي .

الجواب حامدا ومصليا: د امام ابو حنيفه رحمه الله تعالى مذهب دادې چې په لمانځه كښې به نارينه تر نامه لاندې لاسونه نيسي او ددې مسئلې په ثبوت كښې موږ دنومورې كتابونو لكه( سنن ابي داود شريف ، او مصنف ابن ابي شيبة ،

او کتاب آثار السنن، الجوهر النقي على البيهقي، اعلاء السنن، معارف السنن) صحيح او مستند احاديث په لاس کښې لرو.

عن أبي جحيفة، أن عليا رضي الله عنه، قال: «من السنة وضع الكف على الكف في الصلاة تحت السرة.
عن إبراهيم قال: «يضع يمينه على شماله في الصلاة تحت السرة» ( سنن ابي داود شريف باب وضع اليمني علي اليسرى ج ۱ ص ۲۰۱ حديث نمبر ۷۵۶ بيروت چاپ مكتبه شامله / مصنف ابن ابي شية ج ۱ ص ۴۲۷ / كتاب آثار السنن ص ۷۷ كتاب الصلوة / اعلاء السنن ج ۲ ص ۱۸۲ / الجوهر النقي علي البيهقي ج ۲ ص ۳۲ / معارف السنن ج ۲ ص ۴۴۴/ دغير مقلدينوداعتراضاتو الجواب حامداومصليات ص ۱۴ تاليف مولانا احمد علي شيخ شهداد كوټ)

## د لمانځه آداب او خاصيتونه

ستاسو په مخکښې مقاله حضرت مرحوم صاحب د يوې الاستفتاءنامې په ځواب کښې ليکلې ده. پوښتنه دا وه چه د لمانځه د کولو ترڅنګ د لمانځه اثرات او خاصيتونه ولې نه ليدل کيږي؟ چه د دې په ځواب کښې حضرت علامه مرحوم دا قيمتي مضمون وليکه کوم چه د الحق د مياشتنۍ ګڼړه جوړه شوې ده. د فتاوى له کتاب الصلوة سره د مناسبت له مخې د عامي فائدې لپاره په فتاوي حقانيه کښې هم شامليږي -(مرتب) قال الله تعالى: إن الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر. (الآية) "يېشکه لمونځ له بې حيايي او بدې خبرې څخه سړي منع کوي"(۱) لمونځ يو شرعي حقيقت دي کوم چه له هر عاقل او بالغ سړي وي او که ښځه په هر حالت کښې مطلوب دى. که د صحت حالت وي او که د بيماري، د سفر حالت وي او که د حضر، د جنګ حالت وي او که د امن، سرکاري نوکر وي او که قومي نوکر، که په شخصي مزدوري يا زراعت (کرنې) کښې مصروف وي او که په تجارت او حرفت کښې لنډه دا چه ترڅو پورې په انسان کښې هوش او حواس روغ وي د پنځونې لمونځونو پابندي پرې فرض عين دى. په هيڅ يوه حالت کښې هم لمونځ ترې نه ساقطيږي. البته په هر سړي باندې د هغه د طاقت او استطاعت موافق فرض دى. د دې لپاره د حضر او سفر په لمانځه کښې فرق دي او د صحت او بيماري په لمانځه کښې فرق دى. همدارنګه د جنګ د حالت په لمانځه او د امن د حالت په لمانځه کښې فرق دى. او په دې کښې شک نشته د لمانځه پابندي لمونځ کوونکي له بې حيايي او بدو خبرو څخه منع کوي ليکن څرګنده دې وي چه لمونځ يو څو ځلي پورته کيدلو او ټيټيدلو ته نه وايي بلکه دا يو شرعي حقيقت دي چه ترکيبي اجزاء لري کوم چه ارکان او فرائض ورته وايي. همد

ارنگه د صحت په شرائطو کښې له دغو دواړو پرته د لمانځه حقيقت خو پرېږده د لمانځه ظاهري صورت هم نه شي متصور کيدلی. له دغو ارکانو او شرائطو څخه چه يو هم پاتې شي نو لمونځ به له سره را ګرځول کيږي. له دې برسيره واجبات، سنن او آداب دي. د واجباتو په پاتې کيد و سره د لمانځه بيرته را ګرځول واجبيږي او د سنتو په پاتې کيدو سره د لمانځه بيرته را ګرځول سنت دي. د مستحباتو او آدابو په پاتې کيدو سره د لمانځه بيرته را ګرځول مستحب دي- خلاد بن رافع رضي الله عنه يو بدري صحابي دی يو ځل جومات ته داخل شو او لمونځ ئې وکړ نبي کريمﷺ دا وخت په جومات کښې وو. نو موړي صحابي چه لمانځه څخه فارغ شو نو د سلام په غرض سره د نبي کريم په خدمت کښې حاضر شو. نبي کريم د سلام ځواب ورکړ او ورته وئې فرمايل چه ارجع فصل فانک لم تصل (الحديث) (بيرته لاړ شه او لمونځ وکړه ځکه چه تا لمونځ نه دي کړي)- همد ارنگه نبي کريم د هغه لره درې واره بيرته وليږه او له سره ئې د لمانځه د ادا کولو حکم ورکړ. د يوه بدري صحابي له شان سره دا لرې خبره ده چه هغه به د لمانځه شروط، ارکان او يا واجبات پرېښي وي- غالب ګمان دا دي چه هغه به په ځينو سنتونو کښې کوتاهي کړي وي. په هغه باندې به د نبي کريم الله له خوا د لمانځه د بيرته را ګرځولو حکم شوي وي. له دې څخه څرګنده شوه چه لمونځ پرته د سنتو او مستحباتو له اداکولو څخه د تکميل درجې ته نه شي رسيدلی- د صحت شرائط، د لمانځه له فرائضو، واجباتو، سنتو او مستحباتو څخه د لمانځه ظاهري صورت د تکميل درجې ته رسيږي ليکن د لمانځه د مقبوليدو لپاره هم شرطونه شته يعني د زړه استحضار، خشوع او خضوع، انابت او د عبوديت اظهار په دې ډول چه له تکبير تحريمه څخه را واخله تر سلامه پورې هره ادا يعني قرأت، تکبير، تسبيح، تشهد، قيام، تعوذ رکوع، سجود، د قلب له حضور سره وي او په غافل او بې پروا زړه سره نه وي. ظاهري او باطني عجز او نياز او د بندګۍ له اظهار سره وي. د قلب دا حضور او باطني انقياد دلمانځه د روح په درجه کښې دي. له دې پرته د لمانځه د حقيقت تکميل نه شي کيدلی. په مذکوره آيت کښې نهي عن الفحشاء و المنکر د همدې حقيقت له پابندۍ سره په ادا کولو باندې مرتب دي. له روح څخه پرته په کامل يا ناقص صورت باندې آثار او نتائج نه شي مرتب کيدلی. د دې مثال د اسې دي لکه د يوه آس له نقش او عکس (کوم چه په ديوال او يا کاغذ باندې وي) څخه د سورلۍ، باروړلو څوک توقع او هيله ولري. کوم چه د دې حقيقت احکام دي يا له بې ځان بدن يا بادۍ څخه څوک د جاندار د آثارو تقاضا وکړي"-...د دې لنډ تمهيد او ګذارش څخه وروسته لږ غور وکړي چه د نن صبا د مسلمانانو لمونځونه د دې معيار مطابق دي. د لمانځه هغه حقيقت چه پنځه وخته ئې ادا کول مطلوب دي- په خارج کښې ئې وقوع شته. که چېرته وي نو خامخا په هميشه ادا کولو سره ئې دا آثار مرتب کيږي. او که نه وي يوازې له ناقص صورت څخه د آثارو او احکامو توقع عبث او بې فائدې دي په ننني زماني

کښې اکثره مسلمانان نه خو د لمانځه د صحت او نه د مقبوليت له شرائطو څخه خبر دي او نه د لمانځه له ارکانو، واجباتو، سنتونو او د اسې نورو څخه خبر دي. په د اسې حالت کښې د هغو د لمونځونو صورت که چېرته د حقيقي لمانځه له صورت سره موافق وي نو يوه ناڅاپي حادثه به وي. او که نه وي نو دا څنګه کېدلای شي چه يو څوک د کوم شي د ترکيبي، تکميلي او تحسيني اجزاوو او د هغو له ترتيب څخه خبر نه وي يا د هغه شي صحيح ترتيب او ترکيب برابر کړای شي. مګر که چېرته په اتفاقي توګه د اسې وشي د نن صبا غير تعليم يافته مسلمانان خو پرېږده اکثره د مکتبونو او پوهنتونو تعليم الله، اعوذ با لله او توحيد د کلمې په ياقته کوم چه له اسلامي تعليم څخه بې خبره دي، د بسم "صحيح تلفظ باندې قادر نه دي نو د هغو له صحيحو معناوو څخه به څنګه خبرېږي؟

(۲) دوهم ځواب دا چه د لمانځه له بې حيايي او بدي څخه د منع کولو دوه معناوې کېدلي شي. يوه دا چه په لمانځه کښې الله تعالى د منع کولو خاصيت اېښې دی. لکه څرنګه چه په ځينو دواګانو کښې د ځينو مرضونو د دفع کولو خاصيت اېښودل شوي دی- ليکن لکه څرنګه چه دوايي په هر - حال کښې د مرضونو د افع نه شي جوړېدلي بلکه تاثير ئې تر څو امورو پورې مشروط وي. چه خاص ترکيب وي، د استعمال خاصه طريقه وي، په خاصه اندازه وي، تر يوې مخصوصې مودې پورې د خوراک هميشه والي او دوام وي، په منځ کښې فاصله جدا والي نه وي، د دوا له تاثير سره د ټکر کېدو له شيانو څخه پرهيز وي. د دغو شروطو د تحقق او د موانعو له لرې کولو څخه وروسته دو اګانې د مرضونو په لرې کولو کښې مؤثرې کېدلي شي. همد ارنګه لمونځ هم چه کله د تاثير شروط موجود وي او موانع له منځه تللي وي مؤثر بالخاصه جوړېدلي شي-دو همه معني دا چه د لمانځه له بديو څخه منع کول د تقاضا او مطالبي (غوښتنې) په طريقې سره وي. يعنې لمونځ کوونکي چه کله له خشوع او خضوع سره د الله تعالى د الوهيت اقرار وکړي او د هغه د خالقيت او ربوبيت اظهار وکړي او له ډېر عجز او نياز سره د خپلې بندګۍ او د الله تعالى د مالکيت او معبوديت اعتراف وکړي. نو د لمانځه دا مخصوص هيئت، هره ادا او هر ذکر له هغه څخه د حال په ژبه غوښتنه کوي چه اې بندګي او غلامي دعوي کوونکيه د هغه چه تا ئې د خالقيت او معبوديت اقرار هم کړي دي د هغه له مخالفت څخه منع شه او له فواحشو او منکراتو څخه بند شه! او خپل عهد او وعده مه ماتوه! اوس که چېرته څوک منع شي يا نه شي ليکن د لمانځه په دې اقتضاء او مطالبې کښې کوم فرق نه راځي-لکه څرنګه چه پخپله الله تعالى بندوي او منع کوي -إن الله يأمر بالعدل و الإحسان و إيتاء ذي القربى و ينهى عن الفحشاء و المنكر (الآية) پس چه کوم سړي د الله تعالى په دې منع کولو باندې نه منع کېږي نو د لمانځه په منع کولو باندې د هغه نه منع کېدل کومه د تعجب او حيراتيا خبره نه ده- (۳) له لمانځه څخه د غفلت اسباب له نومورې الاستفتاء

ښخه پرته په لاندې ډول دي: (۱) تر څو پورې چه خپل ځان د کوم عمل په اړه د يوه لوړ حاکم (کوم چه په عذاب ورکولو قادر وي) په مخکښې ځواب ورکوونکي و نه بولي نو له هغه ښخه غفلت کيږي- (۲) تر څو پورې چه انسان کوم کار د خپلې دنيوي يا اخروي کاميابي لپاره ضروري و نه بولي نود هغه عمل د کولو پروانه ساتي - (۳) تر څو پورې چه انسان د کوم عمل روحاني يا جسماني فوائد و ، شخصي، انفرادي يا قومي او اجتماعي منافعو، د دنيوي يا اخروي مصالحو ښخه ناخبره وي نو د داسې عمل د کولو غوښتنه د هغه په نزد عبث وي بلکه ډير واړې د اسې عمل ته د کراهت په سترګو ګوري (۴) تر څو پورې چه انسان د کوم عمل د پريښودو له بدو نتائجو ښخه بې خبره وي، له انفرادي، اجتماعي نقصاناتو ښخه ئې ناخبره وي، له دنيوي او اخروي عذابونو ښخه ناخبره وي نو بيا هيڅ بله وجه نشته چه د هغه کار خوا ته توجه وکړي-وه تر څو پورې چه د انسان په روحانيت باندې بهيميت، سبعيت، شيطنت غالب شوي وي نو انسانيت او روحانيت مفلوج شي او د انسانيت او روحانيت تقاضاوې د اعتداء او پوهې قابل ته جوړيږي. لمونځ او د اسې نورې فريضې ايماني تقاضاوې دي او پخپله ايمان د انساني فطرت تقاضا ده- (٦) د لمانځه ډير پريښودونکي د شيطان د دې دوکې ورکولو په هيله د لمانځه د پريښودلو مرتکب کيږي چه نبي کريم د قيامت په ورځ د دوي شفاعت کوي او له عذاب ښخه نجات پيدا کوي- شفاعتي لاهل الکبائر (الحديث. ..(۷) اکثره عوام کوم چه د لمانځه د پريښودلو او د اسې نورو کبيره ګناهونو کښې مبتلا دي نو نفس هغوي د الله تعالي وسيع او پراخه رحمت او ناپيد اکنار مغفرت ور ښايي او دوکه ورکوي چه د هغه د دې پراخ رحمت او کامل مغفرت په مخکښې ستاسو ګناهونه هيڅ دي او د ارحمت او مغفرت به خامخا تولو مسلمانانو ته ورسيږي (۸) له چا ښخه مو اوريدلي دي چه رسول اکرم ﷺ ويلي دي چه "من قال لا اله الا الله دخل الجنة (الحديث) لهذ اکلمه ويونکي به خامخا جنت ته د اخليږي که عمل وکړي او که نه. (۸) له چا ښخه مو اوريدلي دي چه رسول اکرم ﷺ ويلي دي چه "من قال لا اله الا الله دخل الجنة(الحديث) لهذ اکلمه ويونکي به خامخا جنت ته د اخليږي که عمل وکړي او که نه(۹) ډير اهم سبب د دين له حقيقت ښخه بې خبري، د اسلام له فروعو او اصولو ښخه ناخبري او له اسلامي لاربنوونو ښخه بيزاري ده. په نننى زمانې کښې جهل تر دې ځايه پورې رسيدلي دي چه د ديني علومو عالم ته تعليم يافته نه ويل کيږي، په مکتبونو او پوهنتونونو کښې درس او تدريس تعليم او د علم تحصيل ګڼي. او همدغه زده کوونکو او ښوونکو ته تعليم يافته و ايي- په داسې حال کښې چه په شرعي اصطلاح کښې قرآنکريم، د نبي کريم ﷺ احاديث او د ديني احکامو له علومو پرته ټولو فنونو ته کسب، صنعت، حرفت او فن ويل کيږي. د انجينري فن، د ډاکټري فن، د زراعت او داسې نورو فن هو ! د لغت په اعتبار سره علم ويل ورته صحيح دي ځکه چه په لغتو کښې علم په معني د پوهيدلو راځي. قال رسول

اللهﷺ ثلاثة آيات محكمة و سنة قائمة و فريضة عادلة. (الحديث) علمونه درې دي. علم القرآن، علم سنت ثابته، علم الفرائض ياد اجتهادي احكامو علم-(۴) نوموړي کارونه د لمانځه په پرينښودلو کښې کافي دخل لري. له دغو برسيره د لمانځه په پرينښودلو ډېرې خرابۍ دي چه په تفصيل سره ئې بيانول مشکل دي. په لنډه توګه ئې يو څو خرابۍ په لاندې ډول بيانيږي روحاني خرابي : لمونځ په حقيقت کښې په مخصوصو هيئتونو کښې خاصو اذکارو ته وايي. يعني د الله تعالى حمد او ثناء، د قرآن تلاوت، تکبيرات، تسبيحات، تشهد ، درود ، مناجات له خشوع او خضوع سره او انساني روح لکه څرنګه ملکي دي نو غذائې هم همدغه ذکر دي چه استکمال، ترقي او ژوند ئې په همدې پورې اړه لري. د لمانځه پرينښودونکي خپل روح له خپلې غذا څخه په محرومولو سره له جاود اني ژوند او انساني کمال څخه بې برخې (۲) روح ته چه کوم نژدې والي له خد اي سره له فرائضو او نوافلو څخه لاس ته راوړل کيږي او په هغه باندې چه کومې مهربانۍ او رباني الطاف مرتب کيږي د لمانځه پرينښودونکي خپل روح له هغو څخه محروم کړي دی- (۳) په حديثو کښې راغلي دي چه "الصلوة نور" يعني لمونځ په دنيا کښې د انساني روح ته لکه د نور غونډې د حق او صواب خوا ته لارښوونه کوي. د الهي معارفو د کشف سبب دی-د قبرد تيارو په له منځه وړلو سره د روح لپاره د انشراح او خوشحالي سبب دی، د قيامت په تيارو کښې د کشف او رنا سامان دی. د لمانځه پرينښودونکي د انوارو له دغو ټولو ډولونو څخه خپل روح بند کړي دي او په برزخ او د قيامت په تيارو کښې ئې پريشانه او نامراده کړي دی- (۴) له حديثو څخه ثابت دي چه پنځګوني لمونځونه له ګناهونو او خطاکانو څخه د پاکوالي لپاره د اسې دي لکه د ويالې اوبو د نجاست لپاره بيلمازه سړي د لمانځه په پرينښودلو سره له ګناهونو څخه روحاني پاکوالي لاس ته نه شواي راوړلی جسماني او مادي نقصانات (۱) الله تعالى فرمايي: سيماهم في وجوههم من أثر السجود. (الآية) د مخونو نورانيت کوم چه د لمانځه د اداکولو اثر دی-بيلمازه سړي ته د انور او د سجود اثر نه حاصليږي-(۲) جسم له نجاستونو او بې اودسيو څخه پاکول د لمونځ کوونکي لپاره د استنجاء، اودس او غسل په ذريعې سره ضروري دي. بيلمازه سړي ته چه کله د لمانځه د ادا کولو پروا نه وي نو د اود اسه او پاکوالي به څه خيال وساتي. لهذا جسم ئې د نجاستونو له تلوث (ککړوالي) څخه محفوظ نه شي پاتې کيدلی- (۳) لمونځ کوونکي د پنځګوني لمونځونو لپاره پنځه وخته اودسونه کوي چه له مخې ئې د هغه په بدن باندې خيرې، ګرد او غبار نه پاتې کيږي. بيلمازه سړي د داسې جسماني پاکوالي څخه بې برخې وي– (۴) په کسب او ګټې کښې ئې برکت نه پاتې کيږي. بلکه هغه مال کوم چه د لمانځه په وخت کښې ئې د لمانځه د پرينښودلو په صورت کښې لاس ته راوړي دي خبيث مال دی-په نورو پاکو مالونو کښې د ګډيدو په صورت کښې په هغو کښې هم خبث پيداکوي- (۵) طبعي نشاط (خوښي) او جسماني

پـــتي كوم چه د بدني عبادتونو له مختلفو حركاتو. يعنې په مشكلو بې برخې شوي دي. د هرې ذهني پريـــاني روحاني علاج په لمانځه كښې مشغوليدل دي- څخه لاس ته راوړل كيږي، بيلمازه سړي د بندګي د حق په پريښود و سره له دغو دواړو څخه هم لكه څرنګه چه استعينوا بالصبر و الصلوة أو كان رسول اللهﷺاذا فزعه امر نزع الى الصلوة. او سختو كارونو كښې له صبر او صلوه څخه امداد تر لاسه كړي، رسول اللهﷺبه چه په كوم كار كښې پريشانه كيده نو زر تر زړه به د لمانځه خوا ته متوجه شو. په دې كښې حكمت دا دي چه په لمانځه كښې د مشغوليدو په صورت كښې له هر غم او خفګان څخه بلكه له ما سوى الله څخه توجه ګرځي او يواځې حقيقي معبود ملحوظ وي. همدارنګه له هرې پريشاني او چه په لمانځه كښې د مشغول فكرونو څخه ذهن فارغيږي او لمونځ كوونكي د خپلو نيازمند انه مناجاتو، ثناء او دعاګانو، حمد او تكبيرونو، قرأت او تهليلونو، عاجزانه ركوع او سجدې په ذريعې د كريم او رحيم

معبود رحمت د ځان خوا ته را جذبوي. چه په نتيجه كښې ئې مشكل حل كيږي او پريشاني ئې له منځه ځي. د ا دولت يواځې لمونځ كوونكي ته حاصليدلې شي. د لمانځه په بركت سره له ترټولو لوي هلاكت څخه بچ كيږي كوم چه په قصد سره د لمانځه له پريښودلو څخه پيدا كيږي سړي ووځي او په نتيجه كښې به ئې د اسړى ارتداد أقتليږي. ځكه چه الله تعالي فرمايي اليـوا او هغه دا چه د ځينو امامانو په نزد كه چېرته توبه و نه باسي نو د اسلام له حدود و څخه داسې الصلوة و لا تكونوا من المشـركين يعنې په پابندي سره لمونځونه كوي او له مشـركانو څخه مه كيـږي. د دې ښكاره مطلب دا دي چه په قصد سره لمونځ نه كول په مشـركانو كښې شامليدل دي- همد ارنګه په حديث شريف كښې راغلي دي چه إن بين العبد و الكفر و الشرک ترک الصلوة (رواه مسلم) يعني بيشكه د بنده او كفر، شرک تر منځه رابطه د لمانځه پريښودل دي. يعنې د بنده او كفر تر منځه لمونځ پرده او مانع وو چه كله ئې لمونځ پريښـود نو اوس د بنده او كفر تر منځ هيڅ يوه پرده پاتې نه شوه. همد ارنګه راغلي دي چه قال رسول اللهﷺالعهد الذي بيننا و بينهم الصلوة فمن تركها فقد كفر. (مشكوة شريف رسول اللهﷺوفرمايل چه زمونږ او د هغوي يعني كفارو تر منځ عهد لمونځ دی. نو چا چه لمونځ پريښود نو هغه كفر وكړ. په دې مضمون باندې ډير حديثونه راغلي دي چه له وجهې ئې امام احمد صاحب په قصد سره د لمانځه پريښـودونكي لره د كفر په حدود و كښې د اخل ګڼلي دي او د مرتد حكم ئې پرې لګولي دی- يعنې نور امامان اګر كه په فوري توګه هغه ته كافر نه وايي ليكن دا خو خامخا وايي چه كفر ته نژدې شو. كه چېرته توبه و څوک په نه باسي نو په آخر كښې به د ايمان له حدودو څخه د باندې ووځي. لكه څرنګه چه يو وچ ډاګ يا بيابان كښې سفر كوي او د چينلو اوبه ورسره ختمې شي نو د

هغه په اړه ویل کیږي چه فلاني هلاک شو اګر که هغه لا هلاک شوی نه دي لیکن چونکه د هلاکت اسباب ئې پیدا شوي دي نو په آخر کښې به هلا کیږي-کذافي فتاوي حقانیه ج۲ص۴۴۵

## : باب تسویه الصفوف

## د ضرورت په وخت کښې د لومړي صف خالي پرېښودل

الاستفتاء: زمونږ د کلي د جومات د قبلې خوا ته د شمال او مشرق په طرف یو دیوال دي په د اسې حال کښې چه د جنوب خوا خالي ده. لیکن چه کله جمع دریږي نو ځینې خلک د ګرمي د سختوالي له وجهې د جنوب د برخې خوا ته نه دریږي او د جومات امام صاحب خلک مجبوروي چه لومړي صف پوره کړي ځکه چه ثواب ئې ډیر زیات دی. د پوښتنې خبره دا ده چه اول صف کوم چه د باندې په حصې کښې دي او د جومات دننه چه کوم د وهم یا دریم صفونه دي نو آیا دا صفونه په ثواب کښې سره برابر دي او که کوم فرق پکښې شته؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا او مصلیا: اول صف له نورو صفونو ښه بهتر دي که د انور صفونه د جومات په انګړ کښې د ننه وي او که د باندې، چونکه د شریعت له مخې په سختې ګرمي کښې د جماعت پرېښودل پروا نه لري نو د لومړي صف پرېښودل خو په طریقه اولي سره جائز وي. البته لومړي صف ته د نورو صفوفو په مقابله کښې بهتري په احادیثو کښې ضرور ثابته ده

عن ابي هريرة قال قال رسول الله ﷺ خير صفوف الرجال اولها و شرها آخرها و خير صفوف النساء آخرها و شرها اولها، (صحيح مسلم ج۱، ص ۱۸۲، باب تسوية الصفوف) و عن ابي هريرة قال قال رسول الله ﷺ خير صفوف الرجال اولها و شرها آخرها و خير صفوف النساء آخرها و شرها اولها. (مشكوة المصابيح ج۱، ص ۱۰۵، باب تسوية الصفوف) و مثله في معارف السنن ج۲، ص ۲۹۴ ، باب ما جاء في فضل الصف الاول) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۱

## په صف کښې د درېدلو طريقه

الاستفتاء: د لمانځه لپاره د صفونو د جوړولو په وخت کښې بايد صفونه له کوم ځاي ځخه شروع شي؟ ځينې وايي چه له ښي خوا ځخه په داسې حال کښې چه ځينې وايي چه له منځ ځخه، که چېرته څوک له کيڼې خوا ځخه صف شروع کړي نو حکم به ئې څه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته امام او مقتدي يو يو وي نو بهتره داده چه مقتدي د امام په ښي خوا کښې ودرېږي او کيڼې خوا ته دريدل د اولي خلاف دی- البته که چېرته مقتديان زيات وي نو بيا بايد چه له منځ ځخه صفونه شروع کړي، له ښي او کيڼې خوا ځخه د صفونو جوړول جائز دي ليکن د اولي خلاف دي-

–قال الحصكفي: (و يقف الواحد) و لو صبيا اما الواحدة فتاخر (محاذيا) اى مساويا (ليمين امامه) على المذهب و لا عبرة با لرأس بل با لقدم.. . (و الزائد) يقف (خلفه) قال ابن عابدين: (و الزائد خلفه) عدل تبعاً للوقاية عن قول الكنز و الاثنان خلفه لانه غير خاص با لاثنين بل المراد ما زاد على الواحد اثنان فاكثر نعم يفهم حكم الاكثر با لاولي و في القهستاني و كيفيته ان يقف احدهما بحذائه و الآخر بيمينه اذا كان الزائد اثنين، و لو جاء ثالث وقف عن يسار الاول و الرابع عن يمين الثاني و الخامس عن يسار الثالث و هكذا. (رد المحتار علي در المختار ج ١، ص ٥٦٦ ، باب الامامة)في الهندية: اذا كان مع الامام رجل واحد أو صبى يعقل الصلوة قام عن يمينه و هو المختار و لا يتاخر عن الامام في ظاهر الرواية هكذا في المحيط و لو وقف علي يساره جاز و قد اساء كذا في محيط السرخسي.... و افضل مكان الماموم حيث يكون اقرب الى الامام فان تساوت المواضع ففي يمين الامام و هو الاحسن هكذا في المحيط. (الهندية ج ١، ص ٨٨/٨٩، باب الامامة) و مثله في البحر الرائق ج ١ ، ص ٣٥٣، باب الامامة)

## د نابالغو هلکانو د لويانو په صف کښې د دريد لو حکم

الاستفتاء: د اوه يا اتو کلونو هلک که چېرته د بالغانو په صف کښې ودرېږي نو لمونځ پرې فاسديږي او که نه؟ کله کله د اسې کيږي چه هلک يو وي او په لومړي صف کښې ځاي هم ډير وي او دا هلک په دوهم صف کښې د يواځې دريدو په ځاي په لومړي صف کښې درېږي. نو آيا شرعاً د اسې کول جائز دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: بهتره داده چه هلک د بالغانو په صف کښې د دريدو په ځاي د ځان لپاره ځانته صف جوړ کړي، البته که چېرته هلک يو وي يا ډير وي ليکن له هغو څخه کوم يو په مخکښې صف کښې ودرېږي نو لمونځ پرې نه فاسديږي ليکن د اسې کول بهتر نه دي۔

قال العلامة الحصكفي: (ثم الصبيان) ظاهره تعددهم فلو واحداً دخل الصف. قال ابن عابدين: (قوله فلو واحد دخل الصف) ذكره في البحر بحثاً قال و كذا لو كان المقتدى رجلاً و صبياً يصفهما خلفه لحديث انس فصففت انا و اليتيم و رائناو العجوز من ورائنا و لهذا بخلاف المرأة الواحدة فانها تتاخر مطلقاً كا لمتعددات للحديث المذكور. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۵۷۱ ، باب الامامة) و في الهندية: اذا كان مع الامام رجل واحد او صبى يعقل الصلوة قام عن يمينه و هو المختار ....... و اذا كان معه اثنان قاما خلفه و كذلك اذا كان احدهما صبياً..... و لو اجتمع الرجال و الصبيان و الخنثي و الاناث و الصبيات المراهقات يقوم الرجال اقصى ما يلى الامام ثم الصبيان الخ. (الهندية ج۱، ص۸۹/۸۸، باب الامامة) و مثله في البحرالرائق ج۱، ص ۳۵۳، باب الامامة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۲

## له امام څخه بغير له ضرورت نه د لري دريدلو حکم

الاستفتاء: يو سړي جومات ته راځي او په امام پسې اقتداء کوي ليکن په صف کښې نه درېږي بلکه کله کله امام په کوټې کښې وي او مقتدي په برنډه کښې په امام پسې درېږي او لمونځ کوي. نو د داسې سړي د لمانځه حکم څه دى؟ بينوا توجروا۔

.الجواب حامداو مصليا: كه چېرته دا سړي صفونه پرېږدي او يواځې په امام پسې اقتدا كوي نو لمونځ ئې جائز دي ليكن د اولي خلاف دی.

و في الهندية: و لو اقتدى با لامام في اقصى المسجد و الامام في المحراب فانه يجوز كذا شرح الطحاوى والهندية ج۱، ص۸۸، باب الامامة) قال ابن عابدين: فان المسجد مكان واحد و لذا لم يعتبر فيه الفصل با لخلاء الا اذا كان المسجد كبيراً جداً. (رد المحتار علي در المختار ج ۱، ص۵۸٦ ، باب الامامة) و مثله في فتاوي قاضيخان على هامش فتاوى هندية ج ۱ ، ص ۹٤)كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۲

## په لمانځه كښې د ښنګرو او اوږو د لګولو حكم

الاستفتاء: په لمانځه كښې بايد خلك ښنګري او اوږې ولګوي او ودرېږي او كه پرته يعني بغير د اوږو له لګولو څخه هم خپل صفونه جوړولي شي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: په لمانځه كښې اصل د صف سيده و الي مطلوب وي او له كومو ځينو روايتونو څخه چه د ښنګرو له ښنګرو سره د لګولو حكم راغلي دي نو له هغه څخه مراد برابري ده او حقيقي معنی ترې مراد نه ده. ځكه چه په يو ځل د ښنګرو او اوږو سره لګول مشكل دي-

........لما قال العلامة الحصكفي: ينبغي ان يأمرهم بان يتراصوا و يسدوا الخلل و يسووا مناكبهم و يقف وسطاً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٥٦٨ ، باب الامامة) قال ابن نجيم المصرى: و ينبغى للقوم اذا قاموا الى الصلوة ان يتراصوا و يسدوا الخلل و يسووا بين مناكبهم في الصفوف و لا بأس ان يامرهم الامام بذلك. (البحر الرائق ج۱، ص ۳۵۳، باب الامامة) و مثله في الفتاوي الهندية ج۱، ص۸۹، باب الامامة)

## په صف کښې د يو اځې دريدلو حکم

الاستفتاء: په ځينو ختونو کښې د اسې کيږي چه کله مونږ د لمانځه په غرض سره جومات ته راځو نو جمع ولاړه وي او په لومړي صف کښې ځاي نه وي نو اوس وروسته راتلونکي سړي به آيا په دو هم صف کښې يو اځې نيت تړي او که کوم بل سړي به له لومړي صف څخه را کش کوي او خپل څنگ ته به ئې دروي او اقتدا به کوي. په داسې حال کښې چه په دې دور کښې د اسې کول ډير مشکل دي. نو آيا په دې صورت کښې په دو هم صف کښې يو اځې دريدل جائز دي او که څنگه؟

الجواب حامدا ومصليا: بهتره خو داده چه يو اځې لمونځ و نه کړي بلکه له لومړي صف څخه دې يو بل څوک را کش کړي او له ځان سره دې ودروي او يا دې د جمعې په لمانځه کښې شامل شي. لکه څرنگه چه په ننني دور کښې له دين څخه بې رغبتي او بې شوقي زياته ده او د جهل له وجهې د لمانځه د فاسديد لو قوي احتمال وي. نو ځکه په داسې حالت کښې په دوهم صف کښې يو اځې دريدل او اقتداء کول څه پروانه کوي

-قال الحصكفي: و قدمنا كراهة القيام في صف خلف صف فيه فرجة للنهى و كذا القيام منفرداً و ان لم يجد فرجة بل يجذب احدا من الصف ذكره ابن الكمال لكن قالوا في زماننا تركه اولى فلذا قال في البحر يكره وحده الا اذا لم يجد فرجة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٦٦٧ ، باب مكروهات الصلوة) و في الهندية: و كذا للمقتدى ان يقوم خلف الصفوف وحده اذا وجد فرجة في الصفوف و ان لم يجد فرجة في الصفوف روي محمد بن شجاع و حسن بن زياد عن ابي حنيفة انه لا يكره فان جراء احد من الصف الى نفسه و قام معه فذلك اولى كذا في المحيط. و ينبغي ان يكون عالماً حتى لا تفسد الصلوة على نفسه كذا في خزانة الفتاوى. (الهندية ج١، ص١٠٧، مكروهات الصلوة) و مثله في مراقي الفلاح على حاشية الطحاوي ص١٩٦، فصل في المكروهات) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٥٣

## په لومړي صف کښې دريدل د چا حق دی.

الاستفتاء: د سپين ږيرو په موجود والي کښې ځوانان په لومړي صف کښې دريدلي شي او که نه؟

الجواب حامداو مصليا: د جماعت د لمانځه لپاره په لومړي صف کښې دريدل افضل دي، په دې کښې عمر ته اعتبار نشته. البته د امام با لکل شاته به داسې سړي بايد ودريږي چه د امامت صلاحيت ولري ترڅو چه د ضرورت په وخت کښې خليفه جوړيدلي شي، په داسې حالت کښې د بې علمه سپين ږيرو په ځاي امام ته نژدې د داسې ځوان دريدل بهتر دي چه لمونځ ورکولي شي۔

و كل من يصلح اماماً للامام الذي سبقه الحدث في الابتداء يصلح خليفة له و من لا يصلح اماماً له في الابتداء لا يصلح خليفة له كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۹۵، فصل في الاستخلاف) عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ ليلني منكم اولو الاحلام و النهي ثم الذي يلونهم ثلثا و اياكم و هيئات الاسواق. (المسلم ج۱، ص۱۸۱، باب تسوية الصفوف) و مثله في مشكوة المصابيح ج۱، ص۹۸، باب تسوية الصفوف)

## په لومړي صف کښې د ځاي د شتون تر څنګ په دو هم صف کښې د دريد لو حکم

الاستفتاء: زمونږ په جومات کښې اکثره د اسې کيږي چه په لومړي صف کښې بنه ډير ځاي وي ليکن ځينې خلک سره له دې چه په لومړي صف کښې ځاي هم وي په د و هم صف کښې دريږي-آيا شرعا د اسې کول جائز دي او که مکروه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا د صفونو ډکول د جمعې د لمانځه له آدابو څخه دي، که چېرته يو څوک سره له دې چه په لومړي صف کښې ځاي وي او په دو هم صف کښې دريږي نو له حديث سره د مخالفت له وجهې د اسې کول مکروه دي۔

عن انس قال قال رسول الله ﷺ اتموا الصف المقدم ثم الذي يليه فما كان من نقص فليكن في الصف المؤخر. رواه ابو داؤد. (مشكوة المصابيح ج ۱، ص ۱۰۵، باب تسوية الصفوف) عن ابي سعيد الخدري قال رأى رسول الله ﷺ في اصحابه تاخرا فقال لهم تقدمو فأتموا بي و لياتم بكم من بعد كم لا يزال قوم يتاخرون حتى يؤخرهم الله. (رواه مسلم ج۱، ص۱۸۲) و لما قال ابن عابدين: و عليه فلو وقف في الصف

الثاني داخلها قبل استكمال الصف الاول من خارجها يكون مكروها. (رد المحتار ج ۱ ، ص ٥٦٩، مطلب في جواز الايثار با لقرب)

## باب الجماعة

### د غذر له وجهې د جماعت د پرېښودلو حکم

الاستفتاء: مونږ په سعودي عربستان کښې د يوه شرکت کار کوونکي يو ليکن چه کله آذان کيږي نو مونږ غواړو چه کار پرېږدو او جومات ته لاړ شو او په جمعې سره لمونځ وکړو، نو که چېرته د اسې وکړو نو د شرکت مالک خفه کيږي. همد ارنګه کله کله داسې کيږي هم چه مونږ کله کار پرېږدو نو د مالک ته تري سخت تکليف رسيږي او زمونږ تر و هلو پورې خبرې ته هم تيارېږي. په د اسې حالت کښې به مونږ څه کوو؟ آيا همدلته به لمونځ کوو او که جومات ته تګ ضروري دی؟

الجواب حامدا ومصليا: په کوم ځاي کښې چه د مال د ضائع کيدو او د هلاکيد و خطر وي او يا د مالک له خوا د ځان خطر وي نو د ظلم له وجهې تاسو د جمعې لمونځ پرېښودلې شي ليکن چېرته چه تاسو ته موقع په لاس درځي نو خامخا به يا په انفرادي توګه او يا له جمعې سره لمونځ کوی۔

لما قال الحصكفي: و لا على حال من بينه و بينها مطر و طين...... و ظلمة. قال ابن عابدين تحت هذا القول و لا على..... ظلمة) يخاف على نفسه او ماله. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱ ، ص ٥ ٥ ٥/٦ ٥ ٥ ، باب الامامة) و في الهندية: تسقط الجماعة با لاعذار........ او كان اذا خرج يخاف ان يحبسه غريمه في الدين...... او يخاف ضياع ماله. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص۸۳، باب الامامة) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص ۳٦۷، باب الامامة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۵

## د دوهم جماعت حکم

الاستفتاء: د کوم کلي په جومات کښې چه کله خلک يو ځل له جمعې سره لمونځ ادا کړي او لاړ شي نو ځينې کليوال د دوهم ځل لپاره خلک جمع کوي او له جمعې سره لمونځ ادا کوي. آيا د شريعت له مخې د کلي په جومات کښې د د وهم جماعت کوم جواز شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د احنافو فقهاوو په نزد د کلي په هغه جومات کښې چه ټاکلي مؤذن او امام ولري د و هم جماعت مکروه دی۔ البته په د اسې جومات کښې چه ټاکلي امام او مؤذن و نه لري او يا د لارې جومات وي نو په هغه کښې د و همه جمع جائزه ده، ليکن که چېرته له جومات سره نژدې کومه حجره يا مدرسه وي نو بهتره داده چه دو همه جمعې دې هم هلته وشي۔

قال ابن عابدين: يكره تكرار الجماعة في مسجد محلة باذان و اقامة الا اذا صلى بهما فيه اولا غير اهله او اهله لكن بمخافتة الآذان و لو كرر اهله بدونهما او كان مسجد طريق جاز اجماعاً كما في مسجد ليس له امام و لا مؤذن و يصلى الناس فيه فوجاً فوجاً فان الافضل ان يصلى كل فريق باذان او اقامة على حدة كما في امالي قاضي خان. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ۵۵۲ ، باب الامامة، مطلب في تكرار الجماعة في المسجد) و في الهندية: المسجد اذا كان له امام معلوم و جماعة معلومة في محلة فصلى اهله فيه با لجماعة لا يباح تكرارها فيه بآذان ثان اما اذا صلوا بغير آذان يباح اجماعاً و كذا في مسجد قارعة الطريق كذا في شرح المجمع للمصنف . ) و مثله في البحر الرائق ج ۱، ص ۳۴۶، باب الامامة) (فتاوى هندية ج ۱، ص ۸۳، باب الامامة) و مكذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۵

## د امام د ربنا لک الحمد ويلو حکم

الاستفتاء: امام به له تسبيح وروسته "ربنا لک الحمد وايي او که نه؟ که چېرته ئې ووايي نو په لمانځه کښې خو به کوم فرق نه راځي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: دا مسئله مختلف فيه ده او په دې کښې آساتيا ده، که چېرته ئې ووايي نو په لمانځه کښې کوم زياتوالي نه راځي. د ډېرو علماوو همدا مسلک دى. که چېرته ئې و نه وايي نو په لمانځه کښې کوم کمي نه راځي. البته ويل ئې بهتر دي-

قال الحصكفي: (ثم يرفع رأسه من ركوعه مسمعاً) في الولوالجية لو ابدل النون لاما يفسد و هل يقف بجزم او تحريك قولان (و يكتفى به الامام) و قالا يضم التحميد سرا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص٤٩٧باب صفة الصلوة) و في الهندية: فان كان اماماً يقول سمع الله لمن حمده با لاجماع و ان كان مقتدياً يأتي با لتحميد و لا يأتي با لتسميع بلا خلاف و ان كان منفرداً الاصح انه يأتى بهما كذا في المحيط و عليه الاعتماد كذا في التارخانية و هو الاصح هكذا في الهداية ثم في الرواية التي تجمع يأتي با لتسميع حال الارتفاع و اذا استوى قائماً قال ربنا لك الحمد كذا في الزاهدي و هو الصحيح كذا في القنية. (فتاوى هندية ج ۱، ص ۷٤، سنن الصلوة و آدابها)

## د كور د حفاظت په خاطر د جماعت د پرېښودلو حکم

الاستفتاء: آيا د کور د حفاظت په خاطر د جمعې د لمانځه پرېښودل جائز دي او که څنګه؟،

الجواب حامدا و مصليا: يوازې د تردد او شک له مخې د جماعت پرېښودل جائز نه دي، البته که چېرته د چا دا يقين وي چه د نه موجود والي په صورت کښې به مې کور ته کوم ظالم تاوان ورسوي او د کور پرده او عزت به مې خراب کړي، يا د مريض مرض به زيات شي نو په دغو صورتونو کښې يا د جماعت د پرېښودلو ګنجائش شته.

قال ابن عابدين: تحت هذا القول و لا على. و خوف على ماله او من غريم او ظالم، يخاف على نفسه او ماله (قيامه بمريض) اى يحصل له بغيبته المشقه و الوحشة كذا في الامداد. (رد المحتار ج ۱، ص ٥٥٦ ، باب الامامة) و في الهندية: تسقط الجماعة بالاعذار....... او كان فيما لمريض او يخاف ضياع ماله. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۸۳، باب الامامة) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۳٦۷، باب الامامة)

## له شرعي عذر پرته د جماعت د پرېښودلو حکم

الاستفتاء: که چېرته يو څوک ځان د نسب خاوند ښکاره کړي او، د ذکرونو او نفلونو هم ډېر اهتمام کوي دا راز حلقه ئې هم ډېره پراخه وي ليکن د دې تر څنګ د . جمعې د لمانځه پابند نه وی. أو اکثره وخت د جمعې لمونځ ترې پاتې وي. نو آيا پرته له شرعي عذر څخه د جمعې د لمانځه پرېښودل جائز دي؟ او همدارنګه له داسې سړي څخه بيعت کول څنګه دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته يو څوک پرته له کوم شرعي عذر څخه جماعت پرېږدي او په جمعې باندې د لمانځه اد اکول ښه و نه بولي نو د اسې سړي به فاسق ګڼل کيږي. ځکه چه په دې باندې د بيعت د منصب سپکاوي راځي ځکه د فسق له وجهې له داسې سړي ۔څخه له بيعت کولو اجتناب وکړي

قال العلامة الحصكفي: قال في البحر هو الراجح عنداهل المذهب (فتسن او تجب ثمرته تظهر في الاثم بتركها مرة (على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلوة با لجماعة من غير حرج) قال ابن عابدين: تحت (قوله في البحر) قال في النهر هو اعدل الاقوال و اقواها و لذا قال في الاجناس لا تقبل شهادته اذا تركها استخفافاً و مجانة. (رد المحتار ج ١ ، ص ٥٥٤ ، باب الامامة) قال ابن نجيم: و ذكر في غاية البيان معزياً الى الاجناس ان تارك الجماعة يستوجب اسائة و لا تقبل شهادته اذاتركها استخفافاً بذلك و مجانة اما اذا تركها سهواً او تركها بتاويل بان يكون الامام من اهل الاهواء او مخالفاً لمذهب المقتدى لا يراعي مذهبه فلا يستوجب الاسائة و تقبل شهادته. (البحر الرائق ج١، ص ٣٤٥، باب الإمامة) و مثله في الهندية ج ١، ص ٨٣، باب الامامة)

## د تکبير اولي د نيولو وخت څومره دی؟

الاستفتاء: د تکبير اولي د نيولو وخت څومره دی؟ او تر کوم وخت پورې چه مقتدي په امام پسې اقتداء وکړي نو د تکبير اولي ثواب ورکول کيږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د تكبير اولي څو صورتونه دي. (۱)له امام سره يو ځاي په نيت تړلو سره د اقتدا كولو په صورت كښې د ټولو په نزد د تكبير اولي ثواب وركول كيږي- (۲) البته تر ثناء وروسته يا تر سورت فاتحه وروسته او له ركوع مخكښې د اقتداء كولو په صورت كښې نو دا صورتونه اختلافي دي. اوسع او صحيح قول دا دي چه د لومړي ركعت په را نيولو سره د تكبير اولي ثواب وركول كيږي –ديږي-

قال ابن عابدين: تظهر فائدة الخلاف في وقت ادراك فضيلة تكبيرة الافتاح فعنده با لمقارنة و عندهما اذ كبر في وقت الثناء و قيل با لشروع قبل قرأة ثلاث آيات لو كان المقتدي حاضراً و قيل سبع لو غائباً و قيل بادراك الركعة و هذا اوسع و هو الصحيح اه. و قيل بادراك الفاتحة و هو المختار. (رد المحتار ج ۱، ص ۵۲٦ ، باب صفة الصلوة، مطلب في وقت ادراك فضيلة الافتاح) فضيلة تكبيرة الافتتاح فتكلموا في وقت ادراكها و الصحيح ان من ادراك الركعة الأولى فقد ادرك فضيلة تكبيرة الافتاح كذا في الحصر في باب ابي يوسف. (الفتاوى الهندية ج ۱ ، ص ٦۹ ، الباب الرابع في صفة الصلوة)

## د مقتدي د التحياتو له پوره كولو څخه مخكښې د امام سلام ګرځول

الاستفتاء: په ځينو جوماتونو كښې د لمانځه د ادا كولو اتفاق منځ ته راځي. ډير واري د اسې شوي دي چه مقتدي لا په تشهد، درود يا په دعا كښې وي چه امام سلام اړوي. اوس د مقتدي لپاره څه حكم دى آيا له امام سره به سلام ګرځوي او كه خپل تشهد پوره كوي او بيا به سلام ګرځوي؟بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: كه چېرته امام د مقتدي د تشهد له پوره كولو څخه وروسته سلام واړوي نو مقتدي هم بايد سلام وګرځوي ځكه چه د امام متابعت ضروري دى. البته كه چېرته مقتدي لاتشهد نه وو پوره كړي نو بيا به تشهد پوره كوي او بيا به سلام ګرځوي-

لما قال العلامة فخر الدين الشهير بقاضي خان: و كذا لو سلم الامام قبل ان يفرغ المقتدى من التشهد فانه يتم التشهد . (الفتاوى القاضي خان على هامش الهندية ج ۱، ص ۹٦ ، فصل فيمن يصح الاقتداء به و فيمن لايصح) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۷

## د جومات د موجود و الي تر څنګ په بل ځاي کښې د جمعې د لمانځه اداکول

الاستفتاء: زمونږ د مکتب د شاګرد انو تعداد ۷۲۰ دی، او سکول ته په نژدې ښار کښې په دریو جوماتونو کښې د ماسپښین لمونځونه کوي. ځینې شاګردان د ماسپښین تر آذان مخکښې د ماسپښین لمونځ کوي او بیا مکتب ته راځي. لکه څرنګه چه د مکتب جومات ډیر کوچني دي لیکن د مکتب صحن ډیر پراخه دی. نو آیا په شریعت کښې د مجبورۍ له مخې د مکتب په صحن یا سراي کښې د جماعت د لمانځه اداکول صحیح دي؟ او کوم شاګرد آن چه د ماسپښین تر آذان مخکښې لمونځونه کوي د هغو د لمونځونو حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: (۱) د ماسپښین آذان زمونږ په ښارونو کښې په مستحب وخت باندې کیږي او د ماسپښین وخت له زوال څخه وروسته شروع کیږي. که چیرته یو څوک له آذان څخه مخکښې او له زوال څخه وروسته د ماسپښین لمونځ اداکړي نو لمونځ ئې کیږي- (۲) په جماعت سره د لمانځه د ادا کولو لپاره شرعي جومات ډیر مناسب او بهتر دی. البته که چیرته د مجبورۍ له مخې د مکتب په صحن یا سراي یا په کوم بل ځاي کښې د جمعې لمونځ ادا شي نو شرعاً به په دې کښې کومه بدي نه وي

-کما في الحديث عن ابي ذر جعلت لی الارض طهوراً و مسجدا (رواه ابو داؤد ج ۱، ص ۷۵) عن ابي سعيد قال قال رسول الله ﷺ الارض كلها مسجد الا المقبرة و الحمام. (رواه ابو داؤد و الترمذي و الدارمي). (مشكوة ج۱، ص ۷۰، باب المسجد) اخرج الامام ابو عيسي الترمذي عن أبي سعيد الخدري قال قال رسول الله ﷺ الارض كلها مسجدا الا المقبرة و الحمام. (رواه الترمذي ج ۱، ص ٤٣ ) و مثله في ابي داؤد ج۱، ص۷۰، باب في المواضع التي لا تجوز فيها الصلوة)

## د ډیر لرګو والي په صورت کښې د جمعې د پریښودلو حکم

الاستفتاء: که چیرته کوم سړي ډیر لرغوندې ګډ وي نو آیا هغه ته د جماعت د لمانځه لپاره جومات ته راتلل ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته په آسانۍ سره جومات ته راتلي شواي نو د هغه لپاره بهتره. داده چه جومات ته راشي او په جمعې سره لمونځ اداکړي. البته که چېرته ډېر معذور وي او جومات ته راتلل ورته ډېر تکليف وي نو بيا جومات ته راتګ ورته ضروري نه دی۔

**قال ابن عابدين: الاعرج الذي لا يستطيع المسى. (رد المحتار ج ۱، ص ٥٥٤، باب الامامت) و تسقط الجماعة با لاعذار... و المفلوج الذي لا يستطيع المشي. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۳ الفصل الأول في الجماعة)**

## : په لمانځه کښې د کلي مشر ته د انتظار کولو حکم

الاستفتاء: زمونږ په کلي کښې يو مشر او سيږي او تر څو پورې چه هغه نه وي راغلي تر هغه وخته پورې امام لمونځ نه راکوي او د هغه انتظار کوي کوم چه په عمومي توګه د هغه د راتګ يقين هم نه وي. آيا د شريعت له مخې د جماعت د لمانځه لپاره د چا انتظار کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته کوم ضعيف او کمزوري وي او د تل لپاره جومات ته د جمعې د لمانځه لپاره حاضرېږي نو د هغه لپاره انتظار کيدلي شي ليکن د کلي کوم مشر او رئيس ته د انتظار کولو اجازه نشته. البته که چېرته له هغه څخه د کوم شر يا بدي خطر وي نو د وخت په لحاظ کولو سره انتظار ورته کيدلي شي.

**قال العلامة الحصكفي: رئيس المحلة لا ينتظر ما لم يكن شريراً و الوقت متسع. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٤٠٠، باب الآذان) ينتظر المؤذن الناس و يقيم للضعيف المستعجل و لا ينتظر رئيس المحلة و كبيرها كذا في معراج الدراية. (فتاوى هندية ج۱، ص ٥٧، باب الآذان) و مثله في طحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۱۰۷، باب الآذان)**

## د شیعه امام د اقتداء حکم

الاستفتاء: د شیعه عقائد و لرونکي امام پسې د اقتداء حکم څه دی؟ که چیرته کوم دائمي امام موجود نه وي نو آیا د ضرورت په وخت کښې د هغه اقتداء جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: زمونږ د ملک اکثره شیعه کان هغه عقائد لري کوم چه د غالي یعني پخو شیعه ګانو عقائد دي چه د حضرت علي رضي الله عنه الوهیت، شیخینو رد بد ویل، د قرآن تحریف او په عائشه رضي الله عنها پسې د تهمت غوندې عقائد پکښې شامل دي. لهذا د اسې عقیدې لرونکي پسې اقتداء د نه مسلمان والي له وجهې په هیڅ صورت کښې جائزه نه ده. البته کوم شیعه کان چه پاخه شیعه ګان نه وي هغوي د مبتدع په حکم کښې راځي او د هغو په اقتداء کښې لمونځ مکروه تحریمي دي۔

قال ابن عابدین: في كتب الفتاوى نعم لا شك في تكفير من قذف السيدة عائشه رضي الله تعالى عنها او انكر صحبة الصديق او اعتقد الالوهية في علي او ان جبريل غلط في الوحي او نحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقرآن و لكن لو تاب تقبل توبة هذا خلاصة ما حررناه في كتابنا الولاة و الحكام. (رد المحتار على الدر المختار ج۳، ص ۲۹٤، كتاب الجهاد قال العلامة الحصكفي: (و مبتدع) اي صاحب بدعة و هي اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا يمعاندة بل بنوع شبهة و كل من كان من قبلتنا ..... الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٥٦٠ ، باب الامامة) قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله: تحت هذا القول (و اما المبتدع) و عرفها الشمني بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقي، عن رسول الله من علم او عمل او حال بنوع شبهة و استحسان و جعل دينا قويماً و صراطاً مستقيماً. آه. (البحر الرائق ج ۱، ص ۳٤۹، باب الامامة) و لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: الرافضي ان – ان كان يسب الشيخين و يلعنهما فهو كافر و ان كان يفضل عليا على ابي بكر و عمر رضي الله عنهم لا يكون كافراً لكنه مبتدع. (خلاصة الفتاوى ج ٤، ص ۳۸۱، كتاب الفاظ الكفركذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۵۹

## په مبتدع پسې دې د اقتداء حکم

الاستفتاء: يو سړي د يوه جومات امام دي ليکن د داسې اعمالو مرتکب دي چه په شريعت کښې ئې هيڅ ثبوت نشته. او داسې اعمال د ثوابو په نيت سره تر سره کوي. آيا د داسې ډول بدعاتو کښې په ککړ سړي پسې اقتداء جائزه ده او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته کوم امام د داسې امورو مرتکب وي چه په شريعت کښې ئې کوم ثبوت نه وي او دې ئې د دين امور ګڼي او کوي ئې او خلکو ته هم ترغيب پرې ورکوي نو د مبتدع کيدلو له وجهې په د اسې سړي پسې اقتداء مکروه ده- ليکن دا خبره دې ځرګنده وي چه په کوم سړي باندې پرته له تحقيق څخه د مبتدع فتوي لګول د پوهې خبره نه ده او نه هر يوه کار ته بدعت ويل صحيح.

قال العلامة الحصكفي: (و يكره) مبتدع اى صاحب بدعة و هي اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لابمعائدة بل بنوع شبهة و كل من كان من قبلتنا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ٥٦٠ ، باب الامامة) قال ابن نجيم: تحت هذا القول (و المبتدع) و عرفها الشمني بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله ﷺ من علم او عمل او حال بنوع شبهة و استحسان و جعل ديناً قويماً و صراطاً مستقيماً. (البحر الرائق ج ۱، ص ۳٤۹، باب الامامة)

## په جادو کوونکي سړي پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: يو څوک د جادو او منتر په ذريعې سره مال جمع کوي، ډير واري د دې عمل له وجهې له غير الله څخه د استعانت (امداد غوښتني) غوندې د بدو فعلونو هم مرتکب کيږي، آيا په د اسې سړي پسې اقتداء جائزه ده؟ په داسې حال کښې چه کله کله نوموړي د دې دعوي هم کوي چه زه په غيبو باندې پوهيږم؟

الجواب حامداومصليا: پخپله تعويذ کول د شريعت له مخې منع نه دي. البته جادو، له غير الله څخه د استعانت غوندې له مشرکانه الفاظو څخه تعويذ جوړول او منتر لوستل ناجائز او حرام دي-

قال ابن عابدين: قال في الخانية امرأة تضع آيات التعويذ ليحبها زوجها بعد ما كان يبغضها ذكر في الجامع الصغير ان ذلك حرام و لا يحل آه. و ذكر ابن وصبان في توجيهه انه ضرب من السحر و السحر حرام آه.

و مقتضاه انه ليس مجرد كتابة آيات بل فيه شيء زائد. قال الزيلعي و عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه انه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول ان الرقي و التمائم و التولة شرك . رواه ابو داؤد و ابن ماجة. (رد المحتار على الدر المختار ج ٥ ، ص ٢٧٥، كتاب الخطر و الاباحة)

همدارنګه په غيبو باندې د پوهيدلو دعوي کول بې بنياده او باطله عقيده ده. دد اسې عقائد و او نظرياتو په درلودونکي سړي پسې اقتداء مه کوی، ځکه داسې خبرې دد عقيدې د نه جوړولو ترڅنګ هم حرامې او ناجائزې دي۔

قال العلامة الحصكفي: تحت هذا القول و يكره امامة.. مبتدع اى صاحب بدعة و هي اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة و كل من كان من قبلتنا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١،ص ٥٦٠ ، باب الامامة)قال العلامة الحصكفي: تحت هذا القول و يكره امامة... مبتدع اي صاحب بدعة و هي اعتقاد خلافالمعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة و كل من كان من قبلتنا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١،ص ٥٦٠ ، باب الامامة) و في الهندية: قال المرغيناني تجوز الصلوة خلف صاحب هوى و بدعة و فيه و حاصله ان كان هوى لا يكفر به صاحبه تجوز الصلوة خلفه مع الكراهة و الا فلا هكذا في التبين و الخلاصة. (الفتاوي الهندية ج ١ ، ص ٨٤، باب الامامة) قال ابن نجيم: هذا القول (و المبتدع) و عرفها الشمنى بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله ﷺ من علم او عمل او حال بنوع شبهة و استحسان و جعل ديناً قويماً و صراطاً مستقيماً. (البحر الرائق ج ١، ص ٣٤٩، باب الامامة)

## د خنثي مشکل (نربنځي) د امامت حکم

الاستفتاء: يو سړي په علم او کمال کښې تر ټولو لوړ دي ليکن د جنس له مخې خنثي مشکل (نربنځی) دي آيا په نربنځي پسې اقتداء جائزه ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته يو څوک د علم، فضل او کمال له لحاظه هر څومره لوړ او اعلى وي ليکن چه د جنس له لحاظه خنثي مشکل وي نو په هغه پسې اقتداء ناجائزه ده –

قال العلامة الحصكفي: (و لا يصح اقتداء رجل بامرأة) و خنثي (و صبى مطلقاً). (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٥٧٦ ، باب الامامة) و في الهندية: و امامة الخنثى المشكل للنساء جائزة ان تقدمهن و ان قام وسطهن فسدت صلوته لوجود المحاذات ان كان الامام رجلاً كذا في محيط السرخسي و للرجال و الخنثى مثله لا يجوز. (هندية ج١، ص ٨٥، باب الامامة) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ١، ص ١٤٧ ، باب الامامة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص ۴۶۱

## په عالم او قاري کې حقداره په امامت سره عالم دہ او که قاري ده

الاستفتاء محترم مفتي صاحب په عالم او قاري کې حقداره په امامت سره عالم ده او که قاري ده په هدايه شريفه کښې ده امامت په بحث کښې راځي چې په حاضرين کې مثلا يو عالم وي او بل قاري وي نو حقداره په امامت سره عالم ده او په حديث شريف کښې راځي «لقوله عليه الصلاة والسلام» «يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله فإن كانوا سواء فأعلمهم بالسنة چې اول حقداره په امامت سره قاري ده نو ده دي مسئلې په اړه كه مدلل الجواب حامدا ومصليا اکړي مهرباني به مو وي بينوا بالكتاب توجروا بالثواب

.الجواب حامدا ومصليا محترمه په صورت مسئولة کې په عالم او په قاري کې حقداره په امامت سره عالم ده قاري نه ده او په حديث شريف کې چې راځي چې قاري مقدم ده هغه ده صحابه رضي الله عنهم په وخت کې وو صحابه رضي الله عنهم لکه څنګه چې قاريان وو هم دغه شان عالمان هم وو نو ځکه قاري مقدم ده ليکن زموږ په زمانه کې خو قاريان وي عالمان نه وي نو ځکه په هدايه کي واي چې عالم حقداره ده په امامت سره تر قاري نو عالم اولي ده په امامت سره تر قاري چې دونه قراءة يي ايزده وي چې سنت طريقه لمونځ په صحيح کيږي

«الهداية في شرح بداية المبتدي» (١/ ٥٧):

«وأولى الناس بالإمامة أعلمهم بالسنة "»الي قوله «لقوله عليه الصلاة والسلام» «يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله فإن كانوا سواء فأعلمهم بالسنة وأقرؤهم كان أعلمهم " لأنهم كانوا يتلقونه بأحكامه فقدم في الحديث

ولا كذلك في زماننا فقدمنا الأعلم». «البناية شرح الهداية» (٢/ ٣٢٩):«وأجاب المصنف عن الحديث بقوله: (وأقرؤهم كان أعلمهم) ش: يعني في زمان النبي - عَلَيْهِ السَّلَامُ - كان أعلم الصحابة أقرأهم م: (لأنهم كانوا يتلقونه) ش: أي القرآن م: (بأحكامه) ش: أي بأحكام القرآن. وفي " المبسوط " وغيره: إنما قدم الأقرأ في الحديث؛ لأنهم كانوا في ذلك يتلقونه بأحكامه، حتى روي أن عمر - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - حفظ سورة البقرة في اثنتي عشرة سنة، فكان الأقرأ فيهم هو الأعلم بالسنة والأحكام.وعن ابن عمر - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - أنه قال: ما كانت تنزل السورة على رسول الله - عَلَيْهِ السَّلَامُ -، إلا ونحن نعلم أمرها ونهيها، وزجرها، وحلانها وحرامها، والرجل اليوم يقرأ السورة، ولا يعرف من أحكامها شيئا» «الفتاوى العالمكيرية = الفتاوى الهندية» (١/ ٨٣): «الفصل الثاني في بيان من هو أحق بالإمامة) الأولى بالإمامة أعلمهم بأحكام الصلاة. هكذا في المضمرات وهو الظاهر. هكذا في البحر الرائق هذا إذا علم من القراءة قدر ما تقوم به سنة القراءة هكذا في التبيين ولم يطعن في دينه. كذا في الكفاية وهكذا في النهاية» «درر الحكام شرح غرر الأحكام» (١/ ٨٥): الْأَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ بَيْنَ الْحَاضِرِينَ الْأَعْلَمُ) هَذَا إذَا لَمْ يَكُنْ ثَمَّ رَاتِبٌ. وَأَمَّا الرَّاتِبُ فَهُوَ أَحَقُّ مِنْ غَيْرِهِ، وَإِنْ كَانَ غَيْرُهُ أَفْقَهَ مِنْهُ كَمَا فِي الْبَحْرِ» «حاشية ابن عابدين = رد المحتار ط الحلبي» (١/ ٥٥٧): «وَالْأَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ) تَقْدِيمًا بَلْ نَصْبًا مَجْمَعُ الْأَنْهُرِ (الْأَعْلَمُ بِأَحْكَامِ الصَّلَاةِ) فَقَطْ صِحَّةً وَفَسَادًا بِشَرْطِ اجْتِنَابِهِ لِلْفَوَاحِشِ الظَّاهِرَةِ، وَحِفْظِهِ قَدْرَ فَرْضٍ، وَقِيلَ وَاجِبٍ، وَقِيلَ سُنَّةٍ «الاختيار لتعليل المختار» (١/ ٥٧): (وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ أَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ) إِذَا كَانَ يُحْسِنُ مِنَ الْقِرَاءَةِ مَا تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ، وَيَجْتَنِبُ الْفَوَاحِشَ الظَّاهِرَةَ. وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَقْرَؤُهُمْ لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ -: «يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللَّهِ» ، قُلْنَا: الْحَاجَةُ إِلَى الْعِلْمِ أَكْثَرُ فَكَانَ أَوْلَى وَفِي زَمَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانُوا يَتَلَقَّوْنَ الْقُرْآنَ بِأَحْكَامِهِ فَكَانَ أَقْرَؤُهُمْ أَعْلَمَهُمْ. (ثُمَّ أَقْرَؤُهُمْ) لِلْحَدِيثِ «مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر» (١/ ١٠٧): «وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ أَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ) أَيْ بِمَا يُصْلِحُ الصَّلَاةَ وَيُفْسِدُهَا وَقَيَّدَ فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ تَقْدِيمَ الْأَعْلَمِ بِغَيْرِ الْإِمَامِ الرَّاتِبِ، وَأَمَّا الرَّاتِبُ فَهُوَ أَحَقُّ مِنْ غَيْرِهِ، وَإِنْ كَانَ غَيْرُهُ أَفْقَهَ مِنْهُ، وَيُمْكِنُ أَنْ يُقَالَ: الْكَلَامُ فِي أَنْ يَكُونَ هَذَا فِي نَصْبِ الْإِمَامِ الرَّاتِبِ» «ملتقى الأبحر» (ص١٦١): «وأولي النَّاس بِالْإِمَامَةِ أعلمهم بِالسنةِ»

## د حنفي مذهبه سړي لپاره د بل مذهب په امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: يو سړي حنفي مسلکه دي ليکن په يوه داسې ملک کښې اوسيږي چېرته چه د امام شافعي، امام احمد بن حنبل او امام مالک مقلدين او يا غير مقلدين اوسيږي نو په داسې صورت کښې د حنفي مسلکه مقتدي په غير حنفي پسې لمونځ جائز دي او که نه

الجواب حامدا او مصليا: که چېرته غير حنفي مسلکه امام د اختلافي مسائلو په رعايتولو کښې مشهور وي يا د مقتدي د هغه په اړه د اختلافي مسائلو د رعايتولو په باره کښې غالب گومان وي لکه د وينې په بهيدلو او د قي په کولو سره ئې بيا اودس کاوه نو بيائې اقتداء پسې جائزه ده او که نه نو نه ده جائزه-

و في الهندية: و الاقتداء بشافعي المذهب انما يصح اذا كان الامام يتحامي مواضع الخلاف بان يتوضاء من الخارج النجس من غير السبيلين كا لفصد و ان لا ينحرف عن القبلة انحرافاً فاحشاً هكذا في النهاية و الكفاية في باب الوتر. (الهندية ج ١، ص ٨٤، باب الامامة) قال ابن عابدين: اما للاقتداء با لمخالف في الفروع كا لشافعي فيجوز ما لم يعلم منه ما يفسد الصلوة على اعتقاد المقتدى عليه الاجماع انما الاختلاف في الكراهة. (رد المحتار على الدر المختار المعروف بستامي ج١ء ص ٥٦٣ ، باب الامامة) و مثله في فتاوي غيائية ص ٣١، باب الامامة و الاقتداء)

## د امامت په منصب کښې د ارث او وصيت حکم

الاستفتاء: يو سړي کوم چه د يوه جومات باقاعده امام دی. له وفات څخه وروسته پخپل ځاي کښې د امامت د منصب لپاره له خپلو وارثانو څخه يو څوک ټاکلي شي او که نه؟ په د اسې صورت کښې که چېرته هغه د کوم ځانگړي سړي په باره کښې وصيت کړي وي نو د وصيت لحاظ به ئې تر کومه ځايه کيږي. او پرته له وصيت څخه هم که چېرته يو څوک په دې کښې د ارث دعوی وکړي نو آيا دعوه به ئې صحيح وي او که څنگه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: د امامت منصب کوم جائداد او مال نه دي چه په هغه کښې وراثت جاري شي يا د مورث د وصيت رعايت پکښې وشي. د امامت د منصب د امام په اهليت، ذاتي رويه او له علم او عمل پرته د کليوالو په رضامندي پورې اړه لري. د امام له مړينې وروسته چه کلي والي چاته هم امامت وسپاري هغه به د کلي امام ګڼل کيږي

قال الحصكفي: (و الاحق با لامامة) تقديماً بل نصباً مجمع الانهر (الاعلم باحكام الصلوة) فقط صحة و فسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة و حفظه قدر فرض و قيل واجب و قيل سنة ثم الاحسن تلاوة للقرأة ثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقاً ثم الاحسن وجهاً ثم الاشرف نسباً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۵۵۷ ، كتاب الامامة) و في الهندية: اولى با لامامة اعلمهم باحكام الصلوة هكذا في المضمرات و هو الظاهر هكذا في البحر الرائق هذا اذا علم من القرأة قدر ما تقوم به سنة القرأة هكذا في التبيين و لم يطعن في دينه كذا في الكفاية و هكذا في النهاية و يجتنب الفواحش الظاهرة و ان كان غيره اورع منه كذا في المحيط و هكذا في الزاهدي و ان كا متبحراً في علم الصلوة لكن لم يكن له حظ في غيره من العلوم فهو اولي كذا في الخلاصة. (فتاوى هندية ج۱، ص۸۳، باب الامامة، الفصل الثاني) و مثلى في البحر الرائق ج۱، ص۳٦۷)دكذافي فتاوي حقانيه ج۲ص٤٦۲

## په بد عمله او مفعول پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: يو سړي د يوه جومات امام دي ليکن د خپل کردار له مخې ډير بدنامه دی. لکه په مفعوليت کښې مشهور دي نو په د اسې سړي پسې د اقتداء حکم څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: د نوموړي بدنامي که چيرته له امامت څخه مخکښې وي او وروسته ئي پرې توبه ايستلې وي نو اقتداء پسې جائزه ده ځکه چه له ګناه څخه تر توبه کولو وروسته ئي حيثيت زخمي نه پاتې کيږي-ليکن که چيرته ئي بدنامي د داسې فعل له وجهې وي چه اوس هم پکښې مبتلا وي نو د فسق له وجهې په د اسې سړي پسې اقتداء مکروه تحريمي ده-

قال ابن عابدين: تحت هذا القول (و يكره امامة عبد و اعرابي و فاسق) اى من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الربا و نحو ذلك. (رد المحتار على الدر المختار ج١، ص ٥٦٠، باب الامامة) و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الأعمى و العبد و ولد الزنا و الفاسق كذا في الخلاصة الا انها تكره هكذا في المتون. (الهندية ج ١ ، ص ٨٥، باب الامامة) و مثله في البحر الرائق ج ١، ص ٣٤٨، باب الامامة)

## دنكاح شوې ښځې په نكاح لوستونكي امام پسې د اقتداء حكم

الاستفتاء: يوه سړي خپله نكاح شوې لور ميړه ته د وركولو په ځاي له بل سړي سره نكاح وتړله په د اسې حال كښې چه دا فعل په معاشرې كښې هم ډير بد ګڼل كيږي نو په د اسې سړي پسې د اقتداء حكم څه دى؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: د منكوحې ښځې له بل چاسره نكاح لوستل د شريعت له مخې ناجائز او حرام دي. په نكاح باندې نكاح كا لعدم ګرځي او د دوهمې نكاح هيڅ حيثيت نه پاتې كيږي. كه چيرته نوموړي امام په قصد سره دا كار كړي وي نو د فاسق والي له وجهې اقتداء وريسې مكروه تحريمي ده

قال الحصكفي: (لو ام قوما و هم له كارهون، ان) الكراهة (لفساد فيه او لانهم احق با لامامة منه كره) له ذلك تحريماً لحديث ابي داؤد لا يقبل الله صلوة من تقدم و هم له كارهون. (رد المحتار على الدر المختار المعروف بستامي ج ١، ص ٥٥٩ ، باب الامامة رجل ام قوما و هم له كارهون فان كانت الكراهة لفساد فيه او لانهم احق با لامامة منه كره له ذلك و ان كان هو احق با لامامة لا يكره لان الجاهل و الفاسق يكره العلام و الصالح. (الفتاوي قاضي خان على هامش الهندية ج١، ص٩٢، باب ما يصح الاقتداء في ما لا يصح) و مثله في الهندية ج ١، ص٨٧، باب الامامة)

## د پټکي په نه په سر کوونکي پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: آیا چه څوک پټکي نه په سروي په هغه پسې اقتداء جائزه ده؟ زمونږ په ځاي کښې ځینې خلک د پګړی په باره کښې ډیر سخت دي. تر دې پورې چه د چا په سر باندې پټکي نه وي نو په هغه پسې اقتداء روا نه بولي او د پټکي نه په سرول حدیثو او فقهاوو د اقوالو له مخې د اګومان درست دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: په دې کښې هیڅ شک نشته چه د پګړی په سر کول د جناب نبي کریم له سنتونو څخه یو سنت دي پګړی هغه عمده او ښه جامه ده چه رسول الله ﷺ استعمال کړې او خوښه کړې ئې ده لیکن دا سنت د عادتي سنتونو له جملې څخه دی.

قال صدر الشهید : فسنن الهدی و ان کانت علی سبیل العادة فسنن الزوائد کلبس الثیاب و الاکل با لیمین و تقدیم الرجل الیسری في الدخول و نحو ذلك کلامنا في الاول الی آخره. (شرح الوقایة ج۱ ، ص ٦۹ ، کتاب الطهارت

) لکه څرنګه چه د اوږدو او سپینو جامو اغوستل له مانځه سره خاص نه دي همد ارنګه د پټکي په سرول هم له لمانځه سره خاص نه دي ځکه چه د رسول الله ﷺ لباس او جامه د عزت لباس ګڼل کیږي. د دې لپاره د الله تعالي دربار ته د تللو په وخت کښې د عزت لباس اغوستل ډیر بهتر دي- بناء پر دې فقهاء کرام له پټکي سره د لمانځه د ادا کولو ترغیب ورکوي. البته که چیرته چا ته پټکي میسر نه شي نو پرته له پټکي سره هم د لمانځه په کولو کښې څه حرج نشته

قال ظاهر بن عبد الرشید: و في الاصل لا بأس بان یصلي الرجل في ثوب واحد متوشحاً و یؤم کذلك والمستحب ان یصلي الرجل في ثلاثة اثواب قمیص و آزار و عمامة اما لو صلی في ثوب واحد متوشحاً به جمیع بدنه کازار المیت یجوز صلوته من غیر کراهة. (خلاصة الفتاوی ج ۱، ص ۷۳، الفصل السادس في ستر العورة)قال ابن نجیم: و المستحب ان یصلی في ثلاثة اثواب قمیص و آزار و عمامة. (البحر الرائق ج۱، ص۲٦۹ ،باب شروط الصلوة)و في الهندیة: و المستحب ان یصلي الرجل في ثلاثة اثواب قمیص و آزار و عمامة اما لو صلی في ثوب واحد متوشحاً به تجوز صلوته من غیر کراهة. (ج ۱ ص ۵۹، الباب الثالث في شروط الصلوة)

ليکن دا حکم له امام سره خاص نه دي بلکه د هر لمونځ کوونکي لپاره دی. د پټکي د دې حقيقت له څرګندوني نه وروسته يوائځې د امامت له منصب سره ځانګړي کول په شريعت کښې له زياتوالي سره برابره ده او نه په سرول ئې د لمانځه له مفسداتو څخه ګڼل له فقهي ذخيري څخه د ناخبرۍ دليل دی- البته که چېرته يو څوک پټکي د عزت او شرافت لباس وګڼي، کوم لوی محفل او مجلس ته د تګ په وخت کښې پټکي استعمالوي ليکن د لمانځه د ادا کولو په وخت ئې نه په سروي نو په دې صورت کښې د بذله د جامو په حکم کښې راځي او د هر لمونځ کوونکي لپاره مکروه دي او چه کوم سړي ئې پابند نه وي او نه ئې پټکي عادت ګرځيدلي وي نو په دې صورت کښې د پټکي نه لرونکي امام پسې په اقتداء کښې هيڅ حرج نشته هو! په کومو ځايونو کښې چه د پټکي نه په سرول د فتنې او فساد سبب ګرځي نو په د اسې ځايونو کښې له پټکي پرته لمونځ مه ورکوي ځکه چه د پټکي د فضيلت په باره کښې.ډير رو ايتونه راغلي دي او د فتنې او فساد بندول هم ضروري دي-

## په قاتل پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: آيا په تائب قاتل پسې اقتداء جائزه ده په داسې حال کښې چه د مقتول و ارثانو معاف کړي نه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: کوم مسلمان په ناحقه قتل کول کبيره ګناه ده، د اسې ګناه يوائځې په توبې سره نه معاف کيږي بلکه د مقتول د وارثانو خوشحاله کول هم ضروري دي. په نوموړي صورت کښې د ژبني توبه ايستلو تر څنګ د دې سړي فسق او فجور باقي پاتې دي چه د فسق له وجهې اقتداء ورپسې مکروه تحريمي ده. لهذا د اسې سړي مستقل امام مه جوړوی-

**قال ابن عابدين: (و فاسق) من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الربو و نحو ذلك. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ، ص ٥٦٠ ، باب الامامة) .قال ابن عابدين: (و فاسق) من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الربو و نحو ذلك، (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٥٦٠ ، باب الامامة) قال ابن عابدين: تحت هذا القول لا تصح توبة القاتل حتى يسلم نفسه للقود**

وهبانية اى لا تكفيه التوبة وحدها قال في تبيين المحارم و اعلم ان توبة القاتل لا تكون با لاستغفار و الندامة فقط بل يتوقف على رضاء اولياء المقتول. (رد المحتار على الدر المختار ج٦، ص ٥٤٨ ، كتاب الجنايات) و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الاعمى و العبد و ولد الزنا و الفاسق كذا في الخلاصة الا انها تكره هكذا في المتون. (ج١، ص ٨٥، باب الامامة) قال العلامة الشيخ م ص ٢٥٢، كتاب الجنايات) محمد كامل الطرابلسي: لا تصح توبة القاتل حتي يسلم نفسه للقود. (الفتاوى الكاملية

## په نابالغ هلک پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: د نابالغ امام پسې اقتداء جائزه ده او که نه؟ که چېرته جائزه نه وي نو د فرضو او تراويحو حکم يو دي او که فرق پکښې شته؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په نابالغ پسې مطلقاً اقتداء که په فرضو کښې وي يا په نفلو کښې مکروه تحريمي ده، د نابالغ په ځاي يو بالغ سړي امام جوړ کړی-

و في الهندية: امامة الصبي المراهق لصبيان مثله يجوز كذا في الخلاصة و على قول ائمة بلخ يصح الاقتداء با لصبيان في التراويح و السنن المطلقة كذا في فتاوى قاضي خان. المختار انه لا يجوز في الصلوة كلها كذا في الهداية و هو الاصح هكذا في المحيط و هو قول العامة وهو ظاهر الرواية. هكذا في البحر الرائق ج١، ص ٨٥، باب الامامة، الفصل الثالث في بيان من يصح اماماً لغيره) قال العلامة الحصكفي: (لا يصح اقتداء رجل بأمرأة) و خنثي (و صبى مطلقا) و لو في جنازة و نفل على الأصح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٥٧٦ ، باب الامامة) و مثله في البحر الرائق ج١ ، ص ٣٥٩، باب الامامة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٦٥

## چه د نسب خاوند نه وي (بیعت ئې نه وي کړی) په هغه پسې داقتداء حکم

الاستفتاء: یوه سړي په له کوم متبع شریعت پیر څخه بیعت کړي وي د هغه اقتداء په داسې امام پسې چه پخپله نیک او متقي وي لیکن بیعت ئې له چا څخه نه وي کړی جائزه ده او که نه؟

الجواب حامدا ومصلیا: مروجه بیعت مقصود بالذات شي نه دي بلکه د نفس د اصلاح یوه ذریعه ده. اګر که د فتنې او فساد په دې دور کښې د نفس د اصلاح لپاره له کوم د شریعت تابع څخه له بیعت کولو پرته کومه بله بهترینه او اکسیره نسخه نشته لیکن د متقي والي تر څنګ چه څوک د نسبت خاوند نه وي د هغه لپاره د تفسیق موجب نه دی. د دې لپاره د نسبت خاوند مقتدي اقتداء پرته له کوم کراهت څخه په هغه امام پسې چه بیعت ئې نه وي کړي جائزه ده – فقهاء کرامو د ترجیح په وجوهاتو کښې بیعت کول نه دي لیکلي.

قال العلامة الحصکفي: و الاحق با لامامة الاعلم باحکام الصلوة ثم الاحسن تلاوة للقرأة ثم الاورع ای الأکثراتقاء للشبهات و التقوی اتقاء المحرمات ثم الاسن ثم الاحسن خلقاً ثم الاحسن وجها ثم الاشرف نسباً ثم الانظف ثوباً (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۱، ص ۵۷ ۵ ، باب الامامة) و في الهندية: اولی با لامامة اعلمهم باحکام الصلوة هکذا في المضمرات و هو الظاهر هکذا في التبیین هذا اذ علم من القرأة قدر ما تقوم به سنة القرأة هکذا في البحر الرائق هذا اذا علم من القرأة. (الفتاوی الهندية ج۱، ص۸۳، باب الامامة، الفصل الثاني في بیان من هو احق با لامامة)

## . د معذور سړي د امامت حکم

الاستفتاء: یو سړي د اوداسه د نه ساتنې له وجهې شرعي معذور دي او په حاضرینو کښې داسې څوک نشته چه متشرع وي او د جمعې لمونځ خلکو ته ورکړي- آیا په د اسې صورت کښې په معذور امام پسې اقتداء جائزه ده او که د هغه په ځاې به د ړیرې کوم لنډ وونکي د جمعې د لمانځه لپاره مخکښې کیږي؟ بینوا توجروا-

.الجواب حامدا ومصلیا: معذور امام روغو او غیر معذورو مقتدیانو ته لمونځ نه شي ورکولی. په داسې حالت کښې د ضرورت له مخې د فاسق او فاجر اقتداء جائزه ده. د دې لپاره د ړیرې کوم لنډ وونکي د لمانځه لپاره مخکښې کولي شي-

قال ابن نجيم: و في المجتبى و هذه الكراهة تنزيهة لقوله في الاصل امامة غيرهم احب الى و هكذا في معراج الدراية و في الفتاوى لو صلى خلف فاسق او مبتدع ينال فضل الجماعة لكن لا ينال كما ينال خلف تقي ورع لقوله من صلى خلف عالم تقي فكانما صلى خلف نبي- و فيه: و في السراج الوهاج: فان قلت فما الافضلية ان يصلى خلف هؤلاء او الانفراد قيل اما في حق الفاسق فالصلوة خلفه اولى لما ذكر في الفتاوى. (البحر الرائق ج١، ص ٣٤٩، باب الامامة) قال الحصكفي: (و لا طاهر بمعذور) هذا (ان قارن الوضوء الحدث او طرأ عليه) بعده. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٥٧٨ ، باب الامامة)قال ابن نجيم: تحت هذا القول (و طاهر بمعذور) اي و فسد اقتداء طاهر بصاحب العذر المفوت للطهارة لان الصحيح اقوى، حالاً من المعذور و الشيء لا يتضمن ما هو فوقه و الامام ضامن بمعنى تضمن صلاته صلاة المقتدى. (البحر الرائق ج١، ص ٣٦٠، باب الامامة) و مثله في الفتاوى الهندية ج ١ ، ص ٨٤، الفصل الثالث في بيان من يصلح اماماً لغيره)

## د ساز اوريدونكي امام پسې د اقتداء حكم

الاستفتاء: يو امام پخپله ساز اوري او له حد څخه تجاوز كوي ډير واري د ښځو سندرې ويلو ته جواز وركوي او په دليل كښې د واده په يوې موقعې باندې د دف له جواز څخه استدلال كوي او دا هم وايي چه زړه مې غواړي چه زه هم له دغو ښځو سره يو ځاي سندرې ووايم. دا ښځې ډيرې ښې سندرې وايي. د شريعت له مخې د د اسې سړي د امامت حكم څه دى؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په واده كښې له مشروط تغني څخه د سندرو په اوريدو باندې استدلال نيول له شرعي قواعدو څخه د ناخبرۍ دليل دى- په ننني دور كښې د بې حيايي او بې ديني له و اقعاتو څخه ډك سازونه كه په واده كښې هم وي بيا هم ناروا دي. د موجوده زماني مروجې سندرې له دې وجهې چه د ډيرو مفاسد و مقدمه دي اوريدل ئې ناجائز دي. په داسې صورت كښې د امام سندرې اوريدل او بيا ئې د جواز لپاره مواد پيدا كول له فسقيه امورو څخه دي. لهذا په داسې فاسق او فاجر پسې اقتداء مكروه تحريمي ده

.لما قال العلامة ابن نجيم: تحت قوله و من يلعب با لطنبور او يغني للناس لانة يجمع الناس على ارتكاب كبيرة كذا في الهداية و ظاهره ان الغناء كبيرة .. . و في المعراج: الملاهي نوعان محرم و هو الآلات المطربة من غير الغناء كا لمزمار سواء كان من عود او قصب كا لشبابة او غيره كا لعود و الطنبور. لما روى ابو امامة انه عليه الصلوة و السلام قال ان الله تعالي بعثني رحمة للعالمين و امرني بمحق المعازف و المزامير و لانه مطرب مصد عن ذكر الله تعالي النوع الثاني مباح و هو الدف في النكاح. (البحر الرائق ج۷، ص ۸۸ ، باب من تقبل شهادته و من تقبل الشهادة) قال العلامة التور پشتي: انه حرام على قول اكثر المشائخ و ما ورع من ضرب الدف في العرس كتابة على الاعلان. (امداد الفتاوي ج ۲، ص ۲۸۳، كتاب النكاح) و مثله في الهندية ج۳، ص۴۵۳)

## د تاکلي امام له اجازې پرته د لمانځه د ورکولو حکم

الاستفتاء: يوسړي د کوم جومات باقاعده امام دی- کوم بل سړي چه د هغه په موجود والي کښې د هغه له اجازې پرته د لمانځه د ورکولو لپاره په محراب کښې ودريږي نو په د اسې سړي پسې د اقتداء حکم څه دی؟ بينوا توجروا

•الجواب حامداو مصليا: د تاکلي امام له اجازې پرته بل ته د لمانځه ورکول مکروه دي. په د اسې صورت کښې په تاکلي امام پسې اقتداء بهتره ده اگر که هغه مفضول وي. البته که چېرته د کوم جومات تاکلي امام حاضر نه وي او نه ئې کوم نائب وي نو بيا د تاکلي امام له اجازې. پرته هم يو څوک د جمعې لمونځ ورکولی شي

قال ابن عابدين: تحت هذا القول صاحب البيت و مثله امام المسجد الراتب (اولي با لامامة من غيره مطلقاً اي و ان كان غيره من الحاضرين من هو اعلم و اقرأ منه. (رد المحتار ج ۱، ص ۵۵۹ ، باب الامامة) قال ابن نجيم: و امام الامام الراتب فهو أحق من غيره و ان كان غيره افقه منه . (البحر الرائق ج۱ ، ص۳۴۷، باب الامامة) و مثله في الفتاوى الهندية ج۱، ص۸۳، باب الامامة) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۶۷

## د ګروپ په شکل کښې د عکسونو ايستونکي امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: يو سړي د کوم جومات امام دي او د خو ملګرو په منځ کښې کښيني او د شوق له مخې عکسونه باسي او يا د ګروپ عکسونه د يادګار په توګه له ځان سره د کېږدلو برسېره په نورو ملګرو هم تقسيموي چه دا خبره ترې ځرګنديږي چه ګوا که دا عمل د ده په نزد جائز دی-آيا د اسې امام په امامت کښې پرېښودل کيدلي شي او که بايد معزول کړي شی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له ضرورت پرته د کوم روح لرونکي عکس که په کيمرې سره وي او يا په قلم سره جوړول د شريعت په نزد ناجائز دي. البته د ضرورت ځايونه له دې څخه مستثني دي. پرته له ضرورت څخه د عکسونو اخيستل له فسقي امورو څخه دي، په ځانګړي توګه چه کله يو امام په ښکاره توګه د د اسې فسقي امورو ارتکاب کوي. په دغو ګناهونو باندې د اصرار ترڅنګ ئې که چېرته په معزولولو باندې د فتنې او فساد انديښنه نه وي نو بيائې د مجبورۍ له وجهې کولي شي چه پرې ئې ږدی. ليکن بهتره به دا وي چه په کوم نيک امام پسې اقتداء وکړي. رسول الله ﷺ يوائې د قبلې خواته د لاړې د توکولو له وجهې يو سړي له امامت څخه منع کړي وو. هو! نو موړي امام که چېرته توبه وباسي او دا کار ګناه وبولي او اصرار پرې و نه کړي نو بيا ئې په اقتداء کښې کوم حرج نشته.

عن عبد الله بن مسعود قال سمعت رسول الله ﷺ يقول اشد الناس عذاباً عند الله المصورون. (مشكوة ص ۳۸۵، باب التصاوير ، الفصل الاول) قال ابن عابدين: (قوله و فاسق) من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الربا و نحو ذلك كذا في البرجندى. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱ ، ص ٦٠ ٥ ، باب الامامة) و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الاعمى و العبد و ولد الزنا و الفاسق كذا في الخلاصة الا انها تكره هكذافي المتون. (فتاوى هندية ج۱، ص ۸۵، باب الامامة) و مثله في الخلاصة ج۱، ص۱٤٥، الفصل الخامس عشر في الامامة و الاقتداء) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۶۸

## د امام لپاره په محراب کښې د دريدلو حکم

الاستفتاء: آيا د امام لپاره د جمعې د ورکولو په وخت کښې په محراب کښې دريدل ضروري دي او که څنګه؟ که چېرته کوم امام د جومات په سراي کښي له محراب څخه لرې ودرېږي نو د امامت. باب الجماعه حکم ئې څه دی؟ زمونږ په ځای کښې ځينې خلک د سختۍ دې درجې ته رسيدلي دي چه که چېرته امام له محراب څخه لرې ودرېږي او لمونځ ورکړي نو هغه ملامتوي. د شريعت له مخې د دې مسئلې حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د امامت لپاره په محراب کښې دريدل کوم مستقل سنت نه دي چه له هغه پرته امامت ضائع شي. په حقيقت کښې د امام لپاره دا سنت دي چه د صف مخې ته په منځ کښې ودرېږي. چونکه له محراب څخه په عمومي توګه د صف منځنی برخه په ګوته کېږي د دې لپاره محراب د دې سنت د ادا کولو په لاره کښې د معاون توب له وجهې په جوماتونو کښې محرابونه جوړيږي. همدا وجه ده چه په محراب کښې طاق جوړول ضروري نه دي۔ ليکن که چېرته امام له محراب څخه پرته د صف مخې ته په منځ کښې ودرېږي نو په هغه اقتداء هيڅ پروا نه لري. په داسې صورت کښې محراب پرېښودونکي امام ملامتول په شريعت کښې له زياتوالي سره برابر دی

-قال ابن عابدين: يفهم من قوله او الى سارية كراهة قيام الامام في غير المحراب و يؤيده قوله قبله السنة ان يقوم في المحراب و كذا قوله في موضع آخر السنة ان يقوم الامام ازاء وسط الصف الا ترى ان المحاريب ما نصبت الا وسط المساجد و هي قد عينت لمقام الامام. و الظاهر ان هذا في الامام الراتب لجماعة كثيرة لئلا يلزم عدم قيامه في الوسط فلو لم يلزم ذلك لا يكره تأمل. (رد المحتار ج ١ ، ص ٥٦٨، مطلب في كراهية الامام في غير المحراب) قال العلامة الحصكفي: (يصف) اى يصفهم الامام بان يامرهم بذلك قال الشمني و ينبغى ان يامرهم بان يتراصوا و يسدوا الخلل و يسووا مناكبهم يقف وسطاً و خير صفوف الرجال اولها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٥٦٨، باب الامامة) و في الهندية: ينبغي للامام ان يقف بازاء الوسط فان وقف في ميمنة الوسط او في ميسرته فقد اساء لمخالفة السنة هكذا في التبين. (ج١، ص٨٩، باب الامامة) و مثله في الطحطاوي ج١، ص١٦٧ ، باب الامامة)

## په امامت باندې د اجرت اخيستونكي پسې د اقتداء حكم

الاستفتاء: آيا يو مالدار سړي په امامت باندې اجرت اخيستلي شي؟ په داسې صورت كښې كه چېرته په د اسې امام پسې اقتداء ميـره نه شي چه هغه اجرت نه اخلي نو په كوم امام پسې به اقتداء بهتره وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: متاخرينو فقهاوو په امامت باندې أجرت اخيستل جائز كړي دي. لهذا مالدار او فقير دواړه د امامت په منصب باندې اجرت اخيستلي شي. د اجرت د جواز په صورت كښې د أجرت نه اخيستونكي امام ته كومه ترجيح حاصله نه ده. لهذا په دواړو پسې اقتداء يو حكم لري۔

قال ابن عابدين: و يعني اليوم بصحتها لتعليم القرآن و الفقه و الامامة و الآذان و يجير الاجر على دفع ما قيل. (رد المحتار ج ٥، ص ٣٤، باب اجارة الفاسدة) قال صاحب الهداية: و بعض مشائخنا استحسنوا الاستيجار على تعليم القرآن اليوم لانه ظهر التواني في الأمور الدينية ففي الامتناع يضيع حفظ القرآن و عليه الفتوى. (باب اجازة الفاسدة ج٣، ص٣٠١) و مثله في فتاوي الهندية ج ٤، ص ٤٤٨ ، الفصل الرابع في فساد الاجارة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٦٩

## په ړانده سړي پسې د اقتداء حكم

الاستفتاء: يو سړي مخكښې بينا وو ليكن د كومې بيمارۍ له وجهې د سترګو له ليدني څخه بې برخې شو. له دې وروسته هغه ځان په پوره پاكوالي كښې نه شي ساتلي- اكثره وخت ئې جامې د بې خبرۍ له وجهې ناپاكې وي او همدارنګه د قبلې تميز هم نه شي كولی. د قبلې په تعين كښې ورته د بل سړي د مدد ضرورت وي. آيا په داسې سړي پسې لمونځ صحيح دي اور امامت په منصب باندې پاتې كيدلي شي؟ په د اسې حال كښې چه له ده نه بل بهتر عالم هم پيدا كيږي؟

الجواب حامدا ومصليا: ړوند سړي كه چېرته له نجاست څخه په ځان ساتنې باندې قادر نه وي نو په هغه پسې لمونځ مكروه تحريمي دي ليكن هر ړانده سړي غير محتاط بلل د عقلمندي خبره نه ده كوم ړوند سړي چه له نجاست څخه د ځان ساتنې اهتمام كولي شي نو بيا په هغه پسې د لمانځه په ادا كولو كښې هيڅ كراهيت نشته. ځكه چه نبي كريمﷺ حضرت

ابن ام مکتوم رضي الله عنه د مديني منوري امام جوړ کړي وو په د اسې حال کښې چه هغه ړوند وو بلکه که چېرته کوم ړوند سړي له نورو ښخه ښه عالم او ښه قاري وي نو بيا ئې امامت له نورو ښخه افضل دی-

**و قال ابن نجيم: و قيد كراهة امامة الاعمى في المحيط و غيره بان لا يكون افضل القوم فان كان افضلهم فهو اولى. (البحر الرائق ج ۱، ص ۳۴۸، باب الامامة) قال ابن عابدين: قال فيه كراهة الاعمى في المحيط و غيره بان لا يكون افضل القوم فان كان افضلهم فهو اولى. (رد المحتار ج۱، ص ۵۶۰ ، باب الامامة) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۸۵، باب الامامة، الفصل الثالث في بيان من يصح اماماً لغيره) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص ۴۷۰**

## په ژبې کښې د لکنت لرونکي امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: زمونږ د جومات د امام په ژبې کښې لکنت دي او په صحيح طريقې سره الفاظ نه شي ادا کولي او اکثره الفاظ غلط وايي. آيا په داسې امام پسې اقتداء صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د کوم سړي په ژبې کښې چه لکنت وي او له کوشش سره سره الفاظ صحيح نه شي اد اکولي نو د هغه لمونځ پخپل حق کښې صحيح دي ليکن د نورو خلکو لپاره چه په ژبو کښې ئې لکنت نه وي امام نه شي جوړيدلی. البته که چېرته امام صاحب سره له دې.، صحيح ادا کولي شي اگر که لږ بند بند ئې وايي نو په هغه پسې اقتداء صحيح ده- چه په ژبې کښې ئې لکنت وي

**و لا يجوز امامة الالثغ الذي لا يقدر على التكلم ببعض الحروف الا لمثله اذا لم يكن في القوم من يقدر على التكلم بتلك الحروف فاما اذا كان في القوم من يقدر على التكلم بها فسدت صلوته و صلوة القوم. (الفتاوى الهندية ج۱ ،ص ۸۶، باب الامامة، الفصل الثالث في بيان من يصح اماماً لغيره) امامة الالثغ لغير ذكر الامام الفضلي انه يجوز لان ما يقول صار لغة له و قال غير صحيح . (خلاصة الفتاوى ج۱، ص ۱۴۸، باب الامامة، الفصل الخامس عشر)** و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۵۸، باب الامامة)

## د قاري په موجود و الي کښې په غير قاري پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: په کوم ځاي کښې سره له دې چه عالم، فاضل او قاري موجود وي او جاهل سړي لمونځ ورکړي په د اسې حال کښې چه په قرائت باندې هم قادر نه وي نو آيا په داسې صورت کښې د جاهل سړي لپاره د لمانځه ورکول څه حکم لري؟

الجواب حامدا و مصليا: په عرف کښې د قاري اطلاق په مجود (چه تجويد ئې کړي وي) باندې کيږي ليکن د فقهاوو په اصطلاح کښې ترې دا مراد نه دی. که چېرته د قرائت له فن څخه خبر قاري په يوه د اسې سړي پسې اقتداء وکړي کوم چه په عام قرائت باندې قادر وي ليکن د قرائت له فن څخه کما حقه خبرتيا و نه لري نو له دې څخه د قاري په لمانځه باندې هيڅ اثر نه پريووزي- په د اسې حالت کښې که چېرته له مروج قاري پرته کوم غير قاري امام وي نو مجود قاري د امام له اجازې پرته لمونځ نه شي ورکولی-البته که چېرته کوم سړي د دومره آيتونو چه لمونځ پرې روا کيږي په قرائت باندې قادر نه وي نو د قاري په موجود والي کښې په داسې سړي پسې اقتداء جائزه نه ده کذا في فتاوي حقانيه ج۲ص۴۷۱

## -په يوه جومات کښې د ګڼو امامانو حکم

الاستفتاء: زمونږ په کلي کښې يو جومات دی چه درې امامان ئې دي. له هغو څخه يو ئې د پنځلسو امامانو د ثابتولو کوشش کړي دی. په داسې حال کښې چه حضرت تهانوي صاحب د بهشتي زيور په يوولسمې برخې ۵۳/۸۰۳ کښې ليکلي دي چه په يوه جومات کښې د يوه امام په موجود و الي کښې دو هم امام پرته له اجازې د جمعې د ورکولو حق نه لري او حواله ئې په درچېرته نه شي کيدلی نو څه وجوهات لري؟ بينوا توجروا- مختار باندې ورکړې ده. او س پوښتنه دا ده چه د يوه جومات څو امامان کېدلی شي او که

الجواب حامدا و مصليا: بهتره دا ده چه په يوه جومات کښې يو امام وي او په هغه باندې ټول کلي و ال اتفاق وکړي او په همدې باندې د آمت تواتر راغلي دي او تر څو پورې چه ټاکل شوي امام موجود وي نو د هغه له اجازې پرته بل څوک د امامت د کولو حق نه لري-

قال العلامة الحصكفي: و اعلم ان صاحب البيت و مثله امام المسجد الراتب (اولي با لامامة من غيره) مطلقاً (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۵۵۹ ، باب الامامة) قال ابن نجيم: امام الامام

الراتب فهو احق من غيره و ان كان غيره افقه منه. (البحر الرائق ج١، ص ٣٤٧، باب الامامة) و مثله في الهندية ج١، ص٨٣، باب الامامة)

که چېرته د کلي خلکو له مخکې څخه کوم امام نه وي مقرر کړي او دا اراده ولري چه دوه يا درې يا تر دې زيات امامان نيسي نو د شريعت له مخې جائز دي ليکن د دې خبرې خيال ساتل ضروري دي چه په يوه وخت کښې دوه يا تر دوو زياتې جمعې و نه شي او که نه نو ټول خلک به ګنهګار وي-

## د بل مذهب په مطابق د لمانځه د ورکولو حکم

الاستفتاء: زه په يوه د اسې ځاي کښې چه هلته ټول خلک د شافعي او مالکي مذهب پيروان دي، آيا زه د خپل مسلک په پرېښودلو سره په بل مسلک باندې لمونځ ورکولي شم او که نه؟ د مثال په توګه رفع اليدين، په زوره آمين ويل او د سهار په لمانځه کښې دعا ويلي شم او که نه؟ د شريعت له مخې به د دې حکم څه وي؟

الجواب حامدا و مصليا: خپل مذهب د سپک او کمزوري په ګڼلو سره پرته له کوم دليل سره ئې پرېښودل د شريعت له مخې جائز نه دي بلکه فقهاء کرامو په د اسې سړي باندې د تعزير حکم لګولي دی. لهذا په داسې ځاي کښې خپل حنفي مسلک د حرص او طمعې په خاطر پرېښودل او په بل مذهب باندې لمونځ ورکول يو بد عمل دي

لما قال العلامة الحصكفي: ارتحل الى مذهب الشافعي يعزر قال ابن عابدين: اى اذا كان ارتحاله لا لغرض محمود شرعا اما انتقال غيره من غير دليل بل لما يرغب من عرض الدنيا و شهوتها فهو المذموم الاثم المستوجب للتاديب و التعزير لارتكابه المنكر في الدين و استخفافه بدينه و مذهبه آه ملخصاً. و فيها عن الفتاوى النسفية الثبات على مذهب ابي حنيفة خير و اولى قال و هذه الكلمة اقرب الى الالفة. (رد المحتار ج٣، ص٢٠٩، باب التعزير)حنفي ارتحل الى مذهب الشافعي رحمه الله تعالى يعزر كذا في جواهر الاخلاطي قال الصحيح قوله ارتحل الى مذهب الشافعي يعزر اي اذا كان ارتحاله لا لغرض محمود شرعاً كما افاده في التاتارخانية. (الفتاوى الهندية ج٢، ص١٦٩، فصل في التعزير)

## په اود اسه کښې د شک په حالت کښې د لمانځه د ورکولو حکم

الاستفتاء: د اوداسه له کولو وروسته ما ته په اود اسه کښې شک پيدا کيږي او په دې خبرې مې يقين نه پاتې کيږي چه زما اودس باقي پاتې دې او که له منځه تللي دی. او خلک مې لمانځه په مخکښې کيدو باندې مجبوروي. آيا د داسې شک په حالت کښې زه د جمعې لمونځ ورکولې شم او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: معذور سړي د امامت لائق نه دی، هغه ته په کار دي چه له امامت څخه ځان وساتي. ليکن يوائې د شک په بنياد سره د امامت پريښودل هم مناسب نه دي. البته چه کله ئې يقين وشي او قرائن هم موجود وي چه اودس مې مات شوي دي نو بيا په داسې صورت کښې امامت جائز نه دی. البته د شک او تردد په صورت کښې د امامت په کولو کښې کومه مضائقه نشته.

عن ابي هريرة قال قال رسول الله ﷺ اذا وجد احدكم في بطنه شيأً فا شكل عليه اخرج منه نسي ام لا فلا يخرجن المسجد حتى يسمع صوتا أو يجد ريحاً. رواه مسلم. (مشكوة ج١، ص ٤٥، باب ما يوجب الوضوء) «صحيح البخاري - ط السلطانية» (١/ ٣٩):

حدثنا علي قال: حدثنا سفيان قال: حدثنا الزهري، عن سعيد بن المسيب، عن عباد بن تميم، عن عمه: «أنه شكا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم: الرجل الذي يخيل إليه أنه يجد الشيء في الصلاة. فقال: لا ينفتل أو: لا ينصرف حتى يسمع صوتا أو يجد ريحا.» كتاب الوضوء، باب لا يتوضؤ من شك حتى ) و مثله في المسلم ج١، ص١٥٨ ، باب طهارة جلود الميتة) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٧٣

## د مورزاده کوسه (هغه څوک چه ږیره ئې نه وي) د امامت حکم

الاستفتاء: يو سړي د کوم جومات امام دي او تقريباً ٢٢ کلن دي ليکن مورزاده کوسه (ږيره نه لري) دي آيا په د اسې امام پسې اقتداء صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته د بلوغ د مودې د تيريدو تر څنګ هم د چاږيره را نه شي نو اقتداء ورپسې جائزه ده. البته که چېرته صبيح الوجه (ښائسته مخی) وي نو بيا اقتداء ورپسې مکروه ده۔

-قال ابن عابدين: (قوله و كذا تكره خلف امرد) الظاهر انها تنزيهية ايضاً و الظاهر ايضاً كما قال الرحمتي ان المراد به الصبيح الوجه لانه محل الفتنة و هل يقال هنا ايضاً اذا كان اعلم القوم تنفى الكراهة فان كانت علة الكراهة خشيه الشهوة و هو الأظهر فلا و ان كانت غلبة الجهل او نفرة الناس من الصلوة خلفه فنعم تامل. و الظاهر اذا العذار الصبيح المشتهي كا لامرد تامل. هذا و في حاشية المدني عن الفتاوى العفيفة. سئل العلامة الشيخ عبد الرحمن ابن عيسى المرشدي عن شخص بلغ من السن عشرين سنة و تجاوز حد الاثبات و لم يبت عذاره فهل يخرج بذلك عن حد الامردية و خصوصاً قد نبت له شعرات في ذقنه تؤذن بانه ليس من مستديرى اللحى فهل حكمه في الامامة كا لرجال الكاملين ام لا اجاب سئل العلامة الشيخ احمد بن يونس المعروف بابن الشلبي من متاخرى علماء الحنفية عن هذه المسئلة فاجاب با لجواز من.غير كراهة و ناهيك به قدوة. و الله اعلم. (رد المحتار على الدر المختار ج ١، ص ٥٦٢ ، باب الامامة) قال في الخلاصة و في شرح القدوري يجوز امامة الامرد و اذا كان بالغاً و يكره اذا كان صبيح الوجه. (خلاصةالفتاوي ج ١، ص ١٤٨، الفصل الخامس عشر في الامامة و الاقتداء)

## د امام لپاره ضروري صفتونه

الاستفتاء: يو امام بايد كوم كوم صفتونه ولري چه كه چېرته نه وي پكښې نو د داسې عظيم منصب اهل به نه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداومصليا: امام چه د علم او تقوي په صفتونو باندې ښومره ښائسته وي نو دا به د هغه خصوصيت ګڼل كيږي. البته په عمومي توګه د امام لپاره په لاندېني صفاتو متصف كيدل ضروري دي- (١) اسلام (٢)بلوغ (٣)عقل (۴)نارينتوب (۵)علم او قرائت (٦) له عذرونو څخه روغوالى-

قال ابن عابدين: و شروط الامامة للرجال الاصحاء ستة اشياء الاسلام و البلوغ و العقل و الذكورة و القراءة و السلامة من الاعذار كا لرعاف و الفافأة و التمتمة و اللثغ. (رد المحتار ج ١ ، ص ٥٥٠ ، باب الامامة) قال الشرنبلالي: شروط صحة الامامة للرجال الاصحاء ستة اشياء الاسلام و هو شرط عام فلا

تصح امامة منكر البعث او خلافة الصديق او صحبته او يسب الشيخين او ينكر الشفاعة الى آخره. (مراقي الفلاح على حاشيةالطحطاوي ص ١٥٦ ، باب الامامة)

## [د سود له روپو څخه د تنخواه اخيستونكي امام پسي د اقتداء حكم

الاستفتاء: د يوه ښار د سټيټ بانک په شاوخوا کښې يو جومات دي کوم چه د سټيټ بانک په ملکيت کښې دی. که چېرته يو څوک د بانک نوکروي يا يوائځې د همدې جومات اماموي په د اسې حال کښې چه د سټيټ بانک کاروبار له هرې وجهې څخه په سود باندې ولاړ دی. او امام صاحب ته هم د سود له همدغو روپو څخه تنخواه ورکول کيږي. آيا په داسې امام پسې لمونځ کول صحيح دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: د جومات په امامت کښې پخپل ذات کښې کوم ناښائسته کار نشته البته د داسې جومات امامت په اجرت سره کول چه أجرت ئې د سود له کاروبار څخه ورکول کيږي چه د حرام خوري له وجهې فسق دی. او د فسق له وجهې په د اسې امام پسې اقتداء مکروه ده-

قال ابن عابدين: تحت هذا القول (يكره امامة عبد و اعرابي و فاسق و اعمى) (قوله فاسق) اى من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الرباء و نحو ذلك. (رد المحتار ج١، ص ٥٦٠ ، باب الامامة) .. وهكذاج١، ص ٥٦٠ ، باب الامامة) و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الاعمى و العبد و ولد الزنا و الفاسق كذا في الخلاصة الا انها تكره هكذا في المتون. (فتاوى هندية ج١ ، ص ٨٥، الفصل الثالث ، باب الامامة) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ١، ص ١٤٥، الفصل الخامس عشر في الامامة)

البته كه چېرته امام ته أجرت د بانک له روپو څخه نه ورکول کيده بلکه له کومې بلې. ذريعې څخه تنخواه ورکول کيدله لکه نژدې کليوالو له خپل ځانه تنخواه ورکوله نو بيا پرته له کراهيت څخه اقتداء وريسې جائزه ده كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٤٧٤

## د سرو جامو په اغوستونکي امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: د یوه جومات امام سرې جامې اغوندي او په همد غو جامو کښې لمونځ هم ورکوي نو آیا په همد غو جامو کښې په نوموړي امام پسې اقتداء جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: د سرو جامو په اغوستلو کښې د علماوو اختلاف دي ځینې ئې د جواز قائل دي او ځینې ئې د نه جواز قائل دي. او په احنافو کښې هم دا اختلاف پیدا کیږي لیکن راجح قول دا دي چه د سرو جامو اغوستل مکروه تنزیهي دي. لهذا په دې بنیاد باندې لمونځ به هم مکروه تنزیهي وي. د دې لپاره په د اسې سړي پسې اقتداء جائزه ده. هو! که چېرته د سرو جامو له اغوستلو څخه له کومې بې دینې ډلې سره د ترون ښکارول مقصود وي نو د الله تعالی په دربار کښې د داسې امتیازي حیثیت درلودونکي سړي پسې له اقتداء څخه باید پرهیز وشي

»سنن الترمذي ت بشار« (۳/ ۲۷۱):(

«حدثنا محمود بن غيلان، قال: حدثنا وكيع، قال: حدثنا سفيان، عن أبي إسحاق، عن البراء، قال: ما رأيت من ذي لمة في حلة حمراء أحسن من رسول الله صلى الله عليه وسلم، له شعر يضرب منكبيه، بعيد ما بين المنكبين لم يكن بالقصير ولا بالطويل» ابواب اللباس، باب ما جاء في الرخصة في الثوب الاحمر. قال شمس الائمة السرخسي و فيه دليل انه لا بأس بلبس الثوب الاحمر، (شرح سير الكبير ج۱، ص۱۱۵، باب السلام و العروسية) قال العلامة الحصكفي: (و لا بأس بسائر الالوان) و في المجتبى و القهستاني و شرح النقاية لابي المكارم لا بأس بلبس الثوب الاحمر و مفاده ان الكراهية تنزيهية لكن صرح في التحفة با لحرمة فافاد انها تحريمية و هي المحمل عند الاطلاق. (رد المحتار ج ٦ ، ص۳۵۸، كتاب الكراهية، فصل في اللبس) و مثله في فتاوى هندية ج۵، ص۳۳۲) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۷۵

## د ښځو د جماعت حکم

الاستفتاء: د ښځو د مستقل جماعت حکم څه دی؟ که چېرته په ناڅاپي توګه د دوي جماعت برابر شي نو امامت کوونکې ښځه به چېرته دریږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: يواځې د ښځو ځانګړې جماعت مکروه تحريمي دی. د دې ترڅنګ که چېرته ښځې وغواړي چه په جمعې سره لمونځ وکړي نو امامت کوونکې ښځه به د صف په منځ کښې درېږي او د نارينه وو غوندې به مخ ته نه درېږي. او که چېرته ښځه د نارينه امام غوندې د صف په مخکښې ودرېږي نو د اګناه ده. البته د علامه عيني، ابن الهمام او شيخ عبد الحي صاحب او د اسې نورو د تحقيق مطابق د ښځو جماعت د اولي خلاف دی۔

قال العلامة الحصكفي: (و) يكره تحريماً (جماعة النساء) و لو في التراويح في غير صلوة جنازة لانها لم تشرع مكررة (فان فعلن تقف الامام وسطهن) فلو قدمت اثمت. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٥٦٥ ، باب الامامة) و لما قال الشيخ ابن الهمام و لا يخفى ما فيه و بتقدير التسليم فانما يفسد نسخ السنية و هو لا يستلزم ثبوت كراهة التحريم في الفعل بل التنزيه مرجعها الى خلاف الاولى. (فتح القدير ج١، ص٣٠٧، باب الامامة).. .... .و في الهندية: و يكره امامة الامرأة للنساء في الصلوة كلها من الفرائض و النواقل الا في صلوة الجنازه هكذا في النهاية. فان فعلن وقفت الامام وسطهن و بقيامها وسطهن لا تزول الكراهة و ان تقدمت عليهن امامهن لم تفسد صلوتهن هكذا في الجوهرة النيرة و صلوتهن فرادى افضل هكذا في الخلاصة ج ١ ، ص ٨٥، باب الامامة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص ٣٥١، باب الامامة) قال العلامة العيني: فا لاولى ان يصلين وحدهن و آن صلين بجماعة قامت امامهن وسطهن و ان تقدمت جاز. (البناية شرح الهداية ج٢، ص٣٩٢)

## په ضعيف امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: يو سړي د ضعف او کمزورۍ له وجهې د لمانځه په ټېټه و او ځګيد و کښې ډير تکليف محسوسوي تر دې پورې چه ډير واري ئې آواز هم نه اوريدل کيږي. آيا د شريعت له مخې په. د اسې ضعيف امام پسې اقتداء جائزه ده او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته ضعف او کمزوري د لمانځه د کوم رکن لپاره تاواني نه وي نو يواځې د کمزورۍ له وجهې په داسې امام پسې اقتداء پروا نه لري. البته که چېرته د تکبيرونو او سلام په اوريد و کښې خلکو ته کليف وي نو د

تکبیر ویونکي په تاکنې باندې د دې از اله ممکنه ده. هو! پخپله امام باید دا ذمه واري کوم بل د اسې صلاحیت لرونکي شخصیت ته ور وسپاري چه د کلیوالو په مخکښې د اعتماد وړ وي-

قال ابن نجيم و اشار الى ان اقتداء القاعد خلف مثله جائزا اتفاقاً و كذا الاقتداء با لاعرج او من بقدمه عوج و ان كان غيره أولى. (البحر الرائق ج ۱، ص ۳۸۷، باب الامامة)قال العلامة الحصكفي: «(وقائم بأحدب) وإن بلغ حدبه الركوع على المعتمد، وكذا بأعرج، وغيره أولى». (الدر المختار على هامش رد المحتار ج ۱، ص ٤۳٦ ، باب الامامة) و مثله في الهندية ج ۱ ، ص ۸۵، باب الامامة)

## له پښو څخه په معذور امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: زمونږ د کلي د جومات امام له دواړو پښو څخه معذوره دی. په جګیدو او ټیټیدو کښې ورته د بل سړي امداد ته ضرورت وي نو په د اسې سړي پسې د اقتداء حکم څه دی؟

الجواب حامدا ومصليا: امام چه قاعد (ناست) وي او مقتدي ولاړ وي نو په د اسې صورت کښې لمونځ جائز دي لیکن د اولي خلاف دی- البته که چېرته کوم روغ او جوړ سړي د امامت لپاره پیدا نه شي نو په د اسې امام پسې تر یو اځې لمونځ کولو څخه اقتداء بهتره ده-

كما في الهندية: و يصح اقتداء القائم با لقاعد الذي يركع و يسجد لا اقتداء الراكع و الساجد با لمومى هكذا في فتاوى قاضيخان و فيه ايضاً و لو كان لقدم الامام عوج و قام على بعضها يجوز و غيره اولى. (الفتاوى الهندية ج۱، ض ۸۵، باب الامامة) قال العلامة الحصكفي: (و قائم بقاعد) يركع و يسجد لانه صلى آخر صلوته قاعداً و هم قيام. (الدر المختار علهامش رد المحتار ج ۱ ، ص ۳۵ ٤ ، باب الامامة و فيه غير اولى) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۳۸٦، باب الامامة)

## په پښو باندې په صحیح توګه نه درېد ونکي امام پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: د کوم سړي په پښو کښې کوم تکلیف وي چه له وجهې ئې په صحیح توګه په درېد و باندې قادر نه وي نو آیا په د اسې سړي پسې اقتداء جائزه ده او که نه؟

الجواب حامداً ومصلیاً: که چېرته د پښو معذوري او تکلیف دومره وي چه د درېد و قدرت پرې و نه لري بلکه په ناستې سره لمونځ کوي نو په داسې سړي پسې د هغو خلکو اقتداء جائزه ده چه د ده غوندې وي. البته په درېد و باندې د قادرو خلکو لپاره په ناستې باندې له اشارې سره په لمونځ کوونکي پسې اقتداء جائزه نه ده. البته که چېرته په پښو کښې د عذر له وجهې پوره درېدل ممکن نه وي لیکن بیا هم د پښو په کومې برخې یا په یوې پښې باندې درېدلې شواي نو اقتداء ورپسې صحیح ده. په دې شرط چه په رکوع او سجدې باندې قدرت ولري. هو! د ده په ځاي په کوم روغ او صحیح امام پسې اقتداء بهتره ده۔

كما في الهندية: و يصح اقتداء القائم با لقاعد الذي يركع و يسجد لا اقتداء الراكع و الساجد با لمومي. هكذا في فتاوي قاضيخان و فيه ايضا و لو كان لقدم الامام عوج و قام على بعضها يجوز و غيره اولى. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۸۵، باب الامامة) قال العلامة الحصكفي: (و قائم بقاعد) يركع و يسجد لانه صلى آخر صلوته قاعداً و وهم قيام. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج ۱، ص ۴۳۵ ، باب الامامة و فيه غيره اولى) و مثله في البحر الرائق ج۱ ، ص ۳٦٤، باب الامامة)

## کوم امام په کور کښې چه شرعي پرده نه وي په هغه پسې د اقتداء حکم

الاستفتاء: یو سړي د کوم جومات امام دي لیکن د هغه په کور کښې د پردې له رعایتولو پرته د عامو خلکو په آزاده توګه تګ او راتګ وي. د قدرت د درلودلو تر څنګ نوموړي دا خلک نه منع کوي. نو په شریعت کښې په د اسې سړي پسې اقتداء څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامداومصليا: كه چېرته د قدرت د درلودلو تر څنګ د خپل كور ښځې په شرعي حجاب او پردې باندې مجبورې نه كړي او ښځې ئې په بې پردګي سره ګرځي را ګرځي او نوموړي سره له دې چه علم او قدرت پرې لري او نه ئې منع كوي نو د اسې سړي د ديوث او فاسق په حكم كښې دي چه اقتداء ورپسې مكروه تحريمي ده-

قال العلامة الحصكفي:( «يَا دَيُّوثُ) هُوَ مَنْ لَا يَغَارُ عَلَى امْرَأَتِهِ أَوْ مَحْرَمِهِ» (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۳، ص ۲۰۲، باب التعزير) را قال ابن عابدين: تحت هذا القول (و يكره امامة عبد و اعرابي و فاسق)اى من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني وآكل الرباء و نحو ذلك. (رد المحتار على الدر المختار ج ۱، ص ٦٠ ٥ ، باب الامامة) و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الاعمى و العبد و ولد الزناء و الفاسق كذا في الخلاصة الا انها تكره كذا في المتون. (ج۱، ص ۸۵، باب الامامة) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱٤٥)

## د ديوث د امامت حكم

الاستفتاء: يو سړي چه ښځه يا لور ئې له كوم نامحرم سړي سره په ناجائزو تعلقاتو كښې مبتلا وي او دي سره له علمه پرې خاموشي غوره كړي او ډير واري با لذات يا با لواسطه د هغو له يوه او بل سره په ملاويد و كښې معاونت هم وكړي، په د اسې سړي پسې د شرعي له مخې اقتداء څه حكم لري؟ بينوا توجروا.-

الجواب حامداومصليا: په داسې بې غيرته كارونو باندې سره له دې چه قدرت ولري غلى او چپ اوسيدل يا تعاون ورسره كول له فسقي امورو څخه دي چه په د اسې سړي پسې د فسق له.وجهې امامت ه ، منصب ور سپارل د دې اقتداء مكروه تحريمي ده. د دې لپاره د اسې سړي ته د عظيم منصب تقدس تر پښو لاندې كولو سره برابر دى-

قال العلامة الحصكفي: (يا ديوث) هو من لا يغار على امرأته او محرمه. (الدر المختار على هامش رد المحتارج۳، ص ۲۰۲، باب التعزير)قال ابن عابدين: تحت هذا القول (و يكره امامة عبد و اعرابي و فاسق) اى من الفسق و هو الخروج من الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كارب الخمر و الزاني و آكل الرباء و نحو ذلك. (رد المحتار ج۱ ، ص ٥٦٠، باب الامامة) و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي

و العبد و ولد الزناء و الفاسق كذا في الخلاصة الا انها تكره هكذا في المتون. (فتاوى هندية ج ۱، ص ۸۵، باب الامامة) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱٤٥)

## باب المسبوق و اللاحق

### د مسبوق او لاحق تعريف

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! د مسبوق او لاحق تعريف څه شي دی؟ او مسبوق او لاحق چا ته وايي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: مسبوق: هغه لمونځ کوونکي ته وايي چه له امام سره د ټولو رکعتونو يا ځينو رکعتونو د کولو موقع په لاس ورنه شي لاحق: هغه مقتدي دی چه د مجبوری له وجهې د اقتداء له کولو څخه وروسته ټول رکعتونه يا ځيني ترې فوت شي او يا اقتداء وربې وکړي۔

قال العلامة الحصكفي: و اللاحق من فاته الركعات كلها او بعضها لكن بعد اقتداء بعذر كغفلة و زحمة.....والمسبوق من سبقه الامام بها او بعضها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص ٥٩٤ تا ٥٩٦، كتاب الصلوة، مطلب في احكام المسبوق الخ) و في الهندية: المسبوق من لم يدرك الركعة الاولى مع الامام........ و اللاحق هو الذي ادرك اولها و فاته الباقي في النوم أو حدث او بقى قائماً للزحام....... الخ. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۹۲، الباب الخامس، الفصل السابع في المسبوق و اللاحق)
كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۴۹۹

### په د و هم رکعت کښې د شريک شوي مسبوق لپاره د تشهد د ويلو حکم

الاستفتاء: که چېرته يو څوک د ماسپښين په لمانځه کښې له امام سره په د و هم رکعت کښې شريک شي او امام چه کله په دوهم رکعت کښې کښيني نو په همدې مسبوق باندې همدغه تشهد ويل لازم دي او که نه؟ په ځينو متونو او حواشي کښې ليکلي دي چه په مسبوق باندې دا تشهد ويل ضروري نه دي۔

الجواب حامدا ومصليا: په مسبوق باندې د اتشهد ويل واجب دي –

قال ابن عابدين: و المسبوق يسجد مع امامه قيد با لسجود لانه لا يتابعه في السلام بل يسجد معه و يتشهد فاذا سلم الامام قام الى القضاء الخ. (رد المحتار ج ۱ ، ص ۹ ٤ ٥ ، حكم المسبوق و اللاحق) و ايضاً قال بعد ورقة: كم لو ادرك الامام في القعدة الاولى فقعد معه فقام الامام قبل شروع المسبوق في التشهد فانه يتشهد تبعاً لتشهد امامه. (رد المحتار ج ۱، ص ۵۵۱، حكم في اللاحق و المسبوق)و في الهندية: اذا ادرك الامام في التشهد و قام الامام قبل ان يتم المقتدى او اسلم الامام في آخر الصلوة قبل ان يتم المقتدى التشهد فا لمختار ان يتم التشهد ، كذا في الغياثية و ان لم يتم اجزأه. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۹۰، الفصل السادس فيما يتابع الامام الخ) و مثله في مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۲۵۱، باب فيما يفعله المقتدى)

## له امام سره په اولې قعدې کښې د شريکيدلو په صورتکښې د تشهد د ويلو حکم

الاستفتاء: که چېرته يو مسبوق له امام سره په اولې قعدې کښې شريک شي او د مسبوق په کښيناستو سره امام ودرېږي نو آيا په داسې صورت کښې د امام متابعت ضروري وي او که د مسبوق د تشهد پوره کول او بيا وروسته دريدل؟

الجواب حامدا ومصليا: په داسې صورت کښې د تشهد له پوره کولو پرته هم که چېرته مسبوق د امام د متابعت له وجهې ودرېږي نو لمونځ ئې له کراهيت سره کيږي-ليکن بهتره به دا وي چه تشهد پوره ووايي او بيا جګ شي. ځکه چه په قعده کښې تشهد ويل واجب دي- لهذا د يو واجب له وجهې د وهم واجب بايد پاتې نه شي. تر دې پورې چه مدرک به هم د تشهد له پوره کولو پرته نه درېږي بلکه تشهد به پوره کوي او بيا د امام متابعت به کوي او درېږي به – تر څو چه د دواړو واجبو رعايت وشي

و في الهندية: اذا ادرك الامام في التشهد و قام الامام قبل ان يتم المقتدى او سلم الامام في آخر الصلوة قبل المقتدى التشهد فا لمختار ان يتم التشهد كذا في الغياثية. و الم يتم اجزأه. (الهندية ج۱، ص۹۰، الفصل السادس فيما يتابع الامام الخ) قال ابن عابدين: فان عارضها واجب لا ينبغي ان يفوته بل يأتي به ثم

يتابع كما لو قام الامام قبل ان يتم المقتدى التشهد فانه يتمه. ثم يقوم لان الاتيان به لا يفوت المتابعة با لكلية. و انما يؤخرها و المتابعة مع قطعه تفوته با لكلية فكان تاخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولى من ترك احدهما با لكلية. (رد المحتار ج ۱، ص ٤٧٠ ، مطلب مهم في تحقيق متابعة الامام) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۵۰۰

## د امام د متابعت حکم

الاستفتاء: که چېرته امام له اولې قعدې څخه دريم رکعت ته ودرېږي او مسبوق چا چه التحيات په نيمايي کښې ميندلي وي، د وروسته پاتې کيدو له وجهې التحيات مکمل کړي او په اتفاقي توګه د اسې وشي چه امام له قيام څخه رکوع ته لاړ شي نو آيا مسبوق به د دريو تسبيحاتو په برابر قيام کوي او د لاحق غوندې به له امام سره شريکيږي او که د رکوع له کولو وروسته به له امام سره د شريکيدلو کوشش کوي؟ بينوا توجروا

الجواب حامداومصليا: له اصل الجواب حامداومصلياڅخه مخکښې دا خبره ياده ساتې چه واجب متابعت درې قسمه دي:

(۱) د مقارنت په شکل کښې (يعني چه له امام سره په ټولو رکنونو کښې شريک پاتې شي-

(۲) دتعاقب په شکل کښې: د فعل له ابتداء څخه امام مخکښې او مقتدي وروسته وي-

(۳) د تاخر په شکل کښې: چه له فعل څخه امام مخکښې فارغ شي او مقتدي د امام له اد اکولو څخه وروسته هغه فعل اداکړي-په دغو دريو صورتونو کښې د متابعت حق ادا کيږي او د مقتدي لمونځ صحيح کيږي. لهذا په نوموړي صورت کښې چونکه د تشهد ويل واجب دي د دې لپاره لاحق يا مسبوق د تشهد له لوستلو وروسته دې قيام وکړي او رکوع دې يوائې ادا کړي بيا دې له امام سره شريک ش دې صورت کښې هم د متابعت حق د تاخر په شکل کښې اداکيږي. البته په پورتني صورتونو کښې که چېرته مقتدي اصل فعل (يعني فرض رکن لکه رکوع) پرېږدي نو د امام له سلام اړولو وروسته به مستقل رکعت ادا کوي او سلام به اړوي. او که چېرته ئې د امام له سلام اړولو وروسته مستقل رکعت ادا نه کړ نو لمونځ ئې و نه شو. د دې لپاره د لمانځه بيرته را ګرځول پرېږ و اجب بلکه فرض دي او دوباره به ئې اداکوي.

قال ابن عابدين: و الحاصل ان متابعة الامام في الفرائض و الواجبات من غير تاخير واجبة. فان عارضها واجب لا ينبغي ان يفوته بل يأتي به ثم يتابع كما لو قام قبل ان يتم المقتدى التشهد فانه يتمه ثم يقوم لان الاتيان به لا يفوت المتابعة با لكلية. و انما يؤخرها و المتابعة مع قطعه تفوته با لكلية فكان تاخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولى من ترك احدهما با لكلية. (رد المحتار ج ۱، ص ٤٧٠ ، مطلب مهم في تحقيق متابعة الامام) قال العلامة حماد بن حسن الشرنبلالي: لو سلم الامام او تكلم قبل فراغ المقتدى من قرأة التشهد. و لا يتبع الامام و ان خاف فوت الركوع لان قرأة بعض التشهد لم تعرف قربة و الركوع لا يفوت في الحقيقة لانه يدرك فكان خلف الامام و معارضة واجب آخر لا يمنع الاتيان بما كان فيه من واجب غيره لاتيانه به بعده فكان تاخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولى من ترك احدهما با لكلية. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۲۵۱، فصل فيما يفعله المقتدي بعد فراغ امامه ....... الخ

كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۵۰۲

## مسبوق به په سلام کښې د امام متابعت نه کوي اګر که د سجده سهوې سلام هم وي

الاستفتاء: مسبوق که چېرته له امام سره د سجده سهوه لپاره په قصد یا په سهوه سره سلام وګرځوي نو په لمانځه باندې ئې څه اثر لوېږي؟ همدارنګه په قعده اخیر کښې د شریکیدونکي سړي لپاره د امام د سجده سهو متابعت ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامداومصلیا: د مسبوق والي د حیثیت د وربه یادیدو تر څنګ سلام ګرځول د لمانځه د فساد موجب دی. البته د هیرې په صورت کښې سلام اړول په لمانځه باندې کوم اثر نه اچوي په داسې حال کښې چه د امام له سلام سره یو ځاي او یا مخکښې سلام وګرځوي. لهذا دا سړي به د امام له فراغت څخه وروسته دریږي او خپل لمونځ به پوره کوي. هو! په مسبوق باندې د امام د سجده سهو متابعت ضروري دي لیکن د سلام په ګرځولو کښې به د امام متابعت نه کوي تر څو چه له وجهې ئې محلل د لمانځه په منځ کښې واقع نه شي او د امام له فراغت څخه وروسته په سهوه سره په سلام ګرځولو سره په مسبوق باندې سجده سهو واجبیږي

-قال العلامة الحصكفي: و المسبوق يسجد مع امامه مطلقاً سواء كان السهو قبل الاقتداء او بعده. قال ابن عابدين تحت هذه العبارة قيد با لسجود لانه لا يتابعه في السلام بل يسجد معه و يتشهد ما ذا سلم الامام قام الى القضاء فان سلم فان كان عامداً فسدت و الا لا و لا سجود عليه ان سلم سهواً قبل الامام او معه او ن سلم بعده لزمه لكونه منفرداً حيئذ (بحر) و اراد با لمعية المقارنة و هو نادر الوقوع كما في شرح المنية و فيه و لو سلم على ظن ان عليه ان يسلم فهو سلام عمد يمنع البناء. (الدر المختار و رد المحتار ج ۲، ص ۸۲، باب سجود السهو) و في الهندية: سهو الامام يوجب عليه و على من خلفه السجود كذا في المحيط و لا يشترط ان يكون مقتدياً به وقت السهو حتى لو ادرك الامام بعد ما سها يلزمه ان يسجد مع الامام تبعاً له. و لو دخل معه بعد ما سجد سجدة السهو. يتابعه في الثانية و لا يقتضى الأول و ان دخل معه بعد ما سجدهما لا يقضيهما. (الهندية ج۱، ص۱۲۸، باب سجود السهو) و مثله في البحر الرائق ج۱، ص۳۷۸، باب الحدث في الصلوة، في استخلاف المسبوق)

[: مسبوق سلام اړول او بيا له خارج ځخه د فتحې په تر لاســـه کيدو سره ئې د لمانځه حکم

الاستفتاء: مسبوق که چېرته په سهو سره سلام وګرځوي او بل سړي ئې خپل مسبوقيت ورپه زړه و کړي او دي عمل پرې وکړي د باتې لمانځه لپاره ودريږي نو د لمانځه شرعي حيثيت به ئې څه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداو مصليا: په دې مسئله کښې د فقهاوو پخپل منځ کښې اختلاف دی. د ځينو په نزد په د اسې کولو سره لمونځ فاسديږي او د ځينو په نزد لمونځ ئې صحيح دي او همدا راجح قول دی. لهذا احتياط په دې کښې دي چه لمونځ کوونکي له بهر ځخه د فتحې په تر لاسه کيدو باندې تحری وکړي او بيا جګ شي او خپل باتې لمونځ پوره کړي تر څو چه د اختلاف صورت جوړ نه شي. هو! که چېرته ئې له امام سره يو ځاي سلام اړولي وي نو د لمانځه په آخر کښې د سجده سهو ضرورت هم نشته او که چېرته ئې د امام له سلام ځخه وروسته سلام ګرځولي وي نو په د اسې صورت کښې د لمانځه په آخر کښې سجده سهو پرې و اجبه ده.

. «حاشية ابن عابدين = رد المحتار ط الحلبي» (۱/ ۵۹۹):

قال العلامة الحصكفي «وَلَوْ سَلَّمَ سَاهِيًا إنْ بَعْدَ إمَامِهِ لَزِمَهُ السَّهْوُ وَإِلَّا لَا» قال القاضي خان: اذا سلم المسبوق ساهيا يلزمه السهو قبل هذا اذا سلم بعد الامام فأن سلم مع الامام لا سهو عليه. (الفتاوى القاضي خان على هامش الهندية ج۱، ص۱۲۳، باب سجود السهو) كذافي فتاوي حقانيه ج۲ص۵۰۳

## د مانبام د جمعي په آخري رکعت کښې د شريکيدونکي سړي حکم

الاستفتاء: که چېرته يو څوک د مانبام په لمانځه کښې له امام سره په آخري رکعت کښې شامل شي نو هغه به پاتې لمونځ څنګه ادا کوي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: دا مسبوق به د امام د سلام اړولو نه وروسته جګيږي، ثناء، تعوذ، تسميه، فاتحه او بل سورت به وايي رکوع او سجده به کوي او بيا به په قعده کښې کښيني التحيات به وايي. بيا به جګيږي په دوهم رکعت کښې به فاتحه او سورت لولي بيا به تر رکوع او سجدې وروسته کښيني التحيات او نور به پوره کوي سلام به ګرځوي. او دريم رکعت هغه له امام سره ادا کړي دی. او که چېرته په دو هم رکعت (د امام له فراغت څخه وروسته په لومړي رکعت) کښې قعده و نه کړي نو بيا ئې هم لمونځ استحسانا جائز دي او سجده سهو هم پرې واجبه نه ده –

لما قال ابراهيم الحلبي: لو ادرك مع الامام ركعة من المغرب فانه يقرأ في الركعتين الفاتحة و السورة و يقعد في اوليهما لانه ثنائية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو . (كبيري ص ٤٦٨ ، في آخر فصل سجود السهو) قال ابن نجيم المصرى: لو ادرك مع الامام ركعة من المغرب فانه يقرأ في الركعتين با لفاتحة و السورة و لو ترك القرأة في احدهما فسدت صلوته و عليه ان يقضى ركعة بتشهد لانها ثانيه و لو ترك جازت استحساناً لا قياساً. و قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة. و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو و لو سهوا. (البحر الرائق و منحة الخالق ج ۱، ص ۳۷۹، باب الحدث في الصلوة) و مثله في رد المحتار ج ۱، ص ۹۷ ٥ ، احكام المسبوق)

د دريو ركعتونو د مسبوق لــــپاره د امام لـــه فارغيدو وروسته د دوو ركعتونو د پرله پسې د ادا

الاستفتاء: كه چيرته مسبوق له امام سره څلورم ركعت اداكړي نو اصل حكم خو دا دي چه د امام له فراغت وروسته به بل ركعت ادا كوي او قعده به كوي- ليكن كه هغه د اسې و نه كړه او له امام څخه وروسته ئې د بناء په صورت كښې دوه ركعتونه بغير له قعدې څخه يو ځاي اداكړه نو آيا سجده سهو پرې لازميږي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: اګر كه معتمد عليه قول د امام محمد دي او په مذكوره صورت كښې د امام محمد د قول خلاف شوي دی- ليكن بيا هم د نوموړي سړي لمونځ استحسانا جائز او صحيح دی- سجده سهو هم پرې واجبه نه ده-

قال العلامة الحصكفي: و يقضى اول صلوته في حق قراته و آخرها في حق تشهد فمدرك ركعة من غير فجر يأتي بركعتين بفاتحة و سورة و تشهد بينهما و برابعة الرباعي بفاتحة فقط و لا يقعد قبلها ...... و قال ابن عابدين تحت هذه العبارة. (قوله و يقضى صلوته في حق قرأته اول الخ) و هذا قول محمد كما في مبسوط السرخسي و عليه اقتصر في الخلاصة و شرح الطحاوي و الاسبيجابي و الفتح و الدرر و البحر و غيرهم و ذكر الخلاف كذلك في السراج الوهاج لكن في صلوة الجلابي ان هذا قولهما و تمامه في شرح الشيخ اسمعيل و في الفيض عن المستصفى لو ادركه في ركعة الرباعي يقضى ركعتين بفائحة و سورة ثم يتشهد ثم يأتي با لثالثة بفاتحة خاصة آه. و ظاهر كلامهم اعتماد قول محمد (قوله تشهد بينهما) قال في شرح المنية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو لكون الركعة اولى من وجه آه. (الدر المختار و رد المحتار ج ۱، ص ۵۹٦، احكام المسبوق و اللاحق)قال ابراهيم الحلبي: و من جملتها ما اشرنا اليه انه يقضى اول صلوته في حق القرأة و آخرها في حق القعدة حتى لو ادرك مع الامام ركعة من المغرب بانه يقرأ في الركعتين الفاتحة و السورة و يقعد في اوليهما لانها ثانية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو لو سهواً لكونها اولى من وجه الخ. (كبيرى ص۴٦۸ ، باب سجود السهو) و مثله في منحة الخالق حاشية البحر الرائق ج۱، ص۳۷۹، باب الحدث في الصلوة)

## په څلورم رکعت کښې د شریکیدونکي مسبوق د لمانځه حکم

الاستفتاء: چه کله یو سړي په څلور رکعتیزه لمانځه کښې امام په آخري رکعت کښې پیدا کړي او لومړني درې رکعتونه له هغه څخه فوت شوي وي نو د امام له سلام ګرځولو وروسته مقتدي باید څه طریقه اختیار کړي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: دا مسبوق به د امام له فراغت څخه وروسته دریږي او د یو رکعت له ادا کولو وروسته به قعده کوي او دریم رکعت ته د دریږ او په صورت کښې به فاتحه او یو سورت لولي او په آخري رکعت کښې یوائې سورت فاتحه لولي. کوا که په دې صورت کښې به مسبوق له امام سره د ادا شوي رکعت څخه پرته نور رکعتونه به په همدې ترتیب ادا کوي۔

قال العلامة الحصكفي: (و المسبوق من سبقه الامام بها أو ببعضها) (اى بكل الركعات او بعض الركعات) (و هو منفرد) حتى يثنى و يتعوذ و يقرأ و ان قرأ مع الامام لعدم الاعتداد بها لكراهتها مفتاح السعادة (فيما يقضه) اى بعد متابعة لامامه الخ. و يقضى اول صلوله في حق قرأة و آخرها في حق التشهد . فمدرك ركعة من غير فجر يأتي بركعتين ص ٥٩٦، احكام المسبوق و اللاحق) بفاتحة و سورة و تشهد بينهما و برابعة الرباعي فقط و لا يقعد قبلها. (الدر المختار علي رد المحتار ج١، ص ٥٩٦، احكام المسبوق و اللاحق)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و لو ادرك ركعة مع الامام في صلوة الظهر و العصر و العشاء و قام الى القضاء فعليه ان يقضى ركعة و يقرأ فيها با لفاتحة و سورة و يتشهد لانه يقضى آخر الصلوة في حق التشهد و يقضى ركعة و يقرأ فيها با لفاتحة و السورة و لا يتشهد و في الثانية با لخيار و القرأة افضل و لو ادرك ركعتين منها يقضى ركعتين و يقرأ فيهما و يتشهد. (خلاصة الفتاوى ج١، ص١٦٦، مسائل المسبوق) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣٧٩، في باب الحدث في الصلوة، في استخلاف المسبوق) كذافي فتاوي حقانيه ج٢ص٥٠٤

## د مسبوق لپاره لـــه امام سره په آخري قعدې کښــــې د درود شريف د لوستلو حـــــکم

الاستفتاء: که چېرته يو سړي په جماعت کښې په د اسې حال کښې شامل شي چه امام يو يا دوه رکعته اداکړي وي نو مقتدي به په آخري قعدې کښې له امام سره د کښيناستو په صورت کښې درودشريف او دعاء لولي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: مسبوق د امام په آخري قعدې کښې د لمانځه د وسط په حکم کښې دی. د دې لپاره هغه به درود شريف و نه لولي ځکه چه درود شريف د لمانځه په آخري کښې لوستل کيږي. نو ځکه مسبوق به په آخري قعدې کښې د تشهد په ويلو کښې له اطمينان څخه کار اخلي ترڅو چه د امام تر سلام اړولو پورې دې په تشهد کښې مشغول پاتې وي. او که چېرته تشهد زر ختم کړي نو بيا به په بيا بيا توکه د تشهد آخري څو تکي يعې شهادتونه لولي -

و في الهندية: و منها ان المسبوق ببعض الركعات يتابع الامام في التشهد الاخير و اذا اتم التشهد لا يشتغل بما بعده من الدعوات ثم ما ذا يفعل تكلموا فيه. و عن ابن شجاع انه يكرر التشهد اى قوله اشهد ان لا اله الاالله و هو المختار كذا في الغياثية. (الهندية ج ١، ص ٩١ ، الفصل السابع في المسبوق و اللاحق) قال قاضي خان: المسبوق اذا قعد مع الامام كيف يفعل اختلفوا فيه و الصحيح انه يترسل في التشهد حتى يفرغ من التشهد عند سلام الامام. (فتاوي قاضي خان على هامش الهندية ص ١٠٣/١٠٤، فصل في المسبوق)- و في الهندية: و منها ان المسبوق ببعض الركعات يتابع الامام في التشهد الاخير و اذا اتم التشهد لا يشتغل بما بعده من الدعوات ثم ما ذا يفعل تكلموا فيه. و عن ابن شجاع انه يكرر التشهد اى قوله اشهد ان لا اله الاالله و هو المختار كذا في الغياثية. (الهندية ج ١، ص ٩١ ، الفصل السابع في المسبوق و اللاحق) قال قاضي خان: المسبوق اذا قعد مع الامام كيف يفعل اختلفوا فيه و الصحيح انه يترسل في التشهد حتى يفرغ من التشهد عند سلام الامام. (فتاوي قاضي خان على هامش الهندية ص ١٠٣/١٠٤، فصل في المسبوق)

## مسبوق په هيره سره د امام سره دواړه طرفه ته سلام وګرځوي لمونځ يې څنګه دي ؟

الاستفتاء که چيري يو شخص مسبوق وي او د امام سره دواړه طرفه ته سلام وګرځوي او بيا ولاړ سي بيرته هم دغه لمونځ پوره کړي ايا لمونځ يې صحيح دي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا: دداسي كس لمونځ درست او صحيح دي كه چيري ده د سلام څخه وروسته دلمانځ منافي عمل نه وي كړي لكه خبري كول يا مخ د قبلې څخه ګرځول و غيره او په آخره كښي دي سجده سهوه وكړي او كه يي نه وه كړي نو دي لمونځ را وګرځوي.

...لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وان سلم ساهيا ان بعدامامه لزمه السهو والا لا ) قوله وإلا لا) : ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : أي وإن سلم معه أو قبله لا يلزمه لأنه مقتد في هاتين الحالتين. وفي شرح المنية عن المحيط إن سلم في الأولى مقارنا سلام فلا سهو عليه لأنه مقتد به، وبعده يلزم لأنه منفرد اه. ثم قال: فعلى هذا يراد بالمعية حقيقتها وهو نادر الوقوع. اهـ. قلت : يشير إلى أن الغالب لزوم السجود لأن الأغلب عدم المعية، وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس فليتنبه له ( ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۴۴۳ باب الامامة مطلب في المسبوق والمدرك واللاحق / فتاوي ديوبند ج ۳ ص ۳۴۹/ ج ۴ ص ۳۰۵)

## كه چيري مسبوق دامام سره سلام وګرځوي.

الاستفتاء: كه چيري مسبوق د امام سره يو ځاي خواته سلام وګرځوي نو لمونځ يي صحيح دي كه يا ؟

الجواب حامدا و مصليا: كله چي امام د لمانځه پر ختمولو باندي سلام ګرځوي نو مسبوق لره د امام سره سلام ګرځول نه دي پكار خو بيا هم كه چيري مقتدي په غلطي او سهوه دامام سره و يوه طرف يا دواړه طرفونو ته سلام وګرځوي نو بيا دوه صورتونه دي يا خو به يي د امام سره متصل سلام ګرځولي وي او يا به يي د امام د سلام څخه تر فارغه كيدو وروسته ګرځولي وي كه يي متصل سلام ګرځولي وي نو هيڅ هم نسته باندي ځكه چي دي مقتدي دي او پر مقتدي باندي سجده سهوه نسته .او كه يي د امام د سلام څخه وروسته سلام ګرځولي وي نو سجده سهوه باندي لازمه ده ځكه چي دي په حالت كښي د انفراد دي. او زيات تره هم داسي كيږي چي خلك د امام د سلام ويلو څخه وروسته سلام ګرځوي. او كه يي قصدا سلام وګرځوي نو لمونځ يي فاسد دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ولايسلم اذا سلم الامام ای للخروج عن الصلوة لان هذا السلام للخروج عن الصلوة وقد بقى عليه اركان الصلوة . فاذا سلم مع الامام فان كان ذاكرا لما عليه من القضاء فسدت صلوته لانه سلام عمدا وان لم يكن ذاكرا له ( اى لما عليه من القضاء ) لا تفسد لانه سلام سهو الخ ( الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ٥٦٠ باب الامامة : بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۷۱ فتاوي رحيميه ج ٥ ص ۲۱۴/ جواهر الاحكام ص ۱۳۵ )

## مسبوق به پاته لمونځ څنګه پوره کوي ؟

الاستفتاء که چيري ديو کس څخه د امام سره اول يا دوهم ډک رکعتونه تيرسي او بيا امام سلام وګرځوي دي ولاړ سي نو دغه پاته رکعتو نه به ډک را ګرځوي که به خالي ؟

الجواب حامدا ومصليا: کله چي د يو کس څخه د امام سره ډک رکعتونه تيرسي نو دغه تيرسوي رکعتونه به ډک راګرځوي يعني په هر رکعت کښي به الحمد لله او سورت وايي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار: والمسبوق من سبقه الإمام بها أو ببعضها وهو منفرد) حتى يثي ويتعوذ ويقرأ، لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: ويقرأ لأنه يقضي أول صلاته في حق القراءة كما يأتي؛ حتى لو ترك القراءة فسدت ( الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۱ ص ۴۴۱ باب الامامة طبع رشيديه / فتاوي دارالعلومديوبندج ۳ ص ۳۴۱ باب المدرك واللاحق والمسبوق )

# باب مفسدات الصلوة

## په لمانځه کښي د پښو د ښورولو حکم

الاستفتاء: آيا په لمانځه کښي د پښو په ښورولو سره لمونځ فاسديږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې د پښو ښوړول چه کله د عمل کثير درجې ته نه وي رسيدلاي لمونځ پرې نه فاسديږي. هو! له ضرورت پرته بايد د پښو له ښوړولو څخه پرهيز. وسي البته د دواړو پښو ښوړول د عمل کثير په جملې کښې راځي-

ان حرك رجلا واحدة لا على الدوام لا تفسد صلوته و آن حرك رجليه تفسد و اعتبر هذا القائل العمل با لرجلين با لعمل با ليدين و العمل برجل واحدة با لعمل بيد واحدة قال بعضهم ان حرك رجليه قليلاً لا تفسد صلوته كذا في المحيط و هو الاوجه هكذا في البحر الرائق. (الهندية ج١، ص ١٠٣، الباب السابع فيما يفسد الصلوة) قال ابن نجيم: ان حرك رجلا واحدة لا على الدوام لا تفسد صلوته و ان حرك رجليه تفسد فمشكل لان الظاهر ان تحريك اليدين في الصلوة لا يبطلها متى يلحق بهما تحريك الرجلين فا لاوجه قول بعضهم ان حرك رجليه قليلاً لا تفسد صلوته و ان كان كثيراً فسدت كما في الذخيرة. (البحر الرائق ج ٢، ص ١٣، باب مفسدات الصلوة)

## په لمانځه کښې د ټوخې حکم

الاستفتاء: ځينې وختونه داسې شوي دي چه ځينې لمونځ کوونکي په لمانځه کښې ټوخيږي. او ځينې خلک خو په ټوخيدلو کښې له حد څخه هم تجاوز کوي. آيا په لمانځه کښې ټوخيدل شرعا څنګه دي او اندازه ئې څه ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته په لمانځه کښې بې اختياره د کوم عذر له مخې چا ته ټوخې ورشي نو شرعاً څه پروا نه کوي او که پرته له عذر څخه يواځې د آواز د ښائسته والي لپاره وي نو بيا هم جائز دي. البته په لمانځه کښې د ټوخې لپاره کومه خاصه اندازه نه ده ټاکل شوې. هو! له عذر پرته ټوخيدل لمونځ فاسد وي په دې شرط چه حروف ترې پيدا شي او که حروف ترې پيدا نه شي نو بيا هم بې له عذره ټوخيدل مکروه دي

-قال العلامة الحصكفي: (و التنحنح) بحرفين (بلا عذر ) اما به بان نشاء طبعه فلا (او) بلا (غرض صحيح) فلولتحسين صوته او يهتدي امامه او للاعلام انه في الصلوة فلا فساد على الصحيح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٦١٨ ، مطلب المواضع التي لا يجب الخ) و يفسد الصلوة التنحنح بلا عذر بان لم يكن مدفوعاً اليه حصل منه حروف هكذا في التبيين و لو لم يظهر له حروف فانه

لا فسد اتفاقاً لكنه مكروه كذا في البحر الرائق. (الهندية سعيدي ج ۱، ص ۵۲، الباب السابع الفصل فيما يفسد الصلوة)

## په لمانځه کښې د قرآن له مخې د تلاوت کولو حکم

الاستفتاء: که چیرته یو څوک په لمانځه کښې قرآن کریم له مخې قرائت وکړي نو آیا لمونځ یې فاسدیږي او که نه؟ همد ارنګه په دې کښې حافظ او غیر حافظ فرق لري او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د قرآنکریم له مخې په لمانځه کښې قرائت کول مختلف فیه مسئله ده. د امام ابو حنیفه په نزد لمونځ یې فاسدیږي. په داسې حال کښې چه د صاحبینو او امام شافعي په نزد لمونځ یې نه فاسدیږي. البته صحیح قول دا دې چه لمونځ یې فاسدیږي. او حافظ او غیر حافظ په دې مسئله کښې برابر دي-

و يفسدها قرآته من مصحف عند أبي حنيفة و قال لا يفسد ان حمل المصحف و تقليب الاوراق و النظر فيه عمل كثير و للصلوة عنه بدو على هذا لو كان موضوعاً بين يديه على رجل و هو لا يحمل و لا يقلب او قرأ المكتوب في المحراب لا تفسد و لان التلقن من المصحف تعلم ليس من اعمال الصلوة و هذا يوجب التسوية بين المحمول وغيره فتفسد بكل حال و هو الصحيح هكذا في الكافي. (الفتاوى الهندية ج۱ ، ص۱۰۱، مفسدات الصلوة)قال ابن نجيم: (قوله قرأته من مصحف) اى يفسدها عند ابي حنيفة و قالا هي تامة لانها عبادة ان ضافت الى عبادة الا انها يكره لانه تشبه بصنيع اهل الكتاب و لابي حنيفة وجهان احدهما ان حمل المصحف و النظر فيه و تقليب الاوراق عمل كثير الثاني انه تلقن من المصحف فصار كما اذا تلقن من غيره و على هذا الثاني لا فرق بين الموضوع و المحمول عنده و على الاول يفترقان و صح المصنف في الكافي الثاني و قال انها تفسد بكل حال تبعاً لما صححه شمس الائمة السرخسي. (البحر الرائق ج ۲، ص ۱۰ ، ما يفسد الصلوة) و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۶۲۳،مفسدات الصلوة)

## په لمانځه کښې له قبلې څخه د را ګرځيدلو حکم

الاستفتاء: د لمانځه د اداکولو په دوران کښې د چا د ديکې ورکولو په وخت کښې د لمونځ کوونکي سينه له قبلې څخه وګرځيده نو آيا په دې سره ئې لمونځ فاسديږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته له قبلې څخه په ډيره لږه اندازه منحرف شي نو لمونځ ئې نه فاسديږي او که چېرته من کل الوجوه له قبلې څخه منحرف شي نو بيائې لمونځ فاسديږي -

قال العلامة الحصكفي: (و لغيره) اى غير معاينها (و اصابة جهتها) بان يبقى شيء من سطح الوجه مسامتا للكعبة او لهوائها. ( الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱، ص ۴۲۸ ، شروط الصلوة) قال ابن نجيم: (قوله و لغيرها اصابة جهتها) لغير المكى فرضه اصابه جهتها وهو الجانب الذي اذا توجه اليه الشخص يكون مسامتا للكعبة او لهوائها. (البحر الرائق ج۱، ص۳۰۰، شروط الصلوة) و مثله في الهندية ج۱ ، ص ۶۳، الفصل الثالث في استقبال القبلة)

## لاسپيکر کښې د لمانځه د اداکولو حکم

الاستفتاء: نن صبا په اکثرو جوماتونو کښې په لاسپيکر کښې لمونځونه ورکول کيږي. آيا شرعاد دې آلې په ذريعې سره لمونځ ورکول جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: لاسپيکر يوه نوې آله ده او د دې په سبب سره د مکبر (تکبير ويونکي) او امام آواز تر لرې ځايه پورې رسيږي. د فني لحاظ له مخې چونکه دا آواز د امام او از وي د دې لپاره د محققينو علماء کرامو اتفاق دي چه په لاسپيکر کښې لمونځ ورکول جائز دي ليکن له ضرورت پرته په لاسپيکر کښې د لمانځه له ورکولو څخه بايد ځان ساتنه وشي. البته د ځينو حضراتو د تحقيق مطابق چونکه داد امام خپل آواز نه وي بلکه د بازګشت آواز وي نو د دې لپاره په لاسپيکر کښې لمونځ صحيح نه دی

قال المفتي کفايت الله: ما څو واري دا آله په لمانځه کښې د استعمالولو حکم ليکلي دي او په اخبارونو کښې مې هم شائع کړي دي. او هغه دا چه د خپل ذات په حد کښې د دې آلې په نه جواز کښې هيڅ وجه نشته. د دې لپاره د جمعې او اخترونو په خطبو، وعظ او تقرير په مجلسونو کښې د دې آلې استعمال مباح دی. د لمانځه په لويو مجمعو کښې چه کوم خلک

خلکو ته تکبیرونه رسوي د هغو د آواز د لوړولو لپاره که دا آله استعمال شي نو کومه پروانه لري. (کفایت المفتي ج ۹، ص۲۰۷، کتاب الخطر و الاباحه) د امداد المفتارج ۱، ص ۶۰۵-۶۰۸ ، و آلات جدیده ص ۵۳، له تحریر څخه ئي جواز معلومیږي-

## د ښځې د محـــاذ اتو مسئله

الاستفتاء: که چېرته په لمانځه کښې یوه ښځه د یوه سړي په محاذ اتو (برابر) ودریږي او امام ئي د اقتداء نیت هم وکړي او ښځه بالغه هم وي نو آیا په دې سره لمونځ فاسدیږي او که نه؟ آیا د، محاذ اتو په مسئله کښې په محرمې او پردۍ ښځې کښې څه فرق شته او که نه؟ او د محاذ اتو شرائط څه دي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: که چېرته یوه بالغه ښځه د کوم نارینه په محاذ اتو کښې ودریږي نو د شرائطو تر څنګ خو د سړي لمونځ فاسدیږي. د مثال په ډول پرته له کوم حائل څخه ځاي یو وي، ښځه عاقله بالغه وي چه لمونځ ئي صحیح کیږي لیونۍ نه وي، امام د ښځې د اقتداء نیت کړي وي، محاذات په یوه کامل رکن کښې وي، او د دواړو جهت یو وي-او په محاذ اتو کښــې د پنډۍ او ښنګرو اعتبار وي او په دې کښې محرمه او پردۍ هیڅ فرق نه لري د واړه سره برابر دي

الفتاوى العالمكيرية = الفتاوى الهندية» (١/ ٨٩:( ومنها) أن يكونا في مكان واحد حتى لو كان الرجل على الدكان والمرأة على الأرض والدكان مثل قامة الرجل لا تفسد صلاته. (ومنها) أن يكونا بلا حائل حتى لو كانا في مكان متحد بأن كانا على الأرض أو على الدكان إلا أن بينهما أسطوانة لا تفسد صلاته. هكذا في الكافي وأدنى الحائل قدر مؤخر الرحل وغلظه غلظ الأصبع والفرجة تقوم مقام الحائل وأدناه قدر ما يقوم فيه الرجل كذا في التبيين» «المحيط البرهاني في الفقه النعماني» (١/ ٤٢٤):

«معنى المحاذاة: أن تقوم المرأة بحذاء الرجل في مكان متحد من أن يكون بينهما حائل، حتى لو كان الرجل على الدكان، والمرأة على الأرض والدكان مثل قامة الرجل لا تفسد صلاة الرجل لاختلاف المكان، ولو كان في مكان متحد بأن كانا على الأرض أو علي الخ

## پــــه جومات کښې د ځای د نشتوالي له وجهــــې په دوکانونو کښې د لمانځـــــه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: زمونږ جومات ډير کوچنې دي کله کله لمونځ کوونکي دومره ډيروي خصوصا د جمعې په ورځ چه په جومات کښې نه ځايـږي نو ځـيني خلک له جومات څخه د باندې په دوکانونو کښې درېږي. چه له مخې ئې په صفونو کښې اتصال نه شي راتللی. آيا په داسې صورت کښې په امام پسې لمونځ جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: که چېرته په جومات کښې ځای نه وي نو له جومات څخه د باندې په دوکانونو کښې هغه وخت لمونځ جائز دي چه د جومات او دوکانونو تر منځ لار بنده شي او په صفونو کښې اتصال پيدا شي. بل شرط ئې دا دي چه د غو مقتديانو ته به د امام حالت معلوموي. که چېرته په صفونو کښې اتصال نه وي او په منځ کښې باقاعده لاره خالي وي او هم دا رنګه مقتديانو ته د امام حالت هم معلوم نه وي نو په داسې صورت کښې اقتداء صحيح نه ده

قال العلامة الحصكفي: »تجري فيه عجلة) آلة يجرها الثور (أو نهر تجري فيه السفن) ولو زورقا ولو في المسجد (أو خلاء) أي فضاء (في الصحراء) أو في مسجد كبير جدا كمسجد القدس (يسع صفين) فأكثر إلا إذا اتصلت الصفوف فيصح مطلقا، كأن قام في الطريق ثلاثة، وكذا اثنان عند الثاني لا واحد اتفاقا لأنه لكراهة صلاته صار وجوده. كعدمه في حق من خلفه«والحائل لا يمنع) الاقتداء (إن لم يشتبه حال إمامه) بسماع أو رؤية ولو من باب مشبك يمنع الوصول في الأصح ولم يختلف المكان) حقيقة كمسجد وبيت في الأصح» (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٥٨٤ ، باب الامامة ) و منها طريق عام يمر فيه العجلة و الاوقار هكذا في شرح الطحاوي. اذا كان بين الامام و بين المقتدى طريق انكان ضيقاً لا يمر فيه العجلة و الاوقار لا يمنع و ان كان واسعاً يمر فيه العجلة و الاوفر يمنع كذا في فتاوي قاضي خان و الخلاصة هذا اذا لم تكن الصفوف متصلة على الطريق اما اذا اتصلت الصفوف لا يمنع الاقتداء و لو كان على الطريق واحدلا يثبت به الاتصال و با لثلث يثبت با لاتفاق. (الفتاوى الهندية ج١، ص٨٧، باب الامامة، الفصل الرابع في بيان ما يمنع صحة الاقتداء ...... الخ)

## لمانځه کښې د امام په غلطۍ باندې د فتح په ورکولو سره لمونځ نه فاسديږي

الاستفتاء: زمونږ د جومات امام صاحب د سهار په لمانځه کښې غلط شو او يوه مقتدي فتحه ورکړه ليکن امام صاحب فتحه وانه خيستـه بلکه خپل لمونځ ئې جاري وساته. د سلام له اړولو وروسته امام صاحب وويل چه چا فتحه راکړې ده د هغه لمونځ فاسد شوي دي له دې وجهې دې خپل لمونځ بيرته را وګرځوي. آيا په رښتيا هم د فتحې په ورکولو سره لمونځ فاسديږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې د امام په غلطۍ باندې که چېرته مقتدي فتحه ورکړي نو په دې سره د مقتدي لمونځ نه فاسديږي او نه د امام په فتحه اخيستـنې باندې لمونځ فاسديږي البته له ډيرو فتحو ورکولو څخه اجتناب وکړي۔

قال العلامة الحصكفي: (بخلاف فتحه على امامه) فانه لا يفسد (مطلقاً) لفاتح و آخذ بكل حال الا اذا سمع المؤتم من غير مصل ففتح به تفسد صلوة الكل و بنوى الفتح لا القرأة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص ٦٢٢ ، باب ما يفسد الصلوة)و ان فتح على امامه لم تفسد ثم قيل بنوى الفاتح با لفتح على امامه التلاوة و الصحيح أن ينوى الفتح على امامه دون القرأة قالوا هذا اذا ارتج عليه قبل أن يقرأ قدر ما تجوز به الصلوة او بعد ما قرأ و لم يتحول الى آية اخرى و اما اذا قرأ او تحول ففتح عليه تفسد صلوة الفاتح و الصحيح انها لا تفسد صلوة الفاتح بكل حال و لا صلوة الامام لو اخذ منه على الصحيح هكذا في الكافي. (فتاوى الهندية ج ۱، ص ۱۱۳، الباب السابع فيما يفسد الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج۲،ص ٦ ، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها )

## په لمانځه کښې د خبرې کولو حکم

الاستفتاء: په لمانځه کښې که چېرته يو څوک خبرې وکړي نو په لمانځه باندې ئې څه اثر لويږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې خبرې کول که په سهوې سره وي يا په قصد سره لمونځ فاسد وي. په د اسې صورت کښې به لمونځ بيا راګرځوي

.قال ابن عابدين: (يفسدها الكلام) اي يفسد الصلوة و مثلها سجود السهو و التلاوة و الشكر على القول عن الحموي (قوله هو النطق بحرفين الخ) اى ادنى ما يقع اسم الكلام عليه المركب من حرفين كما في

القستهاني عن الجلابي.(رد المحتار ج ١ ، ص ٦١٣، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها)اذا تكلم في صلوته ناسياً او عامداً خاطئاً او قاصداً قليلاً أو كثيراً تكلم لاصلاح صلوته بان قام الامام في موضع القعود فقال له المقتدى أقعد او قعد في موضع القيام فقال له قم او لا لاصلاح صلوته و يكون الكلام من كلام الناس استقبل الصلوة عندنا كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية ج١، ص٩٨، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ١٢، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها)

## د لمانځــــه په دوران کښې د ښځې له ټيکرې څخــــه د ويښتانو د ښکاريدلو حـــکـــم

الاستفتاء: نن صبا ځينې ښځې داسې ټيکري په سروي چه هيئت ني تول ترې ښکاره ځانګړې ودريږي و د ښځې ويښتان او د بدن غړي په څرګنده توګه ترې ښکاريږي. آيا په دې ډول سره د ويښتانو په ښکاريدلو سره د ښځې لمونځ فاسديږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د آزادې ښځې ټول بدن په لمانځه کښې بلکه په هر وخت کښې پټ ساتل ضروري دي او د ښځې د سر ويښتان هم په ستر کښې د اخل دي چه پټول ئې لازم دي .لهذا که چيرته کومه ښځه په لمانځه کښې د اسې ټيکري استعمال کړي چه د سر ويښتان ئې ترې ښکاريدل نو لمونځ ئې نه کيږي بلکه د لمانځه بيرته را ګرځول پرې واجب دي۔

قال الحصكفي: (و للحرة) و لو خنثي (جميع بدنها ) حتى شعرها النازل في الاصح خلا الوجه و الكفين فظهر الكف عورةعلى المذهب (و القدمين) على المعتمد. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٤٠٥ ، باب شروط الصلوة)لما قال ابن عابدين: تحت قوله و لا يصف ما تحته بان لا يرى منه لون البشرة احترازاً عن الرقيق و نحوالزجاج، (الرد المحتار ج ١، ص ٤١٠ ، باب شروط الصلوة، مطلب في النظر الى وجه الامرد)و بدن الحرة عورة الا وجهها و كفيها و قدميها كذا في المتون و شعر المرأة ما على رأسها عورة و اما مسترسل ففيه روايتان الأصح انه عورة كذا في الخلاصة و هو الصحيح و به اخذ الفقيه ابو الليث و عليه الفتوى و الثوب الرقيق الذي يصف ما تحته لا تجوز الصلوة فيه كذا في التبين. (الفتاوى الهندية ج١، ص٥٨، الباب الثاني في شروط الصلوة) و مثله في تبين الحقائق ج١ ، ص ٩٦ ، باب شروط الصلوة)

## په لمانځه کښې د درود او دعا الفاظ په زړه کښې د لوستلو حکم

الاستفتاء: زما په ژبه کښې لکنت دي چه له وجهې ئې د لمانځه الفاظ په صحيح طريقې سره نه شم اداکولی۔ خصوصاً چه کله په التحياتو باندي کښينم نو د درود او دعا الفاظ مي بالکل ژبي ته نه راځي چه له وجهې ئې راته سخت تکليف وي. نو په الفاظو او معانيو باندي د غور په کولو سره ئې په زړه کښې لولم. نو آيا په دې سره مې په لمانځه کښې فساد راځي او که نه؟

الجواب حامداً ومصلياً: په لمانځه کښې د التحياتو لوستل واجب دي او پرېښودل ئې ګناه ده – او نه په زړه کښې د غور او فکر په کولو سره ادا کېدلي شي. لهذا د خپل طاقت مطابق د دغو الفاظو د ادا کولو کوشش وکړي اګر که الفاظ صحيح ادا نه شي ليکن دومره يقين مو وي چه ما الفاظ ادا کړي دي. هو! درود شريف او دعا چونکه سنت دي د دې لپاره که چېرته د مجبورۍ له مخې پاتې هم شي نو کومه پروا نه لري ليکن لوستل ئې ډېر مناسب دي۔

فان كان لا ينطق لسانه في بعض الحروف ان لم يجد آية ليس فيها تلك الحروف يجوز صلوته و لا يؤم غيره . (الهندية ج١، ص٧٩، زلة القاري)و يجب التشهد في القعدة الأخيرة و كذا في القعدة الاولى و هو الصحيح هكذا في السراج الوهاج و هو الاصح كذا في محيط السرخسي. (الهندية ج١، ص ٧١، واجبات الصلوة) قال ابن عابدين : لها واجبات .. .. (قوله و التشهد ان اي تشهد القعدة الأولى و تشهد الأخيرة. ورد المحتار ج ١ ، ص ٤٦٦ ، واجبات الصلوة) و مثله في البحر الرائق ج١، ص٣١٨، واجبات الصلوة)

## د لمونځ کوونکي په مخکښې د سپي او ښځې په تېرېدو سره لمونځ نه فاسدېږي

الاستفتاء: که چېرته د لمانځه په حالت کښې د چا له مخې څخه ښځه يا سپي تېر شي نو لمونځ پرې فاسدېږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامداً ومصلياً: د ښځې او سپي د لمونځ کوونکي له مخې په تېرېدو سره لمونځ نه فاسدېږي–

قال ابن عابدين: (قوله و لو امرأة او كلب بيان للاطلاق و الشاربة الى الرد على الظاهرية بقولهم يقطع الصلوة مرور المرأة و الكلب و الحمار و على احد في الكلب الاسود. (رد المحتار ج ١ ، ص ٤٦٩ ،

باب ما يفسد الصلوة)(مار في موضع سجوده لا تفسد) سواء المرأة و الكلب و الحمار لقوله " لا يقطع الصلوة شي و ادرز اما استطعتم فانها هو شيطان (و ان ائم المار) (مراقي الفلاح على هامش الطحطاوي ج١، ص١٨٧)

## په لمانځه کښې د سرې ذکر کولو حکم

الاستفتاء: ځينې خلک په لمانځه کښې سرې (په پټه او په زړه کښې) ذکر کوي نو آيا په لمانځه باندې څه اثر کوي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: لمونځ د مخصوصو ذکرونو نوم دی، له دغو ذکرونو څخه پرته په لمانځه کښې نور ذکرونه کول د لمانځه فاسدوونکي دي، د دې لپاره کوم سړي چه په مخصوصو مقاماتو کښې له مخصوصو اذکارو پرته نور ذکر کوي نو لمونځ ئې فاسديږي-

لما قال العلامة ابراهيم الحلبي: ذكر في الملتقط ان المصلى اذالسعتةالحية فقال بسم الله الرحمن الرحيم تفسد صلوته الخ و ذكر في الذخيرة انه اذا قال المريض يا رب او قال بسم الله لما يلحقه من المشقة اما عندهما اي الطرفين فتفسد. (كبيري ص ٤٣٧ ، فصل فيما يفسد الصلوة) قال الشيخ المفتي عزيز الرحمن في جواب هذه المسئلة: ظاهر همين است كه نماز فاسد شود لهذا احتياط دين امر واجب است . (فتاوي دار العلوم ديوبند ج ٤، ص ٦ ٤ ، فصل فيما يفسد الصلوة)

## په جامو باندې د نجاست له موجود و الي سره د لمانځه حکم

الاستفتاء: بزګران اکثره وخت په بيړې سره په پټيو کښې د کار له جامو سره لمونځونه کوي په د اسې حال کښې چه کله کله هغوته پخپلو جامو باندې د نجسو شيانو لکه خوشايي او داسې نورو د موجود و الي علم نه وي. آيا د دغو نجسو شيانو له موجود والي سره ئې لمونځونه کيږي او که نه

الجواب حامدا و مصليا: که چېرته دا نجاستونه د درهم له اندازې څخه زيات وي نو په هيڅ حال کښې ئې هم لمونځونه نه صحيح کيږي که پرې خبر وي يا نه. بلکه لمونځونه به بيرته را ګرځوي. البته که چېرته د درهم له اندازې څخه کم وي او هغه ته معلوم وي نو د لمانځه بيرته را ګرځول پرې واجب دي او که چېرته معلوم نه وي نو لمونځ ئې صحيح دی-

لما قال العلامة الحصكفي: و عفى الشارع عن قدر درهم و آن كره تحريما .. و فوقه مبطل. قال ابن عابدين: (تحت قوله و آن كره تحريما) ففي المحيط يكره ان يصلي و معه قدر درهم او دونه من النجاسة عالماً به. (رد المحتار ج ١، ص٣١٦، باب الانجاس ) قال الشيخ عبد الرحمن الجزائري: و يعفى في النجاسة المغلظة عن امور منها قدر درهم و يقدر في النجاسة الكثيفة بمايزن عشرين قيراطاً و في النجاسة الرقيقة يعرض مقعر الكف . . فان الصلوة تكون به مكروها كراهة تنزية ...... و المشهور عند الحنفية كراهة التحريم، (كتاب الفقه على مذاهب الاربعة ج ١، ص ١٨ ، مبحث ما يعفى عنه من النجاسة)

## د نامه د لاندې د ویښتانو په موجود و الي کښې د لمانځه حکم

الاستفتاء: له اکثرو خلکو څخه مو اوریدلي دي چه کوم سړي چه د نامه لاندې ویښتان تر څلویښتو ورځو پورې لرې نه کړي نو لمونځ ئې نه کیږي. آیا دا خبره د شریعت له مخې صحیح ده او که څنګه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: بهتره داده چه د نامه لاندې ویښتان په اونۍ (هفته) کښې یو ځل لرې شي، تر څلویښتو ورځو پورې پریښودل ئې له عذر پرته مکروه دي لیکن له دې کراهت سره سره د لمانځه اداکول صحیح دي اګر که دا عمل پخپل ذات کښې مناسب نه دی

-لما في الهندية: و الافضل ان يقلم اظفاره و يحفي شاربه و يحلق عانته و ينظف بدنه وله با لاغتسال في كل سبوع مرة فان لم يفعل في كل خمسة عشر يوما و لا يعذر في تركه وراء الاربعين فا لاسبوع هو الافضل و الخمسة عشر هي الاوسط و الاربعون الابعد و لا عذر فيما وراء الاربعين و يستحق الوعيد. (الفتاوى الهندية ج٥، ص٣٥٨، كتابالكراهة، الباب التاسع عشر)لما قال العلامة الحصكفي: و حلق عانته و تنظيف بدنه با لاغتسال في كل اسبوع مرة و الافضل يوم الجمعة و جاز في كل خمسة عشر و كره تركه وراء الاربعين. قال ابن عابدين: تحت قوله (و كره تركه) اى تحريماً لقول المجتبى و لا عذر فيما وراء الاربعين و يستحق الوعيد. (رد المحتار ج٦، ص ٤٠٧، كتاب الكراهة، فصل في البيع)

## په لمانځه کښې د اللّه يا إنا للّه ويلو حکم

الاستفتاء: که چېرته د لمانځه په دوران کښې چا ته کومه ناڅاپي واقعه وريپېښه شي يا کومه هيبتناکه خبره واوري او له ژبې څخه بې اختياره د اللّه يا إنا للّه الفاظ ووځي نو آيا لمونځ ئي فاسديږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په دې مسئله کښې د فقهاء کرامو دوه رايې دي، د يوې رأيې مطابق ئي لمونځ فاسديږي په داسې حال کښې چه د دوهمې رأيې مطابق چونکه دا الفاظ له کلام الناس سره تعلق نه لري د دې لپاره ئې لمونځ نه فاسديږي. علامه ابن عابدين او داسې نورو محققينو دوهم قول ته ترجيح او مفتي به کڼلي دی۔

لما قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله لو سقط شيء من السطح فبسمل) يشكل عليه ما في البحر لولدغته عقرب اواصابه وجع فقال بسم الله قيل تفسد لانه كا لانين و قيل لا لانه ليس من كلام الناس و في النصاب و عليه الفتوى و جزم به في الظهيرية و كذا لو قال يا رب كما في الذخيرة. (رد المحتار ج ١، ص ٦٢٢، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره الخ)قال العلامة ابن نجيم المصرى: ذكر في الفتاوى الظهيرية في بعض المواضع انه لو اجاب بقول بان يخبر بخبر يسره فقال الحمد لله رب العالمين او بخبر يسوء ه فقال إنا لله و انا اليه راجعون تفسد صلوته. والاصح انه لا تفسد صلوته و هو تصحيح مخالف للمشهور. (البحر الرائق ج٢، ص٨، باب ما يفسد الصلوة الخ) و مثله في فتاوي دار العلوم ديوبند ج ٤ ، ص ٦٥ ، فصل مفسدات الصلوة)

## د ليونۍ ښځې په محاذ اتو باندې لمونځ نه فاسديږي

الاستفتاء: مونږ په کتابونو کښې ليدلي دي چه ښځه په لمانځه کښې د نارينه په محاذ اتو (برابرې) کښې راشي نو د نارينه لمونځ فاسديږي، نو آيا که چېرته يوه ليونۍ ښځه د کوم سړي په محاذ اتو کښې راشي نو د لمانځه حکم به ئې څه وي؟

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې اگر که پردۍ ښځه د نارينه په محاذ اتو کښې راشي نو د نارينه لمونځ فاسديږي ليکن دا فاسد والي په څو شرائطو پورې مشروط دي چه د تکبير تحريمي يو والي پکښې هم شامل دي کوم چه له مکلف څخه متوقع دی. چونکه د ليونۍ ښځې لمونځ بالکل صحيح نه دي نو د دې لپاره د دې په محاذ اتو سره لمونځ هم نه فاسديږي

لما قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله في صلوة و ان لم تتخذ)...... قال و فيه اشارة الى ان محاذاة المجنونة لا تفسد لان صلوتها ليست بصلاة في الحقيقة. (رد المحتار ج ۱، ص ۵۷۳ ، باب الامامة) لما في الهندية: (و منها ان تكون ممن تصح منها الصلوة حتى ان المجنونة اذا حاذته لا تفسد كذا في الكافي. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۸۹، باب الامامة، الفصل الخامس) و مثله في امداد الاحكام ج ۱ ، ص ٥٦١، باب مفسدات الصلوة)

## په زخم باندې سپرټ (الکحل) لګول او بیا لمونځ کول

الاستفتاء: چه کله یو څوک زخمي کیږي نو د ویني د بندولو لپاره په زخم باندې الکحل اچوي نو آیا سپرټ لګول او بیا لمونځ کول ورسره جائز دي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: په سپرټ کښې چونکه الکحل استعمالیږي د دې لپاره که چېرته الکحل له انګورو، زیبو او خرماوو څخه جوړ شوي وي نو په اتفاق سره ئې استعمال ناجائز دي او نه لمونځ ورسره کیږي او که چېرته له دغو څلورو شیانو څخه پرته له نورو شیانو څخه جوړ شوي وي نو د امام ابو حنیفه په نزد پاک دي او استعمالول ئې پروا نه لري- لکه څرنګه چه نن صبا الکحل له دغو څلورو شیانو څخه پرته له نورو حبوبو، دانو، پـټـوکو، پټرولو او داسې نورو شیانو څخه جوړیږي نو د دې لپاره د عموم البلوي په خاطر د امام ابو حنیفه په قول باندې د فتوی مطابق لمونځ ورسره صحیح دی-

-لما قال الشیخ المحقق المفتي محمد تقي عثماني: و ان معظم الكحول التي تستعمل اليوم في الادوية و العطور و غيرها لا تتخذ من العنب او التمر انما تتخذ من الحبوب او القشور او البترول وغيره كما ذكرنا في باب بيع الخمر من كتاب البيوع و حينئذ هناك فسحة في الاخذ لقول ابي حنيف عند عموم البلوى. (تكملة فتح الملهم ج۳، ص ٦٠٨ ، كتاب الاشربة حكم الكحول المكرة) لما قال الشيخ

مولانا اشرف علی التهانوی: سپرټ که چېرته له انګورو، زیبو، رطب، او تمر څخه لاس ته نه وي راغلي نو څه ګنجائش پکښې شته، د اختلاف له وجهې. او که له دغو ص شیانو لاس ته نه وي راغلي نو ګنجائش پکښې نشته، د اتفاق له وجهې.

(امداد الفتاوي ج۱ ص۸۲، باب الانجاس)

## په نیم لستوني لرونکي بنیان کښې د لمانځه د ادا کولو مسئله

الاستفتاء: آیا له ضرورت پرته یواځې په نیم لستوني لرونکي بنیان کښې لمونځ کول جائز دي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: په لمانځه کښې له ضرورت پرته د څنګلو ښکاره ساتل مکروه دي- چونکه په بنیان کښې څنګلي ښکاره وي د دې لپاره له ضرورت پرته په هغه کښې لمونځ مکروه دی. هو! که چېرته له چا سره کمیس نه وي نو بیا د ضرورت له وجهې یواځې په بنیان کښې له کراهیت پرته لمونځ کول جائز دي-

لما قال العلامة الحصكفي: و كره كفه اي رفعه و لو لتراب كمشمر كم او زيل، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٦٤٠، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره) قال العلامة حسن بن عمار الشربلالي و كره... المنافي للخشوع. قال السيد احمد الطحطاوى: (تحت قوله تسمير كميه) اى عن ذراعيه سواء كان الى المرفقين او الاعلى الظاهر. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٢٨٣، فصل في مكروهات الصلوة) و مثله في امداد الاحكام ج٢، ص ٤ ٥ ٥ ، باب مفسدات الصلوة الخ)

## [په لمانځه کښې د تنحنح (غاړې تازه کولو) حکم

الاستفتاء: د ژمي په ورځو کښې یا کله هم د اسې ځینې خلک د خپلو غاړو د تازه کولو لپاره ټوخیږي نو آیا په لمانځه باندې ئې کوم اثر لویږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: د ستوني د صفا کولو لپاره یاد آواز د ښائسته والي او وضاحت لپاره یا د مجبورۍ له وجهې تنحنح (د غاړې تازه کول) له کراهیت پرته جائز دي. البته که چېرته له ضرورت پرته وشي نو بیا مکروه دی-

لما قال العلامة الحصكفي: التنحيح بحرفين بلا عذر اما به بان نشاء من طبعه فلا او بلا غرض صحيح فلولتحسين صوته او ليهتدي امامه او لاعلام انه في الصلوة فلا فساد على الصحيح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١ ص١٦٨، باب مفسدات الصلوة)ص١٦٨ ، باب مفسدات الصلوة) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: و يفسدها التنحنح بلا عذر لما فيه من الحروف و ان كان لعذر كمنعةالبلغم من القرأة لا يفسد. قال السيد احمد الطحطاوي: (تحت قوله و ان كان لعذر الخ) منه التنحنح لاصلاح

الصوت و تحسينه او ليهتدي امامه من خطيئته او للاعلام بانه في الصلوة على الصحيح. (طحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٢٦٣، باب مفسدات الصلوة)

## په لمانځه کښې په بيا بيا توګه د بدن د ګرولو حکم

الاستفتاء: په خلکو کښې مشهوره ده چه که چېرته يو ځوک په لمانځه کښې ځان درې وارې وګروي نو لمونځ ئې فاسديږي. آيا دا خبره صحيح او که څنګه؟ که چېرته صحيح وي نو د خارش د مريض لپاره به په دې باره کښې څه حکم وي؟

الجواب حامدا ومصليا: د لمانځه په يوه رکن کښې د ته پرته له شرعي عذر څخه پرله پسې د بدن ګرول لمانځه ته نقصان ورکوونکي دی. البته د شرعي عذر له وجهې بيا په لمانځه باندې کوم اثر نه اچوي. د دې لپاره د خلکو دا خبره صحيح ده ليکن د خارښ د مريضانو لپاره د عذر له وجهې د ځان ګرول مرخص دي.

لما قال العلامة الحصكفي: و عبثه به اي بثوبه و بجسده للنهي الا لحاجة و لا بأس به. قال ابن عابدين (قوله الا لحاجة) كحده بدنه لشيء اكله و اضره و سلت عرق يؤلمه و يشغله قلبه و هذا لو بدون عمل كثير قال في الفيض الحك بيد واحدة في ركن ثلاث مرات يفسد الصلوة ان رفع يده في كل مرة. (رد المحتار ج١، ص٤٧٣، فصل فيمايفسد و ما يكره الصلوة) لما قال السيد احمد الطحطاوي: انما يكره العبث في الصلوة اذا لم تدع الحاجة اليه دعت فلا بأس به كسلت العرق عن وجهه او التراب عند الايذاء (طحطاوي علي مراقي الفلاح ص ١٩٩ ، باب ما يكره الصلوة)

## په لمانځه کښې په بيا بيا توګه د تعوذ د لوستلو حکم

الاستفتاء: يو سړي ته په لمانځه کښې ډيرې وسوسې ورلويږي که چېرته ئې د دفع کولو لپاره په بيا بيا توګه تعوذ ولولي نو د لمانځه حکم به ئې څه وي؟

الجواب حامدا ومصليا: د وسوسو د دفع کولو لپاره بار بار اعوذ بالله ويل د لمانځه فاسد و ونکي نه دی. لهذا په صورت مسئوله کښې د وسوسو د دفع کولو لپاره بار بار اعوذ بالله الخ په لوستلو سره لمونځ نه فاسديږي.

لما قال العلامة السيد احمد الطحطاوي: و لو تعوذ لدفع الوسوسة لا تفسد مطلقا . .. و لو تعوذ لدفع الصلوة و يكره بها) الوسوسة لا تفسد مطلقاً نظر اذ لا فرق بينها و بين الحوقلة. (طحطاوي على الدر المختار ج۱، ص۴۱۶، باب ما يفسد

## په هېره د بې اودسه لمونځ کولو حکم.

الاستفتاء ۱: يو شخص لمونځ وکړي کله چې دلمانځه څخه فارغه سو نو وريياد سوه چې ما اودس نه درلودي اوس پوښتنه داده چې په هېره سره بې اودسه لمونځ کول شرعاً څه حکم لري؟

الجواب حامداو مصليا: کله چې يو کس بې او د سه پر لمانځه ودرېږي نو کله چې يې په لمانځه کښې پياد سول چې اودس نه لرم نو فورا به لمونځ پرېږدي او اودس به کوي او که يې دلمانځه کولو وروسته وريياد سوه نو اودس به کوي او لمونځ به د سره را ګرځوي البته دا حکم دهغه کس په باره کښې دي چې اودس يې هېروي خو کله چې د چا اودس پياد وي او بيا قصدا بېله اوداسه لمونځ کوي نو داسي کس سخت ګناهګاره دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ففرض الوضوء)…. وحكمه أن يستحق العقاب تاركه ويكفر جاحده (مجمع الانهر)لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار قلت: وبه ظهر أن تعمد الصلاة بلا طهر غير مكفر كصلاته لغير القبلة أو مع ثوب نجس وإذا ظهر حدث إمامه…. بطلت فيلزم إعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا كما يلزم الإمام إخبار القوم إذا أمهم وهو محدث أو جنب أو فاقد شرطأو ركن…. بالقدر الممكن بلسانه أو بكتاب أو رسول على الأصح لو معينين وإلا لا يلزمه بحر عن المعراج (مجمع الانهرج ۱ ص ۹ كتاب الطهارة مكتبه دارأحياء التراث العربي بيروت / الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ۱ ص ۸۱ كتاب الطهارة سعيد چاپ / تنوير الابصار مع الدرالمختارج ۱ ص ۵۹۱ :۵۹۲ باب الامامة سعيد چاپ / البحرالرائق ج ۱ ص ۶۴۰ باب الامامة رشيديه / النهر الفائق شرح كنز الدقائق ج ۱ ص ۲۵۵ باب الامامة مكتبه امداديه ملتان / فتاوي محموديه ج ۶ ص ۵۸۷ باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها / فتاوى عبادالرحمن ج ۱ ص ۳۵۳)كذافي فتاوي رحمانيه ج ۱

## : په لمانځه کښې د سرپه ښورولو سره د خبري جواب ورکول .

الاستفتاء يو کس پر لمانځه ولاړ وو بل کس راغی او پوښتنه يې ځيني وکړه د رکعت يا ديو بل شي هغه لمونځ کوونکي د سرپه ښورولو سره جواب ورکړی او خبري يې نه وکړي اوس پوښتنه داده چي صرف د سر په ښورولو سره جواب ورکول مفسد دلمانځه ګرځي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا :کله چي يو کس پر لمانځه ولاړوي اوديو بل کس د خبري جواب صرف د سر په ښورولو سره ورکړي او په خوله خبري ورسره ونکړي نو د الموڼځ شرعاً درست دي البته مکروه تنزيهي دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار فعلى هذا تفسد أيضا إذا رد بالإشارة، ويدل لعدم الفساد أنه – عليه الصلاة والسلام – فعله كما رواه أبو داود وصححة في الترمذي.... وصرح في المنية بأنه مكروة: أي تنزيها،(ردالمحتارج ۲ ص ۴۵۰ كتاب الصلوة مطلب المواضع التي يكره فيها السلام رشيديه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۴ باب مايفسدالصلوة ومايكره فيها رشيديه/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۹۸ باب مايفسدالصلوة ومايكره فيها رشيديه تبيين الحقائق ج ۱ ص ۳۹۵ كتاب الصلوة مكتبه اشرفيه / التاتارخانية ج ۲ ص ۲۴۱ باب مايفسدالصلوة ومايكره فيها مكتبه رحمانيه/عمدة الفقه ج۲ ص ۲۷۰ كتاب الصلوة )

## د جمعي په لمانځه کښې فتحه ورکول امام ته څنګه ده؟

: الاستفتاء يو امام د جمعي په لمانځه کښې خطاوتي مقتدي فتحه ورکړه آيا په فتحه ورکولو سره د مقتدي لمونځ فاسد سو که د امام؟جواب راکړئ

الجواب حامداومصليا : په فتحه ورکولو سره نه دمقتدي لمونځ فاسد دی او نه د امام لمونځ فاسد دي د دواړو لمونځونه درست او صحيح دي

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :بخلاف فتحه على إمامه) فإنه لا يفسد (مطلقا) لفاتح وآخذ بكل حال(ردالمحتارج ۱ ص ۴۶۰ باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها مكتبه حبيبه/البحرالرائق ج ۱ ص ۲۰ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوي عالمگيريه ج ۱ ص ۹۹

باب الامامة مكتبه رشيديه/فتاوي محموديه ج ۶ ص ۵۹۴ باب الامامة/فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۰ ) فتاوي رحمانيه ج۱

## په لمانځه كښې خبري كول لمونځ فاسدوي ؟

الاستفتاء دلمانځه په دوران كښې خبري كول لمونځ فاسد وي كه يا ؟

الجواب حامداو مصليا : شرعي او فقهي مسئله داده چي د لمانځه په دوران كښې خبري كول لمونځ فاسد وي بيا دنوي سره څخه لمونځ راګرځول لازمي دي .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (يفسدها التكلم) هو النطق بحرفين أو حرف مفهم: كع وق أمراعن معاوية بن الحكم السلمي، قال: بينا أنا أصلي مع رسول الله صلى الله عليه وسلم، إذ عطس رجل من القوم، فقلت: يرحمك الله فرماني القوم بأبصارهم، فقلت: والكل أمياه، ما شأنكم؟ تنظرون إلي، فجعلوا يضربون بأيديهم على أفخاذهم، فلما رأيتهم يصمتونني لكني سكت، فلما صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فبأبي هو وأمي، ما رأيت معلما قبله ولا بعده أحسن تعليما منه، فوالله، ما كهرني ولا ضربني ولا شتمني، قال: «إن هذه الصلاة لا يصلح فيها شيء من كلام الناس، إنما هو التسبيح والتكبير وقراءة القرآن» أو كما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم . رواه مسلم ( الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۱ ص ۴۵۴ باب ما يفسد الصلوة طبع رشيديه / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۹۰ باب ما لا يجوز من العمل في الصلوة / مرقات المفاتيح ج۳ ص ۵۲ / فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳ مكتبه رشيديه )رحمانيه ج۱

## د خپلي ښځي پر بغل باندي لمونځ كول .

الاستفتاء۹ : كه چيري يو كس خپل د ښځي پر بغل باندي ودريږي لمونځ كوي ايا لمونځ يې فاسد دي كه يا .

الجواب حامداو مصليا : دغي مسئلي ته د فقها و و په اصطلاح كښې د ( محاذاة ) مسئله وايي . كه چيري يوه بالغه ښځه كه خپل وي كه پردى وي د كوم نارينه په محاذاتو او برابرى ( يعني بغل پر بغل ) و دريږي نو دخو شرائطو تر څنګ د

سړي لمونځ فاسديږي . د مثال په ډول د دې ښځي او نارينه تر مينځ کوم حائل او پرده نه وي ، ښځه به عاقله بالغه وي ، ليونۍ به نه وي ، امام به د ښځي دلمانځه نيت کړی وي ، او د غه برابري او محاذات به په يوه کامل رکن کښې وي ، او دواړه به په يوه لمانځه کښې سره شريک وي . نو په داسي صورت کښې که چيري ښځه د نارينه پر بغل باندي ودريږي لمونځ اداءکوي نو د نارينه لمونځ فاسد دي . او که چيري دغه شرطونه موجود نه وي نو بيا لمونځ درست او صحيح دی

.قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (وإذا حاذته) ولو بعضو واحد، وخصة الزيلعي بالساق والكعب (المرأة) ولو أمة (مشتهاة) حالا كبنت تسع مطلقا وثمان وسبع لو ضخمة أو ماضيا كعجوز (ولا حائل بينهما) أقله قدر ذراع في غلظ أصبع، أو فرجة تشغ رجلا (في صلاة) وإن لم تتحد كيتها ظهرا بمصلي عصر على الصحيح سراج، فإنه يصح نفلا على المذهب بحر، وسيجيء (مطلقة) خرج الجنازة (مشتركة) فمحاذاة المصلية لمصل ليس في صلاتها مكروهة لا مفسد فتح (تخريمة) وإن سبقت بعضها (وأداء) ولو حكما كلاحقين بعد فراغ الإمام، بخلاف المسبوقين والمحاذاة في الطريق (واتحدث الجهة) فلو اختلفت كما في جوف الكعبة وليلة مظلمة فلا فساد (فسدت صلاته) لو مكلفا وإلا لا (إن نوى) الإمام وقت شروعه لا بعده (إمامتها) وإن لم تكنحاضرة على الظاهر، ولو نوى امرأة معينة أو النساء إلا هذه عملت نيته (وإلا) ينوها (فسدت صلاتها) (الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ١ ص ٥٧٢ / ٥٧٥ باب الامامة / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٨٩ باب الامامة الفصل الخامس / فتاوي حقانيه ج ٢ ص ٥٣٤ باب مفسدات الصلوة / فتاوى عثماني ج١ ص ٤٤٥ / فتاوي فريديه ج ٢ ص ٣٢٤)رحمانيه ج١

## پر دريم رکعت پې سلام وګرځوی لمونځ يې څنګه دي ؟

الاستفتاء: يو کس پر څلور رکعتيزه لمانځه باندي ولاړ وو په هيره سره يې پر دريم رکعت سلام وګرځوي نو ايا لمونځ يې درست دي که نه؟ که بله طريقه اختيار کړي ؟

الجواب حامدا ومصليا : داسي کس چي پر دريم رکعت يې سلام ګرځولي وي نو دي ولاړ سي يا دي څلورم رکعت وګډ کړي په آخره کښې دي سجده سهوه وکړي تر څه وخته چي يې خبري نه وي کړي او يا يې بل د لمانځه سره ټکر عمل نه وي تر سره کړي . او که يې چيري خبري کړي وي يا يې د قبلې شريفي د جهت څخه مخ اړولي وو نو دي بيرته ټوله لمونځ د سره څخه را وګرځوي.

لماقال العلامةالحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (إلا السلام ساهيا) للتحليل: أي للخروج من الصلاة (قبل إتمامها على ظن إكمالها) فلا يفسد......... (يفسدها التكلم) هو النطق بحرفين أو حرف مفهم: قال العلامة ابن عابدين في ردالمحتار : ( : (قوله يفسدها التكلم) أي يفسد الصلاة، (الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۱ ص/ ۶۱۳ باب ما يفسد الصلوة مكتبه شامله / فتاوي رحيميه ج ۵ ص ۱۱۴ مفسدات الصلوة / مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي ص ۴۷۳)

## د لمانځه په دوران کښې ټليفون قطع کول.

الاستفتاء : كه چيري يو كس ته دلمانځه په دوران كښې د ټليفون زنګ راسي او دى يې قطع كړي ايا په دغه قطع كولو سره لمونځ فاسديږي كه يا ؟

الجواب حامدا ومصليا: ومسجد ته ترننوتلو مخكښې موبائل ټليفون بايد بند سي كه چيري اتفاقاً كله خلاص پاته سي او بيا د ته دلمانځه په دوران كښې زنګ راسي نو بيا كه دغه ټليفون د عمل قليل په صورت كښې بند سي پرواه نلري ځكه چي د عمل قليل دوجي لمونځ نه خرابيږي . او عمل قليل دادي كه چيري يو بل كس دي ووينى نو دايقين كوي چي دي په لمانځه كښې دي . نو لهذا كه چيري ممكن وي لمونځ كوونكي دي خپل لاس پر هغه جيب باندي كښيږدي په كوم جيب كښې چي موبائل وي او بند دي كړي . نوفقها و و داليكلي دي چي دغه عمل قليل دي لمونځ نه په خرابيږي . او كه چيري د ټليفون بندول درا ايستلو ځخه بغير ممكن نه وه يا ديوه لاس په بندولو سره ډير وخت باندي لګيدى ، يا ديخ موسم و و د وي يا درې جامې يې په تن وي او دموبائيل په راكښلو كښې ډير وخت لګيدي ، يا لكه دنن سبا ده چي موبائيل ټليفون دپوست او چمړې په پوښ كښې بند وي او دهغه په را ايستلو كښې د دواړو لاسونو ځخه كار اخيستل ضروري دي نو په داسي صورت كښې دي لمونځ كوونكي خپل لمونځ ختم كړي بيا دي ټليفون بند كړي وروسته دي د سره ځخه تكبير تحريمه وتړي . ځكه چي په دغه ذكرسوي صورتونو كښې عمل كثير لازميږي چي هغه موجب دلمانځه د فساد دي

.قال العلامة ابن النجيم رحمه الله تعالى في البحرالرائق : واتفقوا على أن الكثير مفيد والقليل لا لإمكان الاحتراز عن الكثير دون القليل فإن في الحي حركات من الطبع وليست من الصلاة فلو أعتبر العمل مفسدا مطلقا لزم الحرج في إقامة صحتها وهو مدفوع بالنص ثم اختلفوا فيما يعين الكثرة والقلة على أقوال أحدها ما اختاره العامة كما في الخلاصة والخانية أن كل عمل لا يشك الناظر أنه ليس في الصلاة فهو كثير وكل

عمل يشتبه على الناظر أن عاملة في الصلاة فهو قليل قال في البدائع وهذا أصح وتابعه الشارح والولوالجي وقال في المحيط إنه الأحسن وقال الصدر الشهيد إنه الصواب.ومنها العمل الكثير الذي ليس من أعمال الصلاة في الصلاة من غير ضرورة فأما القليل فغير مفسد، واختلف في الحد الفاصل بين القليل والكثير قال بعضهم: الكثير ما يحتاج فيه إلى استعمال اليدين والقليل ما لا يحتاج فيه إلى ذلك حتى قالوا: إذا زر قميصه في الصلاة فسدت صلاته، وإذا حل إزاره لا تفسد، وقال بعضهم: كل عمل لو نظر الناظر إليه من بعيد لا يشك أنه في غير الصلاة فهو كثير، وكل عمل لو نظر إليه ناظر ربما يشبه عليه. .أنه في الصلاة فهو قليل وهو الأصح ( البحر الرائق ج ۲ ص ۱۲ فصل الأكل والشرب في الصلاة مكتبه شامله / بدائع الصنائع ج ۱ص۲۴۱ مكتبه شامله / الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۶۰۵ باب الاستخلاف مكتبه شامله بيروت / دموبائل فون شرعي احكام ص ۳۳) كذافي رحمانيه ج۱

## دمور پر بغل لمونځ کول ؟ یادښځي سره په لمانځه کښې دمحاذات مسئله .

الاستفتاء: كه چيري يو كس د مور پر بغل باندي لمونځ اداء كړي لمونځ يې درست دي كه يا ؟ دا ځكه چي مورا وربدلي دي چي د نارينه لمونځ دښځي پر بغل باندي نه صحيح كيږي ؟ .

الجواب حامدا ومصليا : دغي مسئلي ته د شريعت په اصطلاح كښي د محاذاة المرءة يعني (دنراو ښځي برابر دريدل )مسئله وايي . د (محاذاة المرءة ) مطلب دادي چي ښځه د جماعت په لمانځه كښي دنارينه پر برابرۍ باندي ودريږي او ددواړو لمونځ هم يو وي . او په برابرۍ كښي ديندۍ او بجلكو اعتبار دى يعني دغه ځايونه به يې په دريدلو كښي سره برابر وي . دمحرمي او غير محرمي هيڅ فرق نشته دواړه په فساد او عدم فساد كښي سره برابر دي . اوس كه چيري يوه بالغه ښځه ديو نارينه پر برابرۍ باندي ودريږي نو په څو شرائطو سره د نارينه لمونځ فاسديږي . اول : د د واړو مكان به بيله كوم حائله او پردې يو وي . دوهم : داچي ښځه به عاقله بالغه وي ليوني به نه وي . دريم : دتحريمې او اداء په لحاظ سره به نر او ښځه دواړه سره شريكان وي . څلورم : داچي هغه امام به ددغه ښځي داقتداءنيت هم كړي وي. پنځم : داچي دغه محاذاة او برابري به په يوه كامل ركن كښي وي . شپږم : داچي ركوع او سجده والالمونځ به وي. اوم : داچي دنارينه يوه عضوه به دښځي دقد مونو پر برابري باندي وي . اتم :داچي نارينه به و دغه ښځي ته داسي نه وي ويلي چي زما پر برابر مه دريږه . يعني دابه يې نه وي منع كړي د دغه برابر دريد لو څخه .به يې نه وي منع كړې د دغه برابر دريد لو څخه .دلوړو ذكر سو و شرائطو څخه كه چيري يو شرط هم نيستي سو نو د نارينه لمونځ نه فاسديږي ، بلكي په ځينو صورتونو كښي

دښځي لمونځ فاسديږي . مثلا چي کله امام دښځو داقتدا نيت نه وي کړي ، يا نارينه وښځو ته دبرابري څخه د ليري کېدلوامر کړي وي چي زما پر برابری باندي مه دريږه . په دغه صورتونو کښي فقط دښځي لمونځ فاسديږي . نوردي نو دغه الاستفتاء کوونکي شخص خپل حالت او دغه شرطونه سره پرتله کړي خپله به ورته معلومه سي چي لمونځ يې فاسد دي که يا ، او په ظاهره داسي معلوميږي چي دوي دواړو په يوه امام پسي اقتداء نه ده کړې نو لهذا ديوهلمونځ لا هم نه دي فاسد ، والله اعلم.

لما في الفتاوى الهندية : (ومنها) أن يكونا في مكان واحد حتى لو كان الرجل على الدكان والمرأة على الأرض والدكان مثل قامة الرجل لا تفسد صلاته. (ومنها) أن يكونا بلا حائل حتى لو كانا في مكان متحد بأن كانا على الأرض أو على الدكان إلا أن بينهما أسطوانة لا تفسد صلاته. هكذا في الكافي وأدنى الحائل قدر مؤخر الرحل وغلطه غلط الأصبع والفرجة تقوم مقام الحائل وأدناه قدر ما يقوم فيه الرجل كذا في التبيين (ومنها) أن تكون ممن نصح منها الصلاة حتى أن المجنونة إذا حاذته لا تفسد صلاته كذا في في الكافي، (ومنها) أن ينوي الإمام إقامتها أو إقامة النساء وقت الشروع لا بعده ولا يشترط لحضور النساء لصحة نيتهن. (ومنها) أن تكون المحاذاة في ركن كامل حتى لو كبرت في صف وركعت في آخر وسجدت في ثالث فسدت صلاة من عن يمينها ويسارها وخلفها من كل صف. (ومنها) أن تكون جهتهما متحدة حتى لو اختلفت لا تفسد ولا يصور اختلاف الجهة إلا في جوف الكعبة .( الفتاوى الهندية ج ١ ص ٨٩ باب الامامة ، الفصل الخامس ، طبع رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتارج ١ ص ٣١٤ تا ٣٢٠ باب الامامة طبع امدادابة / فتاوى عبادالرحمن ج ٢ ص ٣٣ كتاب الصلوة اردو / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ٣٣٠ قديمي كتابخانه / خلاصة الفتاوى ج ١ ص ١٣٥ كتاب الصلوة / فتاوي محموديه ج ٦ ص ٥٩٩ مفسدات الصلوة )

## پر لمانځه ولاړ وو په جيب کښي يې نجس شي وربه ياد سو

الاستفتاء يو کس پر لمانځه ولاړ دي په لمانځه کښي دننه وربه ياد سوه چي زما په جيب کي يو نجس او مردار شي دي مثلا دسمال دي په وينو لړلي دي يا په بلي مرداری لړلي دی، ايا لمونځ به پوره کوي که به سلام گرځوي؟

الجواب حامدا ومصليا: پرداسي كس لازمه ده چي سلام به گرځوي هغه مرداري به يا ليري كوي د ځانه څخه يا به يې پرېولوي يا به لمونځ د سره څخه شروع كوي دغه يې شرعا حل اولاره ده.

لماقال العلامة ابن عابدين شامي رحمه الله في ردالمحتار : ففي المحيط يكره أن يصلي ومعه قدر درهم أو دونه من النجاسة عالما به لاختلاف الناس فيه زاد في مختارات النوازل قادرا على إزالته وحديث تعاد لصلاة من قدر لدرهم من الدم لم يثبت ولو ثبت حمل على استحباب الإعادة توفيقا بينه وبين ما دل عليه الإجماع على سقوط غسل المخرج بعد الاستجمار من سقوط قدر الدرهم من النجاسة مطلقا ا ه ملخصا أقول ويؤيده قول في الفتح والصلاة مكروهة مع ما لا يمنع حتى قيل لو علم قليل النجاسة عليه في الصلاة يرفضها ما لم يخف فوت الوقت أو الجماعة ا ه ومثله في النهاية والمحيط كما مر في البحر فقد سوى بين الدرهم وما دونه في الكراهة ورفض الصلاة ومعلوم أن ما دونه لا يكره تحريما إذ لا قائل به فالتسوية في أصل الكراهة التنزيهية وإن تفاوتت فيهما ويؤيده تعليل المحيط للكراهة باختلاف الناس فيه إذ لا يستلزم التحريم وفي النتف ما نصه فالواجبه إذا كانت النجاسة أكثر من قدر الدرهم والنافلة إذا كانت مقدار الدرهم وما دونة وما في الخلاصة من قوله وقدر الدرهم لا يمنع ويكون مسيئا وإن قل فالأفضل أن يغسلها ولا يكون مسيئا ا ه لا يدل على كراهة التحريم في الدرهم لقول الأصوليين إن الإساءة دون الكراهة نعم يدل على تأكد إزالته على ما دونه فيوافق ما مر عن الحلية ولا يخالف ما في الفتح كما لا يخفى ويؤيد إطلاق أصحاب المتون قولهم وعفي قدر الدرهم فإنه شامل لعدم الإثم فتقدم هذه النقول على ما مر عن الينابيع والله تعالى أعلم ولما في الهندية : فإذا أصاب الثوب أكثر من قدر الدرهم يمنع جواز الصلاة كذا في المحيط وفي المحيط : وإذا أصاب الثوب أكثر من قدر الدرهم يمنع جواز الصلوة. (ردالمحتارج ١ ص ٢٣٢ مكتبه حبيبه فتاوي هنديه ج ١ ص ٤٦ مكتبه رشيديه خلاصة الفتاوی ج ١ ص ٤٦ مكتبه رشيديه المحيط البرهاني ج ١ ص ٢٤٢ مكتبة الشاملة فتاوي حقانيه ج ٢ ص ٥٤٠ فتاوي دارالعلوم ديوبندج ٤ ص ٩)

## امام ته په لمانځه کښې د فتحې ورکولو طريقه.

الاستفتاء كه چيري يو امام په خفيه او سري لمانځه کښې جهرا او په اولوړ اواز سره تلاوت شروع كړي نو مقتدي بايد فتحه څنګه ورکړي؟.

الجواب حامدا ومصليا: مقتدي دي دشا دخوا څخه سبحان الله ووايي نو امام به متنبه او خبرداره سي پس هم دغه يې دخبروولو او فتحې ورکولو طريقه ده.

عن ابن شهاب، أخبرني سعيد بن المسيب، وأبو سلمة بن عبد الرحمن، أنهما سمعا أبا هريرة يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «التسبيح للرجال والتصفيق للنساء». ( مسلم شريف ج ۱ ص ۳۱۸ باب تسبيح الرجل وتصفيق المرأة إذا تابهما شيء في الصلاة / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۳ ص ۴۸۴ باب مسائل المقتدى / المبسوط للسرخسي ج ۱ ص ۱۹۳ باب الحدث في الصلاة / الهداية ج ۱ ص ۶۲ مكتبه شامله بيروت )

## د ښځي د سره څخه که په لمانځه کښې پوړنې شوه سي.

الاستفتاء كه چيري يوه ښځه لمونځ كوي او پوړنې يې د سره څخه شوه سي نو دپوړني په شوه كيدو سره يې لمونځ فاسديږي كه يا ؟

الجواب حامدا ومصليا: فقهاء كرامو ليكلي دي كه چيري په لمانځه كښې د لمونځ كوونكي ستر لغ سي او بيا يې دغه لمونځ كوونكي سمدستي پټ كړي او ځنډ په كښې رانه ولي نو لمونځ يې نه فاسديږي. او داخبره معلومه ده چي ښځي لره ويښته پټول په لمانځه لازمي دي او دستر په حكم كښې داخل دي لهذا كه چيري دغه ښځي فورا او سمدستي د غه پوړني را پورته كړي نو لمونځ يې نه دي فاسد او كه يې ځنډ په كښې وكړي نو بيا يې لمونځ فاسد دي، دلړ او ډېر فرق يې دادي چي دومره وخت نه په نيسي چي ديوه ركن داداء كولو وخت ونيسي

.وفي المبسوط لمحمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي رحمه الله تعالى (المتوفى: ۴۸۳هـ) : (وإذا سقط عن المصلي ثوبه فقام عريانا وهو لا يعلم ثم تذكر من ساعيه فتناول ثوبه وليسته، فإنه يمضي على صلاته) ، وفي القياس يستقبل الصلاة لوجود انكشاف العورة في الصلاة، وهو مناف لما ابتدأها ولكنه

استحسن فقال: الإنكشاف الكثير في المدة اليسيرة بمنزلة الإنكشاف اليسير في المدة الطويلة وذلك لا يمنع جواز( المبسوط للسرخسي ج ۱ ص ۱۹۶ باب الحدث في الصلوة / الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص۴۰۸ مطلب في ستر العورة / مکتبه شامله بیروت چاپ / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ج ۱ ص ۲۴۲ فصل في متعلقات الشروط وفروعها مکتبه شامله بیروت چاپ / مجمع الانهر شرح ملتقي الابحرج ۱ ص ۸۲ باب شروط الصلوة / غنية المستملي ص ۲۱۳ مکته رشیدیه چاپ / فتاوي دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲ مکتبه رشیدیه )

## که د سهار په لمانځه کښې لمر راوخيژي لمونځ فاسد سو که یا؟

الاستفتاء: که چیري پر یو کس باندي د سهار په لمانځه کښې لمر راوخيژي لمونځ ئې فاسیدیږي که یا؟

الجواب حامداو مصليا: دامام ابو حنیفه صاحب رح) د مذهب د علماؤ په نزد ددغه کس لمونځ فاسد سو تر لمر ختو او راپورته کېدو ورسته دي بیا د سهار لمونځ وکړي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في رد المحتار على الدرالمختار بخلاف الفجر إلخ) أي فإنه لا يؤدي فجر يومه وقت الطلوع؛ لأن وقت الفجر كله كامل فوجبت كاملة، فتبطل بطرق الطلوع الذي هو وقت فساد (ردالمحتارج ۱ ص ۲۷۴ كتاب الصلاة مكتبه حبيبه /البحرالرائق ج ۱ ص ۴۲۹ مكتبه رشيديه/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۱؛ ۵۲ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوي محموديه ج ۵ ص۳۷۱/فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۴ ص ۱۳)

## د فرضو څلورسره رکعتونه که ډک وواييي هم لمونځ صحیح دی؟

الاستفتاء: که یو کس د ماز دیګر د لمانځه څلور سره رکعتونه ډک وواییي یعنیالحمد الله او سورت دواړه وواییي نو سجده سهوه غواړي که یا؟

الجواب حامداو مصليا: د فرضو څلور سره رکعتونه چي ډک وواييي یعني سره د الحمد الله او سورت لمونځ درست او صحیح دي سجده سهوه نه غواړي هر فرض چي وي که ماپښین وي که ماز دیګر وي که ماخوستن وي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : واكتفى) المفترض (فيما بعد الأولين بالفاتحة) فإنها سنة على الظاهر، ولو زاد لا بأس به أي لو ضم إليها سورة لا بأس به لأن القراءة في الأخرين مشروعة من غيره تقدير (ردالمحتارج ١ ص ٣٨٧ باب صفة الصلاة مكتبه حبيبه/ محيط البرهاني ج ٢ ص ٥٧ كتاب الصلاة مكتبه غفاريه/ فتاوي ملا علي قاري ج ١ ص ٣٧١ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوي عالمگيريه ج ١ ص ١٢٦ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/خيرالفتاوي ج ٢ ص ٦٣٠/ فتاوي عبادالرحمن ج ٢ ص٢١٦ / فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۴ ص ٢٥)

## باب مكروهات الصلوة

### د پرتاګه پايڅې له ښنګرو څخه د کښته زړيدلو حکم

الاستفتاء: که چېرته د لمانځه په حالت کښې د پرتاګه پايڅې له ښنګرو څخه کښته وي نو حکم يې څه دی؟ په داسې حال کښې چه په دې دور کښې د اکثرو خلکو پايڅې له ښنګرو څخه کښته زړيږي او په همدې حالت کښې لمونځ هم کوي، آيا په داسې ډول سره لمونځ کېږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: پايڅې د تکبر په توګه له ښنګرو څخه کښته پرېښودل مکروه تحريمي دي. د دې لپاره په د اسې حالت کښې لمونځ کول هم له کراهيت څخه خالي نه وي. البته لمونځ پرې نه فاسديږي-

عن ابن عمر ان النبي صلى الله عليه وسلم قال من جر ثوبه خيلاء لم ينظر الله اليه يوم القيامة. عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما اسفل من الكعبين من الازار في النار. (كلاهما في الصحيح البخاري ج ١، ص ٨٦١، كتاب اللباس)لما قال العلامة الملا على القارئ: قال ابن الملك: و يفهم منه ان جره لغير ذلك لا يكون حراماً لكنه مكروه كراهة تنزيهة. و ايضاً قال: و قد نص الشافعي على ان التحريم مخصوص با لخيلاء لدلالة ظواهر الحديث عليها فان كان الخيلاء فهو ممنوع منع تحريم و الا فمنع تنزيهة. (مرقات شرح مشكوة ج٨، ص١٣٨، كتاب اللباس ، الفصل الاول) و مثله في مشكوة ج٢،ص٣٧١/٣٧٢، كتاب اللباس

## په لمانځه کښې د نبي کريم په تصور کښې د راتللو حکم

الاستفتاء: په لمانځه کښې د التحياتو په دوران کښې د جناب نبي کريمﷺ په تصور کښې له راتلو څخه لمونځ فاسديږي او که نه؟ په داسې حال کښې چه د ځينو خلکو خيال دا دي چه لمونځ پرې فاسديږي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې د نبي کريم په تصور يا خيال کښې له راتلو څخه لمونځ نه فاسديږي ځکه چه په التحياتو او درود شريف کښې د انسان په تصور کښې خامخا نبي کريم راځي. البته على سبيل التعظيم و العباده خيال راوستل شرعاً جائز نه دي. ځکه چه لمونځ يوازې د الله تعالى لپاره ادا کيږي. په لمانځه کښې د غير الله له تصور او خيال څخه پرهيز وکړي. او محض له خيال څخه لمونځ نه فاسديږي۔

عن ابي هريرة قال قال رسول اللهﷺان الله تجاوز عن أمتي ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به او تتكلم. متفق عليه. (مشكوة، ج۱، ص۱۸، باب في الوسوسة) (الصحيح المسلم ج۱، ص ۷۸، باب بيان تجاوز الله تعالى عن حديث النفس) عن ابي هريرة قال قال رسول اللهﷺان الله عز وجل تجاوز لامتي عما حدثت بم نفسها ما لم تعمل او تتكلم

## په جومات کښې د ځاي د ډيروالي تــــر څنگ په بام بانــــدې د لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: په جومات کښې د ځاي د ډيروالي سره سره ځينې خلک د جومات په بام باندې لمونځونه کوي. آيا شرعا د اسې کول جائز دي؟ او په دې سره په لمانځه کښې کوم فرق راځي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د جومات په بام باندې په انفرادي توگه يا له جمعې سره د لمانځه ادا کول جائز دي ليکن بغير له عذر څخه د اسې کول له کراهيت څخه خالي نه وي. په دې شرط چه مشتبه شي يا تر امام مخکښې ولاړ وي نو بيا جائز نه دي- د امام حالت پرې مشتبه نه شي او نه تر امام مخکښې ولاړ وي. او که چيرته د امام حالت پرې

قال ابن عابدين: سطح المسجد له حكم المسجد فهو كاقتدائه في جوف المسجد اذا كان لا يشتبه عليه الامام........ و لهذا يصح اقتداء من على سطح المسجد بمن فيه اذا لم يتقدم على الأمام. (رد المحتار ج۱، ص٦٥٦، إحكام المسجد) لما قال العلامة فخر الدين حسن بن منصور الشهير بقاضي خان: و لو قام على سطح المسجد و اقتدى بامام في المسجد ان كان للسطح باب في المسجد و لا يشتبه عليه حال

الامام يصح الاقتداء و ان اشتبه عليه حال الامام لا الامامة، الفصل الرابع في بيان ما يصح الاقتداء) يصح. (الفتاوي القاضي خان على هامش الهندية ج ١ ، ص ٩٤، باب الامامة) و مثله في الفتاوى الهندية ج ١، ص ٨٨، باب

## د پټکي په ترلو کښې که چېرته د سر منځنې برخه لوڅه پاتیشي نو د لمانځه به څه حکم وي؟

الاستفتاء: ځینې خلک لیدل شوي دي چه کله پټکي تړي نو د سر منځنې برخه لوڅه پرېږدي او په همدې حالت لمونځ هم کوي. نو په داسې ډول سره د لمانځه ادا کولو حکم څه دی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: نبي کریم له دې ډول پټکي په سرولو څخه منع فرمایلي ده چه په سر باندې پټکي موجود وي لیکن د سر منځنې برخه دې لوڅه وي. د دې لپاره له داسې پټکي سره لمونځ مکروه دی-

لما قال العلامة الحصكفي: يكره اشتمال الصماء و الاعتجاز...... قال ابن عابدين (تحت قوله و الاعتجاز) لنهي النبي ﷺ عنه و هو شد الرأس او تكوير عمامة على رأسه ترك وسطه مكشوفا. (رد المحتار ج ١، ص ٦٥٢، باب ما يفسد الصلوة وما يكره مطلب الكلام على اتخاذ المسبحة(مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٢٨۴، فصل مكروهات الصلوة) و مثله في الهندية ج١، ص١٠٦، الفصل الثاني فيما يكره الصلوة)

## د جالی په خولی کښې د لمانځه ادا کولو حکم

الاستفتاء: نن صبا د چینایي (جالی لرونکو) خولیو رواج عام دي او په لمانځه کښې اکثره خلک همدا خولی استعمالوي په داسې حال کښې چه د سر ویښته ترې ښکاریږي. آیا له داسې خولیو سره لمونځ کول جائز دي او که څنګه؟

الجواب حامدا و مصلیا: په لمانځه کښې د عورت پټول ضروري دي او هغه هم په داسې جامو سره چه هغه ته مباح وي. لکه څرنګه چه د سر پټول د نارینه وو د عورت په پټولو کښې داخل نه دي او جالی لرونکي خولی هم د نارینه وو لپاره مباح ده نو د دې لپاره په داسې خولیو کښې لمونځ کول کومه بده خبره نه ده-

لما قال المفتی عزيز الرحمن: (جواب کومه جامه چه اغوستل ئې د نارينه وو لپاره مباح وي که چېرته هغه جالی لرونکي وي نو په خولی کښې ئې لمونځ صحيح دی- او استعمال ئې په دې طريقې سره صحيح دي چه د عورت ترې نه ښکاريږي. (فتاوي دار العلوم ديوبند ج۴، ص۱۰۹، باب مکروهات الصلوة)

## په غلا شوې خولۍ کښې د لمانځه د اداکولو حکم

الاستفتاء: زما يو ملګري خياط (درزي) دی او خلک جامې د ګنډلو لپاره ورته راوړي. نو که چېرته له د غورختونو څخه کوم شي زيات شي او هغه خولۍ ترې جوړه کړي او لمونځ ورسره وکړي نو آيا لمونځ ئې ورسره کيږي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامداً و مصليا: که چېرته دا رخت کوم چه له درزي سره زياتيږي مالک د زړه په خوښه ور پريښې وي نو له هغه څخه په جوړې شوې خولۍ کښې ئې لمونځ له کراهيت څخه پرته جائز دی- البته که چېرته د مالک له خوښې پرته ئې ځان ته خولۍ ترې جوړه کړې وي نو په داسې غلا شوې خولۍ کښې لمونځ کول مکروه دي.

قال العلامة الحصكفي: و كذا تكره في اماكن كفوق كعبة..... و ارض مغصوبة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۳۸۱، كتاب الصلوة قبيل باب الآذان) قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: و تكره في ارض الغير بلا رضاه. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص۲۹۱، باب مكروهات الصلوة)

## په ليلامي (استعمال شويو) جامو کښې د لمانځه حکم

الاستفتاء: ځيني خلک نيلامي (استعمال شوي) جامې استعمالوي آيا پرته له پرېمينځلو څخه په دغو جامو کښې لمونځ جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

